# محمد بن قاسم (رح)

لیکوال: نسیم حجازی



Download from:aghalibrary.com

ژباړن: محمد زبیر شفیقی

# د لیکوال لنډه پیژندنه

د مرحوم نسیم حجازي اصلي نوم محمد شریف ؤ، د مې په ۱۹ مه ۱۹۱٤ کال سوجان پور د ګور داسپور په ضلعه کې د چوډري محمد ابراهیم کره زیږیدلی.

د لاهور له اسلامیه کالج نه فارغ شو له مختلفو ورځپاڼو او اونیزو خپرونو سره یې ژورنالستیك کار کړی دی او د دوو درجنو څخه زیات ډیر ارځښتناك تاریخي ناولونه یې لیکلي چې په اسلامي نړۍ کې زیات شهرت لري او د نړۍ په زیاتو ژوندیو ژبو ژباړل شوي دي.

مهم آثر یې دا دي: داستان مجاهد، شاهین، محمد بن قاسم، د تورو شپو مساپر، وروستی جګړه، قیصر او کسری، د حجاز قافله، یوسف بن تاشفین، ویني او خاوري... معظم علي، او توره ماته شوه، کلیسا او اور، پردې علاوه څو طنزي داستانونه هم لري چې خپاره شوي دي.

د افغان جهاد په اړه یې ناول کښلي خو نیمګړی پاتې شو.

محمد بن قاسم یې د شهکارو آثارو څخه دی.

Download from:aghalibrary.com

بسم الله الرحمن الرحیم

# محمد بن قاسم (رح)

## (تاریخي داستان)

PROPERTY OF ACKU 7600

PROPERTY OF ARIC Established 1989

لیکوال: نسیم «حجازی»

ژباړن: محمد زبیر «شفیقي»

Download from:aghalibrary.com

## د کتاب پېژندنه

نـــــوم : محمد بن قاسم «رح»

لیـــــکوال : نسیم «حجازی»

ژبـــــارن : محمد زبیر «شفیقی»

کمپوز او ډیزاین : عبدالهادي او یما «خدري»

د چاپ نیټه : ۱۳۷۷ کال د وږي میاشت

خپـــرندوی : افغان نشراتي مرکز

د چاپ شمیر : ۱۰۰۰ ټوکه

چاپ : دانش کتابخانه، ډهکی نعلبندی قصه خوانی - پشاور

Download from:aghalibrary.com

## اهداء:

هغه ځوانانو ته چې د خپل مستقبل لپاره اندیښمن دي خو د لاس تر زنې کیناستلو پرځای له حوادثو سره د ټکر اراده او همت لري.

«شفیقي»

Download from:aghalibrary.com

# د خپرونکي يادښت

په تيرو دوو لسيزو کې د گران هيواد فرهنگي زيرمو ته هغه زيانونه واړول شول چې جبيره کول يې کلونه کلونه وخت غواړي. د هيواد لوی لوی کتابتونونه، فرهنگي مرکزونه، موزيمونه او آرشيفونه يا خو په مکمل ډول نيست او نابود شول او يا هم دومره زيانمن شول چې بيرته يې پخواني حالت ته راوستل ناممکن ښکاري.

زموږ د دغو معنوي شتمنيو بيا رغونه د هيواد د هر بچي په غاړه درووند بار اچوي، او ښايي چې ټول د خپل وس په اندازه په هغه کې برخه واخلي. دا کار نه په يوه کس کيږي او نه هم د يوه ارگان او نه هم د دولتي چارواکو په وس کې دی، بلکې د هيواد په درد دردمن هر افغان دنده ده.

د «افغان نشراتي مرکز» په همدې نيکه هيله د ځو تنو مخلصو او مسلمانو فرهنگ دوستانو، چې سپيڅلي اسلامي او افغاني جذبې او د افغانستان له فرهنگ او ادبياتو سره ميني دې کار ته هڅولي دي، په شخصي پانگه په کار پيل کوي، چې غواړي د نړۍ او هيواد هغه شاهکار او ارځښتناک آثار چې د هيوادوالو وسني غميزي په درد دوا شي، چاپ او هيواد والو ته وړاندې کړي.

د نامتو ليکوال نسيم حجازي شاهکار ناول «محمد «رح» بن قاسم» چې د محترم ورور محمد زبير شفيقي په قلم په خوږه پښتو ترجمه شوی دی د دې مرکز لخوا د لومړنۍ چاپ کتاب وياړ ترلاسه

Download from:aghalibrary.com

کوی چی موږ یی هم په نیك فال نیسو او هیله لرو چی الله «ج» په دی لار کی توفیق را په نصیب کړی.

د نسیم حجازی په ناول خبری کول ترڅان ډیر لوړ گڼو، خو دومره وایو چی د دی اثر لوستل نه یوازی ځوان نسل ته توصیه کوو بلکی د وخت ضرورت یی گڼو. ښایی هر ځوان د دی ناول په آیینه کی خپل تیر برم ته ځیر شی او خپل راتلونکی د هغه په رڼا کی وټاکی.

له ټولو درنو لوستونکو نه ټمه لرو چی خپل رغنده وړاندیزونه له موږ ونه سمپوي او په دی پاکه هیله چی وکولی شو خپلی دی سلسلی ته دوام ورکړو، او دا چی زموږ کار او زحمت د اسلام او هیواد په نیکی راشی، د ناول لوستلو ته مو رابولو، دا تاسی او دا هم د «محمد بن قاسم» د سند د فتحی تاریخی داستان.

په مینه او درنښت

افغان نشراتی مرکز

سنبله ۱۳۷۷

# د ژباړن سریزه

الحمد لله دا دی د څو ځوانو او د اسلام او وطن د خواخوږو وروڼو په همت او همکاری د مرحوم نسیم حجازی دوهم تاریخی ناول محمد بن قاسم «رح» پښتو ژباړه ستاسو په وړاندی ږدم.

د دی تاریخی داستان نه دمخه «شاهین»، خپور شو او «شاهین» ماته د «ځوان سالار» د چاپ او خپریدو او د مرحوم حجازی د پاتی آثارو د ژباړی شیمه او حوصله راکړه.

زه دا کرښې داسې مهال لیکم چې څو شیبی وړاندی می د محمد بن قاسم «رح» داستان وروستي سرلیک «لمرلویدل» لوستی، زه د خپلو احساساتو او جذباتو انځور گری او ترجمانی دلته نشم کولی، د دغه شاهکار داستان په اړه یوازی دومره ویلی شم چی ما په همدی لړه موده کی څلور ځله لوستی او څلور ځله می د اوښکو په بدرگه لوستی دی.

زه د ستر لیکوال مرحوم نسیم حجازی د تاریخی ناولونو ژباړی ته هم خپل همدی احساس هڅولی یم چی کله یی ما پر لوستلو پیل کړی د اسلام له عظمته ډکه ماضی یې مخې ته راته ایښې، د مسلمانانو د عروج او زوال عوامل یی په ډیره خوږه ژبه او رنگینو تصویرونو کی په گوته کړی دی چی د ده آثارو ته ابدیت او عظمت وربخښی، د ده هر داستان که د ماضی تفسیر دی د حال یو روښانه تصویر او د راتلونکی یو ځرگند تعبیر هم دی.

زه یوازې دومره وایم چې که مې په ژباړه کې هغه احساس لوستونکی ته ور انتقال کړای شو چې د دې داستانونو په لوستلو کې له ما سره پیدا شوی دی، نو زه به دا خپلو هیوادوالو ته یو خدمت وبولم او د یوې معنوي توښې په حیث یې گڼم، خو که پردې نه یم توانیدلی تر هر چا ړومبی د مرحوم لیکوال له ارواښه بخښنه غواړم. له خپلو لیکوالو او مشرانو ورونو څخه مې هم دا هیله تکراروم چې ماته د ژباړې کمزورې راپه گوته کړي ترڅو ددغه شهکار آثارو په نورو داستانونو کې هغه مراعات کړم.

د افغان نشراتي مرکز له مسوولینو نه د زړه له کومې مننه کوم چې محمد بن قاسم «رح» داستان ته یې د خپل فعالیت د پیل وياړ وباخښه، له پروردگار نه د دغه مرکز د پیاوړتیا او پرمختیا غوښتونکی یم.

***پەدرناوی***

***محمد زبیر شفیقي***

***الفاروق بلډنگ قصه خوانی د سهار ورځپاڼې دفتر***

***د ۱۳۷۷ کال د زمرې ۲۶/۲۷ مه شپه***

PROPERTY OF ACKU 7600

# رومبی خبرې

هغه تول لیکونه چې د «مجاهد داستان» له لیکلو نه وروسته ماته را رسیدلی دی زما ددی دعوی تصدیق کوی چې د مسلمانانو ماضی تاریخ اوس هم دقیس او فرهاد له افسانو نه زیات په زړه پورې دی ، دتیر شوی پسرلی یاد په دی خزان ځپلی چمن کی په بوټو او ونو کی د ودې او غوړیدو هیله را پیدا کولی شی دماضی په گردونو کی پټ خاپونه موږ ته دراتلونکی لوری په گوته کولی شی.

ماښایی پخپله دا سلام دتاریخ کومه بله پانه اړولی وای. خو کومو ښاغلیو چې زه د داستان مجاهد غوندې د بل ناول ، لیکلو ته تشویقولم په هغوی کی دزیاترو غوښتنه دا وه چې زه د محمد بن قاسم په باب خامخا باید څه ولیکم .

شیخ محمد احسن چې د «داستان مجاهد »بشپړمتن ولوست زما دراتلونکی اثر لپاره یی د «سند فاتح» سر لیك وړاندی کړ.

د ١٩٤٥ تر مارچ پوری ما د ځوان سالار دژوند دداستان لیکلو پریکړه نه شوای کولی . او غلی غلی به می داحسن صاحب ، سلیم پانی پتی صاحب او نورو دوستانو شکایتونه اوریدل ، له عماد الدین محمد بن قاسم سره زما مینه او عقیدت تر دوستانو کم نه ؤ خو زما دده زړه توب لامل یوازی دا ؤ چې دځمکی هغه مخ چې داسلامی نړۍ دغه اولس کلن اتل دخپل بخت اس پری زغلولی ماته د خیال له هر اسمان نه لوړ تر نظر راتلو.

دوستانوله مانه دعزم او همت دهغه سمندر انځور غوښت چې په ستورویی کمندونه اچول.

په هر صورت دمارچ نه وروسته ما دا کار پیل کړ ، او اوس دهغو دوستانو هیله تر سره کوم چې دوی ددی انځور لپاره زما قلم غوره کړی ؤ .

که په دې تصویر کې څه ښیګنه تر سترګو کیږي ، نو دا له محمد بن قاسم سره زما دعقیدت او اخلاص ثمر او یا دهغو دوستانو د پاملرنې اغیزه وبولئ چې دوی دنظر دذوق دتسکین خیال زه ددې تصویر په کښلو کې غوره رنګ کارولو ته تشویقولم.

ددې کتاب لومړی برخه «ناهید» دهغې تجلی داستان دی چې غږ یې دهندوستان تاریخ بدل کړی ، او دوهمه برخه «زلمی سالار» داسلام دتاریخ دهغه لمر داستان دی چې دعربو له افق نه را ښکاره شو دسند پر آسمان وځلید. او په غرمه مهال ولوید.

دلته دمیر جعفر خان جمالي صاحب په اړه له څه ویلو پرته ښایي زما رومبی خبرې بشپړې نه وي ، میر صاحب ددې کتاب دبشپړولو لپاره ماته هغه ټولې اسانتیاوې برابرې کړې چې د «داستان مجاهد» دلیکلو په وخت کې مې یې هیله درلوده . او زه د «تشکر» په رسمي الفاظو دنیکی دمننې دهغو احساساتو توهین نه غواړم چې دهغه په باب زما په زړه کې دي.

نسیم حجازی
کوېټه داکتوبر ۳مه ۱۹۴۵م کال

# ابو الحسن

دهندوستان د لویدیځو غاړو په مهمو بندرونو او دسراندیپ «اوسنی سریلانکا» په سواحلو دعربو دسوداګری قافلې تلې راتلې، دجاهلیت په زمانه کې ځو عرب سوداګر د «سراندیپ» په جزیره کې میشته شول . کله چی په عربو کی دنړی دین «اسلام» آوازې اوچتې شوې نو دغه عرب سوداګر دخپل پخوانی دین پرېښودوته حاضر نه شول . خو کله ئې چې درومیانو او ایرانیانو په مقابل کې د عربو دفتحو کیسې واوریدې قومی تعصب یی راوېښ شو . ایران تر عربو متمدن هیواد بلل کیده او دهند په تجارتی بازارونو کې دایراني مالونو بیه هم لوړه وه . همدارنګه هندوستان ایران یو ځواکمن ګاونډی باله . او دعربو په پرتله ئی ایرانی سوداګرو ته دقدر په سترګه کتل ، که به له شام نه کوم تجارتی کاروان راغی نو دروما دپخوانی هیبت تر تاثیر لاندی به هندوانو دعربو په پرتله دهغوی هم ډیر درناوی کاوه . خو دحضرت ابو بکر «صدیق» او حضرت عمر فاروق «رض» دریاړمنو بریالیتوبونو له امله په ګاونډیو هیوادونو کی دعربو په اړه ددرناوی او احترام جذبې را اوچتې شوې.

دهندوستان او «سراندیپ» په جزیره کی پرتو عرب نژادو سوداګرو دایران او روم پر خلاف د عربو بریاوی دخپل قوم بری ګڼانه او پری خوښیدل ، وروړو دعربو دنوی دین په اړه هم ددوی په زړونو کی نفرت او کرکې ځای مینی او محبت ته پرېښود، په هغه وخت کی به چی څوك عربو ته ولاړل د «اسلام» په نعمت ماړه بیرته را ستنیدل.

عبد الشمس دعربی سوداګرو مشر ؤ ، دهغه کورنی له اوږدې مودې راهیسې په سراندیپ کې اوسیدله ، دی په همدې جزیره کی زیږیدلی ؤ او په همدی ځای کی ئی دیوی بلې عرب نژادې کورنی له یوې پیغلې سره واده کړی ؤ . دهغه ژوند له ځوانی تر بوډاتوبه دهمدی جزیری دځنډو په شاو خوا کی تیریده ، هغه ته دا هم نه وه معلومه چی دده دکورنی نور خلک دعربو دکوم ځای هستوګن دی او چیرته اوسی . دده په زړه کی هم دعربو او دعربو دنوی دین مینه هغه وخت په غورځنګ شوه چی د «یرموك» او «قادسیی» دسوبو خبرونه په نړۍ کې راغبرګ شول. دهمدغو فتحو خبرونو دسراندیپ واکمن دی ته وهڅاوه چی له عربی نژاده سوداګرو سره اړیکی پیدا کړی ، عبد الشمس او ملګری یی خپل دربارته ور وبلل او ګران بیه سوغاتو نه ئی ورکړل.

په «٤٥» هـ کال دسراندیپ واکمن «راجه» مړ شو او زوی یی پر ځای پر تخت کښیناست ، ځوان راجه عبد الشمس را وغوښت او ورته وئی ویل چی ډیره موده کیږی چی کوم عربی سوداګر سراندیپ ته نه دی راغلی زه دعربو له وضعی نه ځان خبرول غواړم ، له ماسره ستاسی دقوم دنوی دین مینه پیدا شوی ، که ته هلته ځې نو دسفر ټولی اړتیاوی او آسانتیاوی به درته برابرې کړم.

عبد الشمس ورته وویل:

ستا له خولی زما دزړه خبره را ووته ، زه بالکل تیار یم . او له پنځو تنو عربی سوداګرو پرته نور ټول له عبد الشمس سره سفر ته تیار شول .

لس ورځی وروسته په بندر کی کښتی سفر ته تیاره وه او سوداګرو له خپل بال بچ سره خدای پامانی کوله ، دعبد الشمس میرمن وفات شوی وه . هغه په زړه دصبر ډیره کیښوده او له خپلی یوازینی لور سره یی خدای پامانی کوله ، دهغه دلور نوم سلمی ؤ . سلمی په ښار کی دحسن یو مثال ؤ چی بل سیال یی نه ؤ ، پردی سر بیره هغه دآس په زغلولو او لامبو کی هم بی سیاله وه.

دعبد الشمس د رخصتیدو نه شل ورځی وروسته د «کاتیا واړ» دسوداګرو یوه کښتی په بندر ودریده ، عبد الشمس او دهغه دوه تنه نور

دسفر ملګری تری را ښکته شول او دا خبری ئی راوړ چی ددوی کښتی ډوبه شوه او نور ملګرۍ یی هم اوبو یوړل که د«کاتیاواړ» سودا ګر نه وای نو دوی به هم اوس دکبانو خوراك شوی وای.

راجه هم دغه خواشینوونکی خبر واورید د سندی سوداګرو مشر دلیپ سنګ نومیده ، راجه ورو غوښت او ددوی تنو دژغورلو پر سر ئی دری پیلان انعام ورکړل ، هغوی چی راجه دومره مهربانه ولید په سراندیپ کی یی داوسیدو هیله وکړه ، راجه په خوښی ددوی هیله ومنله او له شاهی خزانی نه ئی دوی ته دکورونو دجوړولو پیسی ورکړی . دلیپ سنګ دراجه سره څو کاله په وفاداری تیر کړل او بیا دده دسمندری بیړیو مشر وټاکل شو .

* * * * *

(۲)

ددی پیښی نه دری کاله وروسته ابوالحسن لومړنی مسلمان ؤ چی دسوداګری او اسلام دتبلیغ جذبی دغه لری پرتی جزیری ته راوست ، دڅو هفتو سفر نه وروسته یو سهار ابو الحسن او ملګرو ئی دسراندیپ سمسور او ښکلی ساحل ولید ، بندر ته نژدی نارینه ، ښځی او ماشومان په وړوکښتو کی سپاره شول او دابو الحسن استقبال ته ورغلل . په یوه کښتی کی ابو الحسن دجزیری دنورو پوستو او نیم برښهو ښځو په منځ کی یو بل څوك هم ولیدل دهغه رنګ سور او سپین ؤ دجزیری له اوسیدونکو سره یی توپیر درلود ، هغی دنورو کښتیو نه وړاندی لویی دسوداګری کښتی ته درسیدو په خاطر په دوو دمزبوطو متهو خاوندانو پارو وهونکو پتکی کولی او بیا ددوی کښتی ترټولو دمخه د «لوی جهاز» سره ولګیده.

نجلی ابو الحسن ته وکتل خو هغه مخ تری واړاوه ، دده دملګرو هم نیم برښندې ښځی ښی ونه ایسیدی ، ټولو مخونه بلی خواته واړول ، ښایسته نجونو دغه بی پروائی خپل توهین وباله او په محلی ژبه ئی څه سره وویل .

یو محل نا څاپه لاندی په اوبو کی غوغا شوه ، چی ددوی ورته پام شو همغی ښکلی نجلی په اوبو کی غوتی وهلی او دکښتی په لور ئی دچیغو او فریادونو سره سره چا پروا ونه کړه ، ابو الحسن لومړی اوبو ته زینه وغورځوله خو چی وئی لیدل نجلی دډوبیدو په خطر کی ده نو ئی له جامو

سره اوبو ته ځان ورروغورځاوه خو نجلی ډوبه شوه ... په دی وخت کی نوری کښتی هم لویی سوداگری کښتی ته را رسیدلی وی او دکرسندو خنداگانو توپان ؤ . ابو الحسن دری ځلی په اوبو کې غوټې ووهلې خو مایوس شو او د رسی په زینه یی پښه کیښوده ، غوښتل یی کښتی ته پورته شی چی یوه ملگری ئی وویل هغه دکښتی هغه بلی خواته ده ډوبیږی لکه چی کوم خطرناك کب نیولی ده .

کوربه خلکو، ښځو او نارینه ؤ بیا په کرس کرس وخندل ابو الحسن په دی ونه پوهیده چی نجلی دکښتی بل اړخ ته څه ډول تیره شوه ، ابوالحسن حیرانی او اندیښنی پسی واخست او بیا ئی غوټه ووهله . دکښتی په تل کې بلې خواته تیر شو . هلته ئی هیڅوك هم ونه لیدل . همغه ملگری ئی له پاسه ورته وویل :

لکه چی هغه ډوبه شوه ، نهنگ وخوړه .

ابو الحسن مایوس شو او بیرته دکښتی بلی ډډې ته راغلی بیا هم خلکو په کرس کرس خندل ، دا ځل دده ملگرو هم وخندل او یوه عرب ورته وویل «راځه هغه تر تانه ښه لامبو زنه ده».

ابو الحسن لږ پیکه غوندې شو او زینه ئی ونیوله ، یوه پښه ئی په زینه کیښوده چی چا له بلی پښی ونیو او په اوبو کی ولوید ، هغه چی بیرته سنبال شو یوه ، او بله خوائی وکتل ، نجلی په زینه وختله او کښتی ته کوزه شوه.

ابو الحسن چی دکښتی غولی ته ورروخوت نجلی په خندا وه او دده ملگری پریشانه ، بیا ئی ده ته په عربی وویل: «ستا په لمدیدو خفه شوم» .

کله چی دوی دنجلی له خولی عربی الفاظ واوریدل دټولو سترگی دهغه په څیره میخ پاتی شوی .

ابو الحسن تری وپوښتل:

ته عربه ئی؟

نجلی یوی خواته سر ټیټ کړ او دسرویښتان ئی ونښتیځل ځواب یی ورکړ:

هو زه عربه یم! ډیره موده وشوه چی موږ دعربو دکښتیو په انتظار وو

موږ تاسو ته ښه راغلاست وايو ، تاسو څه شی راوړی دی؟

ابو الحسن او ملګرو ئی عربی نجلی په داسی جامه کی نشوای لیدای او ټولو په پریشانی یو بل ته کتل.

نجلی چی ځواب وا نه ورید بیا ئی وویل :

زه له تاسو نه پوښتم څه مو راوړی دی ؟!

تاسو ولی حیران یاست ! آیا دعربی نجونو لامبو نه ده زده ، تاسو په څه چرتونو کی ډوب یاست؟

ښه ده زه ئی پخپله ګورم .

ابو الحسن ورته وویل : «وودریږه! موږ آسان راوستلی دی زه ئی پخپله در ښیم ، خو زه حیران په دی یم چی ددی جزیری عرب تر اوسه پوری دعربو دجاهلیت تر ژوند هم بد ژوند لری ، آیا تاسو ته چا دانسانانو جامی او له نارینه ؤ نه حیا او پرده کول نه دی در ښودلی؟ »

دنجلی څیره له غوسی نه سره وخوټیده او وی ویل :

ایا دا دانسانانو جامه نه ده ؟!

ابو الحسن : نه! داسی ښکاری چی تر اوسه پوری ستاسو کورته داسلام روښنائی نه ده را رسیدلی . دائی وویل او ابو الحسن خپله چپنه دنجلی په اوږو ور واچوله او وئی ویل :

ته اوس زموږ دکښتی مالونه لیدلی شی.

نجلی دابو الحسن تر خبرو دده دڅیری نه زیاته تر تاثیر لاندی راغله او خپلی لوڅې متې او پنډی ئې په چپنه کی پټ کړل.

ابو الحسن « ۵۰ » عربی آسونه راوستی وو ، نجلی یو پر بل پسی ټول وکتل ، او بیا ئی دیوه اس په ګیډه لاس را تیر کړ وئی ویل زه دا اس اخلم بیه ئی څومره ده ؟

ابو الحسن ورته وویل تر اوسه په تاکی دعربو یوه ځانګړتیا پاتی ده ، همدغه آس په دی ټولو کی غوره دی خو نه ته ددی بیه ورکولی شی او نه ښځی په دی سپریدلی شی . دغه اس چی څومره ښکلی او تیز دی هومره باغی او سرشوخه دی.

نجلی وموسکل او وئی ویل:

خیر دی وبه یی گورو ! تاسو کښتي ولی دومره لری درولی ده؟
ابو الحسن ورته وویل : زه ددی هیواد دواکمنو اجازه ضروری بولم.
نجلی ورته وویل : دسراندیپ راجه له ډیری مودی را هیسی دعربو دقافلی په انتظار دی . کښتی د بندر غاړې ته بوزی ، دادی دسمندری قواو مشر هم په خپله را ورسید.
دلیپ سنگ له عبد الشمس سره دنژدی ناستی ولاړې له امله په عربی ژبه لږ او ډیر پوهیدو ، هغه چی کښتی ته را وخوت په عربی ئی له سوداګرو نه پوښتنه وکړه :
تاسو کښتی دومره لری ولی درولی ده؟
دابو الحسن پر ځای نجلی ځواب ورکړ:
دوی فکر کوی چی دراجه اجازه ضرور ده .
دلیپ سنگ وویل:
راجه چی تاسو ووینی ډیر به خوښ شی .
نجلی وویل:
زه څو خو دا په پام کی لری چی هغه سپین اس زما دی . اوزه به دهغه پوره بیه درکوم.
دائی وویل بیا ئی چپنه وغورځوله او په منډه ئی دسمندر اوبو ته ځان وغورځاوه.

*****

(۳)

عبد الشمس دعربو دکښتی له راتگ نه خبر شو ، هغه دښار له څو تنو سپین ږیرو سره دابو الحسن استقبال ته ورغی هغوی ئی خپل کور ته بوتلل او اسونه ئی دخپلو آسونو په «طویلی» کی وتړل.
دپنځو سو اسونو لپاره دسترگو په رپ کی نژدی دوه سوه تنه اخستونکی را غونډ شول ، بولی ولگیده او یو پر بل ئی قیمتونه اوچت کړل . دلیپ سنگ مشوره ورکړه چی دراجه له لیدو نه وړاندی یو آس هم ونه پلوری امکان لری هغه پخپله دا ټول واخلی . عبد الشمس هم ددلیپ سنگ خبره تائید کړه . دوی لا په همدی خبرو کی وو چی دراجه استازی را ورسید او

ویی ویل:
راجه صیب له عربی سوداګرو سره وینی او غواړی ددوی اسونه هم وګوری.
دلیپ سنګ دراجه استازی ته وویل : پا چا ته ووائی چی اوس به ټول ستاسو خدمت ته حاضر شو .
بیا ئی ابو الحسن ته وویل :
یو آس خو دشیخ عبد الشمس لور خوښ کړی دی همغه همدلته پریږدو.
ابو الحسن وویل:
که عبد الشمس یی دڅان لپاره ساتی زه څه نه وایم خو همغه آس ډیر یاغی دی دنجونو دسپارلی جوګه نه دی .
له یوی ګوښی نه غږ اوچت شو :
نه پلاره ! ددوی په ګومان به موږ ددی آس قیمت ورنکړای شو.
ابو الحسن چی ولیدل همغه نجلی وه چی په کښتی کی ئی لیدلی وه په یوه لاس کی ئی دآس قیضه او په بل کی ئی متروکه نیولی وه خو اوس ئی عربی جامه په غاړه وه .
ابو الحسن لږ پیکه غوندی شو وئی ویل : که زما په خبره دی باور نه راځی ورشه پخپله ئی وګوره ، که دغه آس تا ایل کړ بس په انعام کی ستا شو.
نجلی تیزه طویلی ته ولاړه ، نور خلك هم ورپسی ورغلل ، نجلی پر نورو آسونو له زغلند نظر وروسته سپین اس ته ودریده ، آس چی نجلی ولیده وابنه ئی پریښودل او غوږونه ئی څك شول نجلی آس وټپاوه او همغه په وروستیو پښو ودرید او نور اسونه هم وشنهیدل.
ابو الحسن ورته وویل : ودریږه! بیا په خپله ورورواندی شو او اس ئی له طویلی را وایست په یوه ونه ئی وتاړه وئی ویل: اوس خپل همت وازمایه، نجلی ور وړاندی شوه په یوه لاس ئی دآس لاندینی ژامه ونیوه او په بل ئی دمست او یاغی اس په خوله کی قیضه ور واچوله ، نندارچیان لا حیران وو چی دی اس له ونی نه را خلاص کړ او په لوڅه شائی سپره شوه ، مست اس په شنهار ټوپونه ووهل څو څو ځلی په وروستیو پښو نیغ ودرید ، خو بیا په

څو تړپونو دټولو له سترګو پناه شو، شیخ عبد الشمس په ویاړ وویل:
دعربو آسپو لا داسی آس نه دی زیږولی چی سلمی سپارلی پری ونشی کړای . ډیر افسوس دی چی تا شرط وبایله ، خو ډاډه اوسه زه به ئی پوره بیه درکوم.
ابو الحسن وویل : دا شرط نه ؤ بخشش ؤ او دبخشش او انعام قیمت څوك نه اخلی ، هغه آس نیکمرغه دی چی داسی سپور ئی خاوند وی.

*****

(٤)

راجه له لیدو نه وړاندی دټولو آسونو داخستلو پریکړه کړی وه ، له شاهی خزانی نه ئی چی دوی ته څومره قیمت ورکړ هغه دعربو له اټکل نه ډیر زیات ؤ .راجه له عربو نه دنوی دین په باب پوښتنی وکړی ، دلیپ سنګ ددوی ترجمانی کوله ، ابو الحسن دټولو پوښتنو له ځواب نه وروسته داسلام په هر اړخ رڼا واچوله ، راجه داسلام په ډیرو ښیګڼو له اعراف نه وروسته له ابو الحسن سره دبیا لیدو کتو وعده وکړه او رخصت ئی کړل .
کله چی ابو الحسن دخپل کور په کورته را ستون شو ورته څرګنده شوه چی سلمیٰ لا نه ده را ستنه شوی ، او عبد الشمس هم دڅو نورو ملګرو سره ددی په لټه پسی وتلی ؤ ، ابو الحسن د ماسپښین له لمانځه وروسته په اندیښنه کی دکور په انګړ کی قدم واهه چی سپین اس په شنهار راغی دآس قیضه هم نه وه.
ابو الحسن خپلو ملګرو ته وویل : خدای «ج» خبر دی په هغی څه شوی دغه اس سر کش او یاغی دی خو غورځیدلی سپور پیا نه پریږدی او دده قیضه تر پښو لاندی شلیدلی شوای خو داسی ورکیدل ئی کوم راز دی زه پسی ورځم .
ابو الحسن دعبد الشمس له مزد ور نه بله قیضه وغوښته آس ته ئی واچوله او په شا توری اس ئی پښه واړوله ، ووت او آس ئی په خپله خوښه پریښود ، دآس له تګ نه معلومه وه چی ډیر زغلیدلی ، آس په ځنګل کی له څو میله مزله وروسته په یوه غوندی وخوت او دیوی شر شری تر څنګ ودرید ، له دی نه وړاندی د تګ لاره نه وه .

ابو الحسن له آس نه کوز شو ، هغه ئی په یوه ونه وتاړه او په سلمی پسی ئی غږونه وکړل ، تر ښه ځنډ لټون وروسته ستومانه شو بیرته دښر ښری خنګ ته په یوه ډبره کښیناست ماښام نږدی ؤ ، ابو الحسن دمازدیګر لمونځ وکړ او بیا په یوه تونده لار دښر ښری سرته وخوت ، سلمی خو قدمه وړاندی داوبو په غاړه دیوی ونې لاندې پرته وه ، دابو الحسن نظر هغه وخت پری پریوت چی څو ګزه اوږد او دانسان دورانه په اندازه غټ مار ئی په څو متری کی ؤ او هغی ته ور نږدی کیده ، ابو الحسن څو ځلی په هغی غږ وکړ او بیا ئی په ډیره بیړه ور توپ کړ تر مټ ئی ونیوله او څو ګامه ئی لری کش کړه ، سلمی له یوی وړی چیغی سره سترګی وغړولی ، ښامار په ښکار پسی په غوسه شو او وشنیده ، خو ابو الحسن توره را ایستلی وه ښامار چی ور نږدی شو غاړه ئی اوچته کړه ، او ابو الحسن دتوری په یوه ګوزار سر تری بیل کړ ، بیا ئی دلښتی په اوبو توره پاکه کړه وئی ویل :

ته ډیره بی عقله یی دا دویده کیدو ځای دی ؟

سلمی چی ویریدلی وه ربړیدله ، وئی ویل : زه ستړی شوم دلته کښیناستم او بیا خدای خبر څه وخت ویده شوی یم .

زه دلته څو ځلی راغلی یم خو داسی ښامار می هیڅکله نه ؤ لیدلی . ښه ده تاسو راغلی که نه نو اوس به ئی زه خوړلی وم . ته دلته څه ډول راغلی؟

ابو الحسن ځواب ورکړ:

ته ښه پوهیږی چی زه څنګه راغلی یم ، تا دلته آس ولی پریښود ؟

سلمی په موسکا ځواب ورکړ : ما کله پریښی ، اس زه وغورځولم او وتښتید.

ابو الحسن لږ په تونده لهجه ورته وویل:

ستا روزنه او پالنه په ډیر خراب چاپیریال کی شویده ځکه خو ستا اخلاق باید همغسی وی لکه دعربو دجاهلیت دوخت ، خو هغوی دسلګونو بدیو سره میلمه ته هیڅ وخت دروغ نه ویل . او زما په دی پوره باور دی چی دغه آس ته غورځیدلی یوازی نه پریښودی . دا زما په طبیله کی پالل شوی آس دی . یاغی او سرکش دی خو تګی ئی نه ده زده کړی . ربښتیا ووایه تا پخپل لاس قیضه نه ده تری خلاصه کړی او په زور دی ویرولی او تښتولی

نه دی؟

سلمی سترګی ښکته واچولی ویی ویل :

که ته بده منی نو زه وعده کوم چی بیا به هیڅکله دروغ ونه وایم.

ابو الحسن: ته ډیر داسی عادتونه لری چی زما خوښ نه دی زما څه چی دهر مسلمان نه خوښیږی .

سلمی: زه ستا په خاطر هر بد عادت هیروم . اوس خو تا زما ژوند له خطره وژغوره پر ما حق لری ، چی خوښ دی وساتم.

ابو الحسن : زما دخوښی ضرورت نشته ، زه غواړم چی ستا خدای «ج» له تانه راضی او خوښ شی . باید هغه عادتونه خپل کړو چی دهغه «ج» خوښیږی او له هغه څه نه ډډه وکړو چی دهغه خوښ نه وی ، خدای «ج» دنیم برښنډو ښځو تګ دنارینه ؤ مخی ته نه خوښوی.

سلمی ځواب ورکړ: جامی خو ما ستا په خبره بدلی کړی .

ابو الحسن وویل : تر جامو دزړه بدلون ضروری دی خیر اوس ددی خبرو وخت نه دی ، ماښام شو ، ستا پلار به ډیر پریشانه وی ، هغه دآس له راتګ نه دمخه ستا په لټون پسی راوتلی ؤ .

سپوږمی را ختلی ؤ په شپه کی سلمی په آس سپره وه او ابو الحسن داس جلب په لاس کی تر مخ روان ؤ ، په لاره کی سلمی له ابو الحســن نه دسمندری سفر ، دده دانډیوالانو او دده دکورنی او نسب پوښتنی وکړی خو ددی دهیلی پر خلاف ابو الحسن بی پروا ؤ ، سلمی ورو ورو پښیمانه هم وه او پریشانه هم ، بالاخره ئی ورته وویل : زما له لاسه ته زیات په زحمت شوی ، زه بخښنه غواړم ، ته ماته سزا راکړه خو خفه کیږه مه ، دا زما قصور ؤ ، او زه باید پلی ولاړه شم ، زه پلی کیږم تاسو په اس سپور شی .

دا ځل هم ابو الحسن په سړه لهجه ځواب ورکړ :

کــه زمـا سـره دا ویره نـه وای چی ته بنـځـه ئی او له کـوم ځناور سـره به مخامخ شی نو مابه یوازی پریښودی او زه له تاسره په دی سفر خوښ نه یم . . . .

سلمی نوره هم پیکه شوه چوپ شوه بیائی وویل :

که هغه ښامار زه خوړلی وای ته به خفه شوی وای!

ابو الحسن: یوازی ته نه که داسی پیښنه له هر چاسره شوی وای زه به پری خفه وم.
سلمی: تاسو زما په خاطر خپل ځان ولی په خطر کی وغورځاوه؟
ابو الحسن : دیوه انسان ژغورل دهر مسلمان دنده ده .
سلمی تر ډیره وختـه چوپ وه ، له لرې د څو اسونو د پښنو ترپهـار واوریدل شو ابو الحسن وویل : وگوره هغوی تر اوسه پوری ستا په لټه کې دی ، لږ وروسته عبد الشمس او دهغه ملگری را ورسیدل لورئی چی روغه ولیده هغه په تفصیل د پوهیدو پروا ونه کړه ، دسلمی له خولی ئی دښامار کیسه واوریده بیا ئی له ابو الحسن نه مننه وکړه .

*****

(۵)

سبا ته سهار وختی عبد الشمس دخپل کور په بام نه ویښ او نه د ویده په حـالت کی دآذان زړه وړونکی تکبـیرونه اوریدل ، ورو ورو ئی سـترگی وغړولی ، سلمی لا په درانه خوب ویده وه ، عبد الشمس هغه را ویښه کړه ، او پخپله دهوا خوری په تکل له بامه کوز شو.
ابو الحسن په مخکی او ملگری ئی ور پسی په چمن کی څادرونه غوړولی وو او په لمانځه ولاړ وو ، ابو الحسن په زړه وړونکی لهجه الحمد لله او څو سورتونه ولوستل ، دقرآن کریم آیتونو د عبد الشمس په زړه کی توپان جوړ کړ ، دده گاونډیان عـرب هم راغلل او تولو دخپل قوم دنوی دین پیـروانو عبادت ته په مینه کتل ، درکوع او سجدو وروسته تر دوهم رکعت پوری په عبد الشمس د بی خودی غـوندی حالت راغی ، ورو ورو دلمونځ کوونکو په لور ورغی ، لږ ودرید ، دوه زړی غـوندی شو او بیا دخپلو احساساتو توپان په مخه کړ او له لمونځ کوونکو سره په یوه لیکه ودرید ، دهغه نورگاونډیان هم دده په تقلید په کـتار کی ودریدل ، ابو الحسن چی سلام وگرځـاوه عبد الشـمس او دده نورو ملگرو ته ئی مـبارکی وویله ، عـبـد الشـمس او دده ملگرو ته ئی غیږ ورکړه ، دټولو له څیرو دخوښی رڼا خپریده .
عبد الشمس وویل : ستا په ژبه کی جادو دی ماته لږ نور هم واوروه .
ابو الحسن ځواب ورکړ : دا زما دغږ اثر نه دی دا دخدای «ج» کلام دی

عبد الشمس وویل : بی شکه ، دا دانسان کلام نشی کیدای ، ماته ئی واوروه .

ابو الحسن خپل یوه ملگری طلحه ته اشاره وکړه ، طلحه دقرآن حافظ ؤ عرب ټول شاو خوا ورته کښیناستل ، طلحه د یاسین سورة تلاوت پیل کړ ، دقرآنکریم سپیڅلو الفاظو او دطلحه زړه وړونکی آواز عبد الشمس او دده ملگری وژړول ، ابو الحسن دتلاوت نه وروسته درسول اکرم «ص» په ژوند او داسلام په مختلفو اړخونو رڼا واچوله او دوی ته یی داسلام بلنه ورکړه ، عبد الشمس او ملگرو ئی له یوی مودې داسلام ددین او حضرت محمد «ص» په باب ډیر څه اوریدلی وو داسلام حقانیت ته یی غاړه کیښوده او دتوحید مبارکه کلمه ئی وویله او بیا ئی څانته دعبد الشمس پر ځای «عبدالله» نوم خوښ کړ .

سلمی چی دناریال یوی ونی ته ډډه وهلی وه او دا ټوله ننداره ئی لیدله ورو ورو ورغله او پلار ته ئی وویل :

پلار جانه ! ایا ښځی هم مسلمانیدای شی؟

عبد الله وموسکل او ابو الحسن ته ئی وکتل ، هغه وویل:

دخدای «ج» رحمت نارینه او ښځو ته یو شان دی.

سلمی وویل: زما نوم هم واړوی ، زه هم مسلمانیږم.

ابو الحسن ورته وویل: ستا همدغه نوم هم سم دی یوازی کلمه روایه .

سلمی پاکه کلمه وویله او ټولو لاس پورته کړل او ددی لپاره یی دخیر دعا وکړه .

پر اسمان وریځی را خورې وې.ڼا څاپه توند باران پیل شو او دوی ټول یوی کوټې ته ننوتل .

لږ ساعت وروسته چی باران ودرید دلیپ سنگ راغی او ویی ویل : راجه ستاسو په انتظار دی.

ابو الحسن ملگری پریښودل او له دلیپ سنگ سره ملگری شو ، ماسپښین بیرته را ستون شو او خپلو ملگرو ته ئی وویل چی راجه او ځینو نورو سردارانو نور عربی اسونه هم وغوښتل ، ځکه خو به څلورمه ورځ زمونږ

کښتي بيرته سفر پيلوی .
عبد الله «عبد الشمس» هغوی ته دڅو شپو پاتې کيدو وويل ، خو ابو-الحسن دبيرته زر راتلو وعده ورکړه او اجازه ئې ترې واخستله .
عبد الله وويل موږ ته داسلام دپوهيدو لپاره يو ښوونکی ته ضرورت دی ، که طلحه تاسو پريږدی چی همدلته پاتې شي ډير به ښه وي.
ابوالحسن طلحه ته وکتل او ويې ويل : که دده خوښه وي موږ ئې په خوښي پريښو دو ته تيار يو .
طلحه هم په خوښي دغه بلنه ومنله .
سبا ته ابوالحسن او ملګرو ئې دخپلې کښتي دبادبانونو په جوړولو او ضروري خوراکي شيانو په تيارولو پسې ووتل . ابو الحسن له عبد الله او دليپ سنګ سره تر مشورې وروسته په خپله ګټلې شتمنی اته پيلان او ناريال «کوپره» واخستل ، ماښام مهال ابو الحسن دعبد الله په باغ کې قدم واهه چې شاته يې دپښو ترپهار واوريد ، شاته ئې وکتل وئې ليدل چې سلمی ولاړه ده ، هغه خيره چې دوی ورځي ورانډی دخوښيو او مستيو تصوير و اوس دغم او خفګان تابلو ترې جوړه وه ، هغه سترګې چې د ترووږميو له ستوريو نه زياتې زړه وړونکي او ځليدونکی وې اوس په اوښکو لمدې وې . ده په لړ بې پروائي ترې وپوښتل سلمی دلته څه کوې ؟
دابو الحسن چلن چې سلمی وليد دصبر بندونه ئې ونړيدل او اوښکې ئې وڅڅيدې ، په رپيدونکو شونډو ئې ددرد په تل کې ډوب غږ اوچت شو : تاسو بله ورځ روانيږئ !
ابوالحسن: هو ! خو په تا څه شوی ، ولې ژاړې؟!
سلمی: هيڅ نه دی شوی ، هيڅ هم نه دی شوی .
په اوښکو مينځلې موسکا دابو الحسن په زړه تاثير وکړ او ويې ويل : سلمی ته تر اوسه پورې هماغه يې ، داسلام منلو په تاکې بدلون نه دی راوستی ، ته بايد دمحرم نارينه مخې ته رانشې دمسلمانې نجلې تر ټولو ستر زيور حيا ده .
سلمی : ته تر اوسه له مانه خفه يې ، ما ستا په خوله جامې بدلې کړې ، لمونځ کوم او پرون راسی له کوره بهر ته نه يم وتلې ، آيا دا هم ضرور ده چې

زه دیوه مسلمان مخی ته را نه شم؟

ابوالحسن: هو دا هم ضرور ده ، زه طلحه دلته پریږدم هغه به تا ته دیوی مسلمانی ښځې تولی دندی وښيي تاته به داسلام سم تعلیم درکړی.

سلمی ځواب ورکړ: ماته د بل چا دتعليم ښودلو ضرورت نشته ، تاسو چې څه امر کوی منم ئی ، ستا په اشاره له غره نه ځان غورځولو او لاس او پښې تړلی دسمندر تل ته غورځيدو ته تیاره یم .

ابو الحسن: که تاته زما خوښي او رضا دومره مهمه وی نو سلمی واوره زه له تانه له دی پرته هیڅ نه غواړم چې له سره تر پښو داسلام په جامه کې پټه شی ، دیوه ریښتنی مسلمان نیت په هر کار کې یوازی دخدای «ج» رضا وی نه دیوه انسان ،دکلمی له ویلو نه وروسته تا په یوه داسې نړۍ کې پښه کیښوده چې نه ختمیدونکی زیار او هڅه غواړی ، په دی ډګر چې څوك پلی کیږی ، په لیمو کې ئې اوښکو او په زړه کې آهونو ته ځای نشته ، مسلمان ته ژوند یو لوی ازمویښت دی دهغه په سینه کې باید داسی زړه وی چې دخدای «ج» په لار کې دلوړو آرمانونو او امیدونو په قربانی هم دریغه ونه کړی ، دمسلمان به تېر په غشو غلبیل وی خو په خوله به ئې آه قدری هم نه وی ، ته چې عربو ته ولاړه شې هلته به وويني چې عربي خويندی میندی چې خپل میړونه او ورونه دغزا په لور رخصتوی په سترګو کې ئې اوښکې څه چې په تندی ئې داندیښنې او خفګان کرښې هم نه وی او دا ټول یوازی ددی لپاره چې دوی دخدای «ج» رضا پر خپله خوښه او رضا اوچته بولی.

که تا اسلام زما دخوښي لپاره منلی ؤ نو په ډیر تاسف باید ووایم چې تا اسلام نه دی پيژندلی ، که خدای «ج» خوشحالوی نو کور ته ولاړه شه زه به طلحه درواستوم ، هغه به قرآن در زده کړی ، او چې زه بیرته راستون شم نو ته به په ساحل کې دلامبو په جامو کې زما په انتظار نه وی ولاړه . او زه هم په غرونو او ځنګلونو کې ستا په لټولو پسی ونه وزم .

زه به په دی ډیر خوښ شم چې دعبد الشمس دنوم په بدلولو ددی کور نقشه هم بدله ، او په دی کور کې یوه مسلمانه نجلی تربیه شی.

سلمی په هیله منه لهجه وپوښتل:

تاسو بیا کله راځئ؟
ابو الحسن: زه ورځ نشم ټاکلی خو اراده مو همدا ده چی آسونه واخلو او بیرته راشو ، خو که ئی زه دجهاد لپاره په کوم بل لوری واستولم نو بیایی بیا را نه شم . دسلمی په څیره بیا دمایوسی سیوری پریوت ، سترګې یې له اوښکو ډکې شوی ویی ویل :
نه ، داسی مه وایه خدای «ج» دې تاسو بیا خامخا راولی .
ابو الحسن: ته که دا دعا کوی نو انشاء الله خامخا به راشم .
سلمی: دعا! ته څه وایی که زما دعا قبلیدای نو بیا به مو دتلو تکل نه کاوه.
ابو الحسن ناڅاپه احساس کړه چی ډیری زیاتی خبری ئې وکړې لږ ئی لهجه تروه کړه ویی ویل: سلمی ولاړه شه که دعربو تولو ښځو ستا په څیر دعا کړی وای اسلام به دومره نه ؤ خپور شوی ، سلمی پښیمانه شوه او بیرته دکور په لور ولاړه په لاره کې ئې څو څو ځلې له ځانه سره زمزمه کړل: زه ډیره احمقه یم داسی خبره می باید نه وای کړی ، لږ ځنډ وروسته دوهم پوړ ته وختله ، لمر په لویدیځ افق دسری سکروټې په څیر ؤ او په اوبو کی ئی ډوبیدو ته تیاری نیوله .
په آسمان کی دلته هلته لږ لږ وریځو دشفق سرخي ځلوله ، دمجنی هوا څپو دناریال له پاڼو سره په ټکر کی یوه دوامداره نغمه غږوله ، سلمی دشاوخوا له منظرو نه بی پروا او نا خبره وراندی دساحل په غاړه په هغه کښتی نظر ګنډلی ؤ چی بله ورځ به ئی ساحل پریښود .. په زړه کی ئی داحساساتو او جذبو توپان را اوچت شو ، لاس ئی په دعا اوچت کړل او وئی ویل : ای دلډو او وچو خاونده! ماته دیری مسلمانی میرمن ایمان راکړه ، ماته سمه لار را وښیه او چی کله هغه بیا راشی ما ووینی خفه نه شی .

*****

(٦)

دریمه ورځ په آسمان وریځې را خپری شوی سلمی دکوټی بام ته وختله او له خفګان نه په ډك نظر ئی دسمندر په لور کتل ، له ساحل نه لری دسمندر په سینه دابو الحسن کښتی په څپو کی ټالونه خوړل ، دشمال څو تیزې څپی

راغلی او باران پیل شو ، چی باران توند شو ددی دسترگو دڅار دایره وړوکی کیدله تر دې چې کښتی‌ړنی له سترگو پناه شوه ، که ئی هر څو هڅه وکړه خو اوښکو ئی دسترگو مورگی ور ډکی کړی پر باړخوگانو ئی لاری وکړی ، او دباران له څاڅکو سره گډې شوې ، سلمی تر ډیره وخته لاس په دعا اوچت نیولی ؤ او دعائی وکړه : ایَ زما څښتنه «ج» ! هغوی دسمندر دیاغی څپو نه په امان وساتی.

په باغچه کی له ابو الحسن سره تر وروستی ملاقات وروسته د سلمی په خیال او عادتونو کی ژور بدلون راغلی ؤ ، هغه دابو الحسن په بی پروائی ډیره خفه وه ، خو بیا ئی هم هغه دانسانیت یوه لوړه نمونه باله او په دی ئی باوروؤ چی دابو الحسن کوم عادت نه خوښیږی خامخا بد دی ځکه خو ئی بیا بی پردی دڅا په مخکی گرځیدل پریښودل.

کله چی ابو الحسن او ملگری یی دبندر په لور ولاړل دی په زړه کی له ځانه پوښتنی کولی چی : آیا دده په زړه کی به زما لپاره کوم ځای وی؟

کله به ئی چی دابو الحسن خبری ور په زړه شوی نو په زړه کی به ئی د مایوسیو تیارو وزرونه وغوړول او کله به دهیلو او امیدونو ډیوی پکی بلی شوی.

پلار ئی غږ پرې وکړ او سلمی له بامه کوزه شوه ، بودا عبد الله پوښتنه وکړه : ته په دې باران کی پاس څه کوې؟

سلمی : هیڅ نه پلاره ! زه ... سلمی غوښتل څه پلمه جوړه کړی خو دابو الحسن خبرې ئې ور یادې شوې نو ویې ویل ما دهغوی کښتی څارله .

عبد الله ورته وویل: هغوی خو وختی تللی دی ، ولاړه شه جامی دی بدلی کړه ، طلحه اوس راځی چی دواړه له هغه نه قرآنکریم زده کړو.

سلمی پوښتنه وکړه: تا هغه چیرته پریښی؟

عبد الله: هغه دزید په کور کی تم دی اوس راځی، طلحه په څو ورځو کی سلمی ته داسلام رښتونی دین ور وښود ، هغی اوس په هر کار کی دابو الحسن درضا او خوښی پر ځای دخدای «ج» رضا په نظر کی نیولی وه .

خو بیا ئی هم په هر لمانځه کی لومړی دعا دابو الحسن لپاره وه.

شپږ میاشتی تیری شوی دابو الحسن هیڅ خبر را نه غی ، دسلمی

خفګان په اندیښنو او وارخطایی بدل شو هغه به سهار او ماښام په بام ختلی وه او دسمندر په لور ئی کتل دبندر په لور هره بېړۍ به دې ته دابو الحسن پیغام راوړونکی ښکاریده ، دی به خپل خدمتګار هم دورځی دوه درې ځلې بندر ته واستاوه او چی بیرته به راستون شو په لالهاندی به ئی تری پوښتل: تا ښه ولیدل؟ په هغوی کی هیڅوك هم عرب نه وو؟!

دخادم به هم تل ځواب دا ؤ چی ما ښه پوښتنه وکړه هغه کښتۍ له بل ځای نه راغلی او یو عرب هم پکی نشته ، سلمی به دسمندر وړی انسان په څیر چی له ویری او امید نه هر خس او خاشاك ته لاس اچوی وویل:

تا به له ماڼوګانونه پوښتنه کړی وه ، ښایی هغوی به په کوم بندر کی لیدلی وی او یا به یی دهغوی په باب څه اوریدلی وی . خدمتګار به بیا په څفاسته بندر ته روان شو ، دسلمی دزړه دآرزو ګانو په کنډرونو به دنویو هیلو مانی ودریدی او بیا به هم دخدمتګار مایوسی او خفه راستنیدل ددی دهیلو نوی مانۍ‌هم په یوه درز را وغورځوله ، هغه به هر سهار په زړه کی دامیدونو نوی ډیوی بلولی ، او چی کله به لمر دسمندر په څپو کی ورك شو ددی دهیلو ډیوی به هم ورسره مړې شوې ، او دزړه درزا به ئی په آهونو او اوښکو بدله شوه.

تر یوی مودی خو سلمی نه پلار او نه طلحه ته دزړه راز ښرګنداوه ، خو دسلمی وضعی هغوی دواړه په شك کی وغورځول.. . .

بهر تونډ باران اوریده ، طلحه او عبد الله په برنده کی ناست وو روغبړ ئی کاوه ، سلمی دیوی کوټی له کړکی نه بهر دباران ننداره کوله ، په خبرو خبرو کی دابوالحسن یاد راغی ، عبد الله وویل :

خدای پوهیږی هغه تر اوسه ولی راستون نه شو ، اته میاشتی پوره شوی چی تللی دی.

طلحه وویل: که خدای «ج» دسمندر دخطر نه ژغورلی وی نو ددومره مودی نه راتګ یوازینی سبب ئی دادی چی هغه چیرته جهاد ته تلی دی .

عبد الله وویل : نن ماته دلیپ سنګ وویل چی له دی ځایه نژدی « ۳۰ » میله لری دمالا بار یوه کښتی ډوبه شویده چی یوی کښتی « ٥ » تنه تری پورته کړی او دلته راغلی ده طلحه پوښتنه وکړه : په کښتی کی ټول څو

کسان وو ؟

عبد الله: بنایی شل تنه وی ، کښتی لویه وه خو دسوداگری مالونه پکی بار وو،

طلحه: کښتی څنگه ډوبه شوی ده ؟

عبد الله:مانو چی ساحل نژدی لیدلی بی پروا شوی او کښتی ئی له یوه کمره سره جنگولی او توټه توټه شویده٬سلمی په خپله کوټه کی ناسته او په چرتونو کی ډوبه وه ، هغی یوازی وروستی خبره واوریده او دیوی شیبی لپاره ئی وینه په رگونو کی وچه شوه ، له برنډې نه بیا دعبد الله غږ اوچت شو:

دغه کمرونه ډیر خطرناك دی ، هر کال دلته یوه نه یوه کښتی دوبیږی ، دهغه ځای دخلکو عقیده داسی ده چی په دغه کمرونو کی دسمندر د دیوتا «خدای» عبادتځای دی.

دائی چی واوریدل دسلمیٰ په رگونو کی غیر معمولی لړزه پیدا شوه ، جگه شوه ولاړه او دپلار په مخکی ودریده ، دهغه هیبت څپلی اوسپین تښتیدلی رنگ ته چی دعبد الله پام شو تری وئی پوښتل :

لوری! په تا څه شوی دی؟

لړ شیبه داحساساتو له زوره دسلمی غږ په ستونی کی بند شو ، درنځ او درد په تل کی ډوبو سترگو ئی ویل :

تاسو چی له مانه څه خبره پټوی زه پرې خبره یم ..

طلحه حیران شو وئی ویل : لوری! څه خبره ده؟

دسلمی شونډی وریږدی په سترگو کې ئې اوښکې وځلیدې او ویې ویل:

induردوائی دهغه کښتی څه وخت ډوبه شوی؟

تاسو ته چا وویل ؟ او هغه .........

تاسو ولی چوپ یاست ، دخدای لپاره یو څه ووائی ، زه هر بد خبر اوریدو ته تیاره یم ، سلگیو او آهونو ددی دخبرولړی سره شلولی عبد الله پریشانه شو ځواب ئی ورکړ :

مونږ دبالامار دیوی کښتی خبره کوله نن ماته دلیپ سنگ وویل :

خو سلمی دپلار خبری ورغوځی کړی :

نه ، نه ! له مانه خبره پټوی ، ماته په دروغو تسلي مه راکوی ، دا ئې وویل په سلګو شوه او کوټې ته ننوته .
بوډا پلار څه وپوهید څه نه ، طلحه ته ئې وکتل او بیا کوټې پسې ور ننوت ، سلمی پر مخې پرته وه ، او سلګې ئې وهلې دبوډا پلار زړه وسوځید او دې ته نژدې کیناست ، دلور پر سرئې لاس کیښود په کرار ئې ورته وویل:
لورې دا په تا څه وشول؟
سلمی کیناسته اوښکې ئې پاکې کړې او سلګې ئې چوپې شوې ځواب ئې ورکړ:
په ما هیڅ نه دي شوي پلاره! ما وبخښه ، ته به ما بیا په ژړا ونه ګوری .....
عبد الله: مګر دژړا څه سبب خو شته؟ داسې خبرونه خو موږ هره ورځ اورو ، آخر دمالا بار دیوی ګښتې د ډوبیدو په خبر کې څه راز دی؟
سلمی په ځیر ځیر دپلار څیرې ته وکتل او لږ په ډاډمنه لهجه ئې ترې وپوښتل: ته رښتیا وائې ؟
عبد الله په غوسه شو وئې ویل : ماته ددروغو څه ضرورت دی ، تر اوسه پورې تا زما په خبرو شك نه دې کړی ، که دې زما په خبره باور نه دی له طلحه نه وپوښته.
سلمی په پښیمانی سر ښکته واچاوه او ویې ویل :
پلار جانه زه بخښنه غواړم. ما فکر کاوه چې تاسو دعربو دکښتې خبره کوی.
عبد الله : لورې که ما خدای نا خواسته دهغوی دکښتې دډوبیدو خبر اوریدلی وای نو تر تا به لږ خفه کیدم ؟
دشپې تر ډوډی وروسته دعبد الله مزدور دماسخوتن لمونځ کاوه او خدمتګاری لوښی مینځل چې چا ددوی دروازه ور وټکوله ، سلمی خدمتګاری ته وویل :
ښایي زید او قیس راغلی وی تا خو به دروازه بنده کړی نه وی؟
خدمتګارې ځواب ورکړ : په داسې باران کې څوك راتلای شی ما اوس

دروازه وټرله او راغلم ، که هغوی راتلای دماښام لمانځه لپاره به هم راغلی وای ، هو .. زید ناروغ دی ، او قیس بیچاره بوډا ، هغه به په کور کی لمونځ ادا کړی وی .

سلمی : خو اوس څوك دروازه ټکوی .

خدمتگاره: دا ستا وهم دی دروازه شمال ګړبوی.

سلمی: نه دچا غږ هم اوریدل کیږی ... دا دی زه ورځم . دسلمی زړه په درزا شو په تیاره کی یو ګام وړاندی دلیدو امکان نه ؤ دبرښنا په رڼا کی ئی له ونو نه ځان بچ کړ او تر دروازی پوری ورسیده ددروازی تر شا ئی دچا ارګیمی وانه ورید مایوسه شوه او بیرته راستنیده چی چا بیا دروازی ته ډیکه ورکړه او په زوره ئی غږ وکړ : څوك شته !

یوه شیبه دسلمی پښی په ځمکه میخ شوی ، بیا ئی په یوه توپ دروازی ته ځان ورساوه او دروازه ئی بیرته کړه ، دسلمی په مخکی یو دلوړ قد ځوان ولاړ ؤ .

هغه وپوښتل: دا د عبد الله کور دی؟

تر څو سلمی ځواب ورکاوه برښنا وپړکیده او په رڼا کی ابو الحسن سلمی وپیژندله او پر دروازی ننوت ، ابو الحسن وویل: او هو! ته ! بخښنه غواړم ته زما په خاطر باران لمده کړی سلمی په زړه کی وویل : کاشکی ته پوهیدای چی دا دباران څاڅکی په ما څومره ښه لګی ، بیا ئی ابو الحسن ته وویل : راځه دننه ...

په برنډه کی عبد الله او طلحه دابو الحسن غږ وپیژاند او ښه راغلاست ته ئی را ووتل . عبد الله وویل:

څوك دی ابو الحسن ؟!

ابو الحسن دبرنډی په زینه پښه کیښوده او ځواب ئی ورکړ : هو صیب ، زه یم . زه بخښنه غواړم چی تاسو می په دی ناوخته کی په زحمت کړی.

طلحه پوښتنه وکړه : وایه خیرت خو دی ستا نور ملګری چیرته دی ؟

ابو الحسن : هو خیر خیریت دی ما هغوی په کبتتی کی پریښی او راغلم

ماته نه وه معلومه چی تردی ځایه را رسیدو پوری به دومره جنجالونه

تیروم . په لاره کی یو ځای وښوئیدم . دوه ځله په لښتی کی ولویدم ، ستاسو دکور په گومان می دپنځو پردیو کورونو دروازی وټکولی ، دیوه کور څو وفادارو سپیانو را باندی حمله وکړه .

عبد الله سلمی ته غږ وکړ، سلمی تر اوسه دبرنډی نه بهر دبیخودی په حالت کی ولاړه وه ، اوس هم دباران څاڅکو ددی له باړخو گانو نه اوښکی مینځلی ، خو دا دخوښی اوښکی وی، دپلار په غږ را بیداره شوه ، او په منډه برنډی ته ننوته وئی ویل : څه وایی پلار جانه !

عبد الله : لوري ولاړه شه ابو الحسن ته وچې جامې او ډوډی راوړه او نورو میلمنو ته هم ډوډی تیاره کړه زه به هغوی راولم.

ابو الحسن وویل: ډوډی‌مو‌ږ تولو خوړلی ده ، تاسو هیڅ زحمت مه باسی.

دجامو له بدلولو وروسته ، ابو الحسن له عبدالله او طلحه سره تر ډیره وخته مجلس کاوه ، هغه دخپل ځند په باب وویل چی دبصرې نه ئې افریقا ته دځه کار لپاره استولی ؤ اوومه ورځ عبد الله په خوښی دابو الحسن او سلمی نکاح وتړله.

* * * * *

(۷)

دری کاله وروسته ابو الحسن په ښار کی ځانته یو ښکلی کور جوړ کړ دکور مخی ته نژدی ئی یو وړوکی جومات هم جوړ کړ ، دده څه نورو دوستانو هم په همدی ښار کی کورونه جوړ کړل دپنځو کلونو په موده کی د ابو الحسن او طلحه په بلنه یو شمیر ځایی خلکو هم داسلام دین قبول کړ ، دوی ددغی کورنیو ماشومانو ته یوه مدرسه هم جوړه کړه او طلحه ته ئی ددرس چاری وسپارلی.

دعبد الله په مرسته ددوی سوداگری ډیره پراخه شوه ، دواده په دوهم کال سلمی او ابو الحسن ته خدای «ج» یو زوی او په څلورم کال یوه لور ورکړه .

دزوی نوم‌ئی «خالد» او دلور «ناهید» کیښود ، په لسم کال ئی یو بل زوی هم پیدا شو خو په دری میاشتنی کې مړ شو .

کله چې خالد اوه کلن او ناهید پنځه کلنه شوه دسلمی پلار «عبد الله»

[stamp]

دموسمی تبی په وجه وفات شو.
ابو الحسن ته خدای «ج» په دی دنیا هر څه ورکړی وو ، له هغه سره دمال او دولت کمبود نه ؤ ، هغه له خپلې میرمنې او اولادونو سره بی کچه مینه درلوده ، خو دی مینې دی په کور کی بندی نشو کړای هغه به هر کال دحج دفریضی ادا کولو لپاره اوږده او ستومانوونکی سمندری سفرونه کول ، پنحه ځلی افریقا او منځنی آسیا ته دجهاد له لښکرو سره هم ولاړ .
هر ځل به چی دحج او جهاد له سفر نه کورته راستون شو له خپلو بچیانو نه به ئی دجګړی دزده کړی او علم ازموینه اخسته ، خالد په خنجر وهلو ، غشی ویشتلو لامبو او اس زغلولو کی دپلار په معیار برابر خوت .
ناهید هم په دوولس کلنی کی غشی ویشتل اوپه یاغی اسونو سپریدل زده کړل ، په لیك او لوست کی هم طلحه ددی ذهانت ته حیران ؤ.
دراجه سره دابو الحسن اړیکی ډیری ښې وی . دراجه میرمن «ملکه» دسلمی سهیلی وه. هغی په اونی کی یو دوه ځله خامخا ګاډی ور استوله او مور او لور به ئی شاهی ماڼۍ ته ور غوښتل ، شهزادګی له ناهید سره دومره روږدې شوې وه چې کله کله به پخپله هم دابو الحسن کور ته ورغله .
شهزاده له خالد نه څلور کاله مشر ؤ خو بیا هم هغه ته په هر څه کې «خالد» یو نمونه ځوان ؤ او دهغه تقلید به ئی کاوه.
یوه ورځ دلیپ سنګ راجه ته د «خالد» جنګی مهارتونو او کمالونو ستاینه وکړه ، راجه وپوښتل : ایا هغه به زموږ دشهزاده مقابله وکړای شی؟
دلیپ سنګ وویل: عزتمنده پاچا! زموږ شهزاده په نازونو کی لوی شوی او هغه دیوه مجاهد او سپاهی زوی دی.
راجه : خو هغه لا ورو کی دی .
دلیپ سنګ ورته وویل : پاچا صیب! که عربی میندو په ورو کتوب کی خپل زامن داسی نه وای روزلی اوس به دوی نیمه دنیا نه وه فتحه کړې . ما اوریدلی دی چی عربی میندی په «١٤» کلنی خپل زامن جګړی ته لیږی .
راجه پوښتنه وکړه: خالد څو کلن دی ؟
دلیپ سنګ : ښایی دوولس کلن وی.
راجه: آخر په هغو ماشومانو کی څه ښیګڼه ده چی زموږ په بچیانو کی

PROPERTY OF ACKU 77600

نشته ؟

دلیپ سنگ : پاچا صیب! که بده نه منی نو یو عرض وکړم.

راجه: ووایه!

دلیپ سنگ: زموږ او دوی ترمنځ یو ژور توپیر شته موږ بی شمیره خدایان منو، پردی علاوه، له هر هغه ځواك نه چی موږ وویریږو هغه هم خدای منو مثلاً که زموږ په لاره کی کوم لوی کمر مخی ته راشی نو موږ دخپل ځواك او حوصلی له ازمویلو دده کوو او هغه هم خپل خدای «ج» منو او عبادت ئی پیل کوو. خو هغوی یوازی یو خدای «ج» منی او له هغه پرته دنړی دلوی نه لوی طاقت په وړاندی هم سر تیتی گناه بولی. همدارنگه دوی په دی عقیده دی چی انسان مړ شی فنا کیږی نه ، بلکی له مرگه وروسته دهغه بل ژوند پیل کیږی .

ابو الحسن یوه ورځ ماته وویل چی : ددوی دلښکرویو مشهور قوماندان «حضرت خالد بن ولید» چی دشام په لور حمله وکړه دشام والی ورته ولیکل چی ته له غره سره سرجنگوی ستا د «۴۰» زره پوځ په مقابل کی له ما سره دوه نیم لکه «۲۵۰۰۰۰» داسی پوځ دی چی په ښو وسلو سنبال دی حضرت خالد په ځواب کی ورته ولیکل:

ماته ستا دزور او پوځی توان معلومات شته خو ستاله پوځ سره چی څومره دژوندی اوسیدو هیله ده تر هغی زیاته زما دپوځ له مرگ سره مینه ده.

راجه: دلیپ سنگه! زه غواړم چی دشهزاده پوځی روزنه ابو الحسن ته وسپارم ، ته له هغه سره ووینه که هغه دغه خدمت ومنی نو زه به ئی ښه تنخواه ورکړم.

دلیپ سنگ چی ابو الحسن ته خبره وکړه هغه په خوښی دغه خدمت قبول کړ خو دتنخواه له اخستلو نه ئی انکار وکړ.

له دوو کالو روزنی وروسته ابو الحسن راجه ته وویل: نور ستا زوی په جنگی مهارتونو کی ددی هیواد دښو ځوانانو مقابله کولی شی.

راجه وویل: آیا زما زوی په غشو ویشتلو او اس زغلولو کی د «خالد» سیالی کولی شی؟!

ابوالحسن ځواب ورکړ: خالد په داسی عمر کی آس زغلول او غشی ویشتل زده کول چی شهزاده له نانځکو سره لوبی کولی ، هغه په داسی عمر کی دآس په شا سپریدل زده کړی چی شهزاده به د غلامانو په اوږو سپور ؤ ، خالد فطرتاً یو عسکر او پوځی دی او ستاسو زوی بیا فطرتاً یو شهزاده.

راجه: زما زوی په توره وهلو کی څنګه دی؟

ابو الحسن : هغه په عمر کی تر «خالد» مشر دی ، متی ئی هم تر هغه مزبوطی دی ، ما ددوارو مقابله نه ده لیدلی خو زما په ګومان شهزاده تر خالد توره بنه څرخولی شی.

راجه خپل زوی راوغوښت تری ویی پوښتل:

شهزاده! ته دخپل استاد له زوی سره په توره چلولو کی سیالی ته تیار ئی؟

شهزاده ځواب ورکړ: نه پلار جانه! هغه زما کشر ورور دی ، که زه مات شم نو وبه شرمیږم او که هغه مات کړم هم زه پری شرمیږم.

*****

(۸)

دابو الحسن دواده اتلس کاله تیر شوی وو ، خالد ١٦ کلن او «ناهید» ١٤ کلنه شوی وه ، دولید دخلافت په پیلیدو سره مسلمانانو نوی بریالیتوبو نه پیل کړل ، یوه ورځ دسندی سوداګرو کښتی راغلی ، له هغوی سره دعمان یو عیسوی هم ؤ . دسند سوداګرو دجزیرې عربو ته په ترکستان او شمالی افریقا کی دمسلمانانو دپرمختګونو کیسې وکړې .

تومورې عیسوی دهغوی خبری ټولی تائید کړې ، ابو الحسن او دده خو ملګری دحج لپاره تیار وو اوس له دوی سره په حج برسیره په جهاد کی دګډون مینه اوجذبه هم ملګری شوه.

راجه له بهر نه دراغلیو سوداګرو له خولی د اسلامی خلافت دفتحو کیسې دیرې په مینه اوریدې ، دمسلمانانو دنویو سوبو په اوریدو ئی ابو الحسن راوغوښت دمسلمانانو دخلیفه او دعراق دوالی لپاره ئی دسروزرو او جواهرو څو سوغاتونه ورکړل او له هغه نه ئی وغوښتل چی دده دغه سوغاتونه ورسوی.

ابو الحسن ورته وویل: زه په خوښۍ ستا تحفې هغوی ته ور وړم.
دسند سوداګرو خپل مالونه وپلورل ، نوی مالونه ئې واخستل او بیرته ستانه شول ، ددوی له تګ نه څو ورځې وروسته ابو الحسن او دده ملګری دحج سفر ته تیار شول ، په دغه کال دحج دسفر لپاره تر نورو کلونو زیات خلك تیار شول .
طلحه او دری نور عرب دکورنیو دسر پرستی لپاره پاتې شول ځنې عربو خپل وړوکی ماشومان هم طلحه ته پریښودل او میرمنې ئې هم دحج لپاره تیاری کړی ، او څنو بیا میرمنې او اولادونه پریښودل او پخپله سفر ته تیار شول.
ابو الحسن اراده کړې وه چې خپله میرمن او بچیان هم له ځان سره بوزی خو دسفر نه دری ورځې وړاندې سلمی ناڅاپه ناروغه شوه او ده دغه اراده بدله کړه .
خالد دشاهین دهغه بچی په څیر چې نوی ئې وزر ورسیږی او له ځالې څخه وتلو ته وزر ټپوی په جهاد کې ګډون ته ناکرار ؤ . خو دمور ناروغې په کور کې پاتې کیدو ته مجبور کړ ، ابو الحسن وعده ورکړه چې له حج نه تر راستنیدو وروسته به یې دعربو سیل ته بیایي.
درخصتې په ورځ دسلمې سخته تبه وه ، هغه دزیات درد او زحمت سره په بستره کې پاتې نه شوه له خاوند سره دخدای پامانې نه وړاندې ئې په ډیر عذر هغه ته وویل : ګوره زه بلکل روغه یم ، ما درسره بوځه خپله وعده تر سره کړه.
ابو الحسن خفه شو ورته ویې ویل : نه سلمې ، په کښتې کې به موسمی تبه تا ډیره وځوروی ، کله چې روغه شې په بل ځل به دې خامخا راسره بیایم . وګوره دادې خالد او ناهید هم ستا دخدمت په خاطر پریږدم طلحه به هم په تاسو پام کوی.
دهغې په سترګو کې اوښکې ډنډ شوې ویې ویل:
نه ! نه! ما خامخا دا ځل درسره بوزې ، زه دسفر تولې ستونزې زغملی شم .
ابو الحسن ورته وویل : سلمې ضد مه کوه ، وګوره رګونه دې څومره تیز

ورزي ، له تبی نه دی بدن سور دی ، تا هیڅکله هم سمندري سفر نه دی کړی ، زه زر بیرته را ستنیږم .

سلمی وویل : نه نه ! گوره ماته داخل داسی ښکاري چی ستا سفر به ډیر اوږد شي او زه ښایي ستا ډیر انتظار ونه کړای شم .

دابوالحسن په څیره دغم سیوري پریوت ځواب ئی ورکړ: سلمی! ته ژاړی ، ما څو کاله وړاندی درته ویلی وو چی مسلمانی میرمنی دغازیانو درخصتولو په وخت اوښکی نه تویوی .

دغو الفاظو په سلمی دجادو اثر وکړ ، اوښکې ئی پاکې کړې ، او دموسکا هڅه ئې وکړه وئی ویل : زما دخفگان سبب دا نه دی چی ته ځی ، بلکی دادی چی ما پریږدی او ځی ، که تا یوځل دجهاد ډگر ته بیولی وای بیا به دی دکمزوری پیغور نه ؤ راکړی . زه له تا سره د غشیو په باران کی دریدلی شم . خو ستا دراتگ په انتظار هر سهار او ماښام بام ته ختل او دسمندر لاری څارل راته له زغم نه وتلی ښکاري.

ابو الحسن ځواب ورکړ : همدغه صبر دمیرمنو جهاد دی کوم کار چی میړونه دجگړی په ډگر نه شی کولی ، میرمنی ئی په کور کې کولی شی . میندې خالد «رض» او مثنیٰ نشی کیدای خو دهغوی میندې کیدای شي.

نن زموږ سپاهیان له کورونو نه ډیر لرې جگړې کوی او ددوی ارادی هغه ښځې مزبوطی ساتی چی په کورونو کی دمور ، خور او میرمن په نامه خپلی ذمه واري تر سره کوی ، دهمدوی په اعتماد هغه دمقابلی په ډگر کی یوازی دجهاد په اندیښنه کی وی . په دی اندیښنه کی نه وی چی په کور کی به ئی ماشومان او واړه ورونه اوخویندی بی سر پرسته وی .

سلمی ته ووایه ، ایا هغه مجاهد به په ډاډه زړه مقابلی ته تیار شی چی میرمن ئی په ژړا خدای پامانی ورسره کړی وی او دده په خیال کی راشی چی اوس به می میرمن له ژړا ړنده شوی وی او ماشومان به می کله په کوڅو کی گرځي.

فرضاً زه راستون نه شوم ، نود عربو دنورو میندو په څیر به خالد جهاد ته نه لیږی؟

سلمی ځواب ورکړ : ته باور وکړه لکه ته چی ځان دخالد لپاره بد پلار

نشی منلی همدغسی زه ځان دهغه لپاره بده مور نشم کیدای.

مابنام دابو الحسن دوی کبنتی روانه شوه ، سلمی د«ناهید» سره په بام ولاړه وه او دسمندر په لور ئی کتل ، له صبر سره ئی بیا هم په سترگو کی اوښکې را وخوټیدې.

ناهید وویل: مورجانی! تا می له پلار سره وعده وکړه چی زموږ دوراندی به اوښکی نه تویوی .

سلمی اوښکی پاکی کړی او ځواب ئی ورکړ:

لورې! کاشکی دا زما دوس خبره وای ، ستا دپلار په باب زما زړه ډیر نازك دی.

سلمی دا وویل او کیناسته ، ناهید ددی لاس ونیو ویی ویل : مور جانی ستا تر اوسه پوری تبه ده ، راځه په بستره کې حمله .

## لومړی فصل:

# ناهید

# دسراندیپ په دربار کی

پاچا دســراندیپ په تخت ناست ؤ ، دتخت ښی او کـیڼ لوری ته په آبنوسی کرسیو څو سرداران هم دخپلو مرتبو او حیثیت په اندازه په ترتیب ناست وو دپاچا ښی خواته لومړی او دوهمه چوکی د راج کمار او دهی رام وی ، راج کمار یو ښکلی او با رعبه زلمی ؤ ، دکرسیو شاته په دوو کتارو کی څو نور منصبداران لاس په نامه ولاړ وو خاص خدمتگار دربار ته ننوت او درسمی آدابو له پر ځای کولو وروسته ئی وویل:

قدرمن پاچا! دلیپ سنگ په دربار کی دحاضریدو اجازه غواړی .

راجه په پریشانی پوښتنه وکړه: دلیپ سنگ راغی ، ابو الحسن او نور ملگری ئی څه شول؟!

خدمتگار وویل: عـزتمنده! له هغـه سره نور څوك نشتـه یوازی یو عـرب ځوان ورسره دی ، هغه هم ستاسو په حضور دمشرف کیدو اجازه غواړی.

راجه په نا کراری وویل: زر کوه راتئی وله ...

دخدمتگار له وتلو نه لږ ځنډ وروسته دلیپ سنگ له یوه شل دوه ویشت کلن زلمی سره په دربار کی حـاضـر شـو ، ددلیپ سنگ په لاسـو کی یو دسپینو زرو پتنوس ؤ چی په هغه کی یو طلایی ډبلی او یو خنجر ؤ دخنجر دستـه په گرانبیـه جواهرو او غمیـو ښکلی وه دلیپ سنگ له دروازی نه تر تخته پوری دری ځایه په ملا خم شو ، او بیا وړاندی شو دراجه په مخکی ئی پتنوس کیښود او بیرته شاته لاس په نامه ودرید ، خو دراجه ، ولی عهد او دربار دنورو حاضرینو نظر په ځوان نښتی ؤ .

دا دبیابان داوسیدونکو عربو دترقی دور ؤ . دمسلمانانو دفاتحو لښکرو په مقابل کې دکفر دځواکونو پخوانی مزبوتی کلا گانی او سنگرونه یو پربل پسی ماتیدل ، او دکفر لښکری یوی زوروری څپی په مخه اخیستی وو ، په ترکستان ، ارمنستان او شمالی افریقا کی دغازیانو آسونه مخ په وړاندی زغلیدل . دفتحو یوه څپه په ختیځ کی تر مکران پوری را رسیدلی وه ، او دا هغه زمانه وه چی دعربو گاونډیو ددوی دهر یوه په تندی کی دسکندر بخت،دارسطو هوښیاری ، او دسلیمان «ع» جلال او وقار لیدو روږدی شوی وو،دځمکی پر سر دغه وروسته پاتې قوم داسلام په برکت دترقی او عزت هغه څوکو ته اوچت شو چی تر اوسه پوری دبل اولس په نصیب کی نشته .

دسیلون «سراندیپ» دراجه په دربار کی هغه ځوان ولاړ ؤ چی پلرونو ئی دیرموك او قادسیی په جنگونو کی دختیځ او لویدیځ ددوو لویو پاچاهیو عظمت له خاورو سره برابر کړی ؤ ، هغه دهغسی زلمیانو څخه ؤ چی دځیرې په لیدو ئی دسیرت او اخلاقو دپوښتنی حاجت نه پاتی کیږی. راجه او نور درباریان دهغه په لیدو دده په ظاهری او باطنی ښکلا او ښیگنو اعتراف کاوه . هغه په بی پروائی گامونه واخستل او وړاندی ولاړ، دهغه په سترگو کی پرځان داعتماد نور ځلیده ، بیایی شونډی وریږیدی او ټول محفل غوږ غوږ شو ، تر بنی شیبی پوری دراجه او نورو درباریانو په غوږونو کی «السلام علیکم» الفاظ وکړنگیدل.

راجکمار ځوان ته لاس ورکړ او ستړی مشی ئی ورته وویل ، نورو درباریانو هم د دربار دستور ته شا کړه او یوه یوه په نوبت هغه ته لاسونه ورکړل او مصافحه ئی ورسره وکړه ، راجکمار ، هغه له ځان سره نژدی کښیناوه او په گوډه ماته عربی ئی خبری ورسره پیل کړی:

ستاسو نوم څه دی؟

ځوان: «زبیر»

راجکمار: له کومه ځایه راغلی؟

زبیر: له بصرې نه .

راجکمار: دابو الحسن او اندیوالانو ئی څه درك معلوم شو؟

زبیر: نه! زه ویریږم چی هغوی ته په لاره کی څه پیښه نه وی شوی.

دراجکمار په څیره مایوسی وغوړیده .

راجه تر یو څه ځنده دا پریکړه نه شوای کولای چی دراجکمار په خبرو په غوسه شی او که خوښ ، درباریانو دتخت پر ځای دراجکمار او عرب ځوان په لور سترګی اړولی وی ، او دا دراجه لپاره نوی خبره وه ، خو دخپل ایکی یوازی زوی په ګوده ، ماته عربی هغه ددرباریانو دبی پروائی ترخه هیرول ، بالاخره ئی عرب ځوان ته وویل: «زه ستاسو په لیدو ډیر خوښ یم»

زبیر ځواب ورکړ: مننه! دسراندیپ پاچا ته زموږ خلیفه او دعراق والی سلام وائی.

هغه دغه جمله نیمه په عربی او نیمه دسراندیپ په ژبه ادا کړه .راجه او شهزاده وموسکل او ددوی دموسکا په لیدو درباریانو په زوره زوره وخندل.

راجه تری وپوښتل: تا زموږ ژبه چیرته زده کړه ؟

زبیر دلیپ سنګ ته وکتل او ویی ویل: دی زما استاد دی راجه او درباریانو دلومړی ځل لپاره دلیپ سنګ ته ور وکتل راجه ورته وویل: ای دلیپه! دابو الحسن څه درك معلوم نه شو؟

دلیپ: پاداره! سږ کال زموږ یوه کښتی هم دعربو یوه بندر ته هم نه ده رسیدلی . په بصره ، مدینه ، مکه او دمشق کی دهغوی یو نه یو خپل خپلوان ژ خو تولو ویل چی سږ کال ابو الحسن حج ته نه دی راغلی ، په بیرته را ستنیدو کی می په هر بندر کی پوښتنه وکړه ، خو داسی ښکاری چی دسند ساحل ته نژدې ددوی کښتی ته کومه پیښه شوی وی تاسو چی ددمشق دپاچا او عراق دوالی لپاره څه سوغاتونه استولی وو هغه هم نه دی رسیدلی ، بیا هم هغوی ستا مننه وکړه ، ما دهغوی له خوا تاسو ته دغه سوغاتونه راوړی دی په دی طلایی دبلی کی یو «غمی» دی ددمشق پاچا تاسو ته را استولی ، او دا خنجر دعراق والی را استولی . پردی سر بیره می اته عربی اسونه هم راوستی څلور سپین اسونه پاچا را لیږلی او څلور مشکی دعراق والی ، هغه می شاهی طویلی ته ورسول.

راجه ورتیټ شو دبلی ئی اوچت کړ ، سرئی خلاص کړاو ځلیدونکی غمی ئی ولید بیا ئی خنجر اوچت کړ او دموتی ستاینه ئی وکړه ، بیا ئی دواړه سوغاتونه راجکمار ته ور نژدې کړل او وئی ویل:

وگوره شهزاده ، دا دهغه پاچا سوغاتونه دی چی اوسپنه ئی هر ډول اوسپنی پری کوی ، او چی دپاچهی په قلمرو کی ئی ډیر غرونه ، ډیر سمندرونه او ډیر سیندونه دی، او پوځیانو ته ئی پخی کلا گانی دخاورو جونگړی ښکاری او پر آس سپاره له سمندرونو نه پوری وزی.

او دا خنجر ماته دعراق والی را استولی ، هغه والی چی لوی لوی پاچاهان ئی دنامه له اوریدو سره لړزیږی .

راجکمار په کوم چورت کی ډوب ؤ هغه دا دواړه تحفی واخستلی په بی پروائی ئی ورته وکتل او وزیر ته ئی ورکړی ، دغه سوغاتونه چی دسراندیپ راجه ته دځمکی دسر دټولو خزانو نه گران بیه وو ، په ټول دربار کی لاس په لاس وگرځیدل او ټولو ئی ستاینه وکړه . بیرته راجه ته راغلل ، راجه به کله ډیلی اوچت کړ او په لاسو کی به ئی واړاوه او کله به ئی خنجر په ځیر ځیر وکوت ، بالآخره ئی زبیر ته وویل :

زړه می غواړی په خپلو سترگو ستاسو پاچا ووینم.

زبیر وویل: زموږ څوك پاچا نشته.

پاچا وخندل او ویی ویل: ابو الحسن هم همداسی ویل چی مسلمانان څوك پاچا کوی نه ، آه هغه بیچاره څومره ښه سړی ؤ . دتوری یار ، دوعدی پابند، دهغه لور به څومره خفه شی ، او هغه عبد الرحمن او یوسف څومره شریف خلك وو ، بگوان «خدای» پوهیږی ددی خبر په اوریدو به ئی دبال بچ څه حال وی ، تاسو دهغوی کورنی لیدلی؟

زبیر: نه صاحب ، زه سیده دلته راغلی یم ، زبیر له خپل جیب نه یو لیك را وایست راجه ته ئی وړاندی کړ او ویی ویل: دا لیك دبصری حاکم راکړی دی.

راجه دلیپ سنگ ته اشاره وکړه ، دلیپ سنگ لیك پرانست او ترجمه ئی واوروله:

پاچا ته دبصری والی سلام وایی، دعربی سوداگرو دکوندو او یتیمانو سره ستاسو له ښه سلوك نه مننه ، له تاسو نه هیله من یو چی بصری ته ددغه کونډو او یتیمانو درا استولو بندو بست وکړئ ، موږ ستاسو له استازی سره دخپل پوځ یو سالار «زبیر» در واستاوه هیله ده چی زر تر زره

بی سرپرسته کورنی ورسره را واستوی ، زموږ په گومان ابو الحسن اودهغه ملگرو ته دهندوستان په لویدیځو غاړو کی څه پیښه شوی، که معلومه شوه چی ددوی کښتی سمندری ډاکوگانو ډوبه کړی ده نو هغوی ته په سزا ورکولو کی باید ځنډ ونه شی .

دلیك دمضمون له اوریدو وروسته راجه سر ښکته واچاوه او تر ډیره ځنډه په څه چورتونو کی ډوب ؤ ، زبیر راجکمار ته وکتل دهغه په سترگو کی اوښکی وی او چت ته ئی کتل ، زبیر ورته وویل:

تاسو ډیر پریشانه یاست ، داسی ښکاری چی له عربو سره زیات بلد او عادت وی.

دراجکمار په ژړه غونو شونډو لړزه راغله، داوښکو تم کولو ناکامه هڅه ئی وکړه ، بیا له خپلی کرسۍ نه اوچت شو ، او بیله دی چی څه ووائی شاته یوی کوټی ته ننوت ، راجه له ابو الحسن سره دزړه له تل نه مینه درلوده ، د هغه دمرگ خبر وروکی غم نه ؤ . خو دخلیفه داستازی وجود هغه صبر ته مجبور کړی ؤ . دراجکمار له وتلو وروسته هغه له زبیر او دلیپ سنگ نه پرته ټول دربار رخصت کړ او زبیر ته ئی وویل:

راجکمار له ابو الحسن سره ډیره مینه درلوده ، ماته هم هغه ورورښکاریده ، زه دهغه په مرگ ډیر خفه یم ، خو دا گله ویلای شو چی هغه او ملگری ئی خامخا مړه دی ، امکان لری هغوی په لاره کی سمندری غلو نیولی وی ، زه تر ټولو زیات په بی چاره «ناهید» خفه یم ، تر اوسه ئی دمور غم نه دی سوړ شوی ، اوس به دغه صدمه ورته له زغم نه وتلی وی.

زبیر وویل: ناهید څوك ده؟

راجه ځواب ورکړ: هغه دابو الحسن یوازینی لور ده هغه زه هم خپله لور گنم ، ډیره ښه نجلی ده ، بیا راجه دلیپ سنگ ته مخ ور واړاوه ورته وئی ویل:

دی میلمستون ته بوځه ، دآرام او خدمت بندوبست ئی وکړه ، زه به شهزادگی دهغوی دتسلی لپاره ور واستوم.

زبیر وویل: زه نیغ ستاسو حضور ته راغلم تر اوسه می هغوی نه دی لیدلی ، که ستا خوښه وی یو ځل ئی ووینم .

راجه وويل: ډيره ښه ده ، دليپ سنګه! ته ئې هلته بوځه.

* * * * *

(۲)

دشاهي ماڼۍ په دروازه کي زبير او دليپ سنګ ته يو «۱۹» کلن زلمی په مخه ورغی او ددوی په ليدو ئې له دليپ سنګ سره تر سترګي مښي ورروسته وويل: ايا رښتيا زما دپلار جان دوی کښتي جدې ته نه ده رسيدلې؟

دليپ سنګ هغه په غيږ کي ونيو او ورته ويل : خالده! ما په ډيروبندرونو او ښارونو کي ولټول خو دهغوی درك را معلوم نه شو .

خالد وويل: زه اوس له بندر نه راغلم ، دعربو څو ماڼوګانو ويل چي ددوی کښتي د سند په څنډو کي ډوبه شويده ، تاسو به د«ديبل» له حاکم نه پوښتنه کړي وه ، ښايي څه درك ئې لګيدلی وای.

دليپ سنګ ځواب ورکړ: دسند راجه او دهغه منصبداران ډير مغرور دي ، زه ويريدم چي دديبل سردار به سم ځواب را نه کړي ، ځکه ما پخپله له هغه ځای ته له ورتګ نه ډډه وکړه او دمکران مسلمان حاکم ته مي وويل چي څوك هلته واستوی او پوښتنه وکړي، زه ددمشق او دبصري د والي حجاج بن يوسف له ليدو وروسته چي بيرته مکران ته را ستون شوم دسند نه دهغوی استازي هم بيرته راغلی ؤ او ويل يې چي دديبل حاکم دکښتي په باب څه معلومات نه درلود.

خالد وويل: زه له بندر نه سيده دلته راغلی يم ايا تاسو زموږ کورونو ته خبر ورکړی دی؟

دليپ سنګ: نه موږ هم دا خبرنه دی ورکړي ، زه زبير ميلمستون ته بيايم بيا له تاسره ځم.

خالد زبير ته وکتل او ويې ويل: ستاسو ميلمستيا پر موږ حق ده ، راځي له ماسره ولاړ شي لږ تر لږه به زموږ تورسريو ته ډاډ ورکړي.

زبير وويل: راځي دليپ سنګه!

هغه وويل: که مناسبه ګڼی تاسو له خالد سره ولاړ شي زه به ستا دملګرو انتظام وکړم بيا به درشم .

زبير دخالد سره روان شو په لاره کي يې تري وپوښتل:

ته دابو الحسن زوی یی؟

خالد : هوکی ، تاته چا وویل؟

زبیر: ما تولہ لارہ لہ دلیپ سنگ نہ ستاسو پہ ارہ پوښتنی کولی، دهغه دخبرو نه زما په ذهن کی چی ستا کوم تصویر ؤ ته له هغه نه زیات توپیر نه لری ، تا چی په کوم صبر او داړ دغه بد خبر واورید زه ډیر تراغیزي لاندي راغلم ته رښتیا خالد یې.

دخالد په شونډو یوه غمجنه موسکا خپره شوه ویی ویل : کله چی پلار جان دحج دسفر تکل کاوه ما ورته وویل چی له ځان سره می بوځی ، دمور دناروغی په سبب پاتی شوم ، هغه وخت ما لومړی ځل وژړل.

پلار می چی په سترگو کی اوښکی ولیدی ډیر خفه شو ویی ویل: زویه! خالد ژاړی نه ، ما پر تا دهغه ستر مجاهد نوم ایښی چی تپی تپی به ؤ خو تر خوله ئی آه نه خوت.

«۳»

دښار په یوه څنډه دیوه خوړ په غاړه دعربی سوداگرو هستوگنځایونه وو ، دخوړ دواړو غاړو ته دناریال ونی ولاړی وی . لږ وړاندی خالد دډېرو یوی کلا ته اشاره وکړه ویی ویل: دا زموږ کور دی.

په کلا کی دننه دکیلو او ناریال ګڼ باغ ؤ ، دډبرو نه جوړ وړوکی کور په مخکی یوه چوتره وه چی دبانس دلرگو څپره پری دریدلی وه ، او پر سرئی دگلانو او شنو بوټو څپر خپور ؤ ، هوا نه چلیده ، او گرمی زیاته وه ، زبیر په خولو کی ډوب ؤ خالد چی دگرمی زور ولید هغه ئی دکوټی پر ځای په همدی څپره کی مناسب ولید ،زبیر دیوی ونی په تنه کیښناست ، دخالد په اشاره یوه تور پوستی هلك هغه ته په لاس بیوزی وواهه ، تور پوستی هلك په پکی وهلو یو ډول خوښی احساسوله ، خو زبیر خالد ته وویل: په دی گرمی کی ده ته زحمت ورکول مناسب نه دی ، ورته ووایه پکی وهل پریږده.

تور پوستی هلك پخپله په عربی ځواب ورکړ: ته زموږ میلمه یی ما دخدمت له حق نه مه محرومه.

زبیر وویل: او هوا ته په عربی پوهیږی؟

دهلك پر ځای خالد ځواب ورکړ: دی له وړوکوالی له موږ سره اوسی ، دی زموږ پلار پاللی دی.

هلك دزیاتی پیژندنی ضرورت احساس کړ ویی ویل: زه مسلمان هم یم او نوم می علی دی.

خالد دسراندیپ په ژبه څه وویل هغه پکی پریښود او په یوه منډه دناریال په یوه دنگه ونه وخوت او څو ناریال ئی را وشکول ، دناریال له اوبو څښلو نه وروسته زبیر له خالد سره تر لږ ځنډه خبری کولی او دخپل پلار ددردناك انجام سره سره ئی دعربو د میلمه پالنی دروایت له مخی دزبیر له خپرو سره مینه ښکاروله ، خو زبیر دا احساس کړه چی دهغه په شونډو غمجنه موسکا دآهونو او زگیریو نه په څو څو واره زره دردوونکی ده.

دخبرو په وخت کی خالد څو څو ځلی له ځایه جگ شو او دلویی دروازی په لور به ئی وکتل بیائی علی ته وویل: ناهید تر اوسه نه ده راغلی ورشه رائی وله.

علی اوچت شو او ووت ، خالد زبیر ته وویل دملکی او شهزادگی زما له خور سره زیاته مینه ده ، نن هغوی دلته راغلی وی ناهید ئی هم ورسره بوتله ، هغه که دغه خبر واوری ډیره به خفه شی تر اوسه لا دمور دمرگ په ماتم کی ده هره ورځ دمور قبر ته ځی ، بیائی یو سوړ اسویلی وکیښ او چوپ شو.

زبیر په غمجنه لهجه پوښتنه وکړه: مور مو څه وخت وفات شوه؟

خالد: دوی میاشتی کیږی چی وفات شوه ، دپلار جان له تگ څخه وروسته تر ٦ میاشتو پوری په موسمی تبه «ملاریا» ناروغه وه ، خو دهغه دمرگ اصلی سبب دپلار جان بی درکی وه ، هغه به سهار او مابنام بام ته اوچته شوه دسمندر په لور به ئی کتل ، چی له لری به کومه کښتی ښکاره شوه په ځیره کی به ئی له خوښی رنا ځلیده ، زه به ئی داحوال لپاره بندر ته واستولم ، اوچی زه به ئی یوازی ولیدم چی راستون شوم سترگی به ئی مړاوی شوی ، دژوند په وروستی مابنام په زینه د ختلو نه ولویده ، موږ ددی په وار وار غوښتنه کټ بام ته وخیژاوه او دا مو هم کټ ته اوچته کړه ، مور می هلته تکیی ته ډډه ووهله او په سمندر ئې سترگې ښخې کړې ، له

بده شامته په هغه ورځ هیڅ کښېنستی را ښکاره نه شوه ، زه دماښام په آذان له بام نه راښکته شوم او نژدې جومات ته دلمانځه لپاره ولاړم ، چې بېرته راغلم دی ورووستی سلګی وهلی ، سترګی ئی لوځې وې او لری ئی په سمندر کی په کوم تکی ګندلې وې . ناهید راته وویل چی وروستی الفاظ ئی دا وو: «ناهیدې! ستا پلار راځی خامخا راځی ، هغه بی وفا نه دی ، بی وفا زه یم چی دهغه انتظار می ونکړای شو».

زبیر په خپل ۲۲ کلن ژوند کی له تورو او نېزو نه پرته بل څه نه وو لیدلی ، هغه یو نه ویریدونکی بېړی چلوونکی «ماڼو» ؤ او یوازې له توپانونو سره په مقابله پوهیده ، دهغه ژبه دخوږو او مزه دارو الفاظو سره نا اشنا وه ، دخالد خبرو زیات تاثیر پری وکړ خو بیا هم له ده سره دډاډینې او تسلې لپاره مناسب الفاظ نه وو ، یوازې دومره ئی وویل او چوپ شو چی:

خالده! زه ستا دمور په دردناك او ارمانجن مرګ ډېر خفه شوم کاشکی ما له تا سره ددی وېر پیټی اوچتولی شوای.

علی په منډه راغی او ویې ویل: هغه راغله!

دزبیر سترګی بی اختیاره دبهرنی دروازې په لوری ور واوښتی ناهید چی په دروازه ننوته له لیری ئی له خپل ورور سره بیګانه ځوك ولیدل ږ ئی پښه ونیوله او په مخ ئی پرده را خوره کړه ، بیا ئی ورو ورو قدمونه اوچت کړل او وړاندی ولاړه زبیر دغه وخت یو ژړه غونی غږ واورید:

ایا دا رښتیا ده چی دپلار جان کښتی ...

او نور دهغی غږ په سلګیو کی ورك شو .

زبیر دحسن او وقار یوه بی مثاله ځلکا لیدلی وه ، دهغه سترګې دنورو لیدو لپاره تیاری نه وی او پخواله دی چی ناهید پرده په مخ واچوی ده خپل نظر بلی خواته اړولی ؤ ، هغه دمخامخ پر ځای سترګې لاندې په ځمکه ګندلی وی ، زبیر یو حیاناك ځوان ؤ ، دده‌مور او پلار او چاپیریال دروزنی اغیزه وه چی هغه باید همدغسی حیاناك وای.

پردی سربېره زبیر پر ځان پوره باور او کنترول درلود هغه په وروکتوب کی له خپل پلار سره دلری لری ملکونو سفرونه کړی وو او په زلمی توب کی ښه تجربه لرونکی کښتی چلوونکی بلل کیده ، ده په لری لری ملکونو او

داوېدو سفرونو په ترځ کی ډیری ځوانی او ښایسته نجونی لیدلی وی چی د شوخو ځوانانو په لټه کی وی. په شام او فلسطین کی بی شمیره بی باکه سترګو دده پر مردانه حسن اعتراف کاوه ، خو ددی وخت دنورو نویو ځوانانو په ځیر دده سترګې تل دځمکی په لور وی.

زبیر په کښتی کی دسفر په وخت کی له دلیپ سنګ نه دعربی کورنیو دځوانانو او تور سریو په باب پوښتنی کولی او په خپل ذهن کی ئی ددوی تصویرونه جوړ کړی وو.

ددلیپ سنګ نه ئی دابو الحسن او کورنی په باب چی کومی پوښتنی وکړی دهغه له خبرو نه ئی دا نتیجه اخستی وه چی دابو الحسن کورنی به په عادتونو ، ژوندانه او ځیرو کی له نورو عربو نه خامخا توپیر او ځانګړتیا لری، دده دلچسپی دنورو په نسبت دابو الحسن له کورنی سره زیاته وه او چی کله ئی له خالد نه دمور دمرګ کیسه واوریده دغه خواخوږی او دلچسپی نوره هم زیاته شوه او اوس ئی پردی سربیره دیوی ویرمنی نجلی سره د خواخوږی او همدردی احساس کاوه.

ناهید بیا وویل: ماته ځواب راکړی آیا دا ربښتیا ده؟

تاسو چی څه له مانه پټوی زه پری خبره شوی یم.

خالد اوچت شو څو ګامه ور وړاندی شو او ویی ویل:

خوری! دتقدیر په مخکی دهیچا زور نشته.

زبیر هم دتسلی په خاطر ورته وویل: زه افسوس کوم چی تاسو ته می کوم ښه خبر را نه وړای شو.

ناهید بیله دی چی نور څه ووایی چوپه او په منده دکوریوی کوټې ته ننوته .

خالد لږ شیبه دوه زړی او په اندیښنه کی ولاړ ؤ بیا ئی زبیر ته وکتل او ورته وئی ویل: زه اوس بیرته راځم.

هغه هم په بیړه دناهید کوټې ته ور ننوت ، ناهید په کټ پر مخې پرته وه او سلګی ئې وهلې ، وروړ ئی تر مټ ونیوه پر سر ئی لاس را تیر کړ او ورته ویی ویل:

ناهیدی! صبر وکړه.

علي لږ شيبه له زبير سره پاتې شو بيا ورو ورو دکوټې په لوري ورغی ، په دروازه کې ئې دناهيد سلګۍ او ژړا واوريده هغه ته ټوله نړۍ ماتم ښکاره شوه ، لږ تم شو بيا په نه زړه او شرم نه ډکه څيره ورو ورو کوټې ته ننوت دخالد په اوږه ئې لاس کيښود او وئې ويل:

ناهيد خور مې ولې ژاړې؟

خالد چې دده له اوښکو ډکو سترګو ته وکتل مينه ئې پرې راغله ورته وئې ويل:

علي! پلار مې بيا نه راځي.

دعلي له خولې نه يوه زړه ربړدوونکې کريکه ووته:

نه! نه! داسې مه وايه! هغه به خامخا راځي.

خالد وويل: زبير له دليپ سنګ سره راغلی دوی وائي چې ښايي دپلار جان دوی کښتۍ ډوبه شوې وي.

دعلي له سترګو نه داوښکو چينې وخوټيدې، او شونډې ئې بوخې بوخې شوې ، غوښتل ئې کريږې ئې تم کړې او له کوټې نه ووت ، هغه غوښتل داسې ځای ته ولاړ شي او دخپل زړه بار کم کړي چې هيڅوك نه وي ، خو کله چې بهرته را ووت ، ډير ګاونديان پرې ورټول شول ، لږ ځنډ وروسته دعربو نارينه او ښځې ټول دخالد دوی دکور په انګړ کې را ټول شول ، خالد چې شور او زوږ واوريد بهر ته را ووت په ګڼه ګوڼه کې ئې په يوه شيبه کې شل پوښتنې واوريدې:

طلحه ور وړاندې شو ټول ئې چوپ کړل بيا ئې له خالد نه پوښتنه وکړه آيا دکښتۍ دډوبيدو خبره رښتيا ده؟

خالد دهو پر ځای سر ورته وخوځاوه.

هغه زبير ته وکتل وئې ويل: آيا دغه خبر تا راوړی دی؟

زبير ځواب ورکړ: زه افسوس کوم چې تاسو ته دښه خبر راوړونکی نه شوم.

طلحه وويل: کښتۍ څه ډول ډوبه شوې؟

زبير ځواب ورکړ: موږ ته دا معلومه نه شوه .

زبير ټولو نارينه او ښځو ته ځانګړې تسلي ورکړه او بيا ئې

بیرته عربو ته دستنیدو په اړه ورته وویل :
تاسوڅه اراده لری ؟
ورو او لویو ټولو په یوه خوله دبیرته ستنیدو هیله و کړه ، زبیر تر ډیره ددوی سره خبری کولی ، بالآخره ئی دمازدیگر لمانځه آذان واورید او له نورو خلکو سره دجومات په خوا روان شو.
دطلحه په اصرار زبیر دلمانځه امامت وکړ ، کله چی له لمانځه نه خلاص شول بهر ته را ووتل په دروازه کی راجکمار او دلیپ سنگ ولاړ وو ، دخالد په لیدو دراجکمار په تورو او ځلیدونکو سترگو کې اوښکې وځلیدې ، را وراندی شو خالد ته ور تر غاړه شو.
دلیپ سنگ زبیر ته وویل: راجه صاحب تاسو بللی یاست ، خالده ته هم راځه.
زبیر وویل ما خو هغه لیدلی دی څه خاصه خبره خو نشته .
دلیپ سنگ : در.به په زړه دابو الحسن وفات ډیر اثر کړی هغه وخت ئی له تاسره زیاتی خبری ونکړای شوی.
زبیر وویل: لکه چی دراجکمار هم له هغه سره ډیره مینه وه، اوښکې ئی تر اوسه نه دی وچی شوی.
دلیپ سنگ: هوکې! راجکمار ډیر خفه دی ، له ده سره ابو الحسن ډیره مینه کوله.

(٤)

دشاهی محل په لوری چی دوی تلل زبیر دخلکو یوه درنه غونډه ولیده دلیپ سنگ وویل: پاچا چی ستا سوغاتونه او اسونه ولیدل له خوښی نه په جامو کی نه ځائیږی ، دهغه په امر ئی آسونه ننداری ته را وستلی دی ، دآسونو جلب دډیرو معتبروخلکو او سردارانو په لاس کی دی ، که پاچا دابو- الحسن په غم ویرمن نه وای پخپله به هم دی ننداری ته را وتلی ؤ.
زبیر چی ور نژدی شو هغه اته تنه سرداران ئی ولیدل چی دآسونو جلبونه ئی په لاس کی وو چی ده په دربار کی په کرسیو ناست لیدلی وو.
په آسونو داسی شالونه غوړیدلی وو چی په قیمتی غمیو ښکلی شوی وو راجکمار په موسکا زبیر ته وویل: آیا ستاسو په هیواد کی هم دآسونو

دومره قدر کیږی؟

زبیر ځواب ورکړ: نه موږ یوازی ددوی داوبو او خوراك خیال کوو.

دلیپ سنگ وویل : دا دآسونو قدر نه دی دآسونو درالیږونکو په درناوی دا کار کیږی.

په آسمان وریځی را خوری وی ، او هوا نسبتاً معتدله وه راجه دمانې ددوهم پوړ له یوی کړکۍ نه دسمندر په لوری کتل ، زبیر او ملگری ئی ورغلل ده ئی چی دپښو غږ واورید مخ ئی را واړاوه ، پاڅید او زبیر ته ئی لاسونه ورکړل ، بیا ئی خالد ته وکتل وئی ویل :

زویه! ستا دپلار په وفات ډیر خفه یم ، زما په خیال ددوی کښتی دتوپان په سبب ډوبه شوی ، خو که دا ثابته شوه چی ددوی په کښتی چا یرغل کړی او ډوبه کړی ئی ده نو زه به دهغوی دڅپلو لپاره خپل ټول پیلان او بیړی د بصری حاکم ته سپارم.

راجه وړاندی کرسیو ته اشاره وکړه او پخپله هم کیناست خالد هم کیناست خو دلیپ سنگ لا دریدلی ؤ .

راجه دلیپ سنگ ته وکتل او وئی ویل : کښینه!

تا ډیر لوی کار کړی دی سر له سبا نه ته دنورو ټولو سردارانو نه وړاندی له شهزاده سره نژدی په دربار کی کښینه.

او بیا ئی زبیر ته وکتل وئی ویل: زه دبصری دوالی دخوښی پر خلاف څه نشم کولی خو که ته دعربو زامن بی سر پرسته گڼې او له دی ځایه ئی بیا-یی زه ډیر خفه کیږم . زه هغوی خپل بچیان گڼم ، که دوی دلته اوسی ټول ضروریات به ئی دشاهی خزانی نه حواله کړم ، تاسو له هغوی نه پوښتنه وکړی که دلته په تنگ او په زحمت وی تاسو ئی له ځان سره بیولی شی.

زبیر ځواب ورکړ: هغوی هیڅ شکایت نه لری ، له تاسو نه ډیر خوښ دی او زه ددوی پر ځای له تاسو نه مننه کوم ، خو موږ نه غواړو چی زموږ دقوم یتیمان دی دومره لری پاتی شی ، ددوی ښه روزنه او تعلیم هلته ښه کیدای شی ، وروسته بیا که بیرته دلته راستنیږی نو بیرته به راواستول شی.

راجه پوښتنه وکړه: تاسو ټول له ځانه سره بیائی؟

زبیر: نه طلحه او څو نور سوداگر پاتی کیږی .

راجه : خالد او خور یی هم دلته پاتی کیږی؟

زبیر: نه! هغوی هم له ماسره ځی.

راجکمار په غمجنه لهجه وویل: نه! هغوی موږ نه پریږدو چی ولاړ شی ، خالد ته ما ورور ویلی دی.

دپردی له شانه یو ښځینه آواز اوچت شو: او ناهید زما خور ده . بیا یوه خوارلس کلنه نجلی دراجه په مخکی ودریده هغه هم دراجکمار په څیر غنم رنگی وه ، خو دبنی جوړښت ئی ښکلی او زړه وړونکی ؤ . سترگی ئی ښکلی او ځلیدونکی وی خالد ته ئی وویل: وروره! مور جانه دی غواړی.

خالد اوچت شو بلی کوټی ته ولاړ ، نجلی هم په تگ تگ کی شاته راکتل راجه ته ئی وویل: پلار جانه ددوی خبرو ته غوږ مه ږده.

راجه زبیر ته وکتل وئی ویل: ودی لیدل؟

زبیر وویل: ډیره ښه ده زه دوی خپلی خوښی ته پریږدم.

خالد لږ ځنډ وروسته څوړند سر بیرته راغی پخپل ځای کیناست راجه پوښتنه وکړه زویه! زبیر دا فیصله تاسو ته پریښوده اوس ته ووایه چی دلته اوسی که نه؟

خالد ځواب ورکړ: ستاسو پر موږ زیات احسان دی ، که زما اراده وای چی آرام ژوندوکړم نو ما به تاسو هیڅکله هم نه پریښودی . خو اوس زموږ قوم په لری لری هیوادونو کی جهاد کوی او زما په رگونو کی دیوه مجاهد وینه ده ، ما اوریدلی دی چی د وخت دغوښتنی په سبب له مانه کشران جهاد ته ځی نو زه له دی نیکمرغی نه ځان نشم محرومولی.

راجه تر لږ ځنډه سر ښکته واچاوه او په چورتونو کی ډوب شو ، بیا ئی سر اوچت کړ او ویی ویل:

زویه! ته دابو الحسن زوی یی! که تا دا اراده کړی وی نو زما باور دی چی دنړی هیڅ ځواك دی نشی را گرځولی.

هغه قوم نیکمرغه دی چی میندی ئی ستا په شان زامن زیږوی .

خالد وویل: زه غواړم چی تاسو په خوښی ماته دتگ اجازه راکړی.

راجه ځواب ورکړ: دابو الحسن دزوی خوښی زما خوښی ده.

# قزاق «لوټماران»

لس ورځې وروسته يو سهار په بندر کې ددوی کښتي تياری ولاړې وې ، په يوه کښتي کې زبير سليمان ، او کونډې سپاره کړل ، او په بله کې راجه دليپ سنگ ته دحجاج بن يوسف او خليفه وليد لپاره پيلان ، طلائي او دغميو سوغاتونه بار کړل ، راجه هغوی ته لس پيلان ورواستول.

راجه او شهزاده زبير او انډيوالانو ته ئې درخصت ورکولو لپاره بندر ته ررغلی وو ، راجه دعربو ټولو يتيمانو او تور سريو ته هم گرانې تحفې ورکړې ، زبير ته هم هغه ډير څه وراندې کړل خو هغه يوازې دسنډا دپوست يو ډال خوښ کړ او وائي خست، ملکې خپل دجواهرو قيمتي اميل په ډير ټينگار ناهيد ته په غاړه کې ور واچاوه ، شهزادگی درخصت په ورځ دهغوی کور ته ورغله او په ډير ټينگار ئې خپله قيمتي گوته هغې ته ورکړه ، په بندر کې له خدای پاماني نه دمخه دشهزاده په سترگو کې اوښکې ډنډ شوی خالد ته ور تر غاړې ووت بيا ئې خپل قيمتي هار دهغه په غاړه کې ور واچاوه.

دکښتيو بادبانونه پرانستل شول ، دشمال څپو کښتي پر مخ ټيل وهلی ، او دښار خلکو خپل ميلمانه رخصت کړل اوپه اوښکو او سلگيو کې يې له هغوی سره خدای پاماني وکړه.

دښځو لپاره ديوی بنی لويی کوټي نه پرته دکښتي په تخته هم ځانگړې تنابونه او پردې اچول شو ی وو او جلا ځای ورته تيار شوی ؤ ، خالد هلته دلته گرځيده او دکښتي دماڼوگانو سره ئې دلچسپي شوه ناهيد له علي سره

په تخته ناسته وه او دناریال هغو ګڼو او دنګو ونو ته ئی کتل چی دژوند ډیری ښی شپی ورځی ئی په یخ سیوری کی ور سره تیری شوی وی.

سهار په ماښام بدل شو ، او دسراندیپ ځنډی دیوی ښنی کرښی په ځیر ښکاریدی ، او ورو ورو دغه شنی کرښی هم دماښام په تیارو کی ورکی شوی . هغه اوښکی چی دناهید په سترګو کی ډیر وخت تم وی را وخوټیدی او ښکته وځڅیدی،علی هم دخپل پلرنی وطن په پریښودو خفه ؤ خو هغه له ناهید او خالد سره په یوځای تګ تر دی ډیر خوښ ؤ.

دشپی آسمان شین ؤ ، ماشومان او ښځی دکښتی پر مخ په خلاصه هوا کی ویده شول ، ناهید تر ډیره وخته د آسمان په تندی کی ځلیدونکو ستورو ته کتل ، دپردی بل لوری ته خالد له زبیر او کښتی چلوونکو سره خبری کولی،اته کلن هاشم دناهید تر څنګ پروت ؤ ، دهغه مور وفات شوی وه او پلار ئی له ابو الحسن سره بی درکه ؤ.

هاشم اوچت شو کیناست په تیاره کی ئی سترګی وغړولی او یوه او بله خوا ئی کتل ، ناهید پوښتنه تری وکړه:

څه خبره ده هاشمه!

هاشم وویل: علی چیرته دی؟

ناهید ځواب ورکړ: هغه دخالد دوی سره له ماڼوګانو سره مجلس کوی.

هاشم: زه له هغه نه یوه پوښتنه کوم بیرته راځم . دائی وویل او په تیاره کی ئی ورو ورو ګامونه واخستل علی ته ورغی او پوښتنه ئی وکړه: علی کله چی بیړی ډوبه شی نو څه کیږی؟

علی په سادګی ځواب ورکړ: دسمندر تل ته ښکته کیږی.

کښتی چلوونکو په دی ځواب په زوره زوره وخندل .

هاشم: واه واه ، په دی خو زه هم پوهیږم ، زما مطلب دا دی چی خلك څه کیږی؟

علی: خلك کبان خوری.

هاشم: دروغ! خلك خو کبان پخپله خوری.

علی بیا ځواب ورکړ: په څمکه خلك کبان خوری خو په سمندر کی کبان خلك خوری.

هاشم څه په خبره ورسید او څه نه او بیرته راغی په خپله بستره وغځیده.

څو ورځې وروسته کښتۍ دمالابار دځنډو سره سفر کاوه په لاره کې ئې دتازه اوبو او خوراکي شیانو لپاره په بندرونو کې څو ځلې لنګر واچاوه او تم شول . په دې موده کې له کومې پیښې سره مخ نه شول . دمالا بار په یوه بندر کې څو عربي سوداګرو دوی ته ښه راغلاست ووایه ، او دتیر اوږده سفر دستومانۍ لرې کولو لپاره ئې څلور ورځې دمه کړل ، په دې څلورو ورځو کې دسراندیپ دراجه دقیمتي سوغاتونو نه تر لرې لرې ځایونو پورې خلك خبر شول.

درخصتۍ په ورځ دبنار حاکم بندر ته راغی او له زبیر او دلیپ سنګ سره ئې وکتل ، دوی ته ئې په لاره کې دسمندري غلو او ډاکوګانو له خطر نه دهوښیارۍ مشوره ورکړه دلیپ سنګ ځواب ورکړ: تاسو چرت مه وهئ زموږ کښتۍ پوره وسله والي دي.

دریمه ورځ دکښتۍ پهره دارانو یو پر بل پسې دشمال له لورې ددوو کښتیو دراتګ خبر ورکړ .

کښتۍ چلوونکي پریشانه ودریدل ، ددلیپ سنګ کښتۍ مخکې وه .

هغه دخپلې کښتۍ ددرولو امر وکړ او دزبیر دکښتۍ دورنژدې کیدو په انتظار شول ، کله چې دواړه کښتۍ یو بل ته نږدې ودریدې نو دلیپ سنګ وویل: امکان لرې دا کښتۍ دسمندري لوټمارو نه وي ، خو موږ باید دمقابلې لپاره تیار وو . تاسو خپله کښتۍ د لویدیځ په لورې بوځئ زه له دوی سره مقابله کوم.زبیر ځواب ورکړ: نه! موږ په خطر کې تاسو یوازې نه شو پریښودلای.

دلیپ سنګ وویل: زما ستا په همت شك نشته، خو زموږ ترټولو روښنې مسئولیت دادی چې دماشومانو او ښځو خیال وساتو.

زبیر ځواب ورکړ: که هغوی رښتیا لوټماران وي نو دلویدیځ لاره به ئې هم خامخا ترلې وي . په دې حالت کې تر ټیښتې دجګړې او مقابلې خطر لږ دی ، او دا زموږ له پاره ممکنه هم نه ده چې دخپلو دوستانو ژوند په خطر کې واچوو او وتښتو.

دلیپ سنګ: بس نور ستا خوښه ، نو ښځو ته ووایه چې ښکته کوټو ته

کوزی شی.

دلیپ سنګ دا وویل او خپلو ملګرو ته په لاربښودنه بوخت شو زبیر خالد ته وویل خالده ته ښځې او ماشومان ښکته بوځه.

ددواړو کښتیو چلوونکی په وسلو سنبال شول او دراتلونکو کښتیو په څار ودریدل ، لږ څنډ وروسته دلیپ سنګ دیوی کښتی تور بیرغونه ولیدل وئی پیژندل او په زوره ئی چیغی کړی:

دا دسمندری لوټمارانو کښتی دی تیار اوسی.

زبیر خپلو ملګرو ته مخ ور واړاوه وئی ویل:

وروڼوا دغه ښځې او ماشومان زموږ سره امانت دی . دوی باید روغ بصری ته ورسوو. که ددوی دساتنی ذمه واری زموږ پر غاړه نه وای نو ما به دخطرناکی نقشی په باب څه فکر نه کاوه ، خو اوس مجبور یم چی همداسی یوه لاره غوره کړم. زما په خیال کی یوه نقشه ده ، ماته دیوه خطرناك پروګرام لپاره دوه تنه پکار دی.

لومړی خالد خپل لاس اوچت کړ او وروپسی تولو نور ومانوګانو په وار وار خپل نومونه واخستل . زبیر وویل: ددی کار لپاره دوه تنه تکړه لامبوزن په کار دی.

زه دغه مسئولیت ابراهیم او عمر ته سپارم.

دزبیر په هدایت ئی ددوی وړوکی کښتی په اوبو کی وغورځوله او په هغوی ئی بادبانونه وتړل ، ددلیپ سنګ په کښتی کی دپیلانو لپاره وچ واښه وو له هغو نه ئی وري وتړل او په کښتیو کی ئی بار کړل ، ابراهیم او عمر بل شوی مشالونه ورسره واخستل او په کوچینیو کښتیو کی سپاره شول ، وروسته بیا زبیر او نورو ملګرو ئی لیندی او غشی تیار کړل او دلوټمارانو درا نژدې کیدو په انتظار شول ، دهغوی لومړی کښتی دزبیر دکښتی په لوری را نژدې کیده ، عمر او ابراهیم یوه اوږده لاره ووهله او دلوټمارو دکښتیو شاته را تاو شول.

زبیر دکښتی له یوه سره تر بله سره پوری په بیړه بیړه منډی وهلی او خپلو اندیوالانو ته ئی هدایات ورکول . دیرغلګرو کښتی چی را نژدې شوه پر دوی ئی غشی واورول ، یو غشی په یوه شڼ دزبیر دتندی سره نژدی تیر

شو ، چې له دې سره هغه یو ښځینه آواز واورید:
تاسو په یوه مناسب ځای کې کېښېنۍ مو ږ ددښمن دغیشو تر حملې لاندې یو .
زبیر شاته وکتل ، ناهید لیندۍ او غشي په لاس کې ولاړه وه.
له سترګو نه پرته ئې نور مخ په نقاب کې پټ ؤ . زبیر وویل: ته دلته څه کوې؟ څه لاندې کوزه شه.
ناهید په ډاډمنه لهجه ځواب ورکړ: تاسو زما فکر پرېږدئ ، زه غشي ویشتلای شم . دائې وویل او بیا وړاندې دیوه سپاهي ترڅنګ کیناسته.
تر لږ ځنډه دغشو جګړې دوام وکړ ، لوټماران نور هم را نژدې شول او بل شوی غشي ئې وویشتل ابراهیم او عمر دزبیر له لارښوونې سره سم خپلې کښتۍ دلوټمارانو دکښتیو خواته پرېښودې ، او چې هغوی ته ور ورسیدل په کښتۍ کې انبار وښو ته ئې اور واچاوه او دوی په اوبو کې ځانونه واچول.
لوټماران کمندونه په لاس او دزبیر کښتۍ ته دورختلو په حالت کې وو چې ناڅاپه ئې تر شا لمبو وارخطا کړل ، دکښتیود اورلمبې ددوی دلویې بېړۍ بادبانونو ته رسیدې، دسترګو په رپ کې دلوټمارانو په کښتیو کې اور له قابو ووت ، او دوی په چیغو او فریادونو اوبو ته ځانونه غورځول . پر دوی همدغه مهال دزبیر او دلیپ سنګ سپاهیانو غشي اورول، زبیر چې دلوټمارانو یوه داور په لمبو کې ایساره کښتۍ دخپلې کښتۍ خواته دنژدې کیدو په حال کې ولیده داور دخطر نه دژغورنې په خاطر ئې د لنګر داوچتولو امر وکړ ، خو په دې موده کې اته ، لس تنه غله په کمندونو دزبیر کښتۍ ته په ورختلو کامیاب شول دزبیر ملګرو هغوی را ګیر کړل ، دلوټمارانو له کښتۍ نه یو غشي راغی او دزبیر په کیڼ مټ ښخ شو . او له دې سره جوخت دناهید له لیندۍ نه یو غشي ولاړ او دیوه لوټمار په سینه کې ښخ شو.
زبیر بې اختیاره «مرحبا» چیغه وکړه ، ناهید مخ وروا ړاوه هغه ته ئې وکتل . زبیر لیندۍ غورځولې وه او دغشي په ویستلو لګیا شو ، ناهید سمدستي لینده په ځمکه کېښوده او په یوه لاس ئې دزبیر مټ ونیو په بل لاس ئې غشي ویوست ، دغشي په ایستلو دزبیر له مټ نه دوینو داری

اوچتی شوی . ناهید دهغه د کمیس لستونی اوچت،له مخی ئی نقاب لری کړ او زخم ئی پری وتاړه.

دزبیر کښتی دکمندونو نه لری شوه او داور په لمبو کی راګیری کښتی سپرو لوټمارانو له مایوسی نه اوبو ته ځانونه غورځول زبیر یو ځل بیا لیندی اوچته کړه وئی ویل:

ناهیدی! ته اوس ښځو ته ولاړه شه ، هغوی ته ډاډ ورکړه ، چی موږ دخدای «ج» په فضل په داره مارانو بری وموند، ناهید په تلو تلو کی ودریده او وئی پوښتل: ته خو به اوس په تکلیف نه ئی؟

زبیر: نه دا ډیر معمولی زخم دی ، ته زما فکر مه کوه ، دائی وویل او بی اختیاره ئی دیوی شیبی لپاره سترګی دناهید په څیره ونښتی دسپاهی توب وقار دهغی دڅیری ښکلا نوره هم زیاته کړی وه ، ناهید نا ځا په احساس کړه چی پر ده ئی نشته او په بیړه ښکته دښځو کوټی ته کوزه شوه.

داور په لمبو کی راښکیل کښتی نه څو تنو وړوکی کښتی اوبو ته واچوله او پکی سپاره شول ، یوه تن ئی چی دنورو مشر ښکاریدو سپین بیرغ اوچت کړ ، زبیر غشی ویشتونکی دلاس په اشاره تم کړل ، عمر او ابراهیم دخپل کار له سرته رسولو وروسته کښتی ته نږدی شوی وو ، زبیر چی خپله کښتی له خطره ساتلی ولیده د لنګر اچولو او لاندی دلرګو دزینو غورځولو هدایت یی ورکړ، عمر او ابراهیم کښتی ته وختل ، خالد دزبیر پام ددلیپ سنګ ملګرو ته ور واړاوه چی تر اوسه ئی په سمندر کی په لویدلیو لوټمارانو غشی ویشتل ، زبیر هغوی هم دغشو له ویشتلو نه ایسار کړل. لوټماران لږ ډاډه شول او په زینه یو یو کښتی ته وختل ، له ټولو وروسته دلوټمارانو مشر ددواړو لویو کښتیو په منځ کی خپله کښتی ودروله ، هغه یو دمزبوطو متو خاوند دپوخ عمر سړی ؤ ، بیره ئی تر نیمائی زیاته سپینه شوی وه او د زخمی زمری په څیر ئی کښتی چلوونکو ته کتل . په دی کښتی کی زبیر یو ځوان او نجلی هم ولیدل چی څیری او جامی ئی لوټمارانو ته ورته نه وی . زبیر د پاخه عمر خاوند دغلو مشر ګاڼه په لاس ئی اشاره ورکړه او هغوی یو پر بل پسی دلرګیو په زینه کښتی ته وختل . دنجلی په څیره کی دناروغی

او درد آثار وو ، دښکلو او ګران بیه جامو خاوند ځوان هغه تر مټ نیولی وه او تکیه ئی ورکړې وه ، نجلی ورو ورو قدمونه اخستل ، کله چې کېښتې ته ورختل ځوان په یوه پردی ژبه څه وویل او دلوټمارانو په لور یی اشاره وکړه.
زبیر سره له دې چې دهغه په ژبه نه پوهیده داسې احساس کړه چې هغوی دلوټمارو له چلن نه شکایت کوی او ددوی منه کوی چې له دې آفت نه ئی وژغورل.
زبیر له خپلې وسې سره دسند او سرانديپ په ګډوډ الفاظو ډاډینه ورکړه . ځوان او نجلی دده ددوستانه او صمیمی لهجې تر تاثیر لاندې راغلل او په سترګو کې ئی دمننې او درناوې نښې وځلیدې . نجلی څه ویل غوښتل خو غږ ئی له ویرې په ستونی کې بند پاتې شو ، په سترګو کې ئی اوښکې ډنډ شوې زبیر ته ئی وکتل ، دهغه عمر به د ۱٤-۱۵ کالونو په شاوخوا کې ؤ . ښکلې څیره ئی دغرمې دتړې ګل په شان مړاوې وه ، زبیر یو ځل بیا هغوی ته تسلی ورکړه له ټولو نه وروسته دلوټمارانو سردار کېښتې ته وختوت.
دهغه په سترګو کې دپښیمانی داوښکو پر ځای دانتقام او بدل لمبې وې. لږ.وروسته دلیپ سنګ په وړوکې کېښتې کې دزبیر کېښتې ته ورغی کله ئی چې دډاکوګانو په مشر سترګې ولګیدې خنجر ئی اوچت کړ او دهغه دوژلو نیت ئی وکړ ، خو زبیر ور وړاندې شو او دهغه لاس ئی ونیو ، دلیپ سنګ چې دزبیر لستوڼی په وینو سور ولید پوښتنه ئی وکړه : ته ټپی شوی یې؟
زبیر په بې پروائې ځواب ورکړ: دا وړوکی او معمولی زخم دی .
هغه دښکلو جامو خاوند ځوان څه وویل او ددلیپ سنګ پام ئی ځان ته ور واړاوه ، دواړو یو له بل سره خبرې پیل کړې ، وروسته دلیپ سنګ د لوټمارانو له مشر سره هم تر خبرو وروسته په عربی زبیر او د هغه نورو ملګرو ته وویل:
په کېښتې کې یو صندوق پروت دی هغه را وخیژوی .
څو تنه ور ښکته شول او دلرګو صندوق ئی له وړوکې کېښتې نه خپلې کېښتې ته اوچت کړ او کله ئی چې دصندوق سر اوچت کړ ټول حیران شول صندوق له طلا او جواهراتو نه ډک ؤ ، دزبیر په پوښتنه دلیپ سنګ له ځوان نه پوښتنه وکړه او ځوان خپل داستان پیل کړ:

*****

(۳)

دزلي نوم جي رام ؤ او دكاتيا وار ديوه لوړنسبه راجپوت داشرافي كورنى د ستركو تور ؤ ، دڅواني په موسم كى دشهرت او نامه شوق سند ته راوست دبرهمن اباد په يوه ميله كى ئى په غشي ويشتلو كى دسند دراجه پام ور واړاوه او هغه دځوان مهارت او كمال وستايه ، راجه جي رام په خپل پوځ كى شامل كړ او يو وړوكى منصب ئى ور وسپاره ، له دوو كالو نه وروسته جى رام دديبل دحاكم دمرستيالى تر منصبه پورى اوچت شو.

په ديبل كى دهغه يوه هفته نه وه پوره شوى چى دپلار دوفات او مور دناروغى خبر ورته راغى او مجبور شو هر څه ئى پريښودل او كاتياوار ته ستون شو ، هلته ئى په لسمه ورځ مور هم مړه شوه ، په كور كى ئى اوس يوازى يوه كشرى خور «مايا ديوى» پاتى شوه ، جى رام ته ئى دخپلوانو زارى او دمايا ديوى اوښكى دپښو زولنى شوى او سند ته ئى دستنيدو خيال پريښود خو څلور مياشتى وروسته په كور كى پاتى كيدل ورته ترخه شول او يوه ورځ دكاتيا وار دراجه په خدمت كى حاضر شو او دڅه دندى غوښتنه ئى وكړه ، دا هغه وخت ؤ چى دسند راجه څواكمن شوى ؤ له خپلو ګاونډيو رياستونو سره ئى جنجالونه پيل كړى وو ، وړوكو رياستونو هم هغه زورور باله او دخپلو حاصلاتو يوه برخه به ئى دجزيى په ډول وركوله ، دكاتيا وار راجه كه څه هم دسند دنيغ خطر نه لرى و خو بيا يى هم د يوى اندازى طلا او سپينو زرو په بدل كى دهغه د دوستى هڅه كوله ، جى رام ته ئى په دربار كى دڅه دندى سپارلو پر ځاى دا غوره وبلله چى دسند دربار ته ئى واستوى او دهغه له اثر اورسوخ نه دسنددراجه په دوستى حاصلولو كى كارواخلى.

جى رام ته ئى دطلا او جواهرو نه يو صندوق ډك كړ او دسند دراجه «داهر» خدمت ته ئى واستاوه ، دجى رام باور ؤ چى راجه داهر به ئى بيرته را ونه ليږى ځكه خو ئى خور مايا ديوى يوازى پريښودل مناسب ونه بلل، مايا ديوى هم اصرار كاوه چى ورسره ولاړه شى ځكه خو دوى خپل كور او جايداد خپلو تربرونو ته وسپارل او پخپله دواړه دسند په لور وخوځيدل خو

دکاتیا وار او سند تر منځ ئی پر کښتی سمندری لوټمارانو حمله وکړه ، دده ملګرو په زړورتیا مقابله وکړه خو دلوټمارو شمیر زیات و بالاخره ئی ټول ونیول . دجواهرو او طلا نه ډك صندوق ئی هم تر لاسه کړ او له مایا دیوی او جی رام نه پرته ئی ددوی نور ملګری دسمندر په څنډه کی خوشی کړل ، دغلو مشر په دی پوهیده چی جی رام او مایا دیوی دکاتیا وار دراجه عزیزان دی او هغه به ددوی دخوشی کولو په بدل کی ښې پیسی ورکړی ؛ ځکه ئی غوښتل دکاتیا وار په یوه چوپه او بی هستوګنی څنډه کی لنګر واچوی او له راجه سره دغه معامله وکړی ، خو ددوی یوه جاسوس دسراندیپ د کښتیو دراتګ خبر ورکړ چی دوی په کاتیا وار کی دلنګر اچولو پر ځای مالابار لوری ته روان شول.

زبیر جی رام او دهغه خور ته یو ځل بیا تسلی ورکړه او ورته وئی ویل دغه لوټماران څومره چی زموږ مجرمان دی هومره ستا سو هم دی . ما تر اوسه دا پریکړه نه وه کړی چی څه ډول سزا ورکړم ، خو زه نه پوهیږم چی ستا سو په ریاست کی دوی ته څه ډول سزا ورکول کیږی؟

جی رام ځواب ورکړ: داسی ظالمو لوټمارانو ته نه ستاسو په ملك کی او نه زموږ درحم او بخښنی څه مجال شته ، خو کله چی ستاسو او دوی جنګ ونښت دوی زه او خور می په یوه کوټه کی بندی کړو وروسته چی کښتی اور واخست دوی غوښتل موږ همغسی په اور کی پریږدی ما دځان په خاطر نه دخور په خاطر دوی ته وویل چی له کوټی نه مو بهر کړی بالاخره هغوی په دی وعده له کوټی را ایستلی یو چی موږ به تاسو ته ددوی دبخښنی سپارښت کوو زما مطلب دا نه دی چی هغوی پریږدی، خو زه ددوی دنه وژلو سفارش کوم . او تر څو چی له بدو توبه ګار نه دی او په سمه لاره برابر شوی نه وی دوی به بندیان وی.

مایا دیوی دناروغی او کمزوری په سبب ډیره دریدای نه شوه هغی خپل ورور ته څه وویل او پخوا له دی چی ورور ئی څه ځواب ورکړی دلیپ سنګ وویل: اوهو! موږ ته خو دانه ده معلومه چی ستا خور ناروغه ده ، خالده زویه! هغه خپلی خور ته بوځه.

خالد وړاندی شو مایا دیوی خپل ورور ته وکتل جی رام له دلیپ سنګ نه

پوښتنه وکړه: «په دی کښتی کی پر نارینه ؤ برسیره ښځی هم شته»
دلیپ سنگ: هوکی! ستا خور ته به نور هیڅ تکلیف نه وی ، ورځه لوری ته آرام وکړه.

*****

(٤)

دکښتیو دبیا روانیدو نه مخکی ئی دلوټمارانو له سردار نه پرته نور ټول بندیان ددلیپ سنگ کښتی ته بوتلل ، زبیر دلیپ سنگ ته وویل چی تر څو ئی دسزا فیصله نه وی شوی بد چلن ورسره ونه کړی .
جی رام دخپلی خور دناروغی له امله دزبیر په کښتی کی پاتی شو .
خالد مایا دیوی ناهید ته ورسوله ، ناهید هغه په یوه بستره وغځوله ، او عربی ښځی پری را چاپیری شوی ، په لومړی ملاقات کی دهمدردی او خواخوږی دجذباتو ترجمانی یوازی په اشارو کیدله.
دلیپ سنگ خپلی کښتی ته تر تلو مخکی څو خبری زبیر ته ور وښودی او خپلی کستی ته ستون شو دده تر ور رسیدو پوری ئی نورو ملگرو دپنځو سپین ږیرو لوټمارانو سرونه ، ږیری ، وروځی او بریتونه پاك ور خریلی وو ، دیوه ډاکو چی ډیر بوډا ؤ نیمه وړه سر او یو لوری بریتونه ئی ور تراشلی وو.
ناهید او نورو عربو ښځو دمایا دیوی په خدمت او پالنه بوختی وی هغوی دملاریا دموسمی تبی لپاره اکسیر بوټی راوړی وو ، چی په خوراك ئی مایا دیوی په دری څلورو ورځو کی روغه شوه.
زبیر دخپل مټ تپ معمولی باله او لومړی ئی چندان پروا پری ونه کړه خو دلمدی هوا په سبب په دریمه ورځ زخم وپړسید، او ددرد او تبی له زوره ئی زبیر څو ورځی په بستره وغورځاوه.
دلیپ سنگ څو ځلی دده دپوښتنی لپاره راغی ، علی ، خالد او هاشم ناهید او نوری عربی تور سری دهغه له وضعی نه خبرول ، جی رام به مدام دهغه تر څنگ ناست ؤ ، مایا دیوی دخپل حسن او ذهانت په وسیله دناهید په خفگان او اندیښنه پوهیدله، هغی به کله کله له خپل ورور سره زبیر هم لیده ، او بیا به ئی دعربو ښځو نه دگوډ مات عربی لفظ په تکرار دی ته

دهغه د صحت او روغتيا تسلي ورکوله.

يو ماښام دزبير وضعه خرابه وه ، دليپ سنگ راغی او دزخم له منځلو او پټی وروسته بيرته ولاړ ، دشپی آسمان وريځ ؤ توند شمال الوتی ؤ ، ماښو گان په خپلو ځايونو ولاړ وو ، جی رام خالد او علی دزبير خدمت کاوه.

عربی ښځی دماسخوتن دلمانځه لپاره اوچتی شوی . او مايا ديوی دخپل ورور نه د زبير دحال دپوښتنی لپاره ولاړه ، او کله چی ناهيد له لمانځه نه سلام وگرځاوه دزبير دروغتيا لپاره ئی لاس په دعا اوچت کړل ، خالد راغی وئی ويل زبير بی سده شو.

يوی بوډی ښځی وويل: زموږ نارينه دتوپان په سبب بهر مصروف دی ، موږ بايد دهغه خدمت ته ورشو.

ټولی ښځی اوچتی شوی او زبير ته ورغلی ، مايا ديوی هغه وليد، خپل ورور ته ئی اشاره وکړه ، هغه پورته شو او بهر ووت ، جی رام څو شپی شوگيری تيری کړی وی ولاړ چيرته دکښتی په يوه گوښه کی ځملاست او په درانه خوب ويده شو.

نيمه شپه دزبير تبه لږ سپکه شوه له ناهيد او مايا ديوی نه پرته نوری ښځی خپلې کوټې ته ستنې شوې ، خالد او علی هملته پريوتل . دشپی په وروستيو کی زبير سترگی وغړولی ، دشمی رڼا ته ئې سترگې په ناهيد او مايا ديوی ونښتې ويې ويل: تاسو دلته ! ولاړی شی ويدی شی.

دناهيد مړاوی څيره له خوښی وېرکيده او پوښتنه ئی وکړه: ته اوس څنگه يی؟

زبير: زه اوس ښه يم ، لږ اوبه راکړی.

مايا ديوی اوچته شوه له صراحی نه ئی پياله ډکه کړه او ناهيد ته ئی ورکړه ناهيد زړه نازړه ور وړاندی شوه په يوه لاس ئی دزبير سر اوچت کړ او په بل ئی داوبو پياله دهغه په شونډو ورکيښوده . زبير اوبه وڅښلی په تکيه ئی سرکيښود او ناهيد ته ئی وويل: ددی ورور زما سره ډير زحمت وگاله اوس هغه چيرته دی.

ناهيد: هغه بهر ويده دی.

زبير: تاسو هم ولاړی شی ويدی شی ، زه اوس ښه يم ددليپ سنگ نوی

پتی ډیره ګټوره وه.

* * * * *

(۵)

څلور ورځې وروسته زبیر بیا دګرځېدو راګرځېدو شو ، دعربو اخلاقو جې رام ډیر تر تاثیر لاندې راوستی ؤ ، له زبیر سره ئې انس او عقیدت دمحبت تر پړاوه رسیدلی ؤ ، هغه له زبیر نه دعربو دوضعې په اړه پوره معلومات تر لاسه کړی ؤ . دعربو دنوی دین دانسانی مساواتو خیال لومړی هغه پریشانه کړی ؤ ، خو دزبیر له تبلیغ نه وروسته هغه په دې باوری شوی ؤ چې په دنیا کې دامن او سولې دټینګښت لپاره ټولو قومونو ته دداسې دین غوره کول ضروری دی چې ټولو انسانانو ته په مساوی حق قایل وی ، او ټول انسانان درنګ ، ژبې او نسل په بنیاد نه بلکې داعمالو په بنیاد پیژنی ، په لومړی سرکې ئې په خوړو او څښنو کې له مسلمانانو سره ګډون نه کاوه ، څو ورځې ئې چې له زبیر سره تیرې کړې دلوړ ذات او ټیټ ذات توپیر هسې مسخره ورته ښکاره شوه . او یوه ورځ ئې له خپلې خور سره له مشورې پرته له زبیر سره په یوه دسترخوان ډوډې وخوړه . دمایا دیوی په ذهن کې له وروړنه هم وړاندې بدلون راغلی ؤ . او ددغه انقلاب سبب دا نه ؤ چې دا هم دورور په څیر داسلام له تعلیماتو نه خبره شوې وه ، بلکې دا دهغو عربی ښځو داخلاقو تاثیر ؤ چې یوې «اشرافی» غیرتی نجلې ته ئې داسې احساس نه ورکاوه چې دا دپردې قوم دخلکو رحم او مهربانی ته مجبوره ده ، دمسلمانو مانو ګانو به چې په دې سترګې لګیدې نو ښکته به ئې کتل ، او له همغې لومړی ورځې نه مایا دیوی دا احساس کړه چې ددوی ټولو نظر ددې دورور دنظر په څیر دی.

دناهید پالنې او خدمت هم په دې ډیر تاثیر وکړ ، له دې ټولو نه زیات دخالد چلن پر هغې زیات اثر کاوه . نه پوهیده چې ولی ددې سترګې دهغه دلیدو او غوړو نه ئې دخالد دغږ اوریدوته ناکرار وی . او کله به چې بیا ورسره مامخ شو دسترګو اوچتولو جرئت به ورسره نه ؤ . خالد به په ډیره بې پروائی مخ واړاوه او تیر به شو او دې به تر ډیره څنده دخپل زړه درزا اوریده ، کله کله به ډول ډول خیالونو په اندیښنو کې ډوبه کړه او ځان به ئې ملامت

کړ دشپی به چی خملاسته دا اراده به ئی پخه کړه چی دخپلو همځولو ځوانانو نه به دویری پر ځای له هغوی په نه نفرت او بی پروائی تیریږم خو چی دسهار له اذان نه وروسته به عرب په لمانځه ودریدل دا به اوچته شوه او دکبتنی مخ ته به ولاړه ، یوی خواته به ودریده او دنیلی آسمان په وسعتونو کی به ئی سترګې وګندلې خو ډیر زر به ستومانه شوه مخ به ئی واړاوه او دلمونځ کونکو په ډله کی به ئی سترګی په خالد ښخی شوی . دخالد په سبب به دې ته دنورو عربو رکوع او سجدی هم ښی ښکاریدې ، او دلمانځه نه وروسته به دخالد لاس چی په دعا اوچت شول مایا دیوی ته به ډیر ښه ښکاریدل له اسلام سره ددی دمینی لومړنی دلیل دا ؤ چی دا د خالد دین ؤ ، عربی ژبه ئی په دی سبب غوښتل زده کړی چی دا دخالد ژبه وه.

# دګنګو داستان

دلوقارانو مشر ئی زولنی په پښو کی ساته ، ددلیپ سنګ هدایت دا ؤ چی په هغه به هیڅ اعتبار نه کوی . هغه ته به دوه وخته ډوډی علی وروړه ، او علی به هر وخت په دی چرت کی ؤ چی ښایی دهغه ګیډه نه مړیږی نو ځکه به ئی په هر ځل ډوډی کې دوه دري ګولی د علی په اصرار زیاتی خوړی.

دزبیر چلن هم له ده سره دده د هیلی پر خلاف ؤ ، هغه به دورځی یو دوه ځله خامخا سر ورښکاراوه ، په لومړی ځل ئی له هغه سره په ماته ګوډه سندی دخبرو هڅه وکړه خو بیا ورته معلومه شوه چی هغه په عربی بی زحمته خبری کولی شی.

یوه ورځ ئی زبیر ته وویل: دمرګ په انتظار ماته ژوند ډیر ګران دی ،که تاسو ماته بخښنه نه کوی نو هیله کوم چی زر تر زره سزا راکړی.

زبیر ځواب ورکړ: زه ستا په بوډا توب خفه یم . خو زه دی تر هغو پوری نه شم خوشی کولی چی تر څو په دی باوری نه شم چی ته له خوشی کیدو سره بیرته لوقمار کیږی نه.

هغه وویل: زما کښتی ډوبه شوه او زه په دی بوډا توب نور څه کولی شم بیله دی چی ولاړ شم او پاتی دزړبودی ژوند په یوه ځنګل کی پټ تیر کړم .

زبیر: ډاکو هر ځای خطرناك وی ، په سمندر کی دی کښتی لوټلی ، په وچه کی به دخلکو کورونه لوټوی ، که زه تا بصری ته بوځم نو هلته به دی خامخا لاس غوڅ شی او که ستا پریکړه جی رام ته پریږدم نو پاتی عمر به

دزندان په خونه کی تیروی.
دلوقارانو مشر ورته وویل: زه ستاسو دحکومت په باب نه پوهیږم خو ددیبل حکومت ماته دسزا راکولو هیڅ حق نه لری.
زبیر: ولی؟
ډاکو: هغه دا چی دا څو کاله چی زه په سمندر کی په کښتیو کی څه کوم همغه کار دسند راجه په تخت ناست کوی ، توپیر یوازی په دی کی دی چی دده مامورین غریب خلك لوټوی او زما ملگری دوړوکو کښتیو پر ځای لویی لویی کښتی لوټوی ، زموږ کسب یو دی یوازی په نومونو کی ئی فرق دی . زه یو ډاکو یم او هغه یو راجه ، دده په څیر دده پلار هم یو راجه ؤ خو زما پلار زما په څیر ډاکو نه ؤ . زه به هم ډاکو نه وم ، خو که په ماظلم نه وای شوی. خیر اوس دا خبری څه گټه نه کوی ته غالب ئی او زه مغلوب، خو دا یوه هیله کوم چی ما دسند حکومت ته مه سپاره او په خپله سزا راکړه.
زبیر: په تا څه تیر شویدی زه ئی اورم.
دغلو مشر له لږ ځنډ وروسته خپله کیسه داسی پیل کړه :

*****

(۲)

زمـــا نوم گنگو دی ، دسند ددریاب په څنډه په یوه وړوکی کلی کی زیږیدلی یم، زه می دپلار په څیر کب نیوونکی وم ، په شل کلنی می له سره دپلار او مـور سیـوری لری شـو . زمـوږ په کلی کی یوه نجلی وه ، نوم ئی لاجونتی و . او هغه ډیره ښکلی وه. دهغـه سترگی دهوسی له سترگو نه ډیری ښکلی او غـږ ئی دقـمـری له غـږ نه ډیر زړه وړونکی ؤ خلکو به «سناپیری» بلله دکلی ځوانان هر یو دهغی په ځوانسی سر وړکولو ته تیار وو ، خو ددی مینه او انتخاب زه وم.
دهغه پلار یو ساده زړی کلیوال ؤ ، دبرسات په موسم کی یو ځل سیند ډیر مست ؤ هغه وویل چی زه به لاجونتی هغه چاته ورکوم چی له دی سیند نه په لامبو تیر شی ، زموږ په کلی کی ښه لامبوزن وو خو دبرسات په مست سیند کی چا د ځان اوبو غورځولو ته زړه نه شو کولی ، ما دلاجو په خاطر ځان قربانولی شوای او ما دا شرط پوره کړ او څو ورځی وروسته زما او

لاجو واده وشو.

موږ دواړه خوښ وو ، او ډیر وخت به کښتی کی وو ، ما به کبان نیول او دی به ډوډی پخوله ، دشپی به مـوږ په خندا خندا او سندرو سندرو کی دستورو لاندی ویده کیدو، هغه هم عجیبی شپی ورځی وی.

ګنګو دومره ویل او په سترګو کې ئې اوښکې راغلې تر ډیره څنړه ئی سلګی وهلی او بیا ئی خپل داستان ته دوام ورکړ:

خو یوه ورځ داسی راغله چی زه او لاجو جدا شوو ، ماته دانه وه معلومه چی دیوه تیټ ذاتی او ما غوندې کمزوری سړی لپاره ښایسته ښځه ګناه ده ، زموږ له کلی نه یو میل لری زموږ دسیمی دمشر ښار ؤ ، یوه ورځ هغه له څو سپایانو سره سمندر ته راغلی ؤ ، ماته ئی دپوری غاړی ته پوری ایستلو وویل ، ما هغوی په کښتی کی سپاره کړل ، سردار لاجو ته په بد نظر کتل ، پوښتنه ئی وکړه چی څوک ده ، ما ځواب ورکړ چی دا زما میرمن ده هغه وویل دا دکوم کب نیوونکی لور نه ښکاری تا دا له کوم ځایه راوستی؟

ما هغه ته څه ونه ویل چی بلی غاړې ته ورسیدو دوی پلی شول راته ویی ویل: موږ تر ماښامه بیرته راستنیږو ته همدلته زموږ انتظار کوه خو هغوی ترماښام د مخه بیرته را ستانه شول او ما بلی غاړی ته ورسول ، سردار زما دنوم پوښتنه وکړه او بیا ولاړ ، له هغه وروسته به هغه کله کله زموږ دکلی دکب نیوونکو دسیل په پلمه راته ، دکلی خلك په دی خوښیدل چی سردار ئی ورسره تله راتله او راشه درشه لری ، خو لاجو یوه ورځ ماته وویل چی دهغه نیت ښه نه دی هغه ماته په ډیر بد نظر ګوری.

یو ماښام دپخوا په شان لاجو په کښتی کی ډوډی پخوله ، سردار په آس سپور راغی ویی ویل که له تاسره تازه کبان وی راتئی کړه ، مالږ مخکی دوه کبان نیولی وو هغه می ورته وړاندی کړل . هغه ماته وویل چی راسره یوبی سه ، ښار لری نه ؤ ما لاجو ته وویل چی دډوډی تر تیارولو پوری را رسیږم زه دهغه په اس پسی روان شوم چی په لاره کی دبوټیو له منځ نه څو تنه را ووتل او په ماتی برید وکړ ما دهغوی له منګولو نه دځان ژغورلو هڅه وکړه خو کوم یوه په لاتی زما په سرو وار وکړ او پر ما سترګی توری شوی او وغورځیدم او چی سترګی می وغړولی په یوه تیاره خونه کی پروت وم.

*****

(۳)

دوی ورځی وړی تړی تپی تپی هلته پروت وم . دریمه ورځ دروازه خلاصه شوه لاجونتی او دری تنه نور چی توری ئی په لاسو کی وی را ننوتل ، دیوه په لاس کی لړ خواړه او اوبه هم وو ، دلاجو رنګ تك زیړ او سترګی ئی داسی ښکاریدی چی داوښکو ډوله زیرمه ئی خلاصه شوی وی ، چی سترګی می پری ولګیدی لوږه او تنده می هیره شوه ، زړه می غوښتل چی ورمنډه کړم او په غیږ کې ئې کلکه کړم ، خو زما لاس اوپښی تړلی وو ، لاجو سپایانو ته وکتل او هغوی زما دلاس او پښو رسی وشلول او بهر ته ووتل.

ماورته وویل: لاجو ته دلته څه ډول راغلی؟

لاجو کریکی په ستونی کی تم کړی او زما په غاړه کی ئی لاس را واچول خو زر بیرته شاته شوه او دروازی ته ئی په ویره وکتل بیا ئی وویل: ستا له تګ نه وروسته څو تنه راغلل په کښتی ئی چپاو راوړ زه ئی ونیولم سردار ته ئی بوتلم ماته حال معلوم نه و خو د ذلت او بی شرمی له ژوند نه می مرګ ته زړه ښه کړی ؤ، خو سردار راته وویل چی که ته زما خبره ونه منی نو ګنګو به وږی تږی په توره تیاره کی مړ شی . زه ستا په خاطر مجبوره یم او اوس به دهغه خبره منم . ګنګو ته ولاړ شه نور آزاد یې خو زما دعصمت او آبرو په بیه آزاد یی.

ماته داسی ښکاره شوه چی لاجو ته دمحل ژوند دیوه غریب کب نیوونکی سره له ژوند نه ښه ښکاره شوی نو کلکی بدی ردې می ورته وویل ښه می ورتله او څو څپړې می په دې ظالمو لاسونو دهغې په مخ ور حواله کړې . خو هغه دبوت په څیر ولاړه وه او دا هر څه ئی وزغمل ، یوازی دومره ئی وویل: زه به دبې عزتی په ژوند مرګ خوښ کړم خو زه دلته ددی لپاره راغلم چی ته ماته تر ځان ګران یی د بګوان په خاطر ولاړ شه له موکې نه ګټه واخله بیا به دغه فرصت هم نه وی ، امکان لری چی ته آزاد شی ما به هم ددی ظالم له منګولو وژغوری.

دهغه سلګیو او اوښکو زما بدګومانی لری کړه ما هغه بیا په غیږ کی ونیوه ، او وعده می ورسره وکړه چی زر به بیرته راځم ، او دسردار دمانی

خبتي خبتي به نروم.
دزندان ور خلاص شو . دسپايانو پر ځاى هغه ظالم ليوه را ننوت ، دهغه په لاس کي کـه لوخه توره نه واى نو ما به حمله پرى کوله ، هغـه لاجو ته وويل: اوس ووايه څه پريکړه دي کړي ده؟
دده دژوند پريکړه ستا په لاس کي ده.
لاجو ځواب ورکړ: کـه زه ستا شرط ومنم ددى ثبوت به څه وي چي ګنګو له بناره روغ وتلی؟
هغه وويل: زه وعده درکوم.
دلاجو له سـترګو اوښکې روانې وى او له هغـه سره ولاړه او زه څلورو سپايانو له بناره را بهر کړم . دهغوى په لاسوکي لوڅي تورى وى ما دسردار په وعده اعتبار نه درلود کله چي ددرياب په غاړه ځنګل ته ورسيدو نو يو تن له شانه په ما دتورې ګوزار وکړ ، زه ددوى ددغسي حملي په انتظار وم ځکه مې ځان وغورځاوه او له تورې بچ شوم له دې سره څلورو واړو سپايانو په ما حمله وکړه ، خو زه تر دوى په څغاسته کي تيزوم، په ځنګل ننوتم او ديوه بوټي په څنګ کي پټ شوم ، هغوى تر لږ ځنده ولټولم او بيا نا اميده بيرته ستانه شول.
ماښام شو زه غلي غلي ددرياب څنډي ته ولاړم ومي ليدل چي کښتي مي اور اخستي او دسند پرځنده څلور واړه سپاهيان ولاړ دي. دغو پيښو له ما عاجز بنده نه يو ليوه جوړ کړ ، کلي ته مي منډه واخستله په غږ کي مي يو ځانګړى تاثير ؤ چي دسترګو په رپ کي څو ځوانان له لاټيو او تبرونو سره را ووتل او را سره ملګري شول ، چي مونږ ئي وليدو سپاهيان وار خطا شول او دتيښتي نيت ئي وکړ خو مونږ دتيښتي لارې پرې بندې کړى څلور واړه مـو ووژل او لاشـونه مـو ئي سـيند ته واچول ، تر نيـمى شپې پورى دکب نيوونکو له شل پنځه ويشت کليو نه نژدې دوه سـوه ځوانان وسله وال تيار شول او دظالم سردار په محل ورختلو ته چمتو شول خلك پخوا دده له ظلم نه پوزي ته راغلي وو. دشپې په وروستي برخه کي پر ماڼې ورورختو ، څوك دده دملاتړ له پاره را ونه وتل ، څوسپاهيانو ئي لږ او ډيره مقابله وکړه خو زيات ئي وتښتيدل او دخلکو په کوروننو کي ئي پناه واخسته ، سردار مو

ژوندی ونیو ما دلاجو پوښتنه ترې وکړه هغه دهرې پوښتنې په باب یوازې دا ځواب راکاوه چې زه بې گناه یم ، دبگوان په خاطر ما پرېږده ، ما هغه ته مشال ورنژدی کړ او اخطار می ورکړ چې ژوندی دی سوځوم ، لاجو را وښیه هغه زه دماني یوی سمڅی ته بوتلم هلته د لاجو مړی پروت ؤ ، زما له خولی کریږه ووته او ومی ویل چې ولې؟

هغه وویل: زه په دی کی قصـور نه لرم دی پخپله ځان له چت نه را وغورځاوه ، ته له سپاهیانو نه هم پوښتنه کولی شی ، دبگوان په خاطر په ما ورحمیږه ، ما بل شوی مشال دهغه په سترگو کی ور ښخ کړ او بیا می په تبر هغه ټوټه ټوټه کړ . له دی پیښې نه وروسته زه یو ډاکو شوم ، زما په زړه کی دچا لپاره رحم نه ؤ ، ما ډیر دغسی سرداران لوټ کړل او کله چې دراجه لښکر ځمکه را باندې تنگه کړه ما دسند په لاره سمندر ته مخه کړه ، دشپې مو ددیبل له بندر نه دوی کښتی غلا کړی ، او له همغی ورځی تر ننه پوری مو ډیری کښتی لوټلی . زه هغه ټول خلك خپل دښمنان بولم چې دراجه گانو او سردارانو سره مرسته کوی . ماته هر شتمن سړی همغه سردار ښکاری ، ماته په هر لور محل کې دلاجونتی غوندې مظلومو نجونو ارواوی دانتقام او بدل فریاد کوی.

زبیر وویل: زه ددې نجلی په مرگ ډیر خفه شوم ، او له هغه ظالم سره ستا جگړه هم پرځای او ته بر حق وی ، خو ته دیوه انسان دظلم بدل له بل انسان نه ولی اخلی؟ تا زموږ په کښتی حمله وکړه په دی کی کوم سردار او راجه نه ؤ . په دی کښتی کی څو یتیم ماشومان او کونډې وی .

گنگو ځواب ورکړ: زه په دی افسوس کوم ، خو په هغه بله کښتی د سراندیب دراجه بیرغ رپیده او تاسو دهغه کومکی وی.

بیا هم که ماته معلومه شوی وای چې په دی کښتی کی ماشومان او تور سری دی ما به حمله نه وه کړی . څو میاشتی کیږی چې ما په دی سمندر کی ستاسو د هیواد یوه کښتی ولیده او ما هغه یوازې ددی په خاطر پریښوده چې پر نارینه ؤ برسیره څو تور سریی هم پکی وی ..

خالدچې داواوریدل تکان ئی وخوړیی ویل:

آیاپه هغه کښتی کی دسراندیپ ماښوگان وو؟

ګنګو: هوکې!

خالد: هغه خوزمادپلارجان کښتی وه ، تراوسه ئې څه درك معلوم نه شوته دروغ وایې هغه کښتی تاډوبه کړی ده .

ګنګوځواب ورکړ: که ماکښتی ډوبه کړی وای نومابه اوس ستاسوپه مخکې دهغی یادونه نه کوله.

خالد: په هغه کښتی کې پیلان هم وو؟

ګنګو: هوکې !

خالد: تاته ددی درك نه دی معلوم چی هغه چیرته ډوبه شوه؟

ګنګو: نه ماته دومره معلومه ده چی هغه دیبل ته روغه رمټه رسیدلی وه.

زبیرپوښتنه وکړه : په دی سمندر کې ستانه پرته دلوټمارانوکومه بله ډله هم شته ؟

ګنګو: هوکی !

زبیر: آیاداامکان لری چی ددیبل حاکم هغه کښتی لوټ کړی وی؟

ګنګو: هوکی! مامخکی هم عرض وکړچی دوچی ډاکوګان دسمندرله لوټمارونه ډیربی رحمه دی.

####

(۴)

له دی خبرووروسته له ګنګوسره دزبیرعلاقه زیاته شوه ، چی رام په عجیب کشمکش کی راګیرؤ. دزبیرپه خبردګنګوداستان پرهغه هم تاثیروکړخودیوه وفادارسپاهی په څیرئی راجه له انتقاد نه لوړیاله ، هغه چاته ددی حق نه ورکاوه چی له راجه نه په څه ذاتی خفګان دهغه پرخلاف دجګړی اعلان وکړی. دی دراجه ګانودتقدیس په پرتله درعیت په کمتری قایل ؤ. خوبیاهم چی زبیرله ګنګونه دارام اوسیدوله وعدی اخستلووروسته دهغه زولنی لری کړی نوده څه اعتراض ونه کړ.

څوورځې چی ګنګوله زبیرسره تیرې کړې په خیالونوکی ئی یوعجیب بدلون احساس کړ، زبیرپه څومجلسونوکی دروم اوایران پرخلاف د مسلمانانود جهاد کیسی وکړی اودائی ورته وښوده چی په دنیاکی یوازینی

دین اسلام دی چی دظلم اوستم حکومتونه ړنګوی.

ګنګودلوټمارژوندله غوره کولووروسته له ټولنی اوهرډول عقیدی نه ځان لری باله ، هغه ته دنیایوداسی لوی ډنډوچی لوی کبان واړه کبان پکی خوری. هغه ځان ووړوکی کب باله اوله هرلوی کب سره جګړی ته تیارؤ، دمسلمانانوسره دده دخواخوږی ترټولولومړی سبب داؤچی هغوی هم دلویوکبانوپرخلاف جهادکاوه.

یوه ورځ زبیرهغه وپوهاوه چی ته دظلم پرخلاف جګړه کوی خوستا وسله دخپل دښمن له وسلی سره توپیرنه لری. هغوی ستاکښتی سوځولی اوته دهغوی کښتی سوځوی ددواړواصول ظلم دی لکه چی ډیربی ګناه مظلومان دهغوی دظلم ښکارشویدی همدغسی ډیربی ګناه ستادظلم له لاسه هم کړیدلی دی ، ته پخپله هم په دی اعتراف کوی چی په تاسو دواړوکی فرق نشته ، له تاسودواړوسره دعدل،انصاف اوامن لپاره څه قانون اولاره نشته ، اوترهغه وخته چی ستاسوله یوه سره داسی قانون نه وی نوستاسوتوری به یوله بله په ټکرکی وی. توری به موبخی شی خوبدلې به ئې کړی اوجګړه به موجاری وی . که موتوره ماته شی بله به اوچته کړی که یوه لیندی ماته کړی بله به واخلی.

خودظلم پرخلاف دحق اوعدالت لپاره جنګیدونکی انسان دخپل حریف توره پخـــوی نه دتل لپــــاره ئی تری اخلی . دایران اوروم په پاچاهانودمسلمانانوبری دظلم اوستم پرخلاف دحق اوعدالت بری ؤ. دایران ، شام اومصرهغه خلك چی پرون ئی دحق د لښکروپه مقابل کی توری کښلی وی نن دحق له لښکرسره یوځای په افریقااوترکستان کی دظلم دځواکونوپه ماتولوپسی راوتلی دی.

ګنګودهغه ترتاثیرلاندی راغی ویی ویل: آیا زه هم ستاسوملګری کولای شم ؟

زبیرموسکل ویی ویل: دیوه لوټمارپه حیث نه ، زموږکاردسرګردانه قافلولوټل نه دی ، بلکی هغوی ته لاره وربښودل دی هغه انسان چی په غلطه لاره روان وی دیوه ښه قانون علمبردارنشی کیدای.

ګنګوپښیمانه شوویی ویل: که زه تاته ووایم چی زه دلوټماروله ژوند نه

توبه ګاریم نوستابه باورراشی؟
زبیر: زه به په خوښی پر تا اعتماد وکړم.
ګنګو: اوته به ماآزادهم کړی.
زبیر: که ته شرط وړاندی کوی نومعنی به ئی داوی چی ستامراد خپله آزادی ده اوپه خپلوکړوووړوپښیمانه نه ئی.
ګنګو: خوزماپه توبه به تاسوداګومان نه کوی چی زه دارن یم .
زبیر: نه ! توبه دجرئت دخاوندانوکاردی.
ګنګو: نوزه له تاسره دلوقاری دپرېښودووعده کوم.
زبیر: زماپرتاسوپوره باوردی اوکه ستاپه خپلوملګروباوروی چی بیا به داکارنه کوی نوزه دهغوی پرېښودوته هم تیاریم اوتاسوبه چی په هرځای کی وغواړی په ساحل ښکته کړو.
ګنګوځواب ورکړ: زماملګروبوازی زما په خاطردغه لاره اختیارکړی وه په دوی کی ډیرداسی دی چی زماله لارښوونی پرته هیڅ نشی کولای که تاسوهغوی دسندپه بی هستوګنی ساحل پلی کړی نودوی به دکب نیولوکسب غوره کړی. هغوی ډیره موده له ماسره وواوس ئی څوك پیژنی هم نه ، خوځلورتنه زماپه ملګروکی خودسره دی.
زه دهغوی څه ضمانت نشم کولی. زه پر خپل ځان هم باورنه لرم که ماآزادکړی اوکوم سرداروینم ښایی صبرونه کړای شم اوبیرته همدغه د ظلم لاره اختیارکړم ، که تاسوماله ځان سره بوځی ښایی زه هم ستاسوپه شان انسان شم. که هغه ځلورتنه چی زه ئی یادوم زماپه شان په همدی کښتی کی وای اوستاسوخبری ئی اوریدلای ښایی په هغوی ئی هم ښه اثرکړی وای . که ستاخوښه وی زه له هغوی سره وګورم.

* * * * *

(٤)

سباته کښتیو دیوه تاپوپه څنډوکی لنګرواچول ، زبیرله ګنګوسره ددلیپ سنګ کښتی ته ورغی ، ګنګوپه سندی ژبه خپلوملګروته لږخبری وکړې اوهغوی ته یی دپرېښودوزیری واوراوه، هغوی چی دخوشی کیدوزیری واوریدځیری یی له خوشیوپه پرکاشوی . خوچی ګنګوورته وویل چی له

لوڤارینه ترتوبي ورروسته زه له تاسونه دتل لپاره جداکیږم نویوشمیرئی سخت خفه شول.

گنگویوپربل پسې له یوه یوه نه سوگند اخست چی لوڤاری به پرېږدی تولوومنله خودری تنه مذهب وو اویوبل ته ئی کتل ، په دوی کی یوهغه ژچی نیمایی سر، ږیره اوږیتونه ئی د دلیپ سنگ سپاهیانوورتراشلی وو.

گنگوهغوی ته وکتل ویی ویل: کالو، داسواوموتی ! تاسودری واره به یوڅه وخت له ماسره اوسی له دی نه ورروسته ئی زبیرته مخ ورواړاوه وئی ویل: زه د دوی دآرام اوسیدوضمانت کوم . زبیربیادلیپ سنگ ته لرڅه وویل اوبیایی خپلوسپاهیانوته دهغوی دزنځیرونود صولوامروکړ.

کالو، داسواوموتی له گنگوسره دزبیرکښتی ته رغلل، د داسود عجیبی بڼی په لیدوعرب پری راټول شول . علی بی اختیاره په کرس کرس وخندل اود بنځوُ د خبرولو لپاره ئی منډه واخسته ، اوچی بیرته راوگرځیدهاشم اوڅونورهلکان هم ورسره وو، خلك ټول دهغه په لیدوحیران وو، هاشم ورنژدی شو په معصومانه لهجه ئی تری وپوښتل : ستاپه چپ باړخووښتان نه دی شنه شوی؟

تولوعربووخندل، دعلی خنداله ټولواوچته وه ، گنگوپه خنداهاشم په غیږکی اوچت کړ.

خالدزبیرته وویل: ناهیدفکرکوی چی گنگوته دپلاردکښتی درك خامخاشته . هغه پخپله له گنگونه څوپوښتنی کول غواړی. زبیر وویل: زماپه گومان خودگنگوپه خبروباورکول په کاردی.

خالد: خوناهیدوائی چی که هغه ته څه معلومات نه وی هم زموږسره یوڅه مرسته کولی شی ، د شپی ئی خوب لیدلی دی ا اوس وائی چی پلارجان ژوندی دی .

زبیر: په پوښتنه کی څه حرج نشته خوپه گنگو بدگومانی په کارنه ده ولاړشه خوردی راوله زه به گنگوراوغواړم.

دلیپ سنگ گنگوراوغوښت اوله ناهیدسره مایادیوی هم راغله ، دناهید په مخ یوتورنقاب پروت ؤ. هغی دمایادیوی په غوږکی څه وویل اومایادیوی ته یی خپل هاروړکړ.

مایا دیوی امیل گنگوته ونیواویی ویل: تاځوورځی وړاندی ددی دپلاردکښتی خبره کوله ، که ته ددوی دپلارمعلومات ورکړی نوداهارستاانعام شو.

دگنگوله پښیمانی اواندیښنی نه په سترګوکي اوښکی ډنډشوی زیراوخالد ته ئی وکتل اوبیائی هغی ته وویل: لوړي زه دورمره پست اوذلیل نه وم.

ناهیدهغه داوښکوترتاثیرلاندی راغله وئی ویل: تاته بدګومانی پیداشوه ، زه پرتاشك نه کوم . زه یواز ی داغواړم چی ته راسره مرسته وکړی.

گنګو: دمرستی لپاره ماته د امیل راکولوڅه ضرورت ؤ؟

زه دزیردنیکی بدل اوس هم نشم پوره کولی که کوم ډاکوهغه کښتی لوټ کړی وای نوماته خامخامعلومات کیده خوزه په دی شکمن یم چی هغه کښتی ددیبل په شاوخواکی دهغه ځای کوم حاکم لوټ کړی ده.

ناهیدوویل: زمازړه گواهی راکوی چی زما پلارژوندی دی.

گنگو ځواب ورکړ: که ژوندی وی دسندپه داسی زندان کی به پروت وی چی له مرگه وړاندی ځوك نشی تری راوتلی . خوزه دهغه د ځای معلومولو ذمه واری اخلم که می ئی معلومات ترلاسه کړل دمکران والی ته به ئی احوال ورکړم.

مایادیوی وویل: زه دخپل وروړځوانه ستاسره دمرستی وعده کوم . ددیبل حاکم دهغه دوست دی اوهیڅ خبره نه تری پټوی.

گنگوویل: حاکم دهیچادوست نه دی اوددیبل حاکم خوبیازه ښه پیژنم دائی وویل اوبیائی زبیرمخاطب کړ: تاسوددیبل په بندر کی ددریدواراده لری؟

زبیرځواب ورکړ: زمااراده نه وه خو جی رام مجبورکړم چی هلته یودوه ورځی تم شو.

گنگوله لږسوچ وروسته وویل: ماته دانه ده معلومه چی دسندپه راجه اوددیبل په حاکم به دجی رام څومره اثروی . که نه نوماخودسندپه ساحل دکوزیدومشوره تاسوته نه درکوله.

زبیرځواب ورکړ: زموږسره دسنددخلکواړیکی دومره خرابی نه دی څه

موده پخوا دابوالحسن دپوښتنې په خاطردمکران والي هلته تللی ؤراجه له هغه سره په غرورضرورمخامخ شوی ؤ، خوپه هغه ئې څه تیری نه ؤکړی.
ګنګوځواب ورکړ: دهغه کښتي به تشه وه ، مګرستاسوپه کښتي کې پيلان دي هغه دخپل پوځې ځواك دزياتولولپاره پيلانوته ضرورت لري،له دې نه پرته له تاسوسره تورسري دي اودهغه په زړه کې دتورسريواحترام اوعزت ځای نه لري.

# دیبـــــل

له ګنګو، کالو، داسو، اوموتی نه پرته نورټول بندیان ددیبل نه لږلری په یوه چوپ ساحل پلی شول ګنګودابوالحسن دپیداکولوذمه واری اخستی وه ، ځکه هغه دیوه ګجراتی سوداګرپه جامه کی له خپلونوروانډیوالانوسره ددیبل په بندرکی دکوزیدوپریکړه وکړه، جی رام له ګنګوسره په دی ماموریت کی دمرستی ژمنه وکړه ، بیاهم هغه زیبرته په واروارورویل چی دسندحکومت په دې اړه څه معلومات نشي ورکولی. که دابوالحسن کښتی ددیبل په شاوخواکی لوټ شو ی وی راجه له هغی نه ناخبره دی.

زیبر ورته وویل: زما سره په خپله هم دې کې شك نشته ، خو زه دناهید شك لری کول غوارم.

دماښام نه لږ مخکی ددوی کښتی د دیبل په بندر لنګر وغورځول ، مایا۔ دیوی دټولو عربی میرمنو کورته بیولو ټینګار کاوه ، جی رام ټولو ماټو ګانو ته بلنه ورکړه ، خو ګنګو ددلیپ سنګ په غوږ کی څه وویل او هغه جی رام ته مشوره ورکړه چی تاسو له ډیری مودی وروسته دیبل ته راستنیږی امکان لری ستاسو په کور او جایداد بل چا اړولی وی ، او دا هم امکان لری چی ددیبل حاکم اوس هغه ته دښارته ننوتلو اجازه ور نه کړی . جی رام ځواب ورکړ : هغه به څه عذر لری ، هغه به خپله ستاسو دمیلمستیا ټینګار وکړی، که ستاسو مرسته نه وای ډکاتیا وار ګران بیه سوغاتونه به راجه ته نه وو رسیدلی ، اوس خو په راجه هم ستاسو حق دی.

زیبر ځواب ورکړ: تاسو دښار له والی سره ووینی او بیا راشی بیا به که

تاسو لازمه بلله موږ خامخا درسره ځو.

مایا دیوی وویل: ورورہ ته ولاړ شه ، که ستا په کور بل چا اړولی وی دا به بد کار شوی وی . ته دمیلمنو داوسیدو دځای بندوبست وکړه بیا راځه ، زه به تر هغې پورې له ناهیدې خور سره پاتې یم .

جی رام له بندر نه یو سړی راوست او دجواهرو او طلا ډك صندوق ئی اوږی ته ور پورته کړ ، او بیا نیغ دښار دوالی «پرتاپ رای» دمانۍ په لور رهی شول . پر تاپ رای دکاتیا وار دسوغاتونو له یادونی پرته دده نور سرگذشت په بی پروائی واورید او چی کله ئی دا وویل چی د لوټمارونه ددوی ژغورونکی دسراندیپ کښتی دی نو هغه تکان وخوړ او پوښتنه ئی وکړه:

آیا دا همغه کښتی ده چی دسراندیپ راجه دعربو لپاره پیلان پکی استولی؟

جی رام : هوکی همغه ده ، خو تاته دا چا وویل؟

پرتاپ رای : دا به وروسته درته ووایم لومړی زما ځو پوښتنو ته ځواب راکړه:

په دی کښتی کی دعربو ماشومان او ښځی هم دی؟

جی رام: هوکی!

پرتاپ رای: دغه کښتی دسمندری لوټمارو دوی بیړی ډوبی کړی ددی مطلب دا دی چی هغوی ښه وسلوال دی ، دوی خو به له بندر نه خوځیدلی نه وی؟

جی رام: نه! زه مسافر یو دوی ورځی میلمانه کوم ، هغوی پر ما زیات احسان کړی . زه دلته ددی لپاره راغلم چی دلته به دهغوی په تم کیدو ستا څه اعتراض نه وی؟.

پرتاب رای: اعتراض! نه! زما څه اعتراض دی ، هغوی به نور ټول عمر همدلته زموږ میلمانه وی ، ماته راجه ددوی دکښتی دلوټ کولو امر کړی دی.

که په دی مانۍ تندر پریوتی وای هم جی رام به دومره نه ؤ وارخطا شوی ، هغه دیوی شیبی لپاره لکه بوت بی حسه ودرید بالاخره بیرته را سنبال شو

ویې ویل: ته خو به تږوکې نه کوې؟

پرتاب رای لږ په ترخه لهجه وویل: زه له هلکانو سره په تړوکو بلد نه یم . مونږ ته سندي سوداګرو ددوی دکښتیو د راتګ خبر راوړی ؤ. او دلوی راجه حکم دی چې کښتۍ تری واخلو راجه به تر دی صندوق هم پر دی له تانه خوښ شي چې دوی له مالونو ډکې کښتۍ دی دلته راوستی.

جی رام په چیغو وویل: نه! دا هیڅکله نشي کیدای . هغوی زما میلمانه دی ، هغوی زما دوستان او زما محسنان دی.

پرتاب رای په پټکه ورته وویل: په سد خبری کوه ، ته نه پوهیږې چې چیرته ولاړ یې؟

جی رام ورته وویل: دا دانسانیت خلاف کار دی تاسو دداسی قوم دښمنی اخلی چې دسند په څیر ئی زیاتی پاچهی تر ګامونو لاندی ستی شوی ، راجه ته دداسی مشوری ورکول ښه کار نه دی . زه څم دمیلمه درناوی دیوه راجپوت ، «لوړ ذات» وقار دی.

پرتاب: ته له راجه نه یاغی هیڅ ځای ته نه شی تلای، دائی وویل او پرتاپ رای پهره داران را وغوښتل ، دسترګو په رپ کی څلور تنه ایستلی توری ور ننوتل او تر جی رام را تاو شول.

جی رام دتوری ایستلو فرصت ونه موند ، پرتاپ رای وویل: ته باید څه موده زما په زندان کی پاتی شی ، له بندر نه چی را ستون شم تا به بیا خوشی کرم . سبا ته به دی «مهاراج» ته واستوم . که دی دخپلو میلمنو دمرګ دبخښنی فرمان راوړ نو هغوی به هم بیرته خوشی کړم . خو اوس ستا دخوښی لپاره دراجه له حکم نه سر غړاوی نشم کولی.

سپاهیانو جی رام دمانی په یوه ووړکی کوټه کی بندی کړ. جی رام په چیغو ، دروازه دربوله او سر له دیوال سره جنګولو نه ورروسته ستومانه او مایوس شو او کیناست ، هغه ته خپله خور ور په یاد شوه بیا اوچت شو له دروازی سره ئی سر وجنګاوه ، توره ئی وکښله خو داوسپنی په مزبوطو میلو ئی چی څوګوزارونه وکړل.

هغه هم ماته شوه ، هغه دتوری مات تیغ را واخست او په خپله سینه کی ئی دښخولو اراده وکړه ، خو بیا څه خیال هغه له دی کاره منعه کړ جګ شو

او په ناکراری ئی په کوټه کی قدم واهه بیائی په ذهن کی څه ور وګرځیدل او پهره دارانو ته ئی غږ وکړ . هغوی ته ئی ډول ډول ټمی ورکړې خو چا دده په حال ځان نه پوهاوه. بیا ئی راجه ته په شکایت کولو ددوی دویرولو هڅه وکړه خو په ځواب کی هغه په کړس کړس خندا واوریده.

*****

(۲)

جی رام چی ښار ته روان شو ، لږ وروسته ګنګو او دده ملګری هم دمابنام په تیاره کی له زبیر نه رخصت شول او دښار په لور ئی مخه کړه ، ښار ته چی ننوتل په مخه یو پنځلس شل تنه سپاره او په هغوی پسی یو نیم سل وسله وال پلی سپاهیان په مخه ورغلل ، دوی ځان له لاری ګوښه کړ ، چی تیر شول ګنګو خپلو اندیوالانو ته مخ واړاوه ویی ویل:

دښار مشر له وسله والو سپاهیانو سره بندر ته ولاړ ، ددوی له بیړې نه ښکاری چی نیت ئی روغ نه دی ، موږ باید بیرته وګرځو .

کالو وویل: که هغوی رښتیا هم په بد نیت تللی وی نو موږ به څه وکړای شو ؟ هغوی به دلنګر اوچتولو او بادبانونو دتړلو موکه هم ونه مومی . موږ باید دخپلو ځانونو غم وخورو.

ګنګو وویل: که ته زموږ ملګرتیا پریږدې خوښه دی ، زه خو خامخا بیرته ځم ، او داسو، موتی! تاسو هم تلای شی.

هغوی دواړو په یوه غږ ځواب ورکړ: نه موږ هم ستا ملګری یو. کالو پښیمانه شو وئی ویل: زه هم ستاسو ملګری یم ، خو موږ څه کولی شو؟

ګنګو ځواب ورکړ: دابه موږ هلته تر رسیدو وروسته ګورو چی څه کولی شو.

موتی وویل: داسی ښکاری چی جی رام خپلو نیکی کوونکو ته دوکه ورکړه.

ګنګو ځواب ورکړ: کیدای شی ، خو که دهغه نیت خراب وای خپله خور به ئی هلته نه پریښوده.

داسو وویل: ښکاره خبره ده ، هغه خپله خور ددی لپاره پریښوده چی دوی له بندر نه په بله خوا ولاړ نه شی. زما په ګومان دغه تجلی هم په دی

دسیسه کې شریکه ده . ظاهراً څرنګه معصومه او ساده ښکاري ، هغې په کښتۍ کې هغه عربی نجلی خور بلله.

ګنګو وویل: او جی رام به خالد کشر ورور باله ، او چی زبیر ناروغ ؤ هغه به شپه ورځ ورسره ناست ؤ ، دروغجن دوکه باز ، مکارا کاشکی هغه زما په لاس راشی! او هغه نجلی! کالو چی هغه زموږ له لاسو ونه وځی راځی ، له هغه نه ډیر کار اخستی شو ، دا دخبرو وخت نه دی او بیا ځلور واړه په زغاسته دبندر په لور ولاړل.

* * * * *

(۳)

عربو په کښتی کی دماښام له لمانځه وروسته دعا کوله چی دلیپ سنګ له خپلی کښتی نه دوی دساحل په خوا متوجه کړل ، زبیر او ملګرو ئی په ساحل وسلوال سپاهیان ولیدل اندیښمن شول ، ځلور تنه په یوه وړوکی کښتی کی سپاره شول او دوی ته ورغلل دوی ته ئی په سندی یوه تن وویل:

ددیبل حاکم پرتاب رای تاسو ته ښه راغلاست وایی او ستاسو له مشرانو سره لیدل غواړی.

دلیپ سنګ دپرتاب رای استازی ته وویل: جی رام څه شو؟

هغه ځواب ورکړ: هغه دپرتاپ رای سره له لیدو وروسته ستاسو دمیلمستیا انتظام کوی او خپل محل ته تللی، پاچا ستاسو ښه راغلاست ته پخپله راغلی.

دلیپ سنګ په عربی زبیر ته وویل: دا خامخا فریب دی خو موږ ته له تګ نه پرته بله چاره نه ده پاتی.

زبیر وویل: زه پخپله حیران یم چی ددیبل والی له دومره سپاهیانو سره ولی راغلی، خو زما له جی رام نه ددوکې تمه نشته ، دهغه خور له موږ سره په کښتی کې ده.

استازی بیا پوښتنه وکړه: زه حاکم صیب ته څه ځواب ورووړم؟

زبیر وویل: موږ له تاسو سره ځو.

زبیر او دلیپ سنګ په کښتی کی سپاره شول او څنډې ته ورسیدل ، دلیپ سنګ دپرتاب رای په مخکی خم ښو او احترام ئی وکړ، خو زبیر غاړه

کړه نه کړه پرتاپ رای وویل: ښه ته دعربو اوسیدونکی یی ، تاسو ته چا د مشرانو درناوی نه دی درښودلی؟

دلیپ سنګ ځواب ورکړ: دهغوی په مذهب کی انسان ته تیتیدل ګناه ده.

پرتاپ رای ځواب ورکړ: له موږ سره چی واوسی دانسانانو په مخکی تیتیدل به هم زده کړی.

دلیپ سنګ: ستا مطلب څه دی؟

پرتاپ رای: هیڅ نه، ستاسو په کښتیو کی څه شی دیُ؟

دلیپ سنګ: جی رام به تاته ټول ویلی وی له موږ نه ولی پوښتنه کوی؟

پرتاپ رای: جی رام چی څه ویلی که رښتیا وی نو دا کښتی له دی ځایه نشی تلای.

دلیپ سنګ: کښتی ولی له دې ځایه نشی تلای؟

پرتاپ: دا دپاچا «راجه» حکم دی.

دلیپ سنګ څلورو خواوته وکتل ، دده او زبیر په شا وخوا دسپاهیانو کړی تنګه شوی وه ، په عربی ژبه ئی زبیر ته وضعیت وښود ، دهغه په هدایت ئی پرتاپ رای ته وویل:

دا دسند د بی وزلو ماښوګانو کښتی نه دی چی لاس وروغځوی دا دعربو کښتی دی، په دې کې دهغه قوم لونې سپرې دی چی دسرکشانو او یاغیانو مخ ته دتوپان په څیر اوچتیږی. او دوریځی په څیر خپریږی .

څوك چی له اسمانی تندر نه نه ویریږی هم ددوی له توري پناه غواړی.

پرتاپ رای په غوسه شو توره ئی وکښله ، زبیر او دلیپ سنګ هم په تورو لاسونه ونیول خو ډیری لوځی قورې ئی مخ او بدن ته ور نژدی شوی او دوی لاسونه ونیول.

پرتاپ رای دلیپ سنګ ته وویل: ته سندی ښکاری خو ستا په رګونو کی دیوه غدار او بی غیرته انسان وینه ده.

دلیپ سنګ ځواب ورکړ: په دنیا کی تر ټولو لویه غداری او پستی له خپل میلمه سره دوکه کول دی او ماته په دی ویلو څه باك نشته چی ...

ددلیپ سنګ خبره پوره نه وه چی پرتاپ رای توره دهغه په ټټر ورښخه کړه ، دلیپ سنګ په ځمکه ولوید. زبیر ور ټیټ شو هغه ته ئی تکیه ورکړه ،

هغه یو زګیروی وکړ زبیر ته ئی وکتل او وئی ویل: زبیره! زما سفر له تاسره پای ته ورسید خو زما په زړه یو درونند پیټی پاتی شو ، زه دجهالت په غیږ کی وزیږید م او لوی شوم ، ابو الحسن له مانه انسان جوړ کړ او تا می په زړه کی داسلام مینه په غورځنګ کړه ، خو معلومه نه ده چی ولی ما تر اوسه دخپل ضمیر غږ اوچت نکړای شو ، ما له خلکو نه پټ لمنځونه کول ، روژې می نیولې ، خو دخپلې مسلمانی په ښکارولو کی مذبذب وم . اوس می اراده کړی وه چی بصرې ته ورسیږو زه به دمسلمانی اعلان کوم ، خو خدای «ج» ته دا منظوره نه وه زه دناهید په حال افسوس کوم ، خدای «ج» دهغه دوحشی دښمن له شره په امان وساتی . زما دوسته ، ما مه هیروه ماته دعا کوه ... دلیپ سنګ بیا ځو سلګی ووهلی او سترګې ئې پټې شوی ، څو ځلی ئی دتوحید کلمه تکرار کړه . ورو ورو ئی غږ چوپ شو ، شونډې ئې ورپیډې را ټولی شوی او بیا بیرته وغوړیدې ، دبصری مسافر په رڼو سترګو داسی منزل ته کتل چی له هغه نه مسافر بیرته نه راګرځی. دلیپ سنګ دابدی خوب غیږی ته ولوید. زبیر «انا لله وانا الیه راجعون» وویل ددلیپ سنګ سر ئی په ځمکه کیښود او په حقارت ئی پرتاب رای ته کتل.

سپاهیان په کښتیو کی سپاره شول او دزبیر او دلیپ سنګ دکښتیو په لور ئی غیشی وورول او پر مخ تلل ، له هغه لوری هم دغشو په ځواب کی غشی راتلل ، زبیر ته دتیښتی لاری نه وی ، دپرتاپ رای په اشاره اته ، لس تنه پری ور پریوتل او هغه ئی په رسیو کلك وتاړه او په ځمکه ئی وغورځاوه ، زبیر په حسرت او نا امیدی خپلو کښتیو ته کتل...

*****

(٤)

په کښتی کې ناهید او نورې عربې ښځونې هم دناریننه ؤ سره اوږه په اوږه جنګیدې ، هاشم تر ډیره وخته دنورو هلکانو سره په یوه ګوښه کی ناست پاتی نه شو ، را پورته شو او خالد ته نژدی ودرید پوښتنه ئی وکړه: مورږ به څو ځلی له سمندری غلو سره مقابله کوو؟

خالد په لینده کی غشی کیښود شاته ئی وکتل دهاشم تر ځنګ ماید

دیوی حیرانه او وارخطا ولاړه وه ، خالد وویل: مایا دیو ی هاشم درسره ښکته کړه.

مایا دیوی هغه ته لاس ور اوږده کړل خو یو تیز غشی راغی او دهاشم په تتر ونښت . مایا دیوی دی په منډه یوې گوښی ته کړ او له سینې نه ئې دغشی را ایستلو هڅه وکړه هاشم له یوه کمزوری زگیروی او معمولی لړزی وروسته یخ کرخ شو ، مایا دیوی په سلگو شوه اوچته شوه چی له شانه یو مزبوط لاس ور اوږد شو او دائی بی وسه کړه.

دسپوږمی په تته رڼا کې ئې سترگې وغړولی او بیا ئی وویل: څوك ئی ؟ گنگو ته ! ...

گنگو وویل: هو زه یم! کالو اوچته ئی کړه او که ئی شور او غوغا گډه کړه مری‌ئې ور غوڅه کړه ، کالو مایا دیوی په اوږه واړوله او له لویی کښتی نه درسی په زینه ښکته یوی وړوکی کښتی ته ور کوز شو ، گنگو ور وړاندی شو دخالد په اوږه ئی لاس ور کیښود او وئی ویل:

اوس له جگړی نه څه نه جوړیږی دوی کښتی له شانه هم راغلی خو زه تا او ناهید ژغورلی شم ، زموږ کښتی لاندی ولاړه ده ، خالد په بی پروائی ځواب ورکړ:

زه خپل ملگری نه شم پریښودلای .

گنگو: مگر ته نه پوهیږی چی هغوی به ستا له خور سره څه سلوك کوی؟

خالد: ماته په کښتی کی تولی ښځې خپلې خویندې ښکاری او دجی رام په دوکه اوس زه په هیچا باور نشم کولی.

یو غشی په ناهید ولگید ، پنډی ئی ونیوه او کیناسته ، خالد ورغی غوښتل ئی اوچته ئی کړی ناهید وویل: زه روغه یم .

ته زما فکر مه کوه.

ددی دتینگار سره سره خالد هغه اوچته کړه او دهاشم له مړی سره ئی نژدی پریښوده ، ناهید چی هاشم مړ ولید خپل زخم ئی هیر شو هغه ئی وخوځاوه چیغی ئی پری وکړی او په غمجنه لهجه ئی وویل: هاشمه ته ولی پاس را وختلی؟

گنگو په بی خبری کی دناهید له پنډی نه په یوه زور غشی کش کړ او

ویې یوست بیا ئې داسو ته وویل: دا اوچته کړه.

داسو دناهید داوچتولو لپاره تیټ شو خو خالد را وړاندې شو هغه ته ئې ډیکه ورکړه او وئې ویل: تاسو او جې رام په بیلو بیلو لارو راوتلې یې خو مقصد او لاره دټولو یوه ده.

ورځې موږ نور تاسو بخښلې یې.

گنگو وویل: زویه! که دخبرو لپاره وخت وای ما به ستا شك لرې کړی ؤ خو ددښمن کړی تنگه شوه او که موږ څو لحظې نور هم غافل شوو هر څه به تمام شي او دتیښتې لاری به بندی شي ، افسوس دی لوري چې ماتا ته دسوچ مهلت هم در نه کړ ، ما وبخښې دائې وویل او ناڅاپه ئې په یوه وړوکی ډنډه خالد په سر وواهه خالد په تیندکونو شو ، خو گنگو هغه په اوږه کړ ، داسو ناهید په اوږه کړه او گنگو موتی ته وویل : دغه لیندی راواخله په کار راځي.

حمله کوونکي کښتیو ته ور وختل . دغشو جگړه دتورو په جگړه بدله شوه په دی هنگامه کی دچا خالد ، ناهید او مایا دیوی تښتولو ته پام نه شو ، لویو کښتیو ته وړوکی کښتی نوری ورغلی ، گنگو په همدی وخت کی په سندی ژبه های ، هو ... چیغې وهلې او له نورو کښتیو نه لږ په څنگ یوه لوری ته ووتل.

دگنگو په ویلو مایا دیوی خپل تیکری وشلاوه او دناهید دپنډی زخم ئې پری وتاړه ، خالد ئې چې له ځان سره ولید اوس ئې ددې پوښتنه هم نه کوله چې چیرته ئې بیایي ، گنگو به یوه توته تورکړ په اوږو کې لوند کړ او بیا به ئې دخالد په تنده کیښود او مایا دیوی ته هغه سری چې څو شیبې وړاندې یو خطرناك دښمن معلومیده یو غمراز ښکاره شو.

ددوی کښتی دخطر له حدودو نه لرې شوی وه ، او مایا سره له دې چې له ځانه سر دا ژمنه کړی وه چې له گنگو سره به خبری نه کوی له هغه نه پوښتنه وکړه: دی خو به ډیر نه وی ژوبل شوی ، دا ولې نه په سد کیږي؟

ناهید له ډیر غم او اندیښنی نه خبرې نه کولې ، او په اندیښنه او پریشانی ئې خپل وروړ ته کتل ، او چې کله به گنگو وویل: لورې ته غم مه کوه ، وروړ به دی اوس را په خود شي ، زه ستاسو دښمن نه یم ، زه

دسمندر په خدای سوګند یادوم.

نو ناهید به دوینو غورپ تر حلق تیر کړ او چوپه به پاتی شوه .

بیائی مایا دیوی ته وکتل ویې ویل: مایا! ته راجپوت «شریف زاده» نجلی ئی ، شریفان په دروغو سوګند نه خوری ، زه له تانه پوښتنه کوم چی آیا ستا دا ګومان ؤ چی ورور به دی مور ته دوکه راکوی؟

مایا: نه ، نه! زما ورور داسی نه کوی زه په بګوان «خدای» قسم خورم.

ناهید: او که دا ثابته شوه؟

مایا: نو زه .... زه به کوهی ته ځان وغورځوم ، په اور کی به ځان لولپه کړم ، خپله مری به خپله زیندی کړم . دخدای په خاطر داسی مه وایه ، دمایا سلګو او اوښکو په ناهید تاثیر وکړ او ویې ویل: مایا! ته ددی خبرو پروا مه کوه ، زما په تاباور دی که ستا ورور له مور سره دوکه کړی وی هم په دی کی ستا څه ګناه؟

مایا: زه بیا وایم چی زما ورور داسی نه کوی ، دهغه په رګونو کی د یوه راجپوت وینه چلیږی ، هغه دومره نیکی هیروونکی نشی کیدای .

ناهید وویل: زمور دښمن اوس دغه دی چی مور ئی په زور له کښتی نه راکوز کړو او په نامعلوم لوری مو بیایی.

ګنګو وویل: لوری! کاشکی ما تولې ښځې او هلکان په دی کښتی کې را وستلای شوای ، په دی کښتی کې دهمدومره سپارلیو ځای ؤ ، ته ځوانه ئی او زه دی دیوه بی رحمه دښمن له منګولو نه ژغورم. او مایا دیوی ته ښایی نور تول بندیان راخوشی کړی . زه به ستا په بدل کی په هغوی تول ماشومان او ښځې را خوشی کوم.

خالد را په خود کی شو او سترګې ئې وغړولی ، حیران شو تولو ته ئی په وار وار کتل ، تیری پیښی ئی په یاد شوی او سمدستی اوچت شو کیناست او په خوږ سر ئی لاس کیښودل ویې ویل: زمور کښتی چیرته ده؟ مور چیرته روان یو ، ګنګو! ګنګو ظالمه ، مکاره ، دوکه بازه تا له مور سره داسی سلوك وکړ ، ته مور چیرته بیایی؟!

ګنګو په سړه سینه ځواب ورکړ: خالده! دا زما په ژوند کی لومړی ځل دی چی دچا په کنځلو غوسه نه راځی ، ستا چی څه په زړه درځی راته ووایه

خو ما بد نه دی کړی ، ما یوازی مایا بیوله ، خو ستا خورمې چې تېې ولیده دا می زړه ونه منله چې دښمن ته مو پریږدم.

خالد په حقارت مایا دیوی ته وکتل او ویې ویل: زه اوس پوه شوم چې رام یوه خوا زموږ دجګړی لپاره سپاهیان را واستول او له بلی لاری ئې ته دخپلی خور دپاره را واستولی ، ددی مطلب دا دی چې دلوټمارانو مشر ته نه وی چې رام ؤ.

ګنګو : ته رښتیا وائی خو ما اوس توبه ایستلی او چې رام لا توبه نه ده ایستلی امکان لری هغه دخپلی خور دخبر په اوریدو توبه وباسی.

خالد: نو ته موږ اوس هغه ته نه بیایی؟

ګنګو: ته ئې لیدای شی بندر کومی خواته دی او موږ چیرته روان یو.

خالد: ته موږ چیرته بیایی؟

ګنګو: یوه داسی ځای ته چې دراجه سپاهیان هلته را ونه رسیږی.

خالد وویل: که ستا نیت خراب نه وی نو موږ بیرته له خپلو ملګرو سره پریږده.

ګنګو: ستا ملګری به لږ ځنډ وروستــه ددیبل په بندیخانه کی وی، ته دزندان په ځای بهر له دوی سره مرسته کولی شی.

خالد لږ امید وار شو ویې ویل: ته رښتیا دهغوی مرسته کوی؟

ګنګو ځواب ورکړ: زویه! ماته ددروغ ویلو څه ضرورت دی، که زه ستا دښمن وای نو دومره سختی کنځلی به می په سره سینه نه اوریدی.

بله ورځ ددوی کښتــی دسند ددریاب ځنډو ته ورسیــده او ګنګو خپل پخوانی اندیولان ولیدل چې کبان ئې نیول.

# بنـــــدی

بله ورځ دوړوکی کوټی دروازه خلاصه شوه او پهره دار جی رام ته لاس په نامـه ودرید تعظیم ئی وکړ او ویې ویل: تاسـو سردار پرتاپ رای بللی یاست.

جی رام دپهره دار دوضعی په بدلو حیران شو ، چوپ ورسره روان شو ، پرتاپ رای په خپل دربار کی په آبنوسی کرسی ناست ؤ ، دهغه په مخکی په یوه نقره یی پتنوس کی دسراندیپ دراجه هغه سوغاتونه پراته وو چی تیر مابنام دوی دعربو له کښتی نه لوټ کړی وو.

دهغه چی په جی رام سترګې ولګیدې جواهرو ته ئی اشاره وکړه او ویې ویل: جی رامـه! ټولواك به دسراندیپ په سوغـاتونو دکـاتیا وار له تحفو نه زیات خوښ شی ، ددی یو یو غمی ځانګړی ستا د صندوق نه زیات قیمتی دی.

جی رام په غوسه ورته وکتل او خپله شونډه ئی تر غابنو لاندی کړه .

پرتاب رای وویل: دا ستا رنګ زیړ او سترګې سرې ولې دی؟

داسې ښکاری چې تا کری شپه سترګی نه دی پټی کړی ، په کوټه کی به ګرمی ډیره وه ، له بندر نه چی بیرته راغلو زما په یاد را نه غلی که نه نو دومره ځند ستا هلته پاتی کیدل لازم نه وو ، ما د پاچا خدمت ته استازی استولی ، په څو شپو کی به دبندیانو په باب دهغه حکم هم راورسیږی .

جی رام : نو تا هغوی بندیان کړی.

پرتاب : هو! دا خو ماپرون هم درته ویلی وو چی دراجه حکم همدغسی

دی.

جی رام: تا هغوی په جنگ ونیول که نه دمیلمستیا په نامه؟

پرتاب : ته تر اوسه هلك ئی په جګړه کی هر څه روا دی.

جی رام: زما خور چیری ده؟

پرتاب : څوك؟!

جی رام: زما خور.

پرتاب رای: هغه چیرته وه؟

جی رام: ځان ناګار مه اچوه ، دیوه راجپوت «نوابزاده» عزت ته لاس ورغځول دومره اسانه نه ده لکه ته ئی چی ګومان کوی.

زه پخوا ستا دراجه ملازم وم خو اوس دکاتیا وار دراجه دسفیر په حیث دلته راغلی یم ، که چا زما خور ته نیغ وکتل نو واوره چی دکاتیا وار نه تر راجپوتانه پوری به داور غرونه دروم . او شهنشاه به دخپلو زرګونو پوځیانو دوژلو پر ځای د دیبل یو مغرور حاکم موږ ته وسپاری ، پاتی شول عرب ، هغوی میلمانه وو او زه افسوس کوم چی هغوی زما په خاطر په دی مصیبت واوښتل ، امکان لری ددوی په باب زما فریاد په هندوستان کی څوك وانه وری، خو دهغوی لاسونه ډیر اوږده دی او ښایی ستا مری ته دروررسیږی .

پرتاپ رای ته معلومه وه چی کله کله دراجه دغلطو فرمانونو دوك دده دنورو منصبدارانو نه وزی، هغه دخطر په وخت کی خپله ګناه دنورو په اوږو ور غورځوی ، دراجه په ځیر دعربو په اړه دده څه اندیښنه نه وه خو دکاتیا وار دسفیر دخور مسئولیت ئی نشو زغملی ، هغه وویل:

جی رامه ! ستا دخور معلومات له ماسره نه شته.

جی رام: ته دروغ وائی . ما هغه په کښتی کی دعربو له ښځو سره پریښی وه.

پرتاپ: دکښتی ښځی ټولی زموږ په بندیخانه کی دی که ستا خور په هغوی کی وی زه اوس له تاسره یو ځای ځم له هغی نه معافی غواړم، راځه!

دخور دلیدو او لټولو جذبه پر جی رام غلبه وموندله او له پرتاپ رای سره روان شو ، په لاره کی ئی تری وپوښتل: له عربی مانوګانو سره مو څه چلن وکړ؟

پرتاپ رای: هغوی ټول تر وروستیو شیبو وجنګیدل . له ماشومانو او ښځو پرته موږ یوازې پنځه تنه ژوندي ونیولای شواې. په دوهمه کښتي کې دسرانديپ مانو ګانو معمولي ټينګار وکړ او زر ئې بيا وسلې وغورځولي.

جي رام: نو ستــا مطلب دادې چې تاســو په يوه وخت کې دعــربو او سرانديپ په مقابل کې دجګړې اعلان وکړ؟

پرتاپ: ما یوازې دراجه په فرمان عمل وکړ او بس . او تر هغه پورې چې زه په دې منصب کې يم داسې احکام به عـملي کـوم . زما دليك په ځواب کې که راجه ته وروغوښتي او تا دبنديانو دخلاصون فرمان ترې واخست نو زه به خوښ شم . او هسې به له مسئوليته خلاص شم.

له بنګلې نه دواړه ووتل او څو ګامه لرې دبنديخانې انګړ ته ور ننوتل ، دپرتاپ رای په اشاره پهره دارانو دعربو دکوټې دروازه خلاصه کړه ، ښځو خپل مخونه پټ کړي وو ، عربي مانو ګانو دجي رام په ليدو مخونه بل لورې ته واړول زبير په يوه ګوښه کې ديوال ته تکيه وهلې وه ، هغه هم په کرکه او نفرت جي رام ته وکتل او بيا ئې دخپلو ملګرو په څېر مخ ترې واړاوه.

جي رام پرتاپ رای ته مخ راواړاوه وئې ويل: زما خور دلتـه نشتـه هغـه چيرته ده؟

پرتاپ رای يو پهـره دار ته غـږ وکـړ او ور وئې غـوښت پوښـتنه ئې ترې وکړه: ايا ټولې ښځې په همدې کوټه کې دي او که د سرانديپ دمانوګانو په کوټه کې هم شته؟

پهره دار: نه صيب! ټولې ښځې همدلته دي.

جي رام وارخطا شو په ګوډه ماته عربي ئې زبير ته وويل:

زبيره! ماته په داسې نظر مه ګوره ، زه بې ګناه يم ، تاته معلومه ده چې زما خور چيرته ده؟

دزبير له خولې ناڅاپه دزمرې غرهار ته ورته غږ اوچت شو:

ته زما له تصور نه زيات ذليل وختې ، ته په دروغو حقيقت نشې پټولی خو په ياد لره ، که دناهيد يو ويښته ضايع شو نو دځمکې پر سر به داسې ګوښه پيدا نکړې شې چې زموږ له بدل نه پناه درکړي ، دناهيد دتښتولو لپاره دې خپله خور په کښتي کې پريښوده ، ستا تدبير کامياب ؤ ، تا خپل

دغه ملګري دکوربه په نامه موږ ته راواستاوه او په بله لاره دي په کښتی حمله وکړه ناهید او خپله خور دي بوتلل ، خو که په جنګ کی دا ستاسو لاره وی نو پوه شه چی ستاسو دراجه ورځ ګرځیدلی ده پرتاپ رای ناڅاپه دسپاهی له لاسه متروکه واخسته او زبیر ئی په مخ وواهه، هغه ددوهم ځل لپاره متروکه اوچته کړه چی جی رام ورورواندی شو او لاس ئی ونیو ، پرتاپ رای دلاس خلاصولو هڅه وکړه وئی ویل: ته دراجه سپکاوی زغملی شی زه ئی نشم زغملای.

جی رام وویل: زه دوروستی ځل لپاره درنه پوښتم چی زما خور او هغه عربه نجلی دی چیرته پټ کړی دی؟

دی پوښتنی دپرتاپ رای غوسه سره کړه او له لړ سوچ وروسته ئی وویل: ایا دا امکان نه لری چی زموږ دحملی نه وراندی ئی هغه دکسات په جذبه وژلی او له کښتی نه غورځولی وی؟

جی رام وویل: دغه خلك په دښمنی کی له شرافت نه قدم وراندی نه ږدی ، زما له خور سره یواځی دعربی نجلی ورکیدل ددی معنی لری چی په دغه دسیسی کی ستا غوندی دپست سری لاس دی.

زبیر بیا جی رام ته وویل: ته په دی خبرو ما نشی تیر ایستلی ، ناهید خالد او ستا خور په یوه وخت کی له کښتی نه بی درکه شویدی ، او هغوی اوس ستا په بندیخانه کی دی، زما له تانه دڅه نیکی تمه نشته ، خو دومره غواړو چی موږ دراجه په مخکی حاضر کړی ، او تر څو چی زموږ پریکړه نه وی شوی ناهید او خالد له موږ سره یواځی پریږدی.

پرتاپ رای تکان وخوړ ویی ویل: زه اوس وپوهیدم جی رامه!

که له کښتی نه دښځو نه علاوه څوك نارینه هم ورك دی نو معامله صافه ده ، تیره شپه یوه سرکاری کښتی هم ورکه شویده ، خو هغوی ډیر لری نشی تښتیدای ته راځه.

پرتاپ رای او جی رام له بندیخانی نه ووتل په اسونو سپاره شول او په زغاسته بندر ته ورسیدل ، هلته پهره دارانو مابښام دیوی کښتی دورکیدو خبره تائید کړه ، او دمایا په باب دجی رام اندیښنه زیاته شوه ، پرتاپ رای څو کښتی یوی او بلی خواته د لټون لپاره واستولی او جی رام ته ئی داډ

ورکړ چې هغوی ډېر لږ نشي تلای ، جی رام بیا له پرتاپ سره بیرته ښار ته راغی ، تر غرمې ئې چې دمایا دموندلو خبر وا نه ورېد نو بې تابه شو او بندر ته ئې دتګ اراده وکړه خو دپرتاپ رای استازی راغی او هغه ئې محل ته ور وغوښت.

*****

(۲)

دپرتاپ رای دماڼۍ په بڼ کی زبیر او علی دناریالو په ونو پورې تړلی وو ، پرتاپ رای ، دهغه څو سپاهیـان او دوه تنه جلادان ورته درېدلی وو ، دعلی او زبیر سرونه ښکته وو ، په لوڅ بدن ئې دمتروکو تغمې وې او داسې ښکارېدل چې هغوی ئې ډېر زيات وهلی وو ، یوه سپاهی دجی رام دراتګ خبر ورکړ او پرتاپ جلادانو ته دمتروکو دوهلو اشاره وکړه . زبیر دیوه غره په څېر ولاړ ؤ خو دعلی حوصلې ځواب ورکړی ؤ او دمتروکو له هر ګوزار سره ئې تر خوله چیغه وتله.

جی رام چې دباغ په درشل پښه کیښوده دعلی چیغې ئې واورېدې ورمنډه ئې کړه او یو پر بل پسې ئې دواړه جلادان لرې ډیکه کړل ، پرتاپ رای ته ئې وکـتل وئې ویل: دا ظلم دی ، ګناه ده تا له مـاسره وعـده کـړې وه چې ددوی فیصله به راجه کوی.

پرتاپ رای علی ته اشاره وکړه وئې ویل: دغه هلك سپاهیانو په ښار کی موندلی ، معلومیږي چې ستا دخور معلومات ورسره شته ، ځکه هغه هم له کښتی نه ورك شوی ؤ ، دده نور ملګری هم دښـار په شـاو خوا کی چیرته غلی شویدی.

جی رام ور وړاندی شو له علی نه ئې پوښتنه وکړه: ته چیرته وې زما خور چیرته ده؟ علی په عجز سر اوچت کړ هغه ته ئې وکتل او بیا ئې سر ځوړند شو.

جی رام ورته وویل: که تا ته دمایا دیوی څه درك معلوم وی ماته ووایه ، زه ستا دخوشی کولو هڅه کوم.

علی بیا سر اوچت کړ او ویی ویل: مـاته معلومات نشـته زه رښتیا وایم زه نه یم خـبـر ، زه له کـښـتـی نه دکـوزیدو په وخت کی په هغـوی پسی

وګرځیدم خو ومی نه لیدل خدای «ج» خبر دی هغوی څه شول؟
جی رام وپوښتل: ښار ته څه ډول راغلی؟
زه له کښتی نه راکوز شوم او دسمندر په غنډه کی په یوه کښتی کی پټ شوم، نن ښار ته راغلم، سپاهیانو ونیولم او دلته ئی راوستم. تاسو ټول ظالمان یی، ما ستا سو سره څه قصور نه دی کړی.
جی رام زبیر ته وکتل، خو دحیرانی، غوسی، پښیمانی او افسوس ګډو احساساتو پری یرغل راوړ او هغه ته ئی هیڅ ونشو ویلای، دهغه سترګی څو ځلی اوچتی شوی خو بیرته به ښکته شوی، شونډې ئی ورپیدی او بیا سره ونښتی بیا ئی پرتاپ ته وکتل وئی ویل:
دوی پریږده زما پر دوی هیح شك نه شته.
پرتاپ رای وویل: زه دوی چیرته پریښودلای شم، که ستا خور په کښتی کی وه، نو ضرور به دوی ته معلومه وی چی څه شوه؟ ته تر اوسه ما مجرم بولی او زه ددوی په اعتراف ځان له دی جرم نه خلاصوم، اوس به یادوی په دی اعتراف کوی چی ستا خور ئی دحملی په وخت کی وژلی او مړی ئی سمندر ته غورځولی او یا به ته اعتراف کوی چی خور دی نه وه او هسی دی زما دویرولو لپاره یوه پلمه پیدا کړی وه.
پرتاپ رای بیا جلادانو ته حکم وکړ او هغوی په زبیر او علی دمتروکو ګوزارونه پیل کړل، جی رام چیغی کړی: ودریږی، ودریږی! دا بی ګناه دی، دا ظلم دی هغوی پریږدی، خو دا ټولی چیغی بی اثره وی، جی رام ور واندی شو یو جلاد ئی په خوله په سوك ورواهه، خو د پرتاپ رای په اشاره څو سپاهیانو را ونیو او شاته ئی کش کړ، جی رام دسپاهیانو نه دځان خلاصولو هڅه وکړه، علی اوس دچیغو پر ځای نیم بی هوشه شو او ورو ورو ئی زګیروی کول، زبیر دهری متروکی له وارسره یو ځل جی رام ته کتل او بیا به ئی سترګی پټې کړې. بالاخره دعلی دزګیرویو غږ چوپ شو، او د سترګو غړولو او سر اوچتولو توان دزبیر هم تمام شو.
پرتاب رای یوه سپاهی ته وویل چی سره شوی اوسپنه راوړی جی رام بیا چیغه کړه: پرتاپه! ته ظالم ئی، پست ئی، ماته چی کومه سزا راکوی رائی کړه خو هغوی ته څه مه وایه.

پرتاپ رای وغرید او وئی ویل: ما ته ستا د کنځلو پروا نشته ستا فیصله ما راجه ته پرېښې ، خو اوس ددوی ژوند زما په لاس کی دی ، زه به ددوی سترګی باسم ، ددوی غوږونه به وشکوم دا ممکنه نه ده چی دوی ژوندی وی او ته راجه ته ولاړ شی او دخپلی خور دورکیدو پره زما په اوږو راواچوی ، که ستا خور له کښتی نه ورکه شویده نو زه به ئی خامخا درلټ لګوم ، ددی لپاره که ماته دهغو ټولو ښځو او ماشومانو سره ددغسی چلن ضرورت شی دریغه نه کوم.

سپاهی دسری اوسپنی سیخ پرتاب ته ورکړ ، او هغه دزبیر په لوری ور نژدی شو ، جی رام په زوره وویل: نه ! ودرېږه زما خور په کښتی کی نه وه ، زه یوازی راغلی وم ، ما یوازی ددوی ژوند بچ کول غوښتل .

پرتاب رای ځواب ورکړ: زه به څه ډول ډاډه شم چی ته دراجه په مخکی زما پر خلاف بیا دا دعوه ونه کړی او هغه زما پر خلاف ونه لمسوی؟

جی رام: زه وعده کوم پرتابه! دیوه راجپوت «نوابزاده» وعده! په ما اعتبار وکړه.

پرتاب: ته به دا شاهدی هم وائی چی له کښتی نه هیڅ یوه ښځه نه ده ورکه شوی.

جی رام: که ته دوی خوشی کړی نو زه دی وعدی ته هم تیار یم.

پرتاب: ددوی پرېښودل او نه پرېښودل دراجه کار دی زه یوازی دا وعده درکوم چی نور به دوی ته څه زحمت نه ورکوم ته به دراجه دوړاندی دا اقرار هم کوی چی ددوی دپرېښودلو هڅه دی کوله او ماته دی په کښتی کی دخور دموجودیت پلمه وکړه. جی رام په ماته خوړلی لهجه وویل: زه دا وعده هم کوم.

پرتاب داوسپنی سیخ لری وغورځاوه وئی ویل: زه دی هسی پریشانه کړم.

* * * * *

(۳)

زبیر چی په خود شو سترګې ئې وغړولی ، علی ته نژدی په بندیخانه کی پروت ؤ ، جی رام په یخو اوبو یوه لته لمدوله او دده زخمونه ئی تکورول ،

يوې ښځې دعلي را په خود کولو هڅه کوله ، زبير چې په سد شو کيناست ، جې رام داوبو جام دك کړ دهغه په شونډو ئې ورکيښود دزبير په زړه کې يو ځل بيا دکرکې او نفرت جذبات را ويښ شول خو دجې رام په سترگو کې ئې چې اوښکې وليدې خو غوږپه اوبه ئې وڅښلې جې رام هغه ته وکتل يوازې دومره ئې وويل: زبيره! ډير افسوس دی، او بيا ئې له سترگو نه داوښکو باران وځځيد.

دزبير په شونډو يو غمجن تبسم خور شو وئې ويل: جې رامه! ته ماته يوه معما شوې، تا ددېيل له حاکم سره دسيسه جوړه کړه موږ دې په دې حالت کې گير کړو ، بيا له جلادانو سره لاس او گريوان شوې ، او اوس اوښکې توېوې آخر ددې ټولو خبرو مطلب څه دی؟

دجې رام له شونډونه ددرد له تل نه غږ اوچت شو ، زبيره په ما اعتبار وکړه ، زه ستا دوست يم ، تا زما ژوند وساته او يو راجپوت نيکی هيروونکی نه وی. ددېيل سردار له ماسره دوکه وکړه ، ستاسو په کښتيو له حملې نه وړاندې ئې زه په يوه کوټه کې بندي کړم ، ته په ما بدگومانه ئې ، ما دوکه باز گڼې خو زه بې گناه يم ، که خدای «ج» موکه راوسته زه به دا درته ثابتوم .

زبير وويل: که ته په دې دسيسه کې شريك نه ئې نو ووايه چې خالد او ناهيد چيرته دی؟

جې رام ځواب ورکړ: چې تاسو ته دمايا معلومات نشته ماته به دخالد او ناهيد په باب څه معلومات وی؟ ما درته وويل چې ټوله شپه په کوټه کې بند وم . تاسو په کښتی کې وی ، له بندر نه يوه کښتی هم ورکه شويده ، که تاسو هغوی له جگړې نه وړاندې چيرته استولی وی دخدای لپاره ماته ووائی، زما په دې باور دی چې هغوی به تاسو دپرتاب رای ظالم نه دژغورنې په خاطر چيرته استولی وی ، ماته يوازې دومره ووائی چې مايا ژوندی او خوندی ده زه به هڅه وکړم چې هيڅ تکليف درته ونه رسيږی.

ما پرتاب رای په دې باوری کړی چې زما سره مې خور په کښتی کې نه وه که نه نو هغه تاسو نن ژوندی نه پريښودی.

زبير ځواب ورکړ: کاشکی ما په تا اعتبار کولی شوې، تاسو دواړو ناهيد

پټه کړي او دمايا ورکيدل پر موږ څکه را تپي چې موږ راجه ته دناهيد او خالد په اړه څه ونه وايو.

جي رام ووېل: زبيره په ما باور وکړه ، ما ته په دروغ ويلو کې هيڅ ګټه نشته ، که تا او ستا ملګرو ته دمايا او ناهيد د ورکيدو په باب معلومات نه وي نو دا بيا دپرتاب راى شرارت دى نن زما دوراندې هغه تاسو ته په دى سزا درکوله چې زه بيا دناهيد او مايا نوم وا نه خلم ، او ما دا وعده ورکړه ، ته پوهيږې چې يوه راجپوت ته دخور په باره کې وعده څومره صبر او حوصله غواړې!

زبير ورته ووېل: ستا له مهرباني نه مننه ، اوس خو پر موږ ستاسو دتورو سيورى دى ، موږ ته ستاسو دربښتيا او دروغو هيڅ فرق نشته نه په دروغو سزا درکولى شو او نه په ربښتيا انعام.

يوازې دومره پوهيږم چې موږ ستا په خاطر په دى مصيبت واوښتو ، او تر څو چې زه ناهيد ونه وينم نه مې په تا اعتبار کيږي او نه دديبل په حاکم ، که په راتلونکى کې ، دا ثابته شوه چې ته په دى معامله کې بى ګناه يې نو زه به له تانه بخښنه وغواړم . که دديبل حاکم ګناهکار وى نو زموږ غږ دراجه تر غوږه ورسوه ، زه په يقين درته وايم چې زما ملګرو ته دناهيد ، خالد او مايا په اړه څه معلومات نشته.

دسرانديپ مانو ګانو زموږ له کښتي نه څوك په يوه وړوکې کښتي کې سپاره ليدلى دي، هغه کښتي دجنوب په لورى تللي وه ، که ناهيد او مايا ديوى چا تښتولې وى نو ددې معلومات له بندر نه کيداى شي ، چې له بندر نه کښتي چا بيولي ده ، جي رام خپل تندى په غبرګو څپرو وواهه او وېې ويل:

پرتابه! خاينه ، دوکه بازه ، ظالمه بې غيرته! ...

زبيره دخداى لپاره ما وبخښه! زه په تا شکمن وم ، زه پښيمانه يم.

زبير دالفاظو پر ځاى دجي رام اوښکو زيات اغيزمن کړ دهغه په اوږه ئې لاس ورکيښود وئې ويل: جي رامه! ولاړ شه هغوى ولتوه ، پرتاپ راى ظالم هم دى او مکار هم ، هغه ته دزړه حال مه وايه ، که نه نو ته به خپله خور ونه موندلى شي او نه به دراجه تر غوږه دغه خبره ورسولاى شي.

جی رام اوچت شو دبندیخانی له پنجری نه را ووت پهردارانو دروازه بنده کړه ، څو ګامه وړاندی ولاړ بیـرته را وګرځـیـد او یوه پهـره دار ته ئی دسراندیپ دبندیانو دکوټی خلاصولو حکم وکړ.

له هغوی نه ئی څو پوښتنی وکړی او چی بیرته تری راووت په زړه ئی یو درونډ بار پروت ؤ ، دسراندیپ مانوګانو دزبیر خبرې تولې تصدیق کړې او هغه خفه ؤ چی ولی یی دزبیر په خبرو شك کاوه.

# دمایا اندیښنه

دری هفتی وروسته ناهید دیوی ویجاړی کلا په یوه کوټه کی په بستره غځیدلی وه دا دبرهمن آباد نه شل میله لری دیوه ګڼ ځنګل په منځ کی کلا وه چی یو وخت دګنګو او دهغه دملګرو هډه وه . په څو ورځو کی ګنګو دغه ویجاړې کندوالی بیرته لږ جوړې کړې او پکې اباد شول ، دناهید زخم او تبی ته ګنګو په اندیښنه کی ؤ ، په همدی خاطر ئی د هغی تر رغیدو پوری په لری ځنګل کی هستوګنه غوره کړه ، ګنګو له لوټماری نه قسم خوړلی ؤ ، خو دیوه ځانګړی هدف په خاطر ئی څو اسونو او نور سامان ته ضرورت ؤ ، دکښتی له ډوبیدو وروسته له ده سره یوازی څلور قیمتی غمی پاتی وو چی هر وخت ئی له ځان سره ګرځول ، هغه له ځانه یو ګجراتی سوداګر جوړ کړ او برهمن آباد ته ولاړ هلته ئی دوه غمی خرڅ کړل ، ځان او خپلو ملګرو ته ئی آسونه ، توری او نور ضروری سامانونه پری واخستل.

که ګنګو ته دیبل ته نژدی داسی ځای پیدا شوی وای چی دوی په امن پکی اوسیدلی شوای نو هلته به تللی ؤ ، هغه پوهیدو چی بندیان به په برهمن آباد یا ارور کی راجه ته وروستل کیږی له څو ورځو راهیسی ئی ددیبل او برهمن آباد تر منځ لاری ساتلی ، دګنګو دنیت په اړه دخالد ټول شکونه لری شوی وو. مایا دیوی هم دناهید په خلوص خدمت کاوه او ګنګو ته ئی خپل اعتماد ثابت کړی ؤ ، دناهید شکونه ئی هم لری کړی وو .

خو پر خالد ئی تر اوسه پوری هیڅ اثر نه کاوه ، بلکل لکه چی هغه هیڅ نه وی ، هغه به دخدمت لپاره له ناهید سره ناسته وه ، دده په وړاندی به ئی

دناهید زخمونه تړل ، دوا به ئی پری خوړه ، سر به ئی ورته چاپی کاوه ، دخالد دپام ور اړولو په خاطر به ئی بی اختیاره وویل: ستا دخور طبیعت اوس ښه دی ، زخم به ئی ډیر زر روغ شی ... ناهید خور اوس بلکل روغه ده ، ته اندیښنه مه کوه ... خدای «ج» به ستاسو مرستندوی وی ... خو خالد به چوپ ؤ او دی به داسی انګیرله چی دخالد غوږونه او سترګی ددی لپاره بلکل بند دی ، دسند ددریاب له خولی نه تر دغه ځایه اوږد سفر هم همدغسی ؤ ، په سیند کی همغه اوبه وی چی په سمندر کی ئی لیدلی وی ، هره ورځ همغه لمر راخوت او هر ماښام دهماغه ستوریو او سپوږمی محفلونه جوړیدل ، خو دخالد دچلن په بدلون دی ته ټول کاینات پیکه ښکاریدل ، که هغه یو ځل تری پوښتلی وای چی مایا ته څنګه یی؟ که خالد ددی دموسکا په څواب کی ورته موسکلی وای ، که ددی اوښکو پاکولو ته دخالد لاس لږ تیاری ښوولی وای نو دورور بیلتون به مایا ته هیڅ نه ؤ او پردی به خوښه وه چی قدرت له دیبل نه ددوی لاری سره جلا نه کړی.

دی په کښتی کی دسفر په وخت کی زیاتره دا سوچونه کول چی کاشکی له خالد سره ئی دغه سفر پای ته ونه رسیږی ، کاشکی توپان دکښتی مخ داسی لوری ته واړوی چی یوی داسی جـزیری ته ورسـیږی چی درښو اوبو لښتی پکی بهیږی ، شر شری دمینی سندری پکی وائی ، په ژورو ډندونو کی ښکلی ګلان غوړیدلی وی ددیبل دبندر په لیـدو ئی دخیـالونو رنګینه دنیا ګډه وډه شوه ، خو چی له خالد سره دلویی کښتی نه یواځی په بله وړوکی کښتی کی سپره شوه نو ئی یو ځل بیا دخیالونو نوی دنیا جوړه کړه ، خو ددیبل پیښی له یوه ژوندی انسـان نه د ډبرو بوت جـوړ کـړی ؤ ، دمحبت او وفا دیوی دآرزومنو او هیله منو کتـو په څواب کی دخالد په سترګو کی له نفرت او حقارت پرته هیڅ نه وو.

په دوی کی یوازی ناهید په دی باوری وه چی ددیبل په پیښه کی دمایا دیوی هیڅ لاس نشته ، هغی دخپل ذهانت او دیوی ښځی دعـقل په زور دمایا دیوی دحیا ، پاکی او بی ګناهی خبره تکرارولـه ، خالد به چی د خبرو موضوع بلی خواته کشوله نو دی به ویل: خالد! ته ډیر سخت زړی یې، ته نه وینی چی دهغی سور او سپین ښکلی مخ دغـرمې دګل په څیـر مـړاوی

کیږي . ددې وروړ به بد وي خو زما پوخ یقین دی چې دا بې گناه ده ، هغه تا خپل وروستی پناه گاه بولي ، ته هغې ته تسلي ورکولی شې هغه تر دې پورې رسیدلې ده چې وائي که مې وروړ په دې دسیسه کې لاس لرۍ زه به له هغه سره دتگ پرځای مرگ غوره کړم.

خالد به ویل: زه په غرمه کې ډېوې ته ضرورت نه لرم .ما چې څه لیدلي دي بیا ددې تجلي په باب دنظر بدلول راته له وسه لرې ده.

*****

(۲)

په دغه کلا کې ناهید له څو ورځو تیرولو نه وروسته دگرځیدو را گرځیدو شوه ، خو دغشي زخم لا سم روغ شوی نه ؤ ، خالد کله کله د سپرو له ډلې سره بهر ته ووت ، یو ماښام هر لورې ته وتلي نور سپاره تول بیرته را وگرځیدل خو خالد او څلور تنه ملگري ئې را ستانه نه شو ل ، ناهید دماښام له لمانځه نه وروسته دخپل وروړ دسر دعا کوله ، گنگو له څو نورو ملگرو سره دخالد دلتولو لپاره ووتل او په یوه لوره ونه وختل دهغوی دراتگ لارې ئې څارلې ، مایا هم له کلا نه ووتله په گنو ونو کې یې یوې او بلې خواته سیل کاوه ، ناڅاپه ئې دسپرو داسونو ترپهار واورید ، دهغې زړه په درزا شو ، اوپه بیړه وراندې لارې ته ورغله ، دهغې لمن په اغزیو کې ونښته له خپلې لمنې نه ئې اغزي لرې کول چې د گنو بوټو له شانه خالد او دهغه ملگري را ښکاره شول ، خالد خپل اس ودراوه او ترې وېې پوښتل: زما خور ښه ده؟

دغه الفاظ دغوږونو له لارې دمایا زړه ته ورسیدل ، خالد ته ئې وکتل دلمنې نه را تول کړې اغزیې ئې بیرته په لمن کې ونښتل .

خالد بیا وویل: ووایه زما خور ښه ده؟

مایا رابیداره غوندې شوه ځواب ئې ورکړ: هغه بلکل روغه ده تا ډیر ځنډ وکړ.

خالد: ته دلته څه کوې؟

زه! ... هیڅ نه! مایا : دا وویل او بیائې له لمن نه داغزو په لرې کولو توښه شوه ، خو سترگې ئې په خالد ښخې وې ، خالد له اس نه راکوز شو ،

ملګرو پټ پټ یو بل ته سره وکتل او په موسکا وړاندی ولاړل ، خالد داغزیو څانګی یو یو دمایا له لمنی نه لری کړی، دهغی دزړه درزا زیاته وه او ساه ئی زر زر اخسته په سترګو کیُ دمننی او احسان اوښکی وځلیدی ، او بیائی خپل لړزانده لاس دخالد په لاس ورکیښود.

خالد دهغی له لمنی نه یوه څانګه لری کوله ویی ویل: دغه ونیسه!

دی چی څانګی ته لاس ور وړ وړیو تیره ازغی ئی په ګوته کی ننوت او ښاخ ئی له لاسه بیرته ولوید او په لمنه کی ئی ونښت .

مایا دازغی له درد سره سره وموسکل داحسان په اوښکو لمده څیره ئی په شبنم له لوند ګلاب نه ډیره زړه وړونکی او ښکلی وه ، خالد دی ته وکتل او بیا ئی سترګې ښکته واچولی وئی ویل:

راوړه زه ئې ویاسم.

مایا څه ونه ویل او خپل لاس ئی ور وړاندی کړ ، خالد ازغی ویوست او بیائی دازغیو څانګی ته پام شو ، ویی ویل: ته دلته دڅه لپاره راغلی یی؟

مایا ځواب ورکړ: په کلا کی ګرمی وه او زه لړ دهوا خوری لپاره را ووتم خو په زړه کی ئی ویل چی : ایا ته رښتیا زما ددی ځای دراتګ په سبب نه پوهیږی؟ کاشکی زه تول عمر په ازغیو کی نښتی وم او ته مې ترې خلاصوی.

خالد وویل: مګر دلته خو دونو لاندې هوا نوره هم بنده ده.

مایا لږ پریشانه شوه خو له لږ سوچ وروسته ئی ځواب ورکړ:

زه دسیند خواته تلم.

خالد وویل: سیند خو بلی خواته دی.

مایا: زه هم همغی خواته تلم خو ...

خالد: خو څه ؟!

مایا: داسونو دېښو تربهار می واورید او دی خواته را وګرځیدم ، نن ته دیر ناوخته شوی ... زه ډیره پریشانه وم.

خالد: زه ستا دپریشانی او اندیښنی په سبب ونه پوهیدم ، که زه دزیر او د هغه د نورو ملګرو په خیر بندی وای نو ته به ډاډه وی خو زه تاته په یقین وایم چی اوس هم بندې یم ، زه ستا دورور په خیر نشم کولی چی خور

پریږدم او پخپله ولاړ شم دمایا په زړه نښتر ښخ شو ، تر ډیره ځنده چوپه او بی حرکته ودریده، دمعمول پرخلاف ئې لاس په نامه ونیول او خالد ته ودریده ، دهغې په ځلاندو سترگو کی بیا داوښکو پردې وغوړیدې ، وړو وړو دغه پردې غونډې شوې او په رڼو څاڅکو بدلی شوی ، بنو ئی نور بار نشو اوچتولی او ځك ځك لاندی وښخیدې .. او بیا دهغې اوښکو دځلیدونکو غمیو په څیر نری لارې جوړې کړې ښکته ولاړې او دشونډو پر سر ودریدی مایا خپل مخ په دواړو لاسونو کی پټ کړ.

خالد وویل: راځه نور ناوخته کیږی .

مایا دخالد دغږ له اوریدو سره خپړی له مخ نه لری کړی لمن ئی له ازغیو نه خلاصه شوی وه ، او خالد دآس جلب نیولی تگ ته تیار ؤ ، دی ورته وویل:

ته ولاړ شه زه در پسی درځم ، خو زه دوروستی ځل لپاره یوازی دا خبره درته کوم چی زه بی گناه یم ، که زما ورور په دی دسیسه کی شریك وی هم دا انصاف نه دی چی دهغی دگناه سزا ماته راکوی.

خالد ځواب ورکړ: زه تاته سزا درکول نه غواړم ، تا به ډیر زر خپل ورور ته ور ورسوو ، ستا ورور له دی ځایه ډیر لری نه دی ځلورمیله لری دسمندر په څنډه هغوی اړولی دی.

له راجه نه دانعام دگټلو لپاره بندیان برهمن آباد ته وړی له هغوی سره ددیبل حاکم هم دی، تر سبا پوری به دوی برهمن آباد ته ورسیږی ، نن ښایی ستا ورور ته زموږ پیغام ور ورسیږی که هغه دبندیانو خوشی کول ومنل نو تا به هغه ته ور ورسوو زه له پیله په دی راضی نه وم چی ته دلته پاتی شی ، زموږ اخلاق دا اجازه نه راکوی چی په یوه بی وسه تور سری لاس اوچت کړو ته بلکل داده اوسه.

مایا: تاته چا وویل چی زما ورور بندیان بیائی ، ایا دا امکان نه لری چی له پرتاپ رای سره زما دورور حیثیت هم دیوه بندی وی؟

خالد: نن ما په خپلو سترگو دوی ولیدل او راغلم ، هغه په یوه مشکی آس سپور ؤ خو بندیان دغوایانو په گادی کی لاس او پښی زولنی وو.

راځه ناوخته شوه گنگو به اوس زما په انتظار وی.

مایا: تاسو ورځئ زه در پسی یم.

*****

(۳)

خالد داس جلب ونیو او پلی دکلا تر دروازی پوری ولاړ ، گنگو بهر دده په انتظار ولاړ ؤ .

بیا موسکی شو پوښتنه ئی وکړه : خالده ! مایا دی چیرته پریښوده خالد په بی پروائی وویل: هغه راپسی ده راځی.

خالد: تاسو ئی راولی ماته ئی ویل ته درځه زه درپسی یم.

گنگو په موسکا وویل: ښځه هم عجیب مخلوق دی ، هغه په پټه پټه ستا دراتگ لاری څارلی شی ، ستا لپاره په اغزیو کی ځان غورځولی شی خو چی ته لږ ددی په لوری ور مایل شوی بیا دسارایی هوسی په څیر وترهیده او وتښتیده.

خالد ځواب ورکړ: زما په زړه کې دشاعری لپاره ځای نشته ، اوس تاسو روائی موږ باید څه وکړو ، تا به ددیبل دقافلی خبر اوریدلی وی؟

گنگو: هو! اوریدلی می دی ، له هغوی سره دوه سوه‌تنه سپاهیان دی موږ دگوتو په شمیر په هغوی حمله نشو کولی ، ما دلته دجی رام دراوستلو تدبیر سنجولی دی.

خالد: : گوره تاسو دهغی تجلی دخبرو تر تاثیر لاندی راغلی وی ، ناهید هم دجی رام په باب نظر بدل کړی ؤ.

گنگو په موسکا ځواب ورکړ: زویه! ته له مانه زیات دهغی تر تاثیر لاندی وی ، په هر صورت اوس زه په دی باوری یم چی ما یا بی گناه ده.

خالد: او تاسو سره له دی هم جی رام ته دمایا دوژلو اخطار ورکوی؟

گنگو: ستا دملگرو دخلاصون لپاره تردی غوره لاره نشته.

خالد: خو که جی رام دخپلی خور قربانی دراجه دخوښی لپاره ومنی بیا؟

گنگو: زما داسی تمه نشته ، خو که جی رام دومره ذلیل شو بیا خو مایا غونډې تجلی ددغسی ظالم وررور له منگولو خلاصول زموږ فرض دی ، هغه پخپله هم تر جی رام نه تاته پناه دروړل خوښوی . په څو ورځو کی به ستا خور دسفر وړشی او بیا به موږ تاسو دمکران تر سرحدونو پوری ورسوو.

خالد: دا کله کیدای شي چې موږ خپل ملګري په مصیبت کې پرېږدو او ولاړ شو.

ګنګو: ته تر دې ځایه هلته له دوی سره ښه مرسته کولی شې ، پر عربو برسیره دسراندیپ دمانو ګانو بندي کول یوازې په دې خاطر دي چې دعربو دزنداني کیدو خبره افشا نه شي ، که دا خبر بغداد او بصرې ته ورسیږي نو ستاسو قوم به چوپ پاتې نه شي ، خو ته تر هغو پورې نشې تلای تر څو ناهید روغه نه شي ، که چې رام زموږ تر ګوتو راغی نو دا امکان لري چې لږ تر لږه دزبیر په ژغورلو بریالی شو .

خالد: که داسې وشي نو ډیر ښه به وي ، زه په عربو کې څوك نه پیژنم امکان لري په دمشق او بصره کې څوك زما فریاد وانه وري ، خو زبیر هلته په زرګونو کسان پیژني.

هوا دادې ونه ویل چې نن زما په غاړه څه کار را اچوې؟

ګنګو څواب ورکړ: ته آرام وکړه ، خو مایا دیوې تر اوسه نه ده راغلې ، ښایي هغه په بله دروازه کلا ته ننوتې وي ..

خالد وویل: زه ئې اوس معلومات کوم او بیا په منډه کلا ته ننوت ، لږ څنډ وروسته بیرته را ستون شو او وئې ویل:

تر اوسه کلا ته نه ده را رسیدلې.

ګنګو وویل: تا هغه څومره لرې پرېښوده؟

خالد: دهغو بوټو په منځ کې لږ او ډیر سل ګامه وړاندې.

ګنګو: تا خو به هغې ته څه سختي خبرې نه وې کړې؟

خالد: نه خو هغه زما په هره خبره په اوښکو تویولو عادت شوې ... هو ما یوه غلطي وکړه .

ګنګو: څه غلطي؟

خالد: ما ورته وویل چې ورور ئې له دې ځایه څلور میله لرې دی.

ګنګو: په شپه کې ددې ځنګل نه تیریدل دښځو کار نه دی دائې وویل او بیا ئې خپلو ملګرو ته غږ وکړ او په ځنګل کې ئې دمایا د لټولو حکم ورکړ بیائې خالد ته وویل:

زما په ګومان به تر اوسه له همغه ازغـنو بوټو سره په خبرو بوخته وي ته

هغه خواته ورشه زه دسیند لوری ته ځم ، زه په هغه څه شك نه کوم خو دمایوسی په حالت کی ښځه هر څه کولو ته تیاره ده، زه ځم چی دسیند په غاره زموږ کښتی ددی دتباهی سبب نه شی.

*****

(٤)

دخالد له تلو وروسته مایا تر څه ځنډه دهمغه ازغنو بوټو سره ولاړه وه ، دخالد په لاس ددی له ملنی نه راتول شوی ازغی ورته دګلانو په څیر خوشبویه ښکاریدل ، دی په هغو څو شیبو فکر کاوه ، چی خالد دی ته ډیر نژدی ؤ ، دهغه خبری ددی په غوږو کی کرنګیدی.

او یو پر بل پسی ئی دزهرو او شاتو غوړپ تر ستونی تیریده ، زړه ئی دخالد په باب دسره مخالفو خیالونو دټکر ځای ؤ کله به ورته هغه دقهر او غضب مجسمه شو او کله دایثار او مینی معبود.

دلږ ځنډ وروسته دهغی په زړه له زغم وتلی پیتی بار شو ، او دسپوږمی په رڼا کی ئی له ځانګو او ازغیو لاره کړه کړه او دسیند په لور روانه شوه.

دسیند په غاړه یوه کښتی ولاړه وه ، هغه کښتی چی له سمندر نه ئی دلته را رسولی وو ، هغه چی دی دسفر په وخت کی په اسمان کی د ځلیدونکو ستورو سره خبری کړی وی، دا دکښتی په یوه سر کیناسته او پښی ئی ښکته وځړولی . داوبو څپی ئی په پښو لګیدلی ، مایا له ځانه سره وویل: که کوم لیوه دلته راشی نو بیا به څه کوم؟

بیا یی پخپله ځان ته ځواب ورکړ: که لیوه راغی زه نه تری تښتم ورځم له کښتی نه کوزیږم او چی سهار هغه راشی او زما شړیدلی وجود وګوری څه حال به ئی وی؟

هغه به وائی : مایا ته دلته ولی راغلی ، ما خو له تاسره توکی کولی زه پوهیدم چی ته بی ګناه یی ، مایا ما وبخښه ، ما ستا په پیژندلو کی غلطی کړی وه...

نه نه ! هغه به داسی ونه وایی ، وبه وائی دا لیونی وه دا ساده وه ، هو زه رښتیا لیونی یم ، دهغه په زړه کی زما لپاره هیڅ ځای نشته ، هغه چی زما له ملنی نه ازغی لری کول نو ما فکر کاوه چی دنړی پاچاهی زما شوه ،

ما دسیند دغاړې له ریګونو نه مانۍ جوړولی ، دهغه زړه دډبرې دی ، هغه ظالم دی ، دهغه په چا اعتبار نشته او ولی به اعتبار کوی زما وړور له دی خلکو سره ډیر بد سلوك کړی ، کاشکی هغه زما وړور نه وای ، کاشکی په کښتی کی ئی ماته ویلی وای چی زه له دی خلکو سره داسی دوکه کوم نو ما به پټ پټ خالد نه لیدو ، اوس هغه ما وړور ته ور استوی ، که زموږ دغه انجام ؤ نو قدرت په کښتی کی ولی یو ځای کولو ، او بیا چی کله په دیبل کی یو له بله بیلیدونکی وو تقدیر دلته ولی یو ځای راوستو زه تر اوسه دده له نفرت سره سره مینه ولی ورسره لرم. ما دمایوسیو په توپانونو کی دامید ډیوی ولی بلی کړی؟! .....

هو زه مجبوره وم .. دا زما په اختیار کی نه وه .... زه اوس هم بی وسه یم ، زما هیڅوك نشته ، زما هیڅوك هم نشته ، زه خپل بګوان ته چیغی وهم ، هغه بګوان «خدای» ته چی دوی ئی هره ورځ پنځه ځله عبادت کوی ، خو زما لپاره له اوښکو او آهونو پرته هیڅ نشته ، اوښکی او اهونه .. کاشکی زه پیدا شوی نه وای ، کاشکی دسمندر دڅپو په ما زړه نه بدیدای مایا خپل سر په دواړو لاسو کی ونیو او تر ډیره وخته ئی سلګۍ وهلې چې چایې په اوږه لاس ورکیښود او وئی ویل: مایا! دمایا له خولی وړوکی چیغه ووته او چی وئی کتل ګنګو لږ لرې ورته ولاړ ؤ.

ګنګو وویل: لورې! وویریدې! په دې ناوخته کې دلته څه کوې؟

مایا اوښکی پاکی کړی ویی ویل: هیڅ نه!

ګنګو: ته ولی ژاړې ، څه شوی دی؟

مایا چوپ شوه ، ګنګو بیا وویل: په دی ناوخته کی په داسی چوپ ځای کی ویریدلی نه! غوږ ونیسه له څلور خواونه دلیوانو غړونه راځی ، څه چی ځو.

مایا وویل: زه له تانه یوه پوښتنه کوم.

ګنګو: څه؟

مایا ډیوی: تا رښتیا زما وړور ته زما دلیږلو پریکړه کړی ده؟

ګنګو ځواب ورکړ: زه دخپلی پریکړی نه وړاندی ستا دتصمیم په باب ځان خبروم.

مايا: ما دخداى په خاطر هغه ته مه استوى.
گنگو: ولى؟
مايا: زه ورور ته نه ورځم، هغه زما دمور دشيدو خاطر نه دى ساتلى.
گنگو: دا دى دزړه خبره ده كه ما دوكه كوى؟
مايا: كاشكى تا زما سينه څيرلى او زړه مى دى كتلى شواى.
گنگو: له چى رام نه ستا دكركې سبب څه دى؟
مايا: ما دخالد نه دهغه په باب چى څه واوريدل اوس زما سره په دى كى شك نه دى پاتى چى هغه دوكه كرى.
گنگو: ايا دا امكان نه لرى چى موږ تا ستا ورور ته وسپارو او زبير او نور ملگرى ئى په بدل كى را خوشى كړو؟
مايا: كه چى رام يو ځل دوكه كرى وى نو بل ځل ئى كه فرصت په لاس ورشى بيا يى كوى، دا بايد په هيڅ صورت هغه ته معلومه نه شى چى زه ستاسو سره يم كه نه نو هغه به له راجه نه پوځ واخلى او ځنگل به لويشت په لويشت وگورى، ناهيد تر اوسه پورى دگرځيدو راگرځيدو نه ده ، تاسو ته به دهغى ساتنه ډيره گرانه شى.
گنگو: لورى ته بى غمه اوسه! جى رام چى تا زما په منگولو كى ووينى خپلى ټولى مكارى او چالاكى به ئى هيرى شى ، كه وروسته څه خطر پيښ شى ما دناهيد لپاره بل مناسب ځاى موندلى دى.
مايا: نو كه دوى تاسو ته ښنديان وسپارى تاسو به ما هغوى ته ورسپارى؟
گنگو: لورى! هغه ستا ورور دى ته هغه ته په ورتگ ولى ويريږى؟
مايا: زما په دى دنيا كى هيڅوك نشته ، ورور مى دخپل مقصد لپاره قربان كرم او زه ستاسو په منگولو كى ولويدم، اوس ته ماته لور وائى او دخپل مطلب د تر لاسه كولو لپاره مى هغوى ته ور سپارى ، دورور په څير به ستا فيصله هم ماته دتقدير دحكم په معنى وى ، كاشكى زما تقدير زما پخپل لاس كى واى ، كاشكى په دى دنيا ما دخپل ژوند دلارى غوره كولو واك درلوداى ، خو اوس زما رضا او خوښى هيڅ معنى نه لرى ، زه دتوپان په مينځ كى هغه خاشاك يم چى دهوا څپى ئى په هره خوا الوزولى شى ،

زما وجود او نه وجود دواړه برابر دی.

ګنګو له لږ سوچ وروسته وویل: که دا معامله ستا خوښنی ته پرېږدو ته به څه کوی؟

مایا لږ هیله منه شوه وئی ویل: زه ستاسو زندان تر آزادی غوره ګنم.

ګنګو: ولی؟

مایا: زه ناهید دناروغی په حال کی پریښودل نه غواړم.

ګنګو: مایا زه یوه پوښتنه کوم ، رښتیا راته ووایه ستا له خالد سره مینه ده؟

مایا سترګې ښکته واچولې.

هغه بیا وویل: مایا زما دپوښتنی ځواب راکړه.

مایا وویل: ته ددی پوښتنه ولی کوی؟

ګنګو : ددی لپاره چی زه ستا په ځواب پوه شم ستا په اړه بنایی ښه پریکړه وکړای شم.

مایا: زه نورهنه پوهیږم یوازی دومره احساسوم چی زه له هغهٔ پرته ژوندی نه شم پاتی کیدای.

ګنګو: ته په دی هم پوهیږی چی هغه ستا په باب تر اوسه شکمن دی ، دهغه زړه دسمندر له کمرونو نه ډیر کلك دی ، ما تاته لور ویلی له نن نه وروسته ستا درد زما درد او ستا آرامی زما آرامی ده . زه نه غواړم چی ته کومه ورځ دهغه دخپلولو په تمه خپل هر څه وبایلی.

امکان لری ټول عمر هغه ستا په نیك نیتی باور ونه کړی ، ستا په باب دهغه دنظر بدلول له تاته لویه قربانی غواړی.

مایا: زه هرې قربانی ته تیاره یم ، خو زه دایمی بیلتون نشم زغملی.

ګنګو: تا به دورور یاد نه پریشانه کوی؟

مایا: دراجه خیشتی ئی چی وخورې نور هغه زما ورور نه دی، زما له هغه سره هیڅ همدردی نشته.

ګنګو وویل: زه هغه په یوه طریقه دلته راولم ، دهغه په لیدو خو به دی زړه نه ځوریږی؟ هغه له خپلو نیکی کوونکو سره غداری وکړه که ئی سزا تاته پرېږدو ته به له هغه سره څه چلن کوی؟

مايا: همغه چې له يوه فريب کار ، دوکه باز او غدار سره ښايي.
ګنګو ووېل: مايا ښه فکر وکړه بيا ځواب راکړه ، دا يو سخت ازمويښت دی ، امکان لري ورور دی په مـــخکې ودروم او دانصـــاف توره په لاس درکړم.
مايا: ما ښه سوچ کړی دی زه هغه درحم لايق نه وينم.
ګنګو څه ويل غوښتل چې له بوټو نه دخالد غږ اوچت شو:
مايا مايا ته چيرته يې ؟
ګنګو مايا ته ووېل: ته په کېښتی کی غلې شه او تر څو چې زه درته ونه وايم مه راځه.
مـايا بې له دی چې څه فـکر وکړی دهغـه امـر ومـانه او ولاړه ، ګنګو له کېښتی نه راښکته شوه او دسيند په غاړه ودريد ، خالد بيا غږ وکړ ګنګو ځواب ورکړ: خالده زه دلته يم.

*****

(٥)

خالد له بوټو نه را ووت او له ګنګو نه ئې وپوښتل: مايا نشته ، ته دلته څه کوې؟
ګنګو خپله لهجه غمجنه کړه او وئې ويل: مايا ولاړه! آه بيچارګي ، خالد وارخطا شو پوښتنه ئې وکړه : چيرته ولاړه ، څه پيښه ده؟
ګنګو: خالده تا ډير بد وکړل ، کاشکې دهغې زړه دې نه وای مات کړی.

خالد: آخر څه شوی دخدای«ج» په خاطر راته ووايه.
ګنګو: اوس پښيماني څه ګټه! ، څه چې کيدل وشول ، کاشکې هغې ستا په شان دسخت زړی انسان سره مينه نه کولی.
خالد بې تابه شو دګنګو په اوږو ئې لاس ورکيښود او په زوره زوره ئې وخوځاوه ويې ويل: ما نور مه پريشانه کوه راته ووايه څه شوی؟
ګنګو: مايا مړه شوه ، زه چې دلته راغلم دا دسيند په غاړه ولاړه وه ، ما چې غږ پرې وکړ دی ماته دځواب پر ځای سيند ته ورټوپ کړل ، ما زر زر جامې وايستلی خو په دی ځنډ کی هغه اوبو له ځنډې نه منځ ته يووړه ، او

چې ما ځان اوبو ته وروغورځاوه هغه په څپو کې ورکه شوه.

خالد په چيغه وويل: مايا ډوبيدله او تا په آرامې جامې ايستلې او په خنده ورته ولاړ وې؟ بې رحمه ، ظالمه ، داره ماره ما خو ويل ته انسان شوی يې.

گنگو وويل: که ما له جامو سره اوبو ته ځان ورغورځولی وای پخپله ډوبيدم.

خالد: نو ته گومان کوې چې ستا په ډوبيدو به په دنيا کې څه کمی راغلی ؤ؟

گنگو: نو دهغې په مرگ په دنيا کې څه کمی راغلی ، له وروړ نه ئې زره تور شوی ؤ، ستا له چلن نه هغه مايوسه شوې وه ، ښه وشول هغه دويلې ويلې کيدو او مره کيدو پر ځای يو ځل ډوبه شوه او مړه شوه، هو ريښتيا کله چې ما جامې ايستلې او دا داوبو څپو ورسره اخستې وه نو ماته ئې چيغې کړې چې گنگو زما دژغورلو هڅه مه کوه هيڅ گټه نه لري ، خالد ته مې سلام وايه زه دهغه له مينې نه مايوسه شوم او نور ژوند نه غوارم.

خالد تر ډيره وخته لکه بوت شخ پيخ ولاړ ؤ ، گنگو ئې په اوږه لاس ورکيښود او وئې ويل: خالده! اوس له پښيمانۍ نه څه گټه؟ څه چې کيدل وشول.

خالد ئې لاس له اوږې نه ډيکه کړ لړ شاته شو وئې ويل: ته ورځه!

گنگو وويل: نن موږ بايد ډير کارونه وکړو څه چې څو.

خالد په غوسه وويل: گنگو دخدای «ج» په خاطر ولاړ شه! ما لږ شيبه يوازې پريږده.

گنگو وويل: خالده! زه نه پوهيدم چې دمايا په مرگ به ته دومره غمجن کيږې که نه نو ما به دخپل ژوند په قيمت هغه ژغورلې وه.

خالد په ژغورنې غږ وويل: دهغه دمرگ غم! گنگو ستا په سينه کې دانسان زړه نشته ، دا زما دژوند تر ټولو ستره پيښه ده ، دهغې د مرگ سبب زه يم ، او زه به تر مرگه ځان ونه بخښم.

گنگو: تا خو ويل چې مايا به ئې وروړ ته ور استوو. چې ته ئې په بيلتون نه خفه کيدې په مرگ ئې ولې زهير يې.

خالد: ګنګو دخدای «ج» په خاطر زما په زخمونو مالګې مه دوروه ، ما دهغې په پیژندلو کې اشتباه کړې وه، دا سزا زما له زغم نه اوچته ده.
ګنګو: خالده دا خبرې پرېږده ، زما باور دی چې که هغه یو ځل بیا را ژوندی شي ستا غرور به دهغې مینې ته دخوب اجازه در نه کړي ، ته به بیا هم له هغې سره دپخوا په شان چلن غوره کړې ، راځه په دوو درې ورځو کې به ئې هیره کړې.
خالد بیله دې چې څه ځواب ورکړي ، دیوې لویدلې ونې په تنه کیناست او دسیند څپو ته ئې کتل ، بیا ئې په دردناکه لهجه وویل: مایا ، مایا! دا تا څه وکړل؟
ګنګو بیا وویل: خالده! ته باید اوس دمیړونو حوصله ولرې .
خالد: ګنګو ته ولاړ شه زه درپسې درځم.
ګنګو وویل ښه ده ستاخوښه او بیا روان شو خو دکلا پر ځای په بوټو کې غلې غلې کېښتې ته ورنژدې شو او دیوې ونې له تنې نه ئې ورو مایا ته غږ وکړ: مایا اوس را ووزه راځه!
دمایا زړه په زوره زوره درزیدو ، دخالد او ګنګو خبرې ئې اوریدلې وې هغې ته داسې مرګ چې دخالد زړه ته ئې ورنژدې کوله تر سل ځله ژوندانه نه غوره ښکاریدو ، هغې دخالد آهونه اوریدل ، او دا اندیښنه ورسره پیدا شوه چې له دې توکې نه وروسته خالد دتل لپاره پر دې بدګومانه نه شي ، په زړه کې ورتیره شوه چې کاشکې زه ربښتیا د سیند څپو ته لویدلې وای ، او بیا دسترګو په رپ کې دغه خیال دیوې خطرناکې ارادې بڼه غوره کړه.
ګنګو بیا ورو غږ وکړ، له مایا سره دچورت او فکر وخت نه و ناڅاپه اوچته شوه او په اوبو کې ئې توپ وواهه.
ګنګو دمایا ، مایا له چیغو سره منډه واخستله ، خالد هم وارخطا له خپل ځایه جګ شو ، او دواړو په یوه وخت کې سیند ته ځانونه وغورځول ، ګنګو وویل : خالده را ونیسه دا مایا ده خالد په بیړه غوټه ووهله او ور نژدې شو مایا غوټه ووهله مګر دلامبو زن لپاره هم ځان دڅپو رحم او کرم ته پریښودل ممکن نه دی ، زر ئې بیرته سر له اوبو را ویوست او بیائې دګرداب خواته دنژدې کیدو هڅه وکړه ، خو خالد هغه تر مټ ونیوله ، لږ شیبه وروسته

ګنګو هم ور ورسید او دواړو مایا څنډې ته را وسته ، څنډې ته چې راورسیدل ګنګو وویل: خالده! نور زما په دې مجلې هیڅ اعتبار نشته.

دا ستا بې پروائي لیوني کړی ده ، او بیائې مایا ته وکتل ویې ویل: تا سیند ته ځان ولې وغورځاوه؟

دې په داد ځواب ورکړ: تا له خالد سره دا توکه ولې وکړه؟

ګنګو خالد ته وویل: ما معاف کړه ، ما ستا دځورولو لپاره مایا په کښتې کې غلې کړه خو زه نه پوهیدم چې دا لیوني به رښتیا هم سیند ته ځان غورځوی ، تاسو دواړه یو له بل سره مینه کوی او زه په دې خوښ یم.

خالد هیڅ ځواب ورنکړ ، دهغه په سترګو کې یوازې اوښکې وې دمینې ، خوښې او شکر اوښکې.

ګنګو وویل: اوس دمایا په باب ستا پریکړه څه ده؟

هغه ځواب ورکړ: دمایا په باب هیڅوک دفیصلې حق نه لری مایا دځان په باب پخپله فیصله کولی شي.

# خور او ورور

سهار وختی دکلا نه څلور میله لری دپرتاپ رای سپاهیانو دسفر تیاری نیولو ، جی رام په سیند کی له لنبلووروسته جامی بدلولې چی دبوټو له منځه یو غشی تیز راغی او په مخ کی ئی په ځمکه ښخ شو، پر غشی یو سپین دسمال تړلی ؤ ، جی رام له یوی او بلی خوا څارنه وروسته غشی را وکیښ او په هغه پوری تړلی دسمال ئی خلاص کړ په دسمال په سکرو لیکلی وو چی:

«جی رامه! زه تا په څه نامه وبولم! تاته دورور په ویلو شرمیږم، که زما ژوند غواړې نو له گنگو سره راشه که نه نو زما دژوند خیر نشته . ستا بد نصیبه خور مایا.»

جی رام په منډه منډه دبوټو څنګ ته ورغی او ویی ویل: گنگو! گنگو! ته چیرته ئی؟

گنگو ورو ځواب ورکړ زه دلته یم دی خواته!

جی رام په بوټوکی د هغه خواته ور نژدې شو ، گنگو په اس سپور ؤ ، جی رام په نا کراری دآس جلب ونیو او ویی ویل: گنگو! مایا څنگه ده! چیرته ده او ستاسو سره څرنگه یوځای شوه؟ گنگو ځواب ورکړ: مایا ژوندی ده او زه تا هغه ته بیایم ووایه را سره ځی؟

جی رام: زه د مایا په خاطر له اوو سمندرونو پوری وتو ته تیار یم دخدای لپاره ووایه هغه څنگه ده؟

گنگو: هغه له دی ځایه ډیره لری نه ده راځه زما تر شا سپور شه .

جی رام: که لاره ډیره وی زه خپل آس راولم.

گنگو: خپل آس راوستلی شی خو که دی بیا څه چالاکی وکړه په دی

وپوهیږه چې مایا به په ژوند ونه وینې ، زه هم‌دلته ستا انتظار کوم .
جې رام وویل: زه اوس راځم او بیا ئې دغونډۍ په لوری منډه واخسته ، ګنګو داحتیاط لپاره له دې ځایه ولاړ او دګنو ونو په منځ کې ودرید ، لږ ځنډ وروسته چې جې رام هغه ځای ته را ورسید آس ئې ودراوه ګنګو ئې ونه لید غږ ئې پسې وکړ ، ګنګو ډاډه شو او بیا ئې ځان ته ور وباله.
جې رام له ګنګو نه ډیرې پوښتنې وکړې خو په ځواب کې ګنګو یوازې دا ورته وویل چې ته مایا ووینې بیا به ټول حال درته معلوم شي ، په ځنګل کې له لږ مزله وروسته دګنګو لس نور ملګري هم له دوی سره یوځای شول .
جې رام دګنګو په نیت شکمن شو او دآس جلب ئې کش کړ وئې ویل: ګنګو دا څه ...؟ خو ددې نه وړاندې چې ګنګو څه ځواب ورکړې دهغه ملګري ترې چارپیر شول ، یو را وړاندې شو داس جلب ئې دده له لاسه واخست خو دګنګو داټکل پر خلاف هغه هیڅ مزاحمت ونه کړ او کله چې دګنګو ملګرو له ده نه دوسلې اخستلو هڅه وکړه ده پخپله توره او لینده را خلاص کړل او دوی ته ئې وسپارل . دملا په کمر بند ئې یو وړوکی خنجر ؤ دګنګو یوه ملګري دهغو اخستلو ته ور وړاندې شو خو ګنګو په اشاره هغه منع کړ.
جې رام وویل: تا ته معلومه ده که نه چې زه دمایا دپیغام له اوریدو وروسته نشم تېښتیدلی.
ګنګو ځواب ورکړ: ته که دتیښتې هڅه وکړې هم نشې کامیابیدای په ځنګل کې ځای ځای غشي ویشتونکي پټ دي.
جې رام :ګنګو ما له تاسره هیڅکله هم وعده خلافي نه ده کړې ته چیرته وائې زه درسره ځم.
ګنګو: څوك چې دزبیر غونډې نیکې کوونکي سره غداري وکړي زما پرې هیڅ اعتبار نشي کیدای ، ستا خیر په دې کې دی چې په پټو سترګو را سره څه.
کلا له څلور میله نه لرې نه وه خو ګنګو داحتیاط په خاطر اوږده او جنجالي لاره غوره کړه ، چې کلا ته ورسیدل سپاره له اسونو پلي شول . جې- رام خالد له کلا نه دراوتلو په حال کې ولید ، لاس ئې هغه ته ور اوږده کړل او ویې ویل: خالده ! خالده! ته هم دلته ئې! ستا خور چیرته ده؟

خالد په نفرت او حقارت هغه ته وکتل او دخُواب پر ځای ئی ځان گنگو ته ور نژدی کړ ، جی رام په زړه گوزار وخوړ پښی ئی وریږدیدی ، هغه لاس ئی چی خالد ته ور غځولی ؤ ، بیرته یی ورو ورو ور تول کړ ، دمایوسی او بی وسی په حالت کی یی څلورو خواو ته وکتل او بیا ئی په خالد سترگی ښخی شوی خو خالد مخ بلی خواته تری واړاوه.

جی رام په دردناکه لهجه ورویل: خالده! زه نه پوهیږم چی ستاسو تولو په نظر کی ولی دومره خوار او حقیر یم ، زه بی گناه یم ، ماته داسی مه گوری ، مایا چیرته ده؟

*****

(۲)

له شانه غږ اوچت شو: زه دلته یم ، جی رام شاته وکتل مایا څو گامه لری ولاړه وه .

جی رام ورویل: مایا ، مایا ، زما خوری ، زما کشری خوری!

دایی وویل او بیا دمایا په لوری ورنژدی شو خو مایا په شا ولاړه وئی ویل: ظالمه ، فریب کاره، غداره ماته مه نژدی کیږه ، تا دنوابزاده پلار او نوابزاده مور دوینی او شیدو خاطر ونه ساته . ته زما هیڅ نه کیږی ، ستا لمن دخپلو نیکی کوونکو په وینو داغداره ده.

که چا دجی رام په سینه خنجر ور ښخ کړی وای دومره به نه ؤ پری دردیدلی لکه دخور پر دی خبره، په زړه کی یی دغوسی اور را پورته شو چی دغم په اوښکو بیرته سوړ شو ، هغه یو ځل بیا څلورو خواوته وکتل ، دگنگو په شونډو دکرکې او حقارت موسکا وه ، دهغه په لیدو ئی په رگونو کی وینه ودریده ، لاسونه ئی مروړل،غابښونه ئی وچیچل هغه ته ورنژدی شو وئی ویل: ذلیل لوټماره! ددې تولو جنجالونو ملامتی پر تا ده ، تا دوی تول زما پر خلاف کړی ، پخوا له دی چی گنگو خپل لاس په دفاع اوچت کړی ناڅاپه هغه دوه سوکه په خوله ورواهه ، گنگو خپل غومبوری وموښل او شاته شو ، خالد را وراندی شو یو سوک ئی جی رام ته په خوله ورکړ ، جی رام دخالد تر سوک په زړه زیات دردمند شو او په ژړغونی آواز ئی وویل: خالده! ته!

دګنګو دملګرو توری له پوښتنو را وتلی وی ، خو ده هغوی ته اشاره وکړه وئی درول او جی رام ته ئی وکتل وئی ویل: اوس وزایه ته دخپلی خور دژغورنی په بدله کی دزبیر او نورو ملګرو خلاصولو ته تیاریی؟

جی رام لکه زخم خوړلی مار وغځید بیا ئی وویل: آیا تاسو هم دزبیر په شان ګومان کوی چی زه دپرتاپ رای سره په دوکه کی شریك یم؟

ګنګو ځواب ورکړ: نه بلکی موږ فکر کوو چی پرتاپ رای ستا سره په دوکه کی شریك ؤ ، تا هغه دسراندیپ دکښتی او دجواهراتو په طمع دی ته تیار کړ چی په موږ حمله وکړی .

جی رام: بګوان پوهیږی چی زه بی ګناه یم.

ګنګو ځواب ورکړ: بګوان «خدای» له دی نه زیات هم پوهیږی ، اوس ستا په بی ګناهی بحث زموږ کار نه دی موږ یوازی په دی ځان پوهول غوارو چی دخپلی خور په بدل کی دهغو بی ګناه بندیانو خلاصولو ته تیار یی که نه ؟

جی رام ځواب ورکړ: کاشکی دهغوی خلاصول زما په وس کی وای . اوس له هغوی سره دوه سوه تنه سپاهیان دی او برهمن آباد ته ئی بیائی زه یوازی له دوه سوه سپاهیانو سره څه کولی شم .

ګنګو: ستا مطلب دا دی چی ستا سپاهیان ستا خبره نه منی؟

جی رام: کاشکی هغوی زما سپاهیان وای ، په بندیانو دپرتاپ رای پهره دومره سخته ده چی زه له هغوی سره خبری اتری هم نشم کولی ، پرتاپ رای په دی باوری دی چی زه دهغوی پلوی یم.

دګنګو په شونډو یوه طنزیه موسکا وغوړیده او ویی ویل: ستا دپلوی نه منته! اوس زما پوښتنی ته ځواب راکړه ته دهغوی خلاصولو ته تیار یی که نه؟

جی رام: دخدای لپاره په ما اعتبار وکړی ، تر څو چی ددوی معامله راجه ته وړاندی نه شی زه بی وسه یم ، خو زما په دی باور دی چی راجه به ددوی په بندی ساتلو له عربو سره دجګړی خطر ته زړه ښه نه کړی.

ګنګو وویل: پرتاپ رای ستا دوست دی که هغه ته زموږ لیك ور ورسیږی چی ته زموږ بندی یی بیا به ئی هم ستا په بدل کی را خوشی نه کړی؟ ته به

لیك ولیکی او برهمن آباد ته تږ رسیدو وړاندې به ئی موږ هغه ته ورسوو.

جی رام وویل: هغه تر ګیدړ زیات مکار او تر لیوه زیات ظالم دی ، ماته ددی موقع راکړی چی خپله کیسه درته تیره کړم بیا به درته څرګنده شی چی هغه څه ډول انسان دی ، دخدای په خاطر زما خبره ومنی ، پرتاپ رای ته زما دخلاصون نه زیات دخالد او ناهید نیول مهم دی ، لکه زه چی نه پوهیږم چی تاسو دلته څه ډول راغلی یی ، تاسو هم په دی خبر نه یاست چی په دیبل کی څه تیر شول؟

جی رام چی ګنګو او دهغه نور ملګری چوپ ولیدل له بندر نه درخصت کیدو نه دزبیر تر لیدو پوری ئی ټوله کیسه وکړه، او بیا ئی په سوالیه نظر ګنګو او خالد ته وکتل وئی ویل: اوس هم که تاسو په ما اعتبار نه کوی نو زه په خوښی هری سزا ته چمتو یم.

ګنګو وویل: نو ته اوس راجه ته دبندیانو دعذر لپاره ځی؟

جی رام وویل: ستا اوس هم باور نه دی؟

ګنګو وویل: له خپلی خور نه وپوښته کـه دهغې په تا باور راغلی وی موږ هم تیـار یو دائی وویل او بیـا ئی مـایا ته مخ ورواړاوه زیاته ئی کـړه: مایا ستا دورور پریکړه موږ تا ته سپارو.

جی رام مایا ته وکتل ، مایا ته دا ستر ازموینت ؤ . دورور د داستان له اوریدو نه وروسته ئی په نظر کې بدلون پیل شوی ؤ ، خـو بیـا ئې هم سمدستی دخپل نظر بدلولو ته زړه ښه نه کړ ، دضمیر غږ ئی دا ؤ چی مایا پخپل ورور اعتبار وکړه خو یو بل آواز به دا هم ؤ چی نه! هغه ستا دبیولو لپاره پلمی جوړوی. ددغه ذهنی کشمکش په دوران کی دګنګو هغه خبره ور په یاد شوه چی دورور په لیدو به دی زړه پری وخوږیږی، امکان لری زه ستا په لاس کی دانصاف توره درکړم ، مایا ګنګو ته وکتل، دهغه سترګو ویل: «ما دانصاف توره ستا په لاس کی درکړی ، اوس دی خپله وعده در په یاد کړه».

جی رام چی دمایا دوه زړه توب ولید پریشانه شو وئی ویل: مایا! ستا هم اوس په ما باور ختم شوی؟

مایا وویل: ددی خبری ثبوت څه دی چی تا ددی خلکو نه د کسات له

ویری نه دا کیسه نه وی جوړه کړی؟

جی رام په دردناکه لهجه وویل: مایا! ته وائی چی زه بی زړه یم! زه دمرگ له ویری دروغ وایم! دخدای لپاره ما دنورو د وړاندی مه شرموه، که ستا په ما باور نه وی نو دا زما خنجر واخله او زما سینه چاك کړه، وگوره چی وینه می تر اوسه سره ده که سپینه شوی ده، دا ئی وویل او خپل خنجر ئی دمایا په لاسو کی ورکړ خپله سینه ئی ور وړاندی کړه وئی ویل: مایا! ستا دپلار په سپینو وبښتو سوگند دمور په شیدو دی قسم که زه گناهکار وم نو دا خیال مه کوه چی ورور دی یم، زه نور په دی دنیا داسی ژوند نه غوارم چی خور می هم ما بی زړه او ذلیل گنی.

ما په خپلو لاسو دمرگ په خوب ویده کړه، که ستا په رگونو کی دیوه راجپوت «نوابزاده» وینه وی نو دورور خاطر مه کوه.

مایا داحساساتو په جوش کی خنجر اوچت کړ، دجی رام په شونډو زړه وړونکی موسکا خپره شوه، خالد وریږدیده، مایا دعزم او همت ددغه مجسمی په مخکی لاس په نامه ودریده، بیا ئی لاس اوچت کړ، خنجر ئی برابر کړ، خالد چیغه کړه: مایا! دی بی گناه دی او ددی سره دمایا له لاسه خنجر ولوید، په سترگو کې ئې اوښکې را وخوټیدې او بی اختیاره ئی دورور غیږی ته ځان ور وغورځاوه په سلگو شوه وئی ویل: وروره! وروره ما وبخښه! جی رام ددی په تورو گنو وبښتانو کې گوتې وهلې او ویل ئی: زما خورې زما وروکې مایا!

خور او ورور یو له بله لری ودریدل، خالد ور نژدی شو جی رام ته ئی لاس ور اوږد کړ وئي ویل: جی رامه! ما وبخښه ما باید په تا شك نه وای کړی.

جی رام دهغه لاس په لاس کی ونیو وئی ویل: زما له تانه هیڅ گیله نشته که زه ستا پر ځاي وای ښایی ما هم همدغسی شك کړی وای.

خالد وموسکل ویی ویل: ما داحساساتو په جوش کی ته په خوله په سوك ووهلی اوس دی بدل بیرته اخستی شی.

جی رام وویل: دا کیسه اوس پر ځای پریږدی، که نه نو زه به تا یو سوك وهم او دگنگو دوه سوکه به په خوله خورم.

*****

(۳)

گنګو په خپل ژوند کی هیڅکله دومره نه ؤ پریشانه شوی. سر ئې ښکته اچولی ولاړ ؤ ، جی رام ور وړاندی شو دهغه په اوږه ئی لاس کیښود او وئی ویل: ګنګوا که ته دزړه له کومی غواړی چی زبیر او نور ملګری ئی له زندان نه وژغورل شي نو دا معامله څو ورځی ماته وسپاره...

زما هیله ده چی که راجه سم له خطر نه وویرولی شي نو ددوی دزندانی ساتلو جرئت به ونه کړی. او که هغه زما خبره وا نه وری زه بیا دلته راځم او کوم بل تدبیر به سره سنجوو.

مګر دخالد خور چیرته ده ؟

ګنګو ځواب ورکړ: هغه هم زموږ سره ده ، هغه په کښتی کې زخمی شوه.

جی رام: اوس څنګه ده؟

ددی پوښتنی په ځواب کی خالد وویل: هغه اوس تر پخوا ښه ده ، خو زخم ئی لا بشپړ نه دی روغ شوی ، زه دمایا دیوی احسان من یم هغی ډیر زحمت ورسره تیر کړ.

ګنګو وویل: که پرتاپ رای دراجه په امر کښتی لوټ کړی وی نو زه ګومان نه کوم چی بندیان به پریږدی ، زما په ګومان به هغه دا هڅه کوی چی دغه خبر له سند نه بهر ونه وزی ، په برهمن اباد کی داسی زندانونه دی چی یوازی په مرګ بندی تری را وزی ددی خبر رسول مکران او یا بصری ته ضروری دی، که هغه حکومتونه مداخله وکړی نو راجه به بیا بندیان خوشی کړی.

جی رام وویل: که دخالد زړه غواړی چی ولاړ شي زه ئی تر سرحده داړولو ذمه واری اخلم.

ګنګو ځواب ورکړ: خالد زه هم تر سرحد اړولی شم ، خو تر څوئی خور روغه نشی هغه نشی تلای، پردی سر بیره نن سبا دعربو لښکر په ترکستان او افریقا کی په جګړو بوخت دی امکان لری د پوځ دکمی په وجه اوس له سند سره دجنجال نه ډډه وکړی، دخالد په نظر که زبیر له زندان نه خلاص شي نو دغه مسئولیت هغه ښه تر سره کولی شي ، هغه په بصره او دمشق

کی تول چارواکی پیژنی.

جی رام وویل: که تاسو دا غواړی زه دا وعده درکوم چی دخپل ژوند په بیه به دزبیر دراخلاصولو هڅه وکړم.

مایا وویل: وروره! ته هر څه کولی شی ، دزبیر دژغورلو هڅه خامخا وکړه.

جی رام: مایا ستا له سپارښت نه پرته هم زه دا خپل فرض بولم ، دائی وویل بیائی گنگو ته مخ ور واړاوه وئی ویل: که اوس دتاسو اجازه وی زه له مایا نه دځو خبرو په باب پوښتنی کوم.

دگنگو په اشاره دهغه ملگری په یوه او بله خوا تیت شول ، گنگو هم یوی خواته دتگ په تکل روان شو خالد ته ئی وویل: ناهید ته ورشه که زندانیانو ته څه پیغام استوی تری وپوښته.

خالد چی کلا ته دننه ولاړ ناهید ددروازی په درشل ولاړه وه ورته وئی ویل: ناهیدا ته چی لږ را سنبال شی بیا گرځی را گرځی، باید په بستره وغځیږی چی ښه روغه شی.

ناهید دهغه ددی خبری څه پروا ونه کړه وئی ویل: په جی رام بیچاره دی ظلم وکړ، دمایا په باب مو څه پریکړه وکړه؟

خالد ځواب ورکړ: دمایا په باب تر اوسه څه فیصله نه ده شوی ، وررور او خور اوس څه خبری سره لری ، غالباً به هغه له جی رام سره ولاړه شی .

جی رام له زندان نه دزبیر دراخلاصولو وعده وکړه ، هغه چی خلاص شی دمکران له لاری به بصری ته ولاړ شی او زموږ په باب به خلیفه خبر کړی . دښځو او ماشومانو دخلاصون لپاره له دی پرته بله لاره نشته چی زموږ حکومت مداخله وکړی .

ناهید وویل: ما دا خبری اوریدلی دی ، خو زه ویریږم لکه څرنگه چی دپلار جان په معامله کی دسند حکومت ځان نا گاره اچولی دغسی به په دی بندیانو هم خوله پټه کړی او معامله به سره شی ، ما اوریدلی دی چی دبصری حاکم ډیر زړه ور دی خو دسند خواته ئی چی پام نه شته دلیل ئی دا دی چی په دی وخت کی دعربو تول پوځونه په افریقا او ترکستان کی په جگړو بوخت دی.

خالد پریشانه شو وئی ویل: زه نه پوهیږم ، خو زه دخدای «ج» د رحمت نه مایوس نه یم ، هغه به خامخا زموږ مرسته کوی.

ناهید وویل: مایو تدبیر سنجولی دی، زه دبصری حاکم ته یو لیك استوم که جی رام.زبیر وژغورلای شو ورتهووایه چی دغه لیك هغه ته ورکړی که زما لیك دبصری په حاکم تاثیر ونه کړی دبصری په خلکو به خامخا اثر کوی ما په خوب کی مسلمانان دزندان ددروازو په ماتولو لیدلی دی او زما پر دی باور دی چی خوب می رښتیا کیږی .

خالد: نو ته دننه ولاړه شه لیك ولیکه ، خو ته به ئی په څه شی ولیکی؟ .. هو واخله دا زما په دسمال ئی ولیکه ، خالد له خپل جیب نه دسمال را ویوست ناهید ته ئی ورکړ او وئی ویل ته لیك ولیکه زه جی رام ایساروم.

بهر مایا خپل ورور ته خپل داستان واوراوه ، په پای کی جی رام له مایا نه وپوښتل: مایا! تا ته خو به دلته څه تکلیف نه وی؟

مایا ځواب ورکړ: نه، گنگو ما خپله لور بولی ، او ناهید ما خپله کشری خور گنی.

جی رام وویل: مایا! زه یو ډیر بد خبر تا ته اوروم.

مایا وویریدله وئی ویل: دځه شی خبر؟

جی رام: خبره داده چی اوس زه تاله ځانه سره نشم بیولی ، ما ستا دورکیدو تور په پرتاپ راى تپلی دی ، خو چی کله هغه زبیر او علی وربړول نو ما بیا دا اعتراف وکړ چی ته له ماسره په کښتی کښېنه وی که اوس زه تا له ځانه سره بوځم نو هغوی به دخالد او ناهید پوښتنه را نه کوی، زه دراجه له شکنجو نه ویریږم ، خو په دی ویریږم چی پرتاپ رای به ددوی دلتهولو لپاره هڅې پیل کړی ، زه نه غوارم چی هغوی ستا په لیدو دخالد او ناهید په باب هم شکمن شی.

که ته څو ورځې نوره هم پاتې شې چې پرتاپ رای بیرته دیبل ته ستون شی بیا به دی زه له دی ځایه بوځم.

مایا په ډاډ منه لهجه ورته وویل: وروره ! زما غم مه کوه ، زه دلته خوښه یم . او تر څو ناهید روغه نه شی زه له دی ځایه نه ځم.

خالد او گنگو څو گامه لری پخپلو کی گړیدل ، جی رام هغوی ته غږ

وکړ او په اشاره ئی وروغوښتل ، چی هغوی ور نژدې شول ورته وئې ویل : تاسو ته بیا څه شك پیدا نه شی چی زه به څه دسیسه جوړوم ، مایا وایی چی دناهید تر رغیدو پوری همدلته پاتې کیږم او زه هم دځینو مصلحتونو په وجه هغه دلته پریږدم ، څو ورځی وروسته به ئی بیایم امکان لری چی زه هم دزبیر سره یو ځای وتښتم او زه دتل لپاره ستاسو سره دسفر ملگری شم ، زه اوس هم امکان لری چی پرتاپ رای ښار ته ورسیږی زما سره ملاقات وکړی نورزما څند ښه نه دی.

خالد وویل: ته لږ ودریږه ، ناهید یو لیك لیکلی تاسو هغه زبیر ته له زندان نه دخلاصون نه وروسته ورکړی.

جی رام : نو زر کوه لیك راوړه ، زه ډیر وځنډیدم ، هغه به برهمن آباد ته نژدی شوی وی.

گنگو وویل: چورت مه وهوموږ به تا له هغوی نه وړاندی په یوه لنډه لاره برهمن آباد ته ورسوو.

جی رام وویل: زه یوازی یو تن له تاسو نه بیایم . خو دا ضروری ده چی هغه به په برهمن آباد کی څوك نه پیژنی ، چی که څه خطرناك حالات راغلل زه به هغه تاسو ته داحوال لپاره را واستوم.

گنگو وویل: ته داسو له ځانه سره بوځه.

ماسپښنین جی رام دداسو په لارښوونه په ځنگل کی روان ؤ.

# دوست او دښمن

له برهمن آباد نه یو میل لری جیرام خپله قافله ولیدله ، هغه له داسو سرّه یوځای له قافلی سره یوځای کیدل مصلحت ونه بلل او لاره ئی کړه کړه په بله دروازه ښـــار ته ننوت ، په برهمن آباد کی «نراین داس» دده یو پخوانی ملگری ؤ، جی رام داسو دهغه په کور کی پریښـود او پخپله ئی دشاهی میلمستون په لور مخه کړه ، لږ څند وروسته پرتاب رای له بندیانو او پوځیانو سره ور ورسید هغه جی رام ولید وئی ویل: تا ما ته دښکار پلمه ولی وکړه؟

ولی دی سپین را ته نه ویلی چی تر تا دمخه می له مها راج «تولواك» سره لیدل غوښتل ووایه تولواك ستا دخور دکیسی له اوریدو وروسته څه وویل؟

جی رام وویل: ما لا تر اوسه تولواك نه دی لیدلی او نه می داسی نیت درلود.

پرتاب داده شو وئی ویل: جی رامه! زه فکر کوم چی تا دی دخور په باب دروغ نه ویل ، ما له عربو پرته دسراندیپ له مانو گانو نه هم پوښتنه وکړه ، هغوی ټول ستا دلومړی خبرې تصدیق کوی، که هغوی راجه ته شکایت وکړی چی ستاله خور سره یوه بله مسلمانه نجلی هم وه او ورکه شویده نوزه ویریږم چی راجه به ددی پره زما په غاړه واچوی.

جی رام: زه به دراجه په مخکی هم ووایم چی له ما سره می خور په کښتی کی نه وه او نه بله کومه مسلمانه نجلی وه.

پرتاپ رای: خو که زندانیان روائی بیا به راجه ستا په خبرو باوړه او قانع نه شي.

جی رام پریشانه شو وئی ویل: نو ته څه غواړی؟ لومړی ډی علی او زبیر پر دې وځورول چی له مانه دا اعتراف واخلی چی خور می په کښتی کی نه وه ، اوس دا ثابتول غواړی چی خور مې له یوې عربی محلی سره ورکه شویده.

پرتاپ رای: زه دا پوښتنه کوم چی ته څه شی دخپلې خور دراز په پټولو ار کړی ئې؟

جی رام: ته پوهیږی چی زبیر زما میلمه ؤ ، هغه زما ژوند وساته ، ما نه غوښتل چی زما په سبب ته هغه آزار کړې.

نو ډدی مطلب ډادی چی ته یوازی دزبیر په خاطر دخپلې خور دربښتیانی دعوې نه تیر شوې ، ته دزبیر په دوستی خپله خور قربانوی خو ستا زړه گواهی درکوی چی ستا خور ما تښتولی ، یوازی ستا خور نه بلکې هغه عربه محلی او هلك هم زما له لاسه ورك شویدی او ددی ټولو پړه زما پر اوږو ده !

جی رام ځواب ورکړ: نه ، نه! ستا په باب چی زه بدگومانه وم هغه لری شوی.

پرتاپ رای: څه وخت لرې شوه؟

جی رام ناڅاپه وپوهید چی پرتاپ رای هغه ته دام ایښی ، تکان ئی وخوړ او ونې ویل: له دی نه ستا مطلب دادی چی ما له تاسره دراجه په مخکی دخپلی خور دنه یادولو وعده کړې.

پرتاپ رای ورویل: ته چې څه پخپله نه وائې دعربو په خوله به ئې ووائې په مائی نور څه تورپیر نشته ، پخوا چی تا کوم راز افشا کول غوښتل مائې دپټولو هڅه کوله ، اوس چی ته دهغه دپټولو هڅه کوی زه غواړم چی افشا شی ، زما په باب که ستا بدگومانی لری شوی وی ددی خامخا څه سبب شته او زه پردی ځان پوهول غواړم ، زه دا نه شم منلی چی ته دی دیوه عرب په خاطر دومره ستره قربانی وزغمی او هیڅ عقل من انسان دا نشی منلی.

جی رام: نو ستا مطلب دادی چی ما می خور پخپله چیرته پته کړی؟

پرتاپ رای: ستا دخور مسئله ماته مهمه نه ده ، خو دعربی تجلی پیدا کول زما ذمه واري ده ، ډیر امکان لری چې ستا په شان عربو هم پر ما دراجه دبدګومانه کولو لپاره دیوی عربی تجلی دورکیدو کیسه له ځانه جوړه کړې وی، خو که په دربار کی دغه پوښتنه را پورته شوه له موږ نه به یو خامخا ددې پړه په غاړه اخلی.

جی رام له لږ سوچ وروسته وویل: لکه ما چی له تانه دبدل اخستلو په منظور دخور دورکیدو دروغ کیسه جوړه کړې وه همدغسی دوی زه ستا سره په دوکه کی شریك ګڼلم او دبدل په خاطر ئی دغه پلمه جوړه کړی ، زه زبیر پوهولی شم او زما باور دی چی هغه به په دروغو شکایت نه کوی.

پرتاپ رای په بد مخی ځواب ورکړ: ته له کوم زندانی سره خبری نشی کولی ، ما خپلو سپاهیانو ته امر کړی چی دراجه په مخکی له وړاندی کیدو دمخه ته خپل صندوق هم نور نشی کتلی.

جی رام څه ویل خو دپوځ یو منصبدار راغی پرتاپ رای ته ئی وویل چی «تولواك» دی غواړی.

جی رام له پرتاپ رای سره تلل غوښتل خو هغه ورته وویل: تولواك یوازې زه غوښتی یم تاسو نه ، ته داړه دلته کښینه کله دی چی وروغواړی زه دی دورتګ نه نه منعه کوم.

پرتاپ رای له کښېتی نه لوټ کړی مال ورسره واخست او روان شو جی رام په پریشانی سره هلته دلته قدم واهه، زبیر له نورو زندانیانو سره په یوه کوټه کې ؤ ، هغه په قدم قدم کی تر پنجری ور وکتل خو پهره دار راغی ډیکه ئی ورکړه او له هغه ځایه ئې لرې کړ ، زبیر چی دجې رام سره دیوه معمولی پهره دار چلن ولید وپوهیده چی دی هم له دوی سره دیوی کښتی سپور دی.

* * * * *

(۲)

دلمر لویدونه لږ وړاندې دراجه یو سپاهی راغی جی رام ته ئی وویل چی «تولواك» دې غواړی ، جی رام دکاتیا وار دراجه دسوغاتونو صندوق له ځانه سره واخست او دراجه محل ته ولاړ ، پهره دار هغه دمحل یوی کوټی

ته بوتلو.

راجه داهر سنګ دمر مرو په چوتره په یوه طلایی کرسی ناست ؤ، له پرتاپ رای نه پرته ددیبل «د پوخ مشر» او دهی سنګ او دهغه زلمی زوی بهیم سنګ چی له «ارور» نه راغلی ؤ هغه ته مخامخ ناست وو.

جی رام راجه ته دری ځلی په مخکی خم شو او درناوی ئی پر ځای کړ، بیا لاس په نامه ودرید دوو پهره دارانو صندوق راوړ او دراجه په مخکی ئی کیښود ، جی رام دراجه په حکم دصندوق سر خلاص کړ راجه جواهرو ته په سر سری نظر وکتل بیا یې پرتاپ رای ته وکتل او له جی رام نه ئی پوښتنه وکړه: اوریدلی می دی چی ته دعربو ملا تړ کوی. تا زموږ په باب دا هم ویلی دی چی دعربو مقابله نشو کولای . او تازموږ په وفادار پرتاپ رای دتور لګولو په خاطر خپله خور او یوه عربی نجلی چیرته غلی کړی دی.

جی رام ځواب ورکړ: باداره ! زما باور نه ؤ چی پرتاپ رای ستاسو په امر کښتی لوټ کړی . دهغوی په دیبل کی ددریدو اراده نه وه هغوی زه په لاره کی له سمندری غلو نه وژغورلم ، دیبل ته ما هغوی راوستل زما میلمانه وو او دمیلمنو عزت دیوه نوابزاده فرض دی.

دعربی نجلی او خپلی خور په باب زه نوّر څه خبر یم ځکه چی کښتی لوټ کیدی هغه وخت زه دپرتاپ رای بندی وم.

راجه: تا پرتاپ رای ته ویلی وو چی دعربو دژغورلو لپاره دی هسی پلمه ورته جوړه کړی وه.

جی رام: باداره! زه له دی نه منکر نه یم خو .....!

راجه په تونده لهجه وویل: زه هیڅ اوریدل نه غواړم ، که عربو شکایت وکړ چی له کښتی نه ددوی کومه نجلی ورکه شویده نو ته به ئی را پیدا کوی او موږ ته به ئی سپاری.

جی رام: تولواکه! که عرب په ما دا ادعا وکړی چی ما ددوی تور سریی تښتولی نو زه هر دول سزا ګاللو ته تیار یم.

راجه: زه ستا په چل پوهیږم ، که عربو پرتا دا ادعا ونه کړه نو مطلب ئی دا دی چی تا نجلی دهغوی په خوښه چیرته غلې کړی ده . ته پوهیږی چی زموږ سره دیرې داسې لارې شته چې سری په ریښتیا ویلو مجبوروی.

جي رام: باداره ! که تاسو ما گناهکار گڼئ نو چې څه سزا مناسبه بولئ را يې کړئ ، خو له غريبو سره پخواهم ظلم شويدی.

راجه: نو ته زموږ له دښمنانو سره ددوستی دعوه دارئ؟

جي رام: هغوی ستاسو دښمنان نه دي ، هغوی سند دغريبو امن خوښوونکي گاونډي گڼي. که نه نو دديبل ترڅنگ به هم نه تيريدل، که هغوی دنيك نيت خاوندان نه وای نو دکاتيا وار دراجه دسوغاتونو دغه صندوق به تاته نه ؤ رسيدلی.

راجه وويل: دکاتيا وار جواهر دسرانديپ دغميو په وړاندی خوشی ډبرې دي.

جي رام: ټولواکه! زه زرگر نه يم سپاهی يم ، زه ډبري نه پيژنم خو ستا دوست او دښمن پيژنم ، ما له دی ډبرو سره دکاتيا وار دراجه ددوستی پيغام هم راوړی ، که دغه ډبرې يوه ټنگه نه ارزي هم هغه لاس چی راليږلی ئې دی قيمتی دی ، خو پرتاپ رای چی دغريبو غونډی امن خوښوونکی او زورور گاونډی کښتی لوټ کړی او مال ئې تاسو ته راوړی دا به تاسو ته ډير گران پريوزی .

باداره! تاسو له مسلمانانو سره ددښمنی نه وړاندی ښه سوچ وکړی . دهغوی لاس ډير مزبوط دی او دهغوی اوسپنه هره اوسپنه غوڅوی ، هغوی دپسرلی دبريښو کی په څير را پورته کيږی او د ساون «دباران مياشت» دوريځو په څير خپريږی.

دهغوی مقابلی ته چی څوك را وتلی نه سمندر پناه ورکړی او نه غرونو . دهغوی اسونه په اوبو کی لامبو وهلی او په هوا الوتلی شي، تاسو به په برسات کی دسند د سيند څپی ليدلی وی خو ددوی دفتحو څپی له هغې نه زياتی زورورې او توندی دی.

دراجه داهر حوصلی ځواب ورکړ چيغه ئې کړه: دارنه گيدړه! ستا په رگونو کی دنوابزاده «راجپوت» وينه نه شته ، زما په پاچاهی کی ستا غونډی بزدل او دارن سړی دژوند حق نه لري .

جي رام: باداره! زه اوس دکاتيا وار دراجه استازی يم زه په خپله په داسی هيواد کی اوسيدل نه غواړم چی هلته دوست دښمن او دښمن دوست

ګنل کیږي .

راجه داهر: که دکاتیا وار راجه پخپله دلته وای او داسی الفاظ یی تر خوله وتلی وای ما به ئی دسر غوڅولو امر ورکاوه.

پرتاپ رایه! دا بوڅه سبا ته به ئی دسزا پریکړه کوو، سهار ته دعربو مشر ماته راولی.

پرتاپ رای سپاهیانو ته غږ وکړ اته تنه توری ایستلی ورننوتل پرتاپ رای جی رام ته دتګ اشاره وکړه . جی رام دلوڅو تورو په سیوری کی دپرتاپ رای په مخکی روان شو.

او دهی سنګ دجی رام دخبرو په وخت کی داسې احساسوله چې یو سرتیری ځوان دده دخیالونو ترجمانی کوی، هغه وویل: باداره! که اجازه وی یو څه ووایم!

راجه ځواب ورکړ: ستا دڅه ویلو حاجت نشته ، داسی سزا به ورکوم چی د برهمن اباد خلکو تر ډیره وخته له یاده ونه وزی.

اودهی سنګ وویل: مګر تولواکه! هغه چی څه وویل په ښه نیت ئی وویل، موږ په خو غمیو او پیلانو دعربو دښمنی باید وانه خلو . زموږ پر خپل ځواك باور دی خو عرب ډیر بد او سر سخته دښمن دی.

راجه وویل: اودهی سنګه! دیوه ګیدړ چیغی دی واوریدی ته هم ګیدړ شوی.

هغه عرب چی داوښ شیدی څښی او اوربشینه ډودی خوری زموږ دمقابلی جرئت کولی شی؟

ستا په ګومان به په اوښانو سپاره زموږ دپیلانو مقابلی ته راشی؟

اودهی سنګ: باداره! بده مه منه ، دهغوی او ښانو دایران پیلان مات کړل.

راجه په غوسه شو وئی ویل: اودهی سنګه! زما له تانه دا هیله نه وه چی دعربو په باب په اوازو به باور وکړی او تری ویریږی به ، موږ دعربو له ټول نفوس نه زیات پوځ تیارولی شو ، دراجپوتانه ټول راجه ګان زموږ په اشاره سر ورکولو ته تیاریږی .

اودهی سنګ وویل: تولواکه! زه له هغوی نه نه ویریږم خو دویدی فتنی

ویښولو ته څه حاجت دی ، دنورو دمرستی په تمه دځواکمن دښمن دښمنی گټل ښه کار نه دی.

راجه: اډهی سنگه! دا ته څه وائی! دسند په مقابل کی دعربو سارایان ځواکمن دښمن نه دی ، آخر په عربو کی څه ښیگنه ده چی زموږ پوځیان ئی نه لری؟

او دهی سنگ: ټولواکه! دداسی دښمن هیڅ چاره نه کیږی چی له مرگه ویره نه لری ، که تاسو زما په خبره باور نه کوی یو عرب بندی را وغواړی وبه گوری چی توری دلوبو سامان ورته ښکاری.

راجه بهیم سنگ ته وکتل وئی ویل: بهیم سنگه! ته هم په دی نظر یی چی تر موږ دعربو لښکر ځواکمن دی؟

بهیم سنگ ځواب ورکړ: ټولواکه! پلار جان می له عربو سره په امن گوزاره غوره بولی ، که نه نو موږ هم دتورو په سیوری کی پالل شوی یو که عرب له مرگه ویره نه لری موږ ئی هم له وژلو نه په شا نه راځو.

راجه وویل: آفرین! ودی لیدل اودهی سنگه! ستا زوی له تانه زړور دی.

اودهی سنگ ځواب ورکړ: دټولواك له خولې چې څه اورم باید پری خوښ شم خو درعیت دمسئولیت احساس ما په دی مجبوری چی راتلونکی خطر ټولواك ته باید په زغرده ور څرگند کړم.

بهیم سنگ تر اوسه هلك دی ، هغه عرب په جگړه کی نه دی لیدلی خو ما دمکران په جگړه کی ولیدل چی دعربو عادی سپاهی زموږ د لویو لویو افسرانو مقابله کوله ، په مکران کې دعربو په جگړه کې ټول «۶۰۰» سپاهیان وو او دراجه څلور زره «۴۰۰۰» تنه لښکر ئی دخځلو شوندې ورسره واخست . جی رام تاسو له پخوا پیژنی ، زموږ په ځوانانو کی دهغه غوندې توره وهونکی بل نشته ، که هغه د عربو نه دومره په هیبت کې دی معنی ئی دا نه ده چی هغه ویریږی اویا دراجه نمك حرام دی ، ددی اصلی سبب دادی چی هغه له عربو سره دټکر په خطر پوه دی.

راجه په ترخه لهجه وویل: ته زما «د پوځ مشر» ئی وزیر نه ئی او په دی معاملو کی ستا له پوهی او تجربی نه کار نه اخلم ، که بوډا توب ستا همت کمزوری کړی وی له دی منصب نه به دی لری کړو او ته دا حق هم نه لری

چی دجی رام غوندی یاغی ، سرکش او سپین سترګی سپارښت وکړی ، هغه چی زموږ په مخکی څه وویل تر لویو نه دلویی سزا مستحق دی.

او دهی سنګ چی دراجه وضع ولیده وویریده ویی ویل: تولواکه! زه بخښنه غواړم ، تاسو زما په باب بدګومانه شوی ، ما دغه خبری ددی لپاره وکړی چی تاسو تر اوسه له عربو سره دجګړی اعلان نه دی کړی ، او که اعلان مو کړی وی بیا خو زما فرض دی ، بلکی یوازی زما نه دهر سپاهی دا فریضه ده چی ستا په امر ځان قربانولو ته تیار شی ، دجی رام په ګستاخی افسوس کوم، خو زما په دی هم باور دی چی په خپله موکه به هغه یو وفادار راجپوت «نوابزاده» ثابت شی ، که تاسو له عربو سره دجګړی پریکړه کړی وی نو موږ سر له نن څخه باید تیاری ونیسو زه غواړم عربو ته داسی ماته ورکړو چی بیا دسر پورته کولو توان ونه لری.

ددی هدف لپاره دپوځونو پر منظم کولو برسیره باید دهندوستان دټولو لویو او وړو راجه ګانو مرسته وغواړو هغوی ټول ستا سو مشری منی او ستاسوتر بیرغ لاندی را ټولیدل او جګړه به دځان لپاره ویاړ بولی، موږ باید د کاتیا وار راجه هم باید کم ونه بولو ، هغوی تاسو ته سوغاتونه جزیه را استولی ده ، که تاسو جی رام وبخښی دهغه په منځګړتوب دکاتیا وار دراجه مرسته تر لاسه کیدای شی.

راجه داهر لږ داده شو ونی ویل: اوس ته دیوه نوابزاده په څیر خبری کوی ، خو جی رام له عربو سره ملګری شو که موږ هغه وبخښو هم ددی خبری ثبوت به څه وی چی له موږ سره به دوکه نه کوی.

هو! ما اوریدلی چی دیوه عرب ځوان ددوستی لاپی کوی ، که دی له هغه سره مقابلی ته تیاروی او هغه عرب دتوری وهلو په سیالی کی را وپرځی نو زه به ئی معاف کړم.

او دهی سنګ: تولواکه! هغه به ستا په اشاره له غره سر سر جنګولو ته تیار وی.

راجه: ډیر ښه! زه دتا په سپارښتنه هغه ته یوځل فرصت ورکوم.

سبا ته به موږ دجی رام دنیك نیتی نه علاوه له عرب ځوان سره دده د توری وهلو دکمال ننداره هم وکړو.

راجه له دی وروسته مجلس رخصت کړ ، جګ شو او دمحل بلی کوټې ته ننوت.

*****

(۳)

سبا ته راجه داهر دبرهمن اباد په شاهی مانۍ کې په یوه پراخه کوټه کی دربار جوړ کړ ، دسند له پایتخت «ارور» نه دده وزیر هم راغلی ؤ وزیر «دپوځ اعلی قوماندان» او دبرهمن آباد او شاوخوا امیران دخپلو خپلو رتبو او منصبونو په مناسبت تخت ته نژدی په کرسیو ناست وو دوزیر او اعلی قوماندان نه وروسته په دریمه کرسی به دبرهمن آباد والی کیناست خو اوس دغه کرسی او منصب ددیبل دوالی حق ؤ،هغه خو لویشتی له راجه نه لری شوی ؤ او داسی ئی ګڼله لکه دده او راجه تر منځ چی دغرونو فاصله راغلې ؤ.ورا میرانو دراجه کیڼ لور ته کتار لاس په نامه ولاړ وو ، دراجه ښی او کیڼ لوری ته دوې ملکې ناستې وې ، یوه ښایسته نجلۍ شاته صراحی په لاس کی ولاړه وه ، درباری شاعر دراجه په ستاینه خو شعرونه وویل له هغه وروسته تر لږ ځنډه دنڅا او سندرو مجلس تود شو ، راجه څو جامه شراب په سر واړول او بیا ئی دبندیانو دراوستلو امر وکړ ، زبیر په پښو کې زنځیر حاضر کړای شو ، له هغه نه لږ ځنډ وروسته جی رام هم راغی او دزبیر په څیر ئی په لاسو او پښو کی زنځیرونه نه وو خو دهغه نه وړاندی او وروسته دلوڅو تورو پهره،دزبیر د پوهیدو لپاره کافی وه چی دهغه حالت هم تر دوی ښه نه دی.

راجه پرتاپ رای ته وکتل وئې ویل: دی زموږ په ژبه پوهیږی؟

هغه له ځایه جګ شو وئې ویل: هوکی ټولواکه! دی د پردیو ژبو په زده کړه کی ډیر هوښیار ښکاری.

راجه زبیر ته وکتل وئی پوښتل: ستا نوم څه شی دی؟

هغه ځواب ورکړ: زبیر.

راجه وویل: موږ اوریدلی چی ته له موږ سره خبرو ته بی تابه وی ووایه څه ویل غواړی؟

زبیر: زه دا پوښتنه کوم چی ددیبل په بندر کی زموږ کښتی ولی لوټ

شوی او موږ ولی بندیان یو دغه وحشیانه چلن ولی را سره کیږی؟
راجه لږ بی تابه شو وئی ویل: ځوانه! ما اوریدلی وو چی عرب دخبرو په آدابو نه پوهیږی ، خو ته باید دځان او خپلو ملګرو دژوند خیال وساتی او هوښیار واوسی.

زبیر وویل: له موږ سره چی کوم سلوك شوی دی که د هغه معلومات تاسو ته نه وی بیله خبره ده ، که نه نو ددیبل والی بی له څه دلیل نه پر موږ لاس اوچت کړی ، که تاسو په موږ شکمن وی موږ ددی شك لری کولو ته تیار یو ، خو که دسند له خوا دغه کار زموږ دغیرت دازمویلو په خاطر شوی وی نو موږ دسند والی ته وایو چی موږ دهندوستان کم ذاتی «اچوت» نه یو چی فریاد ئی له مری نه نه راوزی ، تر اوسه پوری له موږ سره چا دداسی سلوك جرئت نه دی کړی ، او زه دسند پاچاهی دومره مزبوطه نه ګنم چی دایران دزغرو او روم دخولونو دماتوونکو تورو ګوزار به وزغملای شی.
هغه قوم چی دځمکی پر سر دهر مظلوم داد دځان فرض ګنی دخپلو خویندو میندو په بی عزتی چوپ نشی پاتی کیدای.
راجه وزیر ته مخ ور واړاوه او وئی ویل وادی وریدل ، اوس یو بندی له موږ سره دجنګ اعلان کوی.

وزیر وویل: تولواکه! دا عرب ډیر لا په وهونکی خلك دی دایران او روم فتحو دوی مغرور کړی دی ، خو دسند له زمریانو سره نه دی مخامخ شوی.
زبیر وویل: موږ په دیبل کی دزمریانو زړور تیا نه ده لیدلی دګیدړانو مکاری مو ولیده.

دزبیر په دی خبره تولو درباریانو یو بل ته وکتل ، او دهی سنګ دحالاتو نزاکت درك کړ جګ شو ، لاس ئی په نامه ونیول او وئی ویل: تولواکه! دی ځوان خو ورځی په زندان کی تیری کړی هوش او حواس ئی له لاسه ورکړی او تاسو خو په دی هم پوهیږی چی دکوم سپاهی توره پخه وی دهغه ژبه تیره وی.
زبیر په غوسه شو او داودهی سنګ ددوستانه مداخلی په هدف پوه نه شو ویی ویل: په ماله شانه وار شو دی که نه نو اوس به زما دتوری په باب تا داسی رایه نه ورکوله.

پرتاپ رای جگ شو وئی ویل: تولواکه! دروغ وائی دی موږ په جګړه کې نیولی.

زبیر دغوسی له زوره په چیغه وویل: نامرده انسانه! ته دذلت او پستی یوه نمونه ئی ، زما لاس او پښې ترلی دی خو اوس هم ستا په څیره کی دویری او وارخطایی کرښې دی ، ګیدړ چې زمری په کپس کی ووینی هم وارخطا کیږی ، زما یوازی یو لاس خو شی کړی او خپله توره می راکړی دوی تول به زما او ستا ددعوی رښتیا توب وګوری.

پرتاپ رای ددربار په خلکو نظر را وڅرخاوه ، دبرهمن اباد والی دزبیر راتګ یو غیبی کومك باله جګ شو ددربار چوپتیائی ماته کړه وئی ویل: تولواکه! دا زموږ دعزت او نسب سپکاوی دی چی یو معمولی عرب په ډك دربار کې پرتاپ رای ته دبزدلی پیغور ورکوی ، تاسو سردار پرتاپ رای ته اجازه ورکړی چی دده دعوه دروغ ثابته کړی.

او دهی سنګ له پرتاپ رای نه زیاته کرکه کوله ، خو هغه جی رام دراجه له غضب نه ژغورلو او ددی ژغورلو غوره صورت همدا ؤ چی جی رام دپرتاپ رای پر ځای له زبیر سره مقابله وکړی او دا ثابته کړی چی هغه دراجه مخلص دی ، له ځایه اوچت شو وئی ویل:

تولواکه! دبرهمن آباد دحاکم خبره سهی نه ده ، د سردار پرتاپ رای رتبه دومره وړوکی نه ده چی له یوه معمولی عرب سره مقابله وکړی ، دا دده توهین دی ، ددی ځوان دهیلی دترسره کولو لپاره له موږ سره په زرګونو ځوانان شته ، که تولواك ته بده نه ښکاری نو جی رام ته اجازه ورکړی چی ددی کم ذاته عربو دوست نه دی.

راجه ځواب ورکړ: ته دجی رام ډیر شفاعت کوی خو جی رام پخپله بیا په دی ټینګار کوی چی دعربو دوست دی ، خنګه جی رامه! ته دی ته تیار ئی چی خپله وفاداری ثابته کړی؟

جی رام په عاجزانه لهجه وویل: تولواکه! زه ستا په امر ځان اورته غورځولی شم خو زبیر زما میلمه دی ، او زه په هغه توره نشم اوچتولی.

په دربار کی یو ځل بیا چوپتیا خپره شوه ، او دهی سنګ مایوس شو جی رام ته ئی وکتل ، راجه چیغه کړه: دا خر زما له مخی لری کړی دهغه مخ ور

تور کړی په کپس کی ئی واچوی او په ښار کی ئی کوڅه په کوڅه وګرځوی ، سبا ته ئی دمست پیل په پښو کی وغورځوی.

او دهی سنګه تا ددی عرب دوړاندی موږ وشرمولو ، او پرتاپ رایه! ته ولی چوپ ناست یی؟ تا په دیبل کی یو ځل هغه مات کړی او س ستا توره ولی له تیکی نه راوزی؟ تاسو ټول ولی مار خوړلی غوندی چوپ یاست؟

ځوان بهیم سنګ توره وکښله او وئی ویل: ټولواکه ماته اجازه راکړه.

دبهیم سنګ په لیدو ددربار نورو خلکو هم توری وکښلی او په ټولو کې وروسته پرتاپ رای هم توره را وایستله خو سترګو ئی له راجه نه غوښتل چی : باداره! زما په حال ورحمیږه زبیر چی درباریان دراجه اشاری ته په انتظار ولیدل په شونډو ئی یوه مسخره آمیزه موسکا خوره شوه وئی ویل: بس بس نور ئی پریږده ، ستا درباریان چی په مخ کی یو لاس اوږدی ټرلی بندی وینی دوی یو هم ځانته دبی زړه او بزدل خطاب نه خوښوی، خو تل تقدیر زمریان ټړلی له ګیدړانو سره نه مخ کوی.

بهیم سنګ وویل: ټولواکه: دده زولنی خلاصی کړی زه همدا اوس ورښیم چی زمری څوك دی او ګیدړ څوك؟

* * * * *

(٤)

دراجه په اشاره دزبیر له لاس او پښو نه زنځیرونه لری شول او په لاس کی ئی یوه توره ورکړه ، خو وزیر وویل: ټولواکه! ستا په دربار کی مقابله ښه کار نه دی.

راجه ځواب ورکړ: ولی ښه نه ده؟ په همدی دربار کی ئی زما سپاهیانو ته دبی زړه توب پیغور ورکړی ، او زه غواړم چی په همدی ځای ئی بدل واخلی.

وزیر: ټولواکه! انتقام خوله دی ځوان نه دجګړې له فرصت نه پرته هم اخستلای شو.

راجه ځواب ورکړ: نه ، موږ دا هم ګورو چی عرب توری څه وړ چلوی؟

بهیم سنګ دکرسیو په منځ کی خالی میدان ته راغی او زبیرته ئی په اشاره دوړاندی ورتګ اشاره وکړه .

زبیر راجه ته وویل: له دی ځوان سره زما هیڅ دښمنی نشته زما مجرم پرتاپ رای دی ، تاسو هغه دقربانی وزه ولې جوړوی؟

بهیم سنگ وویل: بزدله ! ته یوازې خبرې کولی شې که همت لری نو وړاندی راشه.

زبیر وویل: که ته دبل بار په خپله اوږه اوچتوی ستا خوښه دائې وویل او ور وړاندی شو دبهیم سنگ په مخکی ودرید.

دراجه په امر سپاهیان دچوکیو نه وړاندی په یوه دایروی حلقه کی چاپیر ودریدل، او دهی سنگ اوچت شو وئی ویل: زویه! غلط وار ونه کړی ته له یوه خطرناك دښمن سره مخامخ یی.

بهیم سنگ وویل: پلار جانه ته چورت مه وهه ، دا ئی وویل او بیائی دری څلور حملی وکړی ، زبیر ددغو ناڅاپی زوروړو حملو نه خوگامه شاته شو او درباریانو ټولو له خوښی نه چیغی اوچتې کړې ، زبیر تر څه ځنده دبهیم سنگ دحملو دفاع کوله ، خو لږ وروسته ټولو دا محسوسه کړه چی تر حمله کوونکی دفاع کوونکی زیات چست او ماهر دی.

او دهی سنگ بیا وویل: زویه احساساتی کیږه مه دتوری سوړ مزاجه لوبغاړی ډیر خطرناك وی.

خو دزبیر په شونډو دادمنی موسکا هغه نور هم په جوش راوست او یو پر بل پسی ئی گوزارونه کول. زبیر چی هغه له کنتروله دوتلو په حال کی ولید یو څو متقابل گوزارونه یی پرې وکړل او بهیم سنگ ئی دحملې پر ځای دفاع ته مجبور کړ ، خو ځله داسی پیښ شول چی دبهیم سنگ توره به په وخت دفاع ته پورته نه شوه خو زبیر دزخم پرځای دهغه له بدن سره ورو توره ولگوله او بیرته به ئی لری کړه ، درباریان په دی وپوهیدل چی هغه له بهیم سنگ سره پام کوی او نه غواړی چی ټپی شی بهیم سنگ هم اوس پوه شوی ؤ چی رقیب ئی پری زوروړ دی ، خو هغه په ماته تر اعتراف مرگ ته تیارؤ ، پرتاپ رای دبهیم سنگ له پلار سره دپخوانیو دښمنیو سره سره اوس دده دبری دعا او هیله کوله ، خو دبهیم سنگ متې ورو ورو شلې شوې، دراجه او نورو درباریانو په څیرو دمایوسی وریځې پنډې شوې.

او دهی سنگ وویل: ټولواکه! بهیم سنگ به مړ شی خو په شا به ولاړ

نشی ته دده ژوند بخښلی شی.

مشری ملکی داودهی سنگ سپارښت وکړ خو کشرۍ ملکۍ وویل: تولواکه! سپاهیانو ته دبهیم سنگ دملا تړ غړ انصاف نه دی ، که تاسو بخښنی نو دواړه باید وبخښل شی.

راجه مذبذب ؤ او څه پریکړه ئی نه شوای کولی ، ناڅاپه زبیر خو څلې سر پر سر حملی وکړې او بهیم سنگ ئی دهغه تشې کرسۍ ته په شا راوست سپاهیان چی کښلی توری کتار ولاړ وو یوی او بلی خواته شول ، بهیم سنگ توکر وخوړ او بیا ستونی ستغ په چوکی کی پریوت ، هغه د پاڅیدو هڅه وکړه خو زبیر دهغه په سینه دتوری څوکه ورکیښوده او وئی ویل: ته که څو کاله نور ژوندی پاتی شی نو ښه سپاهی به درنه جوړ شی خو اوس ستا ځای دغه کرسۍ ده.

دبهیم سنگ له لاسه توره ولویده او هغه دپښیمانی او غوسې نه خپله شونډه تر غاښو لاندې کړه.

راجه سپاهیانو ته اشاره وکړه خو زبیر دبهیم سنگ دکرسۍ له سره په یوه توپ ځان پرتاپ رای ته ور ورساوه او دهغه تر شا ودرید توره ئی په مرۍ ور کیښوده او وئی ویل: خپل پوځیان دی پر خپل ځای ایسار کړه که نه نو زما توره به دده خیته سوری کړی ، دراجه په اشاره سپاهیان شاته شول.

زبیر بیا راجه ته وکتل وئی ویل: دبی عقلو پاچا! زما له تانه دحه ښیگڼی تمه نشته ، خو زه دا درته وایم چی کومو سلا کارانو تاته له عربو سره دجګړ مشوره درکړې هغه ستا دوستان نه دی ، په کومو خلکو چی ستا بهروسه ده هغه تول ددیبل دحاکم زړه او دماغ لری ، دلته ورته وگوره دی په کرسۍ ناست دی د ولې په څیر ریږدی زه ستاسو په وړاندی له ده څو پوښتنې کوم:

ووایه پرتاپ رایه تازه په جګړه کی ونیولم او که ددوستی په نامه دی له کښتی نه راوغوښتم؟ ووایه! ولی چوپ ئی ، گوره که دی دروغ وویل دغه سپاهیان دی نشی ژغورلی، ووایه زبیر دا وویل او توره ئی دهغه په خیته لږ ور چوخ کړه پرتاپ رای په ریږدیدلی غږ وویل:

ما ته له کښتی نه را وغوښتی خو دتولواک دا امر ؤ چی په هر صورت

باید تاسو گرفتار شی ، راجه وویل ودریږه! پرتاپ رای زما دامر تعمیل کړی دی که دی څه تیری وکړ نو دغه بندیان به ټول ووژنم ، تر اوسه موږ ستاسو په باب پریکړه نه ده کړی موږ خوشی په خوشی له عربو سره دجگړی او جنجال غوښتونکی نه یو ، ستاسو قوم ربښتیا زړور دی خو که ته هوښیاری وکړی ته او ستا نور اندیوالان به ازاد کړو ، ستا پر سر اوس شل تنه سپاهیان دریدلی ته به یو ووژنی خو ددی یوه په بدل کی به ستا ټول بندیان اعدام کړم که دخپلو ملگرو خیر غواړی توره وغورځوه.

زبیر وویل: زما په تاسو په یوه هم اعتبار نشته خو زه درته وایم چی دخپلی گټی او تاوان په باب مو دوروستی ځل لپاره فکر وکړی. په یاد ولره چی که تا زما له ملگرو سره بد سلوکی وکړه نو هغه ورځ لری نه ده چی ستا دهر سپاهی په سر زما په څیر سر تیری توره کښلی ولاړ وی ، که دی جواهرو او پیلانو ته تمه وی زه هغه نه غواړم زه یوازی داغواړم چی زه او ملگری می خوشی کړه ، خالد او خور ئی هم موږ ته وسپاره.

راجه وویل: ته تر څو توره ونه غورځوی ستا په غوښتنه غور نشو کولی، زبیر له راجه نه دڅه خیر تمه نه درلوده ، که له هغه سره دنورو ملگرو غم نه وای نو دا به ئی غوره بلله چی په زړورتیا مقابله وکړی او مړ شی ، خو دکونډو ښځو او یتیمو ماشومانو خیال ئی احساسات ساړه کړل ، دهغه ناهید ور په یاد شوه او په وجود ئی لړزه گډه شوه ، دډول ډول خیالونو په چپاو کی دراجه امیدواروونکی الفاظ ورته تکیه شول او توره ئی دتخت په مخکی وغورځوله ، راجه واړه منه ساه واخسته ، پرتاپ رای هغه چاته ورته ؤ چی دیوه هیبتناك خوب نه راویښ شوی وی ، مشری ملکی دراجه په غوږ کی غلی وویل:

ټولواکه! دداسی خلکو دښمنی اخستل ښه کارنه دی.

راجه په اشاره وزیر څان ته وروغوښت او وروئې ترې وپوښتل ستا څه رایه ده؟

وزیر ځواب ورکړ: ټولواك تر ما ښه فکر کولی شی.

راجه وویل: که زه دوی پریږدم دا درباریان خو به ما بی زړه او بزدل نه بولی؟

وزیر: ټولواکه! څوك چې سپوږمۍ ته توکې لاړې ئې په خپل مخ لوېږي.

تاسو دخپل رعیت په نظر کې د «خدای» درجه لرئ خو اوس ددغې بندیانو پرېښودل دمصلحت خلاف دي، عرب دا جرئت نه لري چې زموږ په خاوره حمله وکړي خو که دوی ولاړ شي ټول عرب به زموږ پر خلاف وپاروي که تاسو له عربو سره دجګړې او دمکران دنیولو اراده بدله کړې وي بیا خوښه داده چې بندیان ټول ووژل شي تر څو له عربو سره کوم داسې ثبوت نه وي چې په دیبل کې ددوی کښتۍ لوټ شوي ، تردې دمخه هم دابوالحسن په باب موږ دمکران والي ته ځواب ورکړی ؤ که هغه بیا پوښتنه وکړي هم موږ به همدغسې له هر څه انکار وکړو.

راجه ووېل: تاته چا وېلي چې موږ پر مکران دحملې اراده بدله کړې ده؟

وزیر ځواب ورکړ: ټولواکه! که ستاسو اراده نه ده بدله بیا خو ددې خلکو په باب غوره پرېکړه داده چې دښــار په یوه څلور لاري کې ئې را وځړوی تر څو ټول خلك پوه شي چې عرب هم دوی غوندې عام انسانان دي.

راجه ووېل: زما هم همدا نظر دی ، خو له کښتۍ نه یو عرب هلك او نجلۍ ورك دي که هغوی دسند له سرحد نه اوښتي وي او عربو ته دا خبر ور رسېدلی وي نو موږ باید زر تر زره دجګړې تیاری ونیسو.

وزیر ځواب ورکړ: دعربو اوسنی حالت ما ته معلوم دی ، ددوی کورنۍ جګړې چې پای ته رسېدلې ډېره موده لا نه ده تیره شوې ، اوس ددوی ټول پوځونه په شمال او لویدیځ کې په جګړو مصروف دي ، زموږ سره یو لك تنه پوځ شته ، دضرورت په وخت کې همدومره نور هم را ټولولی شو ، بیا دراجپوتانه ټول راجه ګان ستاسو تر لاس لاندې او جزیه ورکوونکي دي ، دوی به ستا تر بیرغ لاندې له عربو سره جګړه ځانته یو ویاړ بولي ، زما په دې باور دی چې کوم عرب دلته سند ته راشي بیرته به ولاړ نه شي.

راجه: شاباس! زما له تانه همدغه تمه وه، ته سر له نن څخه دجګړې تیاری ونیسه.

له راجه سره تر ډېرو خبرو وروسته وزیر په خپل ځای کیناست ، راجه سپاهیانو ته امر وکړ چې ویل دې بوزي تر ماښامه به ئې پرېکړه وکړو.

# وروستی امید

دشپې له ویده کیدونه وړاندې داسوخوځلی له نراین داس نه پوښتنه وکړه چې جې رام ولې رانه غی ، خوهغه هرځل داخواب ورکاوه چې په ښارکې دهغه ډیردوستان دی چابه ورسره ستون کړې وی ، داسوته جې رام ویلی ووچې زماتړراتګه به دنرائن داس له کورنه نه وزی .

سباته ئې هم دجې رام په خوله جبراًعمل وکړ، ماښام نژدې ؤچې نرائن داس راغی اوداخبر ــ

ئې راوړچې جې رام یې له یوه بل عرب بندی سره په کېپس کې اچولی اوپه ښارکې یې کوڅه په کوڅه ګرځوی اوسهارته به ئې له لمرختونه وړاندې دښارپه یوه څلورلارې کې غرغره کوی ، معلومه شوید ه چې هغه په ډك دربارکې دراجه بې احترامی کړی ده.

داسوچې داواوریدل ښارته یې مخه وکړه ، خلك دښارپه یوه له ګنې ګونې ډکه برخه کې دبانس دلرګیوپه یوه لوی کېپس ورټول شوی وو ، داسوپه خپلومضبوطومټوخلك یوی اوبلی خواته کړل اوځان ئې دلرګیوپنجرې ته ورساوه ، اوپه کېپس کې دزبیراوجې رام له لیدونه وروسته بیرته په شاشولړووروسته هغه په آس سپوردځنګل په لاررروان ؤپه ښارکې ترنیمې شپې پورې له څوتنوپهره دارانونه پرته نورټول خلك خپلوکورونوته ولاړل .

جې رام زبیرته په ځنګل کې دخالد ناهیداومایا کیسه اورولی وه ، څوپهره داران ویده وو ، اونورله کېپس سره نژدې ناست وواوخبرې ئې کولې ، زبیرله جې رام نه پوښتنه وکړه: هغه دسمال چیرته دی؟

جی رام ورته وویل: هغه زما په مټ ترلي دي خوزموږ لاځونه خوترشاترلي ، کاشکي داسوزموږ په حال خبرشي.

زبیره ! زه له تانه یوه پوښتنه کوم.

زبیر: وپوښته؟

جی رام : موږ په دلرختونه وړاندي غرغره کوي ، اوس تاته ترهرڅه وړاندي څه شي سترګوته ولاړدي.

زبیر: زما په زړه کي یوه خبره ده اوهغه داچي ماتراوسه دخدای(ج)اورسول(صلی الله علیه وسلم)دخوښي لپاره په دنیاکي څه مهم کارونشوکړای.

جی رام : ته خوله مرګه خامخاویریږي؟

زبیر: دیوه مسلمان دایمان لومړني شرط دادي چي له مرګه به نه ویریږي،دویري ګټه څه ده ؟ که انسان هرڅه وکړي چي کومه شپه یي په قبرکي وي نوخامخابه قبرته درومي،که زمادژوندانه ګړي پای ته رسیدلي وي نوبه ژرااواوښکوتویولوئي اوږدولي نه شم ، خوزه په یوشي خفه یم ، زه دیوه سپاهي لپاره داسي مرګ مناسب نه بولم.

جی رام وویل: زه تراوسه په دي فکرکي یم چي موږښایي له دي سزاوژغورل شو ، کله په خیال کي راشي چي اوس به دغه ښارپه یوه ټکان دخاورویوه ډیري شي ، کله په ذهن کي راوګرځي چي له اسمان نه دخدای یواستازی راشي اوراجه ته ووائي چي دغه بی ګناه دي پري یي ږده که نه نوستابه خیرنه وي ، کله کله په خیال کي راشي چي ښایي دسنددریاب مخه بدله کړي اوپه دیبل وربرابرشي اوددیبل دښارټول خلك راووزي وراخطاشي اوپه یوه اوبله وتښتي ، یوځوك راشي اوموږټول خوشي کړي تاته خودغسي خیالونه په ذهن کي نه درګرځي ؟

زبیر : نه ماداسي خیالونه نه پریشانه کوي ، زه یوازي داسوچ کوم چي که خدای زماژوند غواړي په زرګونو لاروبه مي وژغوري اوکه مي ژوندپای ته رسیدلي وي نوهیڅ تدبیربه مي ونه ژغورلی شي .

جی رام وویل : زبیره ! کاشکي ماهم ستا په شان فکرکولی شوای.خوزه ځوان یم اوژوندي پاتي کیدل غواړم ته هم ځوان یي خوستافکرزمانه بیابیل

دی .

زیــرووېل: کــه ته هم زمــاپه شــان فکروکــړی نوپه زړه کې به آرامی اوډاډمحسوس کړی.

جی رام څواب ورکړ: دازمادوس خبره نه ده .

زیبرووېل : جی رامه زمایوه خبره منی؟

جی رام : څه خبره ؟

زیبر: ترسهاره ډیروخت نه دی پاتې ، ښایی زمااوستادژوندلړې شیبې پاتې وی زمــاپه زړه یوبارپروت دی کــه ته وغــوارې زمــادزړه دغــه بــارلری کیدای شی.

جی رام وویل: په دی کپس کی که زه دتالپاره څه وکړای شم تیاریم.

زبیر : جی رامه! موږدژوندڅومنزلونه شریك سره ووهل اوزه نه غواړم چی له مرگه وروسته ددواړولاری بیلی شی زه غواړم چی ته مسلمان شی ، که ته اوس هم کلمه ووائی زمــادتیــروگناهونوکفــاره کیدای شی . اوس دومــره وخت نشــتــه چی زه داسلام تولی ښیگنی درتــه بیــان کــرم ، کــاشکی مــاپه کنیتی کی دغه ذمه واری احســاس کــړی وای که تــه زماخبروته پام وکــړی نوزماباوردی چی ستاغوندې نیك زړی اوربښتیانی دوست ته دلارښونی زیات ضرورت نشته.

جی رام وویل : که ستاخبرې ما د مرگ له ویرې بې پروا کولی شی نوزه ئې اوریدلوته تیاریم .

زیــرووېل : اســلام دانســان په زړه کې یوازې دیوه خدای ویره پیداکــوی اوهغه نورله هرډول ویرې نه ژغوری ، واوره ! اوبیازبیرپه ډیرلنددول داسلام په تعلیمــاتورناواچوله درسول اکرم صلی الله علیه وسلم ، دژوندحالات ئی بیــان کــړل دصــحــابه کــرامــو(رض)په ســیــرت اواخــلاقــووکــرېداوداســلام دلومــرنیــوورڅوحــالات ئی بیــان کــړل په پای کی زبیــرداجنادین ، یرمــوك اوقــادسیی دغزاگــانوپیبنی یادولی ، اوجی رام داسې احســاسوله چی تول عــمــرپه یوه تیــاره غــارکی له ســرگــردانی وروســتــه په یوه توپ اوس ددنیــاترتولولو رې څــوکې ته خــتلی دی ، دهغــه په ســتــرگــوکې دامیدرناوځلیده.

دشپې په وروستی برخه کی جی رام دکلونوکلونوعقیده پرېښې وه اوداسلام په دایره کی شامل شوی ؤ.

زبیرورته وویل : اوس ووایه زړه دی سپک شوکه نه ؟

جی رام وویل : زما په زړه کی یوازې یوه اندیښنه پاتې ده چې مادمرگ په درشل اسلام ومانه کاشکی ستاپه شان مې لمنځونه کړی وای اوروژې مې نیولې وای.

زبیرورته وویل :

یومسلمان له خدایه بایدمایوس نه وی ، هغه هرڅه کولی شی .

*****

(۲)

پهره دارڅوک ولیدل چی کپس ته ورنژدې کیدل غږئې پرې وکړ ، څوک ئی؟

هغه دځواب ورکولونه پرته وراندې ولاړاودکپس ترڅنگ ودرید ، سپاهیان تول ودریدل لومړی پهره دارپیاوویل ځواب ولی نه راکوی څوک ئی؟

خوپه دومره څنډکې نوروسپاهیانوهغه وپیژانداویوه یی دخپل پخوانی ملگری مټ ونیوکش ئی کړورته وئی ویل :

خوشی چیغی مه وهه دی نه پیژنی ! سرداربهیم سنگ دی باداره ! تاسوپه دی شپه کی دلته څه کوی ؟

هغه ځواب ورکړ : زه دبندیانولیدوته راغلم .

بل سپاهی ځواب ورکړ: سرداره ! تاسوبی غمه اوسی داخوپهره داران همداځوشیبی مخکی ویده شول.

بهیم سنگ تری وپوښتل : ستانوم څه دی؟

هغه ځواب ورکړ: زمانوم سروپ سنگ دی.

بهیم سنگ وویل : ته ډیرهوښیارسړی معلومیږی زه دبرهمن آبادله حاکم نه غوارم چی ستارتبه درلوړه کړی.

هغه ورته وویل : خدای دی له تاسوسره ښه وکړی زماځلوراولادونه دی چی ستاشونډی وخوځیږی زماکاربه جوړشی.

بهیم سنگ : ته چورت مه وهه نورستاترقی پرما ، هوبندیان دی ویده دی؟

پهره دارځواب ورکړ: صیب تراوسه ئی خبری کولی ، دائی وویل بیاوروړاندی شوتریوه چاك ئی وروکتل وئی ویل :

سرداره ویښ دی.

بهیم سنگ وویل : زه له جی رام سره خوخبری کول غواړم .

پهره دارو ویل : صیب دی پوښتنی ته څه ضرورت دی اوبیائی خپلونوروملگروته اشاره وکړه تول لرې شول دکپس له یوی برخی نه بهیم سنگ سرور دننه کرویی ویل : جی رامه ته ډیراحمق ئی ، بیائی خپل لاس ورتیر کړاوزبیرته ئی وروویل : لاسونه دی زماخواته راواړوه ، زبیرخپل ترلی لاسونه هغه ته ورواړول، بهیم سنگ بیاپه زوره وویل : نمك حرامه تادراجه دوړاندی ددی کم ذاتی عرب ددوستی لاپی وهلی نه شرمیدلی؟

بیائی ورو وویل : جی رامه ! زه ستادملگری دلاسونوپری غوځوم څه روایه چی پهره داران شکمن نه شی.

جی رام په لوړغږووبل : بهیم سنگه لږوشرمیږه ، دادیوه نوابزاده له شان سره نه ښایی چی بی وسه بندیانوته کنځل وکړی.

بهیم سنگ وویل : زه تاسوغوندې بی زړه خلکوته کنځل دځان بی عزتی بولم ، زه یوازی ددی پوښتنی لپاره راغلی یم چی تاهغه عرب ځوان اونجلی چیرته غلی کړی دی؟

جی رام ځواب ورکړ: ماته ددی معلوم ورځه مامه تنگوه ، دزبیرلاسونه خلاص شول بهیم سنگ ئی په لاس کی خنجروړکړاووروئی ورته وویل : افسوس چی زه نورله تاسوسره هیڅ نه شم کولی ستاسولپاره ددی کپس ماتول اوتښتیدل اسان نه دی خوبیاهم خپل قسمت وازمویی، که تاسوآزادهم نه شوی لږترلږه خوبه دمیړنیوپه مرگ مړه شی.

دپهره دارانودغلطولولپاره بهیم سنگ خپله لهجه بدله کړه وئی ویل: زماپوخ باوردی چی هغه عربه نجلی تاسوپټه کړی ده ښه ده ستاخوښه مه ئی راته ښیه خودلمړاختونه وړاندی به دبرهمن آبادخلك تاسوغرغره ووینی.

بهیم سنگ له کپس نه لږلرې ولاړپهره دارانوته ئی وویل :

تاسو ولی یوی خواته شوی ؟ ماخو له هغوی سره څه پټې خبرې نه درلودې، لېخوداجي رام ته وګوری غرورڼی تراوسه نه دی مات شوی.

یوه پهره دارځواب ورکړ: سرداره ! ددوی نصیب خراب دی که نه موږخوا وریدلی دی چی راجه یی زیات قدرکاوه ، سرداره په ښارکی خلك وائی چی داعرب جادوګردی هغه دجادوپه زورجی رام دراجه په خلاف نافرمانی ته اړکړی.

بهیم سنګ وویل : ښایی همدغه خبره وی ماته هم ددوی کپس ته نژدی کیدل په کارنه وو.

یوه پهره دارو ویل : نه صیب ! په تاسوددوی دجادواثرنه کیږی، بیاهم کورته ولاړشی توبه وباسی.

بهیم سنګ : ته ډیرهوښیاریی زه ځم سرمی راباندې وګرځیدښایی دادکوډواثروی .

پهره دار: صیبه! که اجازه وی زموږځوك درسره ولاړشی اوتاسوترکوره ورسوی.

بهیم سنګ : نه نه ! ددی ضرورت نشته .

بهیم سنګ ولاړهغه پهره دارله شانه ورپسی غږکړ:

سرداره ! زه دی هیرنه شم .

بهیم سنګ : ته چورت مه وهه.

پهره دار : بګوان دی له تاسره ښه وکړی.

دبهیم سنګ له تلووروسته یوه سپاهی ملګروته وویل :

ومولیدل مانه ویل چی داجادوګردی اوتاسونه منله سروپ سنګه ستاخیرنشته ، تاڅوواری پر کپس لاس ووهل تراوسه دی سرنه ګرځی؟

سروپ سنګ : زماسر؟ هولږدروندی.

پهره دار : غم مه کوه اوس به ښه وګرځی.

سروپ سنګ اندیښمن شوویی ویل: خومااوریدلی چی دجادوګرپه مرګ دجادواثرورکیږی.

پهره دار: داسی جادوګرچی مړه شی بیرته ژوندی کیږی.

یوه بل سپاهی وویل: یاره ماهم په کپس لاس ووهل اوس زماسرهم

ځرخیږی.

سروپ سنګ وویل : خدای دی دغه جادوګروهی زماسرخوپه ربښتیارابانديږ ګرځی.

ددی خبروتاثیرداؤچی نورپهره داران له کپس نه اته ، لس ګامه لری ودریدل اوپهره ئی کوله.

زبیردخپلوپښتوله خلاصولونه وروسته دجی رام لاس اوپښی هم خلاص کړل.

یوه سپاهی وویل: ای ، دوی په کپس کی څه کوی ؟

زبیراوجی رام کیناستل ، سترګي ئي پټي کړی اوو خریدل، دوه تنه پهره داران ترکپس دوه ځله راوګرځیدل اوداړه بیرته خپلوملګروته راغلل جی رام ورو وویل : زبیره !

زبیر: څه خبره ده .

جی رام : دغه کپس ډیرمضبوط دی ، تقدیرتوکه راسره وکړه ته اوس هم په دی تمه ئی چی خلاص به شو؟

زبیر: زمازړه ګواهی راکوی چی خدای به مومرستندوی وی.

جی رام وویل : په برهمن آبادکی بهیم سنګ په سلګونوسپاهیان لری ، کیدای شی په وروستی وخت کی زموږځه مرسته وکړی.

زبیر: زه یوازی له خدای نه مرسته غواړم اوته هم همغه ذات ته پناه وروړه.

که هغه ته زموږژوندی پاتی کیدل منظوروی نودبهیم سنګ له مرستی پرته به مووژغوری.

جی رام : زه ستادایمان پوخوالی ستایم ، خوبده مه منه دغه کپس پخپله نه ماتیږی.

زبیروویل : په کوم ځای کی چی دعقل ډیوه مړه شی هلته دایمان مشال کاوورکوی ، تاپه یوه داسی خدای باندی ایمان راوړی چی ابراهیم (ع)ته ئی اورګلبڼ وګرځاوه.

جی رام څه ویل غوښتل چی دیوه سپاهی غږئی واورید: څوک یی؟

یوه سړی څوګامه وړاندی ځواب ورکړ: کب نیوونکی یم صیب !

سپاهی : دلته څه کوی؟
کبان می راوړی .
سپاهی : کبان په دی ناوخته ؟
پردی سړی : هوا اوس ورځ راخیـژی ، زه غـواړم چی داوړلورم اوبیـرته ستون شم ، تاسوخوبه کبان نه غواړی ؟
یوه پهره دارووېل : سروپ سنګه ! ته ئی واخله ستاڅلوربچیان دی کب نیوونکی ووېل : هوسرکاره ! واخله بلکل تازه دی.
سروپ سنګ ووېل : پیسی راسره نشته که ئی بې بیی راکوی اخلم یې.
کب نیوونکی : صیب له تاسونه پیسی څوك غواړی ! له موږنه خوئی په ښارکی هسی عـادی خلك هم په زوراخلی ، تاسـوخوسـرکاریی، دائی وویل اوبیائی دکبانوډکه ټوکری ددوی په مخکی کیښودله.
یوه پهـره دارورته ووېل : اوهو! له تاسره خوډیرکبـان دی مـوږته ئی هم راکوی که نه؟
سـروپ سنګ ووېل : نه نه ! په دی بیـچـاره ظلم مـه کـوی ، زه خـوډده بیـپاریم ، نن لږتری اخلم پیسـی ئی سبـاته ورکـوم ، هغـه یوکب راواخست اوخپلوملګروته ئی په مـوسکاوکـتل ، ملګرونی دستـرګوپه رپ کی ټوله ټوکری تشه کړه.
سروپ ورته ووېل : دادی باره پیټی دی سپك شوورڅه سباته بیاپه همدی مهال همدلته راشه پیسی دی نغدی واخله.
کب نیوونکی : ډیرښه سرکاره!
په کـپس کی دننه زیـرجی رام ته وویـل داخـوګنګودی خـودابوازی ولی راغلی دی ؟
ګنګوپهره دارانوته وویل : زه ډیره سه سرینده وهلی شم درته وئی وهم؟
سپاهیانوپه یوه غږځواب ورکړ: هو! هووغږوه!
ګنګوله سرېندی نه ښوپه زړه پوری نغمی اوچتی کړی اودهغـه ملګری د عامو ښاریانوپه جامه کی یویوورغلل اوترسپاهیانوراتاوشول.
یوه پهـره دارپه زوره وویل : هی هی ده خوهسی دکب نیـولوخوارکسب غوره کړی که دی سرینده غږول اختیارکړی ډیری روپی به وګټی.

دګنګوملګرویویل ته ویل : زه خود ده نغموراوینې کرم اوبیامی خوب وتبستید...... زه د «وسنتی» موریاڅولم ویل ئی وګوره لکه چی کوم سوالګردی ........ یوه بل وویل : زموږګاوندی حیران دی چی داڅوك دی؟

ګنګودسرېندی له غږولوسره اوچت شو اودده ملګروناڅاپه توري وکښلی اوپه سپاهیانووربریوتل ، دسترګوپه رپ کې ئې ټول ترتیغ تیرکړل اوپه تېرئی دکپس لوی کولپ مات کړ.

زبیراوجی رام راووتل، دچوك په شاوخواکې کوروونودسرېندی دزړه وړونکونغمونه وروسته دسپاهیانوکرېږی اوکوکاری واوریدی خوچاله خپل کورنه دراوتلواوحال اخستلوجرئت ونه کړ، زبیراوجی رام دګنګواو د هغه د نوروملګروسره له ښارنه په تیښته ووتل ، دګنګوڅوتنوملګروپه یوه باغ کی آسونه درولی وو ، کوم وخت چی په ښارکی په دی پیښه خلك خبریدل ، دوی په اسونوپښی اړولی وی اودځنګل په لورولاړل.

*****

(۳)

ناهیدپه بستره غځیدلی وه ، اومایائی سرته ناسته وه ورو ورونی سرورته چاپی کاوه ، خالد په ناکراری په کوټه کی یوی اوبلی خواته قدم واهه .

بیادناهیدسره نژدی ودریدوئی ویل:

ناهیدی! ډیروځنډیدل ، هغوی بایداوس رارسیدلی وای کاشکی زه ئی په پاتی کیدونه وای مجبورکری.

مایاخالدته وکتل اوبیائی سترګې ښکته واچولې اوپه ډاډورکوونکی لهجه ئی وویل:

زمااوس هم داباورنه راځی چی راجه داهرپه دومره ظالم وی ممکن داسو......!

خالددهغی خبری ورغوځې کړې وئې ویل : ستانیکی هیلې له یوه لیوه نه انسان نشی جوړولی.

مایازړه نازړه وویل: تاسوفکرمه کوی هغوی به خامخاراځی .

خالد : زبیربه په غرغره ځړیږی اوزه به فکرنه کوم ! کاشکی زه هم له

گنگوسره تللی وای ، دائی وویل لاس ئی ومروړل اوشونډی ئی ترغاښولاندی کړی اوبهرته ووت.

مـایادیوی په اوښلنوسـترگوناهیـدته وکـتـل ، هغی ددی پرسـرلاس راتیرکړاوپه تسل ئی ورته وویل : مایا! هغه خوتاته هیڅ هم نه دی ویلی ، ته په وره وره خبره ژاړی.

مایاځواب ورکړ: زه چی دده حالت گورم ، که هغوی ناکام راستانه شی نوځه به کیږی.

ناهیـدوویل : هغـوی په یوه خطرناك هدف پسی وتلی دی کـه ناکـام راستانه شی زموږیکی څه گناه ؟

که گنگواوملگری ئی په جگړه کی ووژل شی ، ته به خپل وطن ته ولاړه شی اوزه ....... ؟

ناهیدځواب ورکړ : زماوروکی خورکی! دعربوځمکه دتالپاره تنگه نه ده.

مایا : خوخالدله ماسره په هره خبره جنجال کوی امکان لری هغه مادلته پریږدی.

ناهیـد : مـایا! زمادوراندی خوخالدداسی څه نه دی ویلی ، هوربښتیـا! ستادورورواوزیبرپه باب دخبراوریدو نه ناکراره شوی دی ، خدای دوکړی چی هغوی په خیراشی بیابه تول عمردخالدپه خوله موسکاغوریدلی وینی.

دخالددمـوسکاذکرمایادخوشبولپاره دخیالونورنگینی نړی ته بووړه . هغی ته داوبجـاره دنیـادگلونویوه سـمـسوره باغـچـه ښکاره شـوه ، دی له گلونوسـره لوبی کـولی اودخوشبویه هواله څپوسره تازه کیـدله ........ دمارغانوښکلی نغمې ئی اوریدی.

دایوه ښځه وه چی دمینی په بهروسه ئی دامید د سمندرپه غاړه محلونه جوړول، خوبوخیـال ئی دتوندشمـال په څیرپه لمن کی دهیلوراتول کړی تول گلان بیـرته مراوی کـړل دخیـال په پرده ئی دعـربودخرمـادباغونوله سیل نه وروسته دبرهمن آبادپه یوه څلورلاری کی دغرغره شوی وروړپه لاش ودروله هغه یوه خوروه ، داسی خورچی دخپل کوردکرسندوخنداگانوله اوریدوسره سره دوررورله خـولی دآه په اوریدوتکان وخوری ، مـایاپه زړه کی وویل : وروره ! زمـاگـران وروره خـدای دی په خیـر راولـه ، کـه ته نه وی مـا به

دهیچاموسکاهم خوبته نکړای شی.

ناهیدپه غورمایاته وکتل اوونی ویل : مایا! ستاربښتیاله خالدسره دومره مینه ده ؟

مایارابیداره شوه ناهید ته ئی وکتل ، خپل مخ ئی په لاسونو پټ کړاوپه سلګوشوه.

ناهیدبیااوویل : معلومیږی چی ته په مااعتبارنه کوی ، زه خالد پیژنم ، ..... هغه .... !

مایائی خبره ورغـورځه کړه وئی ویل : نه ! نه ! زه دخپـل ورورپه باب فکرکوم .

دکـلایو پهـره دارپه منډه راغی ، ناهیـدخـپل مخ په تیکری کی پټ کړاوجګه شوه کښیناسته پهره داروویل :

خالدپرآس زین کیښود، زماخبره نه منی هغه ته دبرهمن آبادلاره هم نه ده معلومه ، که څه پیښبه وشی ګنګوبه ماژوندی پری نږدی تاسوهغه منع کری

یوه شیبه دمایازړه ولوید ، بیاپه زوره زوره ودرزیدجګه شوه اوپه منډه بهرته ووتله ، زړه ئی ویل خالده ، مه ځه زه دوروړغم زغملی شم خوستانه پرته ژوندنشم کولی ، خالده په مارحم وکړه ! خالده ! خالده .

له کلاته بهرخالدآس ته قیضه وراچولی وه اویوه پښه ئی په رکاب کی وه ، مایاپه منډه ورغله غږئی پری وکړ: ودریږه! دخدای په خاطرودریږه! یوازی مه ځه ، زه هم درسره ځم ، دائی وویل اوبیائی داس جلب ونیو.

خالدله رکابه پښه لری کړه پریشانه شواومایاته ئی وکتل په دی ځندکی ناهید هم بهرته راووته دمایاناهیدته پام شوویی ویل : خوری دی راوګرځوه! دی دمـرګ خـولې ته روان دی د بګوان په خـاطر! دخـدای په خـاطرئی راوګرځوه.

ناهیدنږدی ورغله وئی ویل : خالده ! که ستاپه تګ کی څه مصلحت وای نومـابه په دی :اروغی کی هم نه وی راایسـارکـړی ته یوازی دراجـه دلښکرمـقـابله نشی کـولی ، ته بایددګنګودراتګ انتظاروکـړې هغـه خامخاراځی ، که رانه غی کوم ملګری خوبه ئی ضرروراځی ، ته بیشکه زړه

ورئی خوپه داسی شیبوکی ربښتینی زړورتیاصبرکول دی.
خالدځواب ورکړ: خوری ! ستاتبه ده ولاړه شه آرام وکړه زه یوازی ددوی لاری څارم . زه وعده کوم چی لرې نه ځم.
مایاوویل : نه ! نه ! خوری دی مه پرېږده ، دی به بیرته راونه گرځی.
خالدوویل: مایا ! امکان لری دراجه پوځیان په دوی پسی راوتلی وی زه بایدمرسته ورسره وکرم . ددوی مرسته زمامسؤلیت دی مایاته دی لږدوروخیال هم وکړه.
مایاځواب ورکړ: زماوروکه په خطر کی وی ته څه مرسته نشی ورسره کولی.
خالدڅه ویل غوښتل خوله لرې یوتن چی په دنگه ونه ختلی ؤچیغې کړی:

هغوی راغلل ، اوله دی سره په ځنګل کی داسونودپښوغږاوچت شویول پهـــره دارپه منډه راغـی ویـی ویـل : لکـه چی دښـــمن وریـسی دی تاسودکلاسمخوته کوزی شی.
خالدوویل : دغلی کیدوضرورت نشته که څوك وریـسی وای دوی کلاته نه راتلل خوداديرلږکسان ښکاری خدای دخیرکوی.
داسونودراتگ دخبرپه اوریدودناهیدزړه په درزاشو ، خوچی خالدوویل چی یوازی څلورآسان دی نوپه زړه کی ئی بله شوی دامیدډیوه بیرته گل شوه ، ددی داندیښنی اوغم حالت هغه مانوته ورته ؤچی په ماته کښتی کی دڅپوپه مینځ کی ایساروی اوپه یوه اوچته شوی څپه دساحل گومان وکړی.
داسی ئی احساسوله چی تقدیردوروستی ځل لپاره تری دامیداوهیلومانس اخلی،لږځندوروسته یوسپوردځنگله له گښوونوته راووت دوی ته نږدې له آس نه کـوزشومایاته ئی چیغې کړې : مـایا ! مایاهم ورمنډه کړه اووئی ویل: وروره ! اوبـاورترغاری شوه. دناهیـداوخالدنظرپه ځنگله کی په هغه لاره نښتی ؤچی جی رام تری راووت ، دجی رام په لیدو ناهیدپه زړه کی یوځل بیادامیدمړی شوی ډیوی بیرته بلی شوی په جی رام پسی داسواوپه هغه پسی گنگواوزبیرهم له ځنګله راووتل،دزبیرپه لیدوناهیدمذبذبه غوندې دوه دری گامـه وړاندی شـوه ، زبیـردې ته نږدې ورغی له اس نه کـوزشـو ،

خالدورمنډه کړه اودواړوېويل په غېږکي ونيول ، ناهيدوغوښتل چې په منډه خپلې کوټې ته ستنه شي خوبيائي داسې احساس کړه لکه پښې ئې چې په ځمکه پورې نښتې وي ، دهغې په بدن لړزه ګډه وه ، سرئې وڅرخيد . دمياشتودمسافرپه څېرچې دمنزل په ليدوله پښوولوېږي ناڅاپه داهم همدغسې شوه زبيرله خالدنه بيل شوورواندې شو اووئې ويل : ناهيدې! ته اوس ښه ئې که نه ! دې دځواب پرځاى پرخپل مخ نقاب برابرکړ.

زبيربياوويل : ستازخم څنګه دى ؟

دناهيدشونډې ورپيدې په رېږديدونکې آوازئې وويل :

دخداى شکردى چې ته راغلې ، زه ښه يم . ددې وروستى الفاظ په يوه ژوره ساه کې ډوب شول اوبياهغې ټوکروخوړاوپه ځمکه راپرېوته .

*****

(٤)

کله چې په هوش راغله په خپله کوټه کې په بستره پرته وه ، دخالداومايااله غمجنوڅيروليدووروسته ئې نظردزبيرپه څېره ونښت ، په مړاوې څېره ئې ناڅاپه دحياسرخي راغله ، په مخ ئې پرده راخپره کړه اوکيناسته ګنګواوجې رام له کوټې نه بهرولاړوو خبرې ئې کولې دخالدهغوې ته پام شو وئې ويل : ناهيدراپه خودکې شوه چورت مه وهئ .

زبيردتسلې په دود ورته وويل : ناهيد ! نورزموږمصيبتونه پاى ته رسيدونکې دى . زه نن روانيږم.

ماياچې ديوې ښځې د ذکاوت دحس په زوردزبيرپه باب دناهيدداحساساتونه خبره وه ژرئې وويل : نه نه تاسومه ځئ ، اوس به په ټول سندکې ستاسولټون پيل شوى وي .

زبيرځواب ورکړ: زماڵپاره دسندله سرحدونودوتلوهمدايو فرصت دى ترسباپورې به دلارى ټولوپهره دارانوته زموږدتيښتې خبررسيدلې وي نورملګرى مودراجه پوځ ته دفريب ورکولوپه خاطردختيځ بيابان لاره نيولې زه له همدې فرصت نه ګټه اخلم.

خالده ! ته به همدلته پاتې کيږې که دلته څه خطراحساس شوګنګوبه موبل مناسب ځاى ته بيايي له عربونه زموږدلښکروترراتګ دمخه که

ناهیددتګ راتګ شوه ګنګوبه ئی ترمکران پوري ورسوي.

ناهیدوویل: ترڅوچي زماخویندي په زندان کي وي زه غوارم همدلته واوسم ، خدای دی تاسوبیرته راولي موږبه ستاسوانتظارکوو، زمالیك به تاته رسیدلي وي تاسوسمدستي روان شي اوپه راستنیدوکي بیره وکړی هوربنتیا د علي پوښتنه کوم هغه څنګه ؤ؟

زبیر: علي ته دیره یادولي ، ددیل والي هغه دیروخوراوه خوهغه دیرزړه ورهلك دی که په هرحالت کي دی دلمانځه په وخت کي اذان خامخاکوي .
دغه خلك له آذان نه دیرویریږی هغه ئی څوځلي په متروکو وواهه خودده په اراده کي هیڅ بدلون رانه غی.

دبرهمن آبادپه بندیخانه کي هم دهغه همدغه حال دی دراجه پوځیانودژبی ورغوڅولواخطاروركړ. خودي له خپل تکل نه وانه وښت.

ناهیدوویل : داتول ستادمجلس اثردی که نه نوهغه خوددومره مزهوت زړه خاوندنه ؤ، په سراندیپ کي هغه دیوکمزوری زړه خاوندبلل کیده.

زبیرو ویل : دانسان عیبونه اوصفتونه دخطرپه وخت کي راښکاره کیږی.
له دروازی نه ګنګوغږوکړ: ماسپښین شونوربایدځنونه کړی.

ناهیدوویل : ورځئ خدای مومل شه څوتاسوته مکران ته دوچی لاره معلومه ده ؟

زبیروویل : داسوله ماسره ځئ اوهغه په ټولولاروبلددی ، زه چی دمکران سرحد ته ورسیږم هغه به بیرته راولیږم.

مایاوویل : په دی جامو کي تاسوسمدستي پیژندل کیدای شي.

زبیرپه موسکاځواب ورکړ: زمادکشری خورپه ماږیرپام دی خوته مه پریشانه کیږه ، زه به سندی لباس واغوندم اواوس خوماسندي ژبه هم زده کړی ده څوك به په ماشکمن نه شي ، مایاوویل : ته ماته په خوروبلوستری ذمه واری پرېږاخلي،په یادولره زموږپه وطن کي دخوراو ووورتراصلي رشتي دغسي رشتي دیری مضبوطي وي ، که ته ماته خوروائي نوداونیوسفرپه ورځوکي وکړه ، زموږمصیبت ستاسودنوروبندیانوله مصیبت نه کم نه دی .
دوی به زماپه ووروپسی سندلویشت په لویشت وګوری . زه ویریږم چی ستاسودپوځونوله راتګ نه ترمایوسي وروسته زماورورکاتیاوارته تینبتي ته

زړه ښه نه کړي.

جی رام له بهرنه په لوړغږوویل : مایاڅه وائی . زه یوازی یوراجپوت «نوابزاده»نه بلکی یومسلمان هم یم ، زه خپل نیکی کوونکی کله پریښودلای شم.

مسلمان ! زماورورېومسلمان دی؟ دائی وویل دناهیدله کټ نه اوچته شوه اوبهرته په منډه ووته ورورته ئی غېږورکړه ، زړه ئی درزیدوپه سترګوکې ئې دخوښی اوښکی وی ، وئی ویل :

وروره ته ! رښتیاووایه ته مسلمان شوی یې؟

هغه ځواب ورکړ: مایا! «له مقناطیسو» سره چی اوسپنه ولګیږی بیا اوسپنه نه پاتی کیږی ، ته خو به پښیمانه نه ئی؟

مایا وویل: زه ... بیا تری لری شوه اوښکی ئی پاکې کړی وئې ویل: زه چیرته پښیمانه کیږم خدای «ج» زما دعاګانی قبولی کړی، زما زاری ئی منظوری کړی وروره مبارك دی شه هو رښتیا ستا اسلامی نوم؟

زبیر بهر ته دوتلو په وخت کی وویل: دا زما قصور دی که دتا خوښه وی ستا په ورور به ناصر الدین نوم کیږدو .

مایا وویل: او زما نوم به څه وی؟

خالد ، زبیر ، ګنګو او جی رام حیران شول ټولو مایا ته کتل مایا چی دخپلی پوښتنی ځواب وا نه ورید وئی ویل: تاسو ولی حیران یاست له ناهید نه پوښتنه وکړی ، دائی وویل او په دهلیز کی ودریده ناهید ته ئی وویل: ناهید خوری! دوی ته ووایه آیا ما ستا په وراندی مبارکه کلمه نه ده ویلی؟ آیا ما له تا سره پټ پټ لمنځونه نه دی کړی؟ آیا ما دقرآن ایتونه نه دی زده کړی؟

، مایا له خپل ورور سره ودریده او زبیر ته ئی وویل: ته په څه خیالونو کی ډوب یې ، ناهید پر ما زهرا نوم ایښی او دا زما خوښ هم دی.

خالد دننه ولاړ ؤ،ناهید په غوږ کې ئې ورو وویل تا دا خبره ولی له مانه پټوله؟

ناهید په موسکا ځواب ورکړ: مایا په دی ویریدله چی تاسوبه داګومان وکړی چی ستادخوښی په خاطرمسلمانه شوی ، هغه له وروړنه هم ویریدله

څکه ئی له مانه وعده واخسته چی ترمناسب فرصت پوری به دغه رازساتم .
خالدبیرته په منډه بهرته راووت اوله جی رام سره ودرید دهغه روح دخوښیو په اووم آسمان کی ؤ .

زبیرورویل : وروره ناصرالدین اوخوری زهراتاسودواړوته مبارکی وایم خدای دی تاسوته حوصله اوثبات درکړی.

گنگوورویل: زبیره: که زموږزړونه راوپلټی موږتول مسلمان شوی یو ، خوپرتولودنومونوایښودل به تادیروخنډوی داخدمت خالدته پرېږده هغه دی ماسپښین شوته ترنن ماښام پوری لږترلږه له دی ځایه شل دیرش میله بایدسفروکړی، زبیرموسکل ویی ویل: «زه تیاریم» .

گنگوداسوته غږوکړچی جامی راوړی زهرابیرته له ناهیدسره کیناسته اوزبیردگنگودهدایت سره سم دسندی سپاهی جامی واغوستی بیائی ورته وویل: ستاله پاره آس تیاردی.

زبیرورویل: زه اوس راځم اوبیاددوهم ځل لپاره دناهیدکوټی ته ورننوت ناهیدچی دپښوغږواوریدپرده ئی سمه کړه زبیرورویل : ناهیدئ خدای پامان ! زهراخوری ماته دعاکوی.

دواړوپه غبرگ آوازوویل: په خدای دی سپارواوزبیراوږده اوږده گامونه واخستل له کوټی نه ووت.

خالد ، ناصرالدین اوگنگودکلاتردروازی پوری ورسره راووتل داسوله دوواسونوسره ولاړؤ، زبیرورویل خدای پامان اوپه آس ئی پښه واروله داسوهم سپورشو، گنگوورویل: گرمی زیاته ده خودواړه آسونه تازه دمه دی تردیرش میله پوری لومړی مزل ورته هیڅ نه دی داسواپه دی سفرکی ستابریالیتوب بنایی دسندنقشه بدله کړی ترڅوچی زبیردمکران له سرحدنه نه وی تیرشوی ته بیرته مه راستنیږه.

داسوورویل: تاسوچورت مه وهی.اوبیائی آس ته غبرگی لغتی ورکړی. زبیرپه هغه پسی اس ورپریښود.

په کلاکی چی داسونودپښوغږواوریدل شوزهراناهیدته وکتل دناهیدپه سترگوکی اوښکی ډنډ شوی اوورووروئی ویل: خدای دی ستاسومرستندوی شی خدای(ج)موله دښمنانوپه امان کړه.

دزهراپه سترگوکی هم اوښکی راغلی اووئې ویل: خورې‌اته تراوسه له مانه یوه خبره پټوی ستاله هغه سره مینه ده؟

ناهیددځه ځواب ورکولونه پرته دزهرالاس په خپل لاس کی ونیودآسونودپښوغږورو وروچوپ شودناهیدله سترګوداوښکوغمی وڅڅیدل اوپه مخ ئی لارې جورې کړې اوښکته وبهیدی.

زهراپه خپل تکری دهغه اوښکی ورپاکی کړی ورته وئی ویل: خورې! هغه راځی ، هغه ډیرزربیرته راځی.

دوهم فصل:

# زلمی سالار

# د قتيبه استازی

دبصرې په يوه کونج کې دسيندپه غاړه دخرمادګنوونوپه بڼ کې دبصرې دوالي مانۍ وه ددغې مانۍ په يوه لويه کوټه کې يودپوخ عمرخودقوی متهوخاوندقدم واهه ، هغه به قدم واهه اوبيابه ودريد پر ديوال ځينې نقشې ته به ځيرشودهغه په څيره کی غيرمعمولی عزم اوارادی ځلکونه وهل، په سترګوکې ئې هوښياری اوترهوښياری هم هيبت زيات ځليده.

داحجاج بن يوسف ؤچې له اوسپنيزومنګولونه ئې دوست اودښمن دواړوپناه غوښته هغه څوك چې توره ئې په عرب اوعجم دتندرپه څيرراپريوته اوديرځله ئې له خپل حد نه پښې وغځيدې داسلامی نری هغه روښانه ستوری ئې هم په خاورواووينوکی راپرې ايستل چې زړونه ئې دايمان په نورروښانه وو.

دحجاج بن يوسف دژوندلومړی پړاؤهغه وخت ؤچې دعبدالملك دحکومت په وخت کی دسرکشانودماتولولپاره اوچت شواودتوپان په څيرپه عراق اوعربوراخپورشو.

خوهغه وخت دده توره ديوه ړانده متروکی ته ورته وه چې دحق اوناحق توپيرېې ونکړای شو،دهغه دژونددوهم پړاوهغه وخت ؤچې دعبدالملك پرځای دهغه زوی وليددخلافت په منصب ناست ؤ ، دعراق اوعربوخپلمنځی جګړی پای ته رسيدلی وی اومسلمانانوپه يوه نوی جذبه اوولوله په ترکستان اوافريقاکی پرمختګونه کول.دخپل پلارپه څيروليدهم حجاج بن يوسف ته په بهرنيواوداخلی چاروکې پوره واك اواختيارسپارلی ؤخوديوه مسلمان مورخ په

نظرحجاج چې ولیدته کوم خدمتونه وکړل له هغوخدمتونوسره دیرتوپیرلری چې عبدالملك ته ئې ترسره کړی وو.

دعبدالملك په وخت کې دحجاج بن یوسف تولې هڅې دعراق اوعربوپه ساحه کې وې اودلته که هغه خپلمنځي جګړې ختمې کړې په خپله لمن ئې دډیروبې ګناهودوینوداغونه هم ولګول،خودولیدپه زمانه کې په عربوکې ارامې وه اوحجاج بن یوسف دژوند وروستی برخه په ترکستان اوافریقاکې دجهادپه تنظیم اودغازیانودپرمختګ لپاره وقف کړې وه.

کله چې موږدحجاج بن یوسف دژوندانه دکتاب وروستي پاڼې اړوونوحیران په شوچې خدای(ج)دمسلمانانودفتوحاتولپاره هغه څوك انتخاب کړچې څوکاله وړاندې ئې مکه محاصره کړې وه هغه سترګې چې عبدالله بن زبیرئې په مخکې وژل کیدواونه ویریده په سندکې دیوې مسلماني نجلې دمصیبت په اوریدوغمجنې شوې.

تاریخ موږته یومهم سوال وړاندې کوې اوهغه داچې عرب اودعراق مسلمانان دحجاج بن یوسف نه دژوندپه وروستیوشپوورځوکې هم خوښ نه وو اونه ئې ولیدته په ښه سترګه کتل نوبیاڅه سبب ؤ چې کله په ترکستان اوسندکې دجهادنغارې وکړنګیدې دشام له مسلمانانونه په دغومحاذونوکې دعربوشمیرزیات ؤ.

ددې ځواب یوازې دادې چې د قیادت له کمزورۍ سره سره دمسلمانانوانفرادی کرکترونه همغسې اوچت وو اوددوی په زړونوکې له جهاداوشهادت سره مینه په غوړځنګ وه دوی دې ته نه کتل چې قیادت ئې دچاپه لاس کې دی اوپه بیړه ئې دجهاد صفونوته ځانونه رسول.

ځکه خودولیددوخت دویاړمنوفتحوویاړنه دولیددی اونه دحجاج بن یوسف ، بلکې دهغه اولس دی چې شاوخواته ئې دجهادبیرغونه په اوږه کړی وو.

*****

(۲)

حجاج بن یوسف تردیره خنده په دیوالونوراځوړدلی نقشې لیدلې بالاخره ئې یوه نقشه راکوزه کړه په ایرانی غالی کیناست اوپه مخې کې ئې کیښوده له ښه فکر وروسته ئې قلم راواخست په نقشه ئې ځونښې کیښودې اوونې

نغاړله یوی خواته ئی کینبوده .

یوسپاهی په ویره ویره کوتې ته ورننوت اووئی ویل: له ترکستان نه یواستازی راغلی دی.

حجاج بن یوسف وویل: زه یی له سهارراسی په انتظاریم ورشه رائی ولیه سپاهی ولاړاوحجاج بن یوسف بیرته نغښتی نقشه وغوروله اوپکی بوخت شو.ځندورسته یوزغره اغوستونکی کوتی ته ورغی هغه یودنګ زلمی ؤچی پنځلس ، شپاړس کلن ښکاریدوپرسرئی داوسپنی خول ځلیدو، ښکلی څیره ، ځلیدونکی سترګې وروکی خوله اوتری شوندی ئي دغیرمعمولی ارادی اواستقلال ښکارندوی وی ، دهغه دڅیری اوقدتناسب یومرموزجذابیت وربخښلی ؤچی حجاج بن یوسف حیران ورته کتل .... له ښه ځندوروسته ئی په ګرخته لهجه تری وپوښتل:

ته څوك یی؟

هلك ځواب ورکړ:مااحوال درکړی ؤ زه له ترکستان نه راغلی یم.

حجاج : ښه له ترکستان نه ته راغلی یی؟ زه دقتیبه جذبات ستایم مااحوال ورکړی ؤ چی یاته راهه اویادی یوتجربه کارجنرال راواستوه ، هغه ماته یواته کلن هلك راواستاوه، هلك په ډاډمنه لهجه ځواب ورکړ: زماعمر۱۶کاله اواته میاشتی دی.

حجاج بن یوسف پرچ وهل وئی ویل: ته دلته دڅه لپاره راغلی یی په قتیبه څه شوی دی؟

هلك دڅه ځواب ورکولونه پرته وروړاندی شویولیك ئی هغه ته ورکړحجاج بن یوسف زرزرلیك پرانیست وئی لوست اولږډاډه شوویی ویل : هغه پخپله ولی نیغ دلته رانه غی ته ئی ولی رالستولی یی؟

هلك پوښتنه وکره : ته دچاپه باب پوښتنه کوی؟

دحجاج بن یوسف حوصله اوزغم پای ته رسیدلی ؤ په چیغه ئی وویل: هغه احمق چی قتیبه راته لیکلی چی زه خپل ترتولوښه سالاردراستوم.

هلك بیاپه ډاډاوسکون ځواب ورکړ: دقتیبه په لیك کی چی دچایادونه ده هغه زه پخپله یم که تاسوله کوم بل احمق سره لیدل غواړی نوماته اجازه راکړی.

حجاج بن یوسف په حیرانی وویل : ته ! اودقتیبه غوره سالار! اخدای دی په ترکستان کی جگړه کوونکی بدنصیبه مسلمانان له دښمنانو نه په امان وساتی ، ته دقتیبه سره څه خپلوی لری؟

ځوان ځواب ورکړ : موږدواړه مسلمان یو.

حجاج : په لښکرکی دی رتبه څه شی ده ؟

ځوان : زه دحمله کوونکی ډلی سالاریم

حجاج : دحمله کوونکی ډلی سالار! ته ؟!

اوله بلخ نه دمخ اړولواوبخارااوسمرقند په لوردتگ په اراده کی به هم غالباًستااوستاغوندی ځوانو مجاهدُمشوره شامله وی؟

ځوان: هو! دازمامشوره ده اودلته زماراتگ په همدی خاطردی که تاسولږحوصله وکړی زه به تول حالت درته څرگندکړم.

دحجاج بن یوسف غوسه اوس په اندیښنه بدلیده وئی ویل:

که ته نن ماپه کومه خبره قانع کړی نوزه به ووایم چی دعربودمیندودشیدواثرتراوسه پوری نه دی ختم شوی کښینه ! زه له سهاره نقشی ته څیریم راته ووایه کوم پوځ چی هرات غوندې معمولی ښارنشی فتحه کولی نودبخاراغوندې مزبوت ښارپرسردفتحی بیرغ رپولوته ولی دومره امیدواردی؟

هوارښتیاته لومړی داووایه چی نقشه لوستی شی؟

هلك دځه ځواب ورکولونه پرته دحجاج بن یوسف په مخ کی کیناست نقشه ئی وغوړوله اوپه مختلفوځایونوئی گوتې کیښودی ویی ویل: دابلخ دی اودابخارا! غالباًبه تاسودبخارادحصاردمزبوتی خبری اوریدلی وی خوکه دبلخ کلاگانی دهغی په اند ازه مضبوطی هم نه دی دموقعیت په لحاظ ترهغی خطرناکی دی.

دبخاراځلوروخواۋته پراخه میدانونه دی موږهغوی په آسانی سره کلابندکولی شو اودترکستان له نوروښارونوسره ئی اړیکی غوڅولی شو پاتی شوه کلانوزه په دی یقین لرم چی دمنجنیق لپاره دډبروډیوالونه نشی ټینگیدلای اوداهم موږته ثابته شوی ده چی په کلاکی ښه پوځ بوازی په هغه صورت مقابله کولی شی چی دمرستی لارې ئې خلاصې وی که نه

نودمایوسی په صورت کی دروازې خلاصوی اوتسلیمیږی، ددی پرخلاف په بلخ کی موږله زیاتوستونزوسره مخ کیږو، په بناردحملی لپاره چی موږځومره پوځ ته ضرورت لروترهغو څوځله زیات ته ددی لپاره ضرورت دی چی غرنی دمرستی لاری بندې کړی، پردې سربیره موږبایددبناردفتحې اوکلابندی نه وړاندی په شاوخواټولوغونډیواوغرونوقبضه وکړو، په دی جګړوکی به دغرنیوقبایلوډیری زموږله غشونه هم زیاتی خطرناکې وی ، دبلخ جنوبی اوختیځ غرونه ډیرلوړدی که دجنوب ختیځ ترکستان ټولوریاستونوبلخ ته دمرستی هڅه وکړه نوددی غرونوترشابه یوډیرلوی پوځ راټول شی اوله څه جنجال پرته به بلخ ته نژدی رارسیږی. په ختیځ - جنوب اولویدیځ کی به موږته سترخطرجوړشی اوکه له شمال نه بخارااوسمرقند هم ددوی مرستی ته پوځ راواستاوه نوله مروی نه به زموږدمرستی لاری ترتهدیداوخطرلاندی راشی ، اوموږبه له څلوروخواودبیرونی کومکی لښکرترکلابندی لاندی راشوموږبه په تودوخه کی مقاومت وکړای شوخوپه ژمی کې دغه غرني خلك ډیرلوی خطردی، اوکه بیرته په شاراځوله موږنه به ډیرزیات داسی وی چی «مروی»ته به راونښی رسیدای.

حجاج بن یوسف اوس دنقشی پرځای زلمی سالارته کتل ، هغه وویل: دعربوپه پوځی اصطلاحاتو کی تراوسه د«شاتګ» لفظ ته ځای نشته .

هلك ځواب ورکړ: زه دعربوپه شهامت اواراده کې شك نه کوم خودغه حمله له پوځی نظره دځان وژلوسره یو شی ده.

حجاج بن یوسف وویل : نوستاپه ګومان بایددختیځ پرلورپرمختګ ودرول شی.

زلمی ځواب ورکړ: نه ! پرترکستان دتسلط لپاره به بلخ زموږوروستی سنګرنه وی. خوزماپه نظربایدلومړی بخارافتحه کړوپه دی کی زموږدوی ګټی دی یوداچی دادترکستان مهم بناردی اوددی په فتحه به دترکستان په خلکوهمدغسی اغیزه کوی لکه دمداین په فتحه چی دایران اوددمشق په فتحه پرروميانوشوی، بله داچی دبخارادکلابندی په وخت کی له بهرنه موږله هغوخطروسره نه مخ کیږوچی دبلخ دمحاصری په صورت کی ئی مایادونه وکړه دبخارادفتحی نه وروسته موږد مروی پرځای

بخارادخپلوپوځونومرکزجوړولی شو،له هغه ځایه سمرقند، بیاقوقنداوفرغانی ته پرمختګ کولی شو ددی ښارونوپه نیولوزه ګومان نه کوم چی دترکستان خلك نورمقاومت وکړی ، له دی فتحووروسته بایدزموږپوځ جنوب لوری ته مخ کړی اوپه لنډه موده کې به بلخ هم فتحه کوی.

حجاج بن یوسف په حیرت ځوان سالارته کتل هغه نقشه ونغاړله اویوطرف ته ئی کیښوده بیائی له لږچورت وروسته وویل: ته دکومې قبیلې یې؟

ځوان ورته وویل: زه ثقفی یم .

حجاج : ثقفی ! نوم دی څه دی ؟

ځوان : محمدبن قاسم !

حجاج بن یوسف په ځیرځیرمحمد بن قاسم ته وکتل اووئی ویل :

دقاسم له زوی نه زماهمداتمه وه ماپیژنی ؟

محمدبن قاسم ورته وویل : ته دبصری والی یی .

حجاج مایوس شوییی ویل: ته زماپه باب بس همدومره معلومات لری؟

محمد بن قاسم : زه له دې نه پرته هم په ډیرڅه خبریم پخواتاسودخلیفه عبدالملك بنی لاس وی اوس دخلیفه ولیدبنی لاس یاست .

حجاج: تاته دی موردانه دی ویلی چی قاسم زماوروړاوته زماوراره؟

محمدبن قاسم : هغی راته ویلی وو.

حجاج : څه وخت :

کله چی تاسوعبدالله بن زبیرروواژه اومدینی ته بیرته راستون شوی.

دکم عمره وراره له خولی چی حجاج دغه خبره واوریدله دلړشیبي لپاره ئی دتندی رګونه وپړسیدل ، په غوسه شو محمد بن قاسم ته نی وکتل خودهغه په سترګوکې نې دویری اوډارپرځای بی شانه سکون اوډاډولیداوورو ورو دده غوسه هم سړه اوپه پښیمانی بدله شوه دمحمد بن قاسم بی پرواکتوله هغه نه پوښتل چی :

ماچی څه وویل آیادروغ دی ؟ آیاته دعبدالله بن زبیرقاتل نه یی؟

حجاج بن یوسف په زړه پوله زغم نه اوچت بوج احساس کړ جګ شو دسمندرپه لوری خلاصی کړکی ته ورنژدی شو اوپه سینډنې سترګې میخ

پاتې شوی .

دعبدالله بن زبیر «رض» قاتل ! دعبدالله بن زبیر «رض» قاتل ! هغه څوځلې په زړه کې داالفاظ تکرارکړل دذهن په پرده ئې دتیرویادونوننداری راڅرګندی شوی هغه په مکه کې هغه سپین ږیری مجاهدلیده چې دوژل کیدوپه وخت کې ئې هم په شونډوفاتحانه موسکا وه ، بیایې دمکې په کوڅوکې دیتیمانواوکونډوژړا ، انګولاواوریده بیائې یوسوړاسویلی وکیښ مخ ئې راواړاوه ، محمد بن قاسم ته ئې وکتل ، هغه دده دتمې پرخلاف نقشه غوړولی وه اوپکې بوخت ؤ . دتیرویادونوځونورتصویرونه ئې مخ ته ودریدل ، هغه یوځل بیا دمدینې په یوه وړوکې کورکې خپل ځوان ورور دمرګ په بستره پروت ولید ، هغه ورورچې په مکه کې ئې دده دکړوورود داستان په اوریدوله غوسې نه سترګې پټې کړې اوبیائې دخپل ورورالفاظ په غوږوکې وکرنګیدل:

حجاجه ! ځه ! زه دځنکندن په وخت کې دعبدالله بن زبیردقاتل مخ نشم لیدی ستاپر لمن چې دکومووینوداغونه دی زمااوښکې هغه نشي مینځلی . بیایې دخپل ورورله جنازې سره یووړوکې ماشوم لیدو ، دادده وراره ؤ دده غوښتل چې اوچت ئې کړې اوپه غیږکې ئې واخلی ، خوهغه توپ کړیوی خواته ودریدویې ویل: نه ! نه ! ماته لاس مه راوړه ، پلارجان مې له تانه کرکه کوله .

حجاج بن یوسف دیوه ځورونکي احساس سره محمد بن قاسم ته وکتل اوورته وئې ویل : محمده ! دلته راشه .

هغه نقشه تولوله کړه یوې خواته ئې کیښوده اوورغی په مخ کې ئې ودرید حجاج ورته وویل؛ نوزه ستاپه نظرد عبدالله بن زبیر له قاتل پرته هیڅ نه یم ؟

محمد بن قاسم ځواب ورکړ: دادخدای «ج» دمخلوق فتویٰ وه اوزه تاته په دروغو له قاتل پرته بل نوم نشم درکولی.

حجاج بن یوسف وویل : ستاپه رګونوکې دقاسم وینه چلیږي.

زه ستاهری خبرې زغملوته تیاریم که څه هم زغم زماعادت نه دی.

محمد وویل : زه تاپه عادت پرېښودلونه مجبوروم اونه ددې لپاره راغلی

یم ، قتیبه بن مسلم باهلی چی څه مسؤلیت راسپارلی ؤترسره می کړنورماته اجازه راکړه اوکه قتیبه ته څه پیغام استوی زه به سباته بیاحاضرشم.

له یوې شیبې زړه نا زړه توب نه وروسته حجاج وویل : ته چیرته ځې؟

په ښارکې مې مورته ورځم زه نیغ دلته راغلم کورته لانه یم تللی.

حجاج : ستامورپه بصره کې ده ؟ ماته داهم نه وه معلومه هغه کله دلته راغلې؟

محمد: هغه له مدینی نه څلورپنځه میاشتی کیږی چې راغلې ماپه مړزکې دهغی لیك ولید.

حجاج : چیرته اوسی دلته ولې نه راتله؟

محمد بن قاسم : دماماپه کورکې اوسی اودلته ئی دنه راتګ په سبب ترما تاسوښه پوهیږی.

حجاج : ته دترکستان له تلونه مخکې چیرته وې ؟

محمد بن قاسم : زه ترلس کلنی پورې له مورسره په مدینه کی وم له هغه وروسته له ماما سره بصری ته راغلم .

حجاج : له مانه دی دومره نفرت ؤ چی یوځل دی مخ رانبکاره نه کړ؟

محمد بن قاسم ځواب ورکړ: که رښتیاووایم زه دښوونځی اووروسته دسپاهی توب ژونددومره مصروف کړم چی په زړه کې مې له چاسره دمینې اویانفرت داحساس پیدا کیدو فرصت نه ؤ.

حجاج بن یوسف لږسوچ وکړونی ویل: په ښوونځی کی به ښایی ته مالیدلی وی خونه مې یې پیژندلی ته ډیرزړلی شوی ښه اوس دی له کاکاناوی سره نه ګوری؟

محمدبن قاسم مذبذب شو اوحجاج بن یوسف ته ئی وکتل ، حجاج دهغه مټ ونیواواوږده اوږده ګامونه ئی واخستل له کوټې نه ووتل دباغ په بل کونج کې دهستوګنی دخونودروازی ته ورسیدل محمد بن قاسم په موسکا وویل : ماپرېږده ، درسره ځم.

* * * * *

(۳)

دحجاج بن یوسف دغږپه اوریدودهغه میرمن له یوی کوټې نه راووتله

اودمحمد بن قاسم په ليدو يې چيغه کړه : محمده ! ته څه وخت راغلی یې؟
حجاج بن يوسف حيران شو پوښتنه ئې وکړه ، تادې څنګه وپيژاند؟
دهغی په سترګوکې دخوښی اوښکی ډنډشوی وئی ويل : زه دې چيرته هيرولی شم ؟
حجاج بن يوسف بياپوښتنه وکړه: تامحمدکله ليدلی ؤ؟
ميرمنې ئې ځواب ورکړ: کله چې زه اوزبيده حج ته تللی وو ، په بيرته راستنيدوکی په مدينه کې ددوی کورته ورغلی وو محمد هم له ترکستان نه راغلی ؤ اوپه کورکې ؤ .
حجاج : تاسوخوماته نه وو ويلی ؟
ميرمن : موږته دده موروويل چې غلی اوسو، اوموږپه دی ويريدوچې په تابه هم بده ولګيږي.
حجاج : نوهغوی تراوسه زماګناه نه ده بخښلی؟
ميرمن : هغه له تانه خفه نه دی خودقاسم مرګ دهغوی په زړه ژوراثرکړی دی.
حجاج بن يوسف لږپه فکرونوکی ډوب شوبيائی محمد بن قاسم ته وکتل اوويې ويل :
محمده ! څه زه له تاسره ځم.
ميرمنې ئې وويل: نه ، نه ته اوس هلته مه ځه .
حجاج وويل: ولې ؟
ميرمن يې : هغه اوس ناروغه ده.
حجاج : په دی حال کې خوبايدخامخاولاړشم.
محمدبن قاسم بی تابه غوندې شو وئې ويل: مورمې ناروغه ده زه بايدولاړشم محمد بن قاسم په بيړه راووت حجاج بن يوسف له هغه سره دملګری په خاطرمخ راوګرځاوه خوميرمن ئی رامخی ته شوه لاره ئی ونيوه وئی ويل :
نه ، نه ته به نه ځی.
حجاج : زه به خامخاځم ، ته پردې ويريږې چې هغه به ماته بدرد ووائی اوزه به په غوسه شم ؟

میرمن : نه دهغه حوصله دومره ټیټه نه ده .

حجاج : نوته ماولی منعه کوی اوداتاته څه ډول معلومه شوه چی هغه ناروغه ده؟

میرمن : زه ویرېږم چی ته خفه نه شی ماله تانه یوه خبره پټه ساتلی.

حجاج : څه خبره ؟

میرمن : کله چی دوی دلته راغلی زه دوې درې ورځی وروسته یوځل ورغلم . پرون می خدمتګاره وراستولی وه ، هغې وویل چی ډیره ناروغه وه ، وضعه ئی خرابه وه زه اوس ددوی له کوره راستنه شوم که ستاویره نه وای زه به ترځنډه ورسره پاتې وم .

نن زبیده هم راسره تللی وه اوچی دهغی حالت خراب ؤ نو.....

حجاج بن یوسف په ډاډورته وویل : ته ولی ویرېږی؟ صفاووایه ، که تازبیده هلته پرېښی وی اوراغلی وی نوښه دی کړی دی.

میرمن : هغه به اوس راشی ماخدمتګاره وراستولی.

حجاج : مګرتاداهرڅه ولی له مانه پټول ، ستا په خیال زماپه وجودکی دانسانیت هیڅ احساس نه دی پاتی ؟

میرمن : ماوبخښه !

حجاج : ډیره ښه ده ، اوس ته هم راسره ولاړه شه .

* * * * *

(٤)

زبید ه دمحمد بن قاسم دمورسرته ناسته وه اوسرئی ورو وروچاپی کاوه یوه شاهی خدمتګاره ورته ولاړه وه ، دمحمد مورزګیروی وکړدزبیدی لاس ئی په خپل کمزوری لاس ونیو اوپه سترګوئې کیښودوئې ویل:

لورې ! ستا په لاسوزمادسترګوسوی په کرارشی ، خوزه ویرېږم چې که دی پلارخبرشی ډیربه په غوسه شی اوبیابه دې دلته نه پرېږدی ته ولاړه شه.

دزبیدې په سترګوکې اوښکې راغلې ویې ویل : زړه مې نه غواړي چې تاپه داسی حال کی پرېږدم اوولاړه شم.

په انګرکی دچاتوخی دزبیدی پام ورواړاوه جګه شوه اوبهرته ئې وکتل

محمد بن قاسم دخپل آس جلب دمزدورپه لاس کی ورکړ اوپه منډه کوټه ننوت په دروازه کې ئې زبيده وليده وئې پيژندله ښه نيولې اوخجالت غوندې شو پوښتنه ئې وکړه :

ته دلته څه کوې مورمې څنګه ده ؟

زبيدې دځواب پرځای لاره ورته پريښوده اودده د سپاهيانه هيبت لاندې راغله .

محمد بن قاسم کوټې ته ننوت ، دمورئې چې سترګې پرې ولګيدې په مړاوې څيره کې بې دخوښۍ رڼاوځليده جګه شوه کيناسته اووئې ويل: ته راغلی زويه !

محمد بن قاسم ئې په څنګ کې کيناست خول ئې له سره لرې کړاووئې پوښتل : مورجانې له کله راسې ناروغه ئې ؟

مور: زويه بصرې ته له راتګ سره سمه ناروغه شوې يم .

محمد : نوماته دې ولې نه ليکل ؟

مور: زويه له کوره په ميلونوميلونولرې وې نه مې غوښتل چې پريشانه شې ، زويه دغه خول دې پرسردېرښه ښکارې بيرته ئې پرسرکړه ، زه مې خپل ځوان مجاهد زوی په پوځی جامه کې ګورم .

محمد بن قاسم وموسکل اوخول ئې بيرته پرسرکيښود ، مورئې لړځند چوپه وه اوپه غورئې ورته کتل له خولې نه ئې بې اختياره دعاووته ! زماخدايه ! ته دغه سرتل لوړلرې.

له محمد بن قاسم نه ئې نظر واړاوه اوزبيدی ته ئې وکتل وئې ويل:

لورې ! ولې ولاړه يې کينه !

زبيده چې تراوسه له دروازې سره ولاړه وه زړه نازړه اوشرميدلې شرميدلې راغله اوپه يوه کرسۍ کيناسته .

مورزوی ته وکتل وئې ويل : محمده ! تاداونه پيژندله ؟

هغه ځواب ورکړ: ماچې لومړی ځل وليده ومې پيژندله ، زبيدې ته څنګه راغلې ؟

کاکاته خوداهم نه وه معلومه چې مورمې دلته ده ، مورئې پريشانه شوه وئې ويل : ته دې دکاکاله ليدو وروسته دلته راغلی؟

محمد : هومورجانی! دقتیبه یوضروری پیغام ؤ ، زه نیغ هلته ورغلم ، کاکاترلاس نیولی کورته بوتلم هغه پخپله هم تاته راتلل غوښتل خوماچې ستادناروغی واوریدل ، په منډه راغلم اوهغه مې له ځانه سره رانه وست.

مورئې غمجنه ځیره ونیوه وئې ویل : خدای دوکړی چې دلته ئی په راتگ کې نیت نیك وی.

دزبیدې سور او سپین مخ ژیړشو له کرسۍ نه اوچته شوه وئی ویل:

تروورجانی ! زه ځم ، شامی نوکره هم اوچته شوه.

خوپه دی کی بهردپښوغږاوچت شو وینځه کړکی ته وروړاندی شوه اوچی بهرته ئی وکتل ترخوله ئی ورو کی چیغه وخته.

محمد بن قاسم پریشانه شو ودریداوددروازی په لوری ولاړدزبیدی موردننه ورغله اوحجاج بن یوسف په دروازه کې ودریدمحمد بن قاسم ته ئی وویل: محمده ! له مورنه دی وپوښته ماته دننوتلواجازه شته ؟

محمد بن قاسم مخ راوگرځاوه مورته ئی وویل: مورې ! کاکادننه راتلو اجازه غواړی.

مورئې سراومخ پټ کړل اوځواب ئی ورکړ: کورته دراغلی میلمه په مخ خوك دروازه نه تړی ورته ووائی راځه !

حجاج بن یوسف دننه راغی دزبیدی په ځیره کې ځوډوله رنگونه راغلل مورئې پرسرلاس ورکیښودوبی ویل: لورې ولې ویریږی، ستاپلارپخپله ستادتروردپوښتنی لپاره راغلی .

دحجاج بن یوسف له ورتگ نه لږځنډ وروسته بهرشورماشورشواومحمد بن قاسم ور ووت چی بیرته راستون شو په خندائې وویل: ته چې خلکولیدلی وې زموږشاوخواتول گاوندیان راټول شوی وو دوی گومان کاوه چی ته زموږدوژلولپاره راغلی یی.

دحجاج بن یوسف په شونډویوه دردناکه موسکاخپره شوه اوسرئې ښکته واچاوه.

*****

(۵)

دریمه ورځ محمد بن قاسم بیادحجاج په مخکې حاضرشو اودترکستان

دسفرپه تکل ئې ترې اجازه وغوښته حجاج بن یوسف ورته وویل اوس دی دموروضعه څنګه ده ؟

محمد بن قاسم ځواب ورکړ: اوس ئې وضعه ترپخوالږڅه ښه ده هغې ماته دتلواجازه راکړه اوزماتصمیم دادی چې نن له خیره روان شم .

حجاج بن یوسف ځواب ورکړ: مانن قتیبه ته خپل استازی واستاوه هغه ته می ولیکل چې زه ستاسوله تصمیم سره موافق یم ، اوس به ته یوڅه وخت همدلته اوسی.

محمد بن قاسم: خوزماتګ هلته ضروری دی ماله قتیبه سره وعده کړی وه چې زرترزره به راستنیږم.

حجاج ځواب ورکړ: خودلته ماته ستازیات ضرورت دی زماپه اوږویودروند پیټی دی ته زماملګرتیاکولی شی زه یوازی دهرمحاذځارنه نشم کولی پردی سربیره ستاپه باب مادخلافت دربارته لیك استولی امکان لری ته هلته دیوځی مشاورپه منصب مقررشی.

ابن قاسم : په دمشق کی خوزمانه زیات تجربه کارخلك شته زه نه غواړم چی دخلافت په دربارکې ستاله اثراورسوخ څخه نارواګټه واخلم، تراوسه ماته دډیرې زده کړې ضرورت دی ماته دترکستان دسفراجازه راکړه .

حجاج : محمده ! ستااټکل غلط دی که ته دورارہ پرځای زمازوی وای هم نوماته دی بیځایه پلوی نه کوله ، زماباوردی چی ترلویونه لوی مسؤلیتونه ترسره کولی شی ، داهسی تصادف دی چی ته زماورارہ یی ، ورمه ورځ چی تاپرماکوم اثرغورځولی که ته زماهیڅ نه کیدای هم مابه ستاپه باب همدغه تصمیم نیولو ، قتیبه پخپله هم دزیات صلاحیت اواستعدادخاوندی هغه له تانه پرته هم کارکولی شی ته دجګړی دډګرپرځای په دمشق اویابصره کی زیات موثرئی اوله هغه سره ښه مرسته کولی شی . ته زلمی یی اوهغه زلمیان چی دبوډاګانو په آوازغوږونه ګروی ستاپه غږبه راټولیږی.

دقتیبه سترملاتړدادی چی ته له بصری اویادمشق نه هغه ته نوی پوځیان ورواستوی ، پر بل محاذزموږپوځونه ترلویدیځی افریقاپوری رسیدلی امکان لرې موسی بن نصیرپوه ورغ له سمندرنه پوری وزی اوپه هسپانیه حمله

وکړی ، هغه وخت به موږته لویدیځ محاذ ترترکستان نه هم مهم وی ځکه خودخلافت له درباره زمادلیك ترځواب پوری دلته پاتی شه ...

هوستاماماله کوفی نه راغلی که نه ؟

محمدبن قاسم ځواب ورکړ: هغه بنایی نن راورسیږی.

حجاج : چی راغی ماته ئې راواستوه خو ورته ووایه چی دبصرې دحاکم امرنه دی دحجاج بن یوسف هیله ده.

محمد بن قاسم چې له کوټې نه ووت بهریوې مینځی ورته وویل: دکاکابښځه دې له تاسره لیدل غواړی.

محمد بن قاسم حرم ته ننوت زبیده یې له مورسره ناسته وه دمحمد دورننوتوسره ئی په مخ کې دحیاسرخي وځلیده اوجگه شوه بلې کوټې ته ولاړه.

دکاکابښځې ئې ابن قاسم په مخکې کښیناوه اوترې وئې پوښتل:

زویه : مامادی راغلی که نه ؟

محمد ځواب ورکړ: نن به راشی ، خودهغه لپاره څه ضرورت پیداشوی کاکابی هم پوښتنه وکړه؟

هیڅ نه زویه ! یوکارده‌ی چی ترسره ئې کړی.

محمد بن قاسم دکاکاله ښځې نه رخصت شو اوکورته ولاړچې کورته نژدې شو دحجاج بن یوسف یوه بوډۍ خدمتگاره ئې دکورنه راووتله دی چې کورته ورننوت مورئې په بستره تکیه کړی وه اوناسته وه دده په لیدوموسکی شوه وئی ویل :

زویه ! ته به اوس خوشبې نورې هم دلته پاتې شې.

زوی ځواب ورکړ: هومورې کاکامې دخلافت دربارته دیوځی مشاوریه منصب زمادمقرری سپارښت کړی دهغې ترځواب پورې بایددلته پاتې شم.

مور: زویه حجاج تراوسه په هیڅانه ژمهربان شوی خوته ډیرنیکمرغه ئی.

محمد: مگرمورې زه په خپلوپښودریدل غواړم که زه دمشق ته ولاړم اوومی لیدل چی زه ددی منصب ورنه یم پخپله ئی پریږدم اوراځم ، زه ویریږم چی هلته به مشران خلك په ماپورې خاندی اوتول به وائی چې له ماسره ځانگړی مراعات شوی.

مور: زویه ! په حجاج کی ډیری کمزوری دی خوددی ترڅنگ یوه ښیگړه داضرورلری چی دمنصب په ویش کې غلطي نه کوي ماهم نه غوښتل چی له زوی سره مې ځانگړی مراعات وشی. خوکه ده له تاسره څه رعایت کړی وی هم زه هیله لرم چی ته ځان ددی منصب نه هم دمهم منصب دسنبالولوور ثابت کړی.

زه تاته یوبل زیری اوروم.

محمد: څه موری؟

مور: لومړی وعده وکړه چی زه څه وایم ته به ئې عملی کوی.

محمد : موری ! تراوسه پورې ماستاله کوم حکم نه سرغړولی؟

مور: ژوندی اوسی زویه ! زمادعاده چی ترڅوچه اسمان لمر، ستوری اوسپوږمی ځلیږی په دنیادی ستانوم روښانه وی اودقیامت په ورځ کې داسلام دمجاهدینودمیندوپه صف کې زماغاړه ترچاټیټه نه وی.

محمد: مورې هغه زیری څه شی ؤ!

مورئې موسکی شوه دتکیی نه ئی یولیك راویوست اوویی ویل : واخله ولوله داستادکاکادښځی لیك دی.

محمد بن قاسم لیك پرانست څوکرښی ئی چی ولوستی بنه ئې سره واوښته دلیك له پای ته رسولوپرته ئی هغه دمورپه مخ کی کیښوداوترډیره ئی سرښکته اچولی ؤ .

مورئی ورته وویل: ولی زویه په څه چورتونوسرشوی؟

محمد: هیڅ نه مورې.

مور: زویه ! دازماترټولولویه هیله وه اوله حجاج نه دکړکې سره سره مادادعاکوله چی زبیده زمانږورشی ، څوورځی وړاندی هغه له پلارنه غلی زماپوښتنی ته راتله اوزماخدمت به ئی کاوه رښتیاوایم که زماځپله لوروای هم دومره په اخلاص به ئی زماخدمت نه ؤ کړی ، زه په دې ویریږم چی په حجاج بن یوسف به داښه ونه لگیږی ماستادعزت ، ترقی اوشهرت دعاگانی کولی.

مابه چی زبیده ولیده په زړه کې به مې دادعاراغله چی یاالله زمازوی ددومره عزت خاوندکړه چی حجاج بن یوسف ئی په زوم ولی ویاړوکړی، نن

زما آرزوگانی پوره شوی ، خوزه یوازی په دی خوښه نه یم چی ته به دبصرې د والی زوم شی ، زه په دی خوښه یم چی ماپه دمشق ، بصره اومدینه کی دزبیدی په څیرنجلی نه ده لیدلی زه غوارم چی ددمشق اوبابلی خواله تگ نه وړاندی ستاسوواده وشی ستاخوبه پر دی څه اعتراض نه وی زویه؟

محمد: مورې ستاخوښی زه ددنیاترتولوستره نیکمرغی بولم خوماماله حجاج نه زیاته کرکه کوی.

مور: پردی سربیره هغه زبیدی ته په هماغه نظرگوری چی زه گورم ته فکرمه کوه.

*****

(۶)

دری هفتی وروسته په بصره ، کوفه اودعراق په نوروښارونوکې داخبرپه حیرت اوحیرانی خپورشوهغه حجاج چی داسلامی نړۍ په هیڅ لوی شخصیت ئی سترگه نه ږکیده خپله ایکی یوازی لورئې دخپل وروروقاسم یتیم زوی ته واده کړه ، دولیمی په بلنه کی دښارپر مخورویرسیره دمحمد بن قاسم زیات ددرس تولگیوال هم شریك وو.

بله ورځ حجاج بن یوسف محمد بن قاسم وروغوښت اودازیری ئې پرې وکړچی له دمشق نه دخلیفه استازی راغلی هغه لیکلی چی ته زرترزره دمشق ته ورشی.

محمد بن قاسم وویل: زه دتگ لپاره تیاریم خودخلافت ددربارغټ منصبداران چی ماوینی داسې فکربه کوي چې ستاسوپه خاطرزماسره مراعات شوی دی.

حجاج ځواب ورکړ: قیمتی ډبره په حجم نه په ځلاپیژندل کیږی ماستادفطری استعدادونودغوړیدواوځلالپاره یومناسب چاپیریال غوره کړی دخلافت په دربارکی به ته دجگړی دامورودشوری غړی وی که ته خپل ملگری اوخلیفه زماپه څیراغیزمن کړای شی بیابه ستادکشرتوب شکایت څوك نه کوی.

محمد بن قاسم وویل: مگرزه حیران یم چی دجنگ داموروشوری په دمشق کی څه کوی ؟خلیفه خودجنگ چاری تاسوته سپارلی دجگړی

دقومانداناناواستازی تاسوته راځي ، دلښکراستولواوتیاری حکم تاسوورکوي.

حجاج : له دی لامله چی په هغه شوری کی ستاسوپه شان د بیدارو، هوښیارو اواحساساتی خلکوکمی دی ددوی دکاربوج زماپه اوږوپروت دی اوس چي ته ورشی نولږترلږه خوبه دافریقادمحاذبوج زماله اوږولری شی دافریقاد حالاتوله لږبدلون سره هره‌ږوهمه دریمه میاشت خلیفه مادمشق ته ورغواړي که هغه ستااستعدادووینی مابه له دی ځایه بیاوروته غواړی زه به دترکستان محاذته پام واړوم.

محمد بن قاسم پوښتنه وکړه : زه څه وخت بایدولاړشم؟

حجاج : زماپه نظرسباته روان شه زه به په څوورځوکي دزبیدې اوستادموردراستولوبندوبست وکړم.

محمدبن قاسم دتلوپه تکل ؤ چی حبشي غلام دننه ورغی اوحجاج بن یوسف ته ئی وویل: یوځوان ستاسوحضورته دراتلواجازه غواړی هغه وائی چی له سراندیب نه می یومهم خبرراوړی.

حجاج وویل: راتی وله بیائی محمد بن قاسم ته مخ واړاوه اوویی ویل: محمده ! ته هم ودریږه! زمازړه گواهی راکوی چی له سراندیب نه ښه خبرنه وی راغلی.

دغلام دتلونه لږورووسته زبیردننه ورغی ، دهغه جامی په گردونواوخاورولړلی وی په ښکلی څیره ئي دخفگان اوستومانۍ کرښې وی حجاج بن یوسف چي ورته وکتل وئي پیژانداووئی ویل: زبیره! ته ... راغلی ستاکښتی .... !

زبیرځواب ورکړ: زه افسوس کوم چی ښه خبرمی نه دی راوړی . دسندپه ساحل ددیبل حاکم زموږکښتی لوټ کړی . دسراندیب دراجه سوغاتونه چی تاسواوخلیفه ته ئي رااستولی ووهم ټول هغوی لوټ کړل.

دمسلمانانوهغه یتیمان زامن اوکونډې ټول بندیان دی.

حجاج وویل: ته دلته څه ډول راغلی ماته ټوله کیسه وکړه.

زبیرله پیله ترپایه خپل تیرحالات بیان کړل. دحجاج بن یوسف په سترگوکې دغم اوغوسې لمبې وځلیدې په څیره ئې پخوانی هیبت

راخپورشوګوتې ئې مروړلی اوشونډې ئې ژوولې اوپه کوته کې ئې قدم وهل پیل کړل لږځنډوروسته ددېوال سره نژدې ودرېداوده‌هندوستان په نقشه ئې سترګې ښخې کړې .

له خولې نه ئې دزخمي زمري دکریږې په څیرآوازاوچت شو؛

دسنددراجه داجرئت ! وزی هم اوس زمریانوته ښکرورښکاروی؟ ښایی هغه ته داهم معلومه وی چی زمورلښکراوس په شمال اولویدیځ کې په جګړوبوخت دی،دائی وویل اوبیائی زبیرته مخ واړاوه:

تاخوتراوسه په بصره کی چاته داخبرنه دی اوروولی؟

زبیرځواب ورکړ: نه ! زه نیغ تاسوته راغلی یم.

حجاج بن یوسف وویل: دسند له لوری دجګړی داعلان لپاره تردې صریح الفاظ نشته ، خوته پوهیږی چی زموږمجبوری موږته دبل محاذخلاصولواجازه نه راکوی . زه غواړم چې دغه دردناك خبراوس خلك وانه وری ، دوی به جهادته تیاروی که نه خوزماپه ملامتی به صرفه ونکړی.

زبیروویل: ستامطلب دادی چی ته به داهرڅه په چوپتیاوزغمی؟

حجاج ځواب ورکړ: سمدلاسه له چوپتیاپرته له ماسره بله چاره نشته، زه دمکران والی ته لیکم چی دسند راجه ته ورشی ، امکان لری هغه خپلی اشتباه ته متوجه شی اومسلمان یتیمان اوکونډې ورته وسپاری.

زبیروویل: زه تاته په پوره باورروایم چی هغه په خپله اشتباه اعتراف نه کوی ، دابوالحسن دکښتی ورکیدو په اړه هم تادمکران والی هلته وراستولی ؤ خوهغوی ویل چی موږ ترې خبر نه یو، زماباوردی چی دابوالحسن کښتی هم لوټ شویده هغوی هم تراوسه دراجه سره بندیان دی مادمکران له والی سره ولیدل اوراغلم هغه وویل چی په تیرملاقات کې له هغه سره دراجه اوهغه دنوروافسرانوچلن ډیرسپك اوذلت آمیزؤ، ځکه خوهغه بیاراجه ته پخپله ورتګ نه خوښوی. خوهغه ستاسوسره له مشوری پرته خپل اعلی سالارعبیدالله ددیبل حاکم ته وراستولی ؤ اوزه ویریږم چی له احساساتی عبیدالله سره به هم داسی چلندشوی وی لکه له موږسره چی وشوښایی هغه له راجه سره ترملاقات دمخه له څه خطرسره مخامخ شوی وی.

حجاج وویل: بیابه هم دعبیداللهترراستنیدوپوری صبروکړو.

زبیر: که هغه ښه خبرانه وړیا ؟!
حجاج: زه څه نه شم ویلای ، سندیوپراخ ملك دی هلته دلښکرله لیږلونه وړاندی پوره تیاری ته اړتیاده . ددی امکان هم شته چی دترکستان ، افریقا اواندلس له فتحی نه وړاندی امیرالمؤمنین پرسنددیرغل اجازه ونه کړی.
محمد بن قاسم تراوسه چوپ ؤ اوددوی خبری ئی اوریدی هغه دزبیردناامیده کتونه اغیزمن شو ویی ویل: دخلیفه راضی کول زماپرذمه که تاسواجازه راکړی زه به دسباپرځای همدانن دمشق ته روان شم.
حجاج ځواب ورکړ: بچیه ! ته که خلیفه ته دحملی مشوره ورکوی دابه دی ښه مشوره نه وی ستاپه غیرت اوزړورتیاکی شك نشته خوددښمن سنګرونه یوازی په تش تدبیرنه فتحه کیږی ددی هدف لپاره زیات پوځ ته ضرورت دی اوپه عراق ، شام اوبصره کی زموږسره تیارپوځ نشته .
محمد بن قاسم ځواب ورکړ: زه دمسلمانانوله غیرت نه مایوس نه یم ، داسی خبرهغه خلك هم پاروی چی آرام ژونددجهادله جذبی نه محروم کړی دی.
ښایی ته دخپل عمرله خلکونه مایوس وی خوزه له زلمیانونه یم مایوس، هغه ځوانان چی ﷺ تاوخلیفه سره داختلاف پرسرترکستان اوافریقاته دجګړی لپاره تیارنه وو ښایی پرمسلمانویتیمانودسنددراجه دداستان په اوریدوسندته دتګ لپاره تیارشی . په زرګونومسلمانان داسی دی چی دینی جذبه ئی لاژوندی ده ، هغه مسلمانان چی تاسوتری مایوس یی مړه نه دی ویده دی اودقوم دمظلومویتیمانوفریادبه داسرافیل شپیلی شی.
حجاج بن یوسف په ژوروچرتونوکی ډوب شو زبیرموقع مناسبه ولیده اویوسپین دسمال ئی چی د«ناهید»لیك پرې لیکلی ؤله جیبه راویوست هغه ته ئې وړاندی کړاوویی ویل:
دابوالحسن لورستاپه نوم په خپلووینوپولیك رااستولی ، هغې ماته وویل که دحجاج وینې سری وی زمالیك ورکړه که نه نوبیائی ضرورت نشته.
حجاج بن یوسف دسمال واخست اوپه وینولیکلی لیك ئی چی څوکرښی ولوست وریږدیده په سترګوکې ئی لمبی په اوښکوبدلی شوی دسمال ئی محمد بن قاسم ته ورکړاوپخپله ولاړدهندنقشی ته ئی کتل محمد بن قاسم

ليك سرترپايه ولوست ناهيدليکلی وو:

زمـــاباوردی چی دبصـــری والی داســـتـــازی لـه خـــولی دمسلمانوماشومانواوتورسريوحال اوريدلی وی خپل زړورپوځ ته به ئی پراسونودزين ايښودلوامرکړی وی ، خوکه دحجاج بن يوسف وينی سرې شوې وی نو ښايی زمادالیك هم بی اغيزې اوبې گټې وی .

زه دابوالحسن لوريم ، زه اوورورمی تراوسه دوښمن له منگولونه خوندی يو، خوزموږنورملگری دداسی دښمن په زندان کې دي چې په زړه کې ئې درحم اوکرم ځای نشته ، دزندان داسی تياره کوټې په ذهن کی راولی چی دزندانيانوغوږونه داسلام دلښکروداسونودپښودغږاوريدوپه انتظاروی ، دايوه معجزه وه چی زه او وروړمی ددښمن له منگولوژغورل شوی يو خوزموږلټون دوام لری اوښايی موږهم همداسی يوی تياری خونی ته ولیږدوی ، اوداهم امکان لری چی ترزندان دمخه زمازخم مادمرگ په خوب ويده کړی اوددردناك انجام نه وژغورل شم ، خوپه ځنکدن کې به زمادآرمان په زړه پاتی شی چی هغه توندآسونه چی سپاره ئی دافريقااوترکستان پر دروازوولاړدی دخپل قوم دمظلومولونواويتيمانومرستی ته راونه رسيدل، ايادامکنه ده چی هغــــــــه توري چی دروم اوايران دمغروروشاهانوپرسردتندرپرځيرراکوزی شوی دسندمغروړراجه په وړاندی پڅی شی ! زه له مرگه نه ويريږم خوای حجاجه ! که ته ژوندی وی نودخپل غيرتی قوم ديتيمانواوکونډومرستی ته راودانگه !!

«ناهيدديوه غيرتی قوم بی وسه لور»

محمد بن قاسم دسمال ونغښت زبيرته ئی ورکړاوحجاج بن يوسف ته ئی وکتل هغه له شاوخوانه بی پروانقشې ته کتل.

محمد بن قاسم پوښتنه وکړه: تاسوڅه پريکړه وکړه؟

حجاج بن يوسف خنجرراويوست څوکه ئې دسندپه نقشه وربښخه کړه اوويی ويل:

زه دسندپرخلاف دجهاداعلان کوم.

محمده ! ته نن دمشق ته ولاړشه زبيرهم له ځانه سره بوځه داليك هم اميرالمؤمنين ته وروښيه څومره پوځ چی په دمشق کی تيارشو رائې ولئ ، په

بيرته راتگ کې ځنډ مه کوى که اميرالمومنين موافق نه و داولس خلك درسره همرازکړى.زماباوردى چى که داولس رايه مناسبه وگورى اميرالمونين به دسندپرخلاف دجهادپه اعلان کى ځنډونه کړى زه تاته يوه لويه ذمه وارى سپارم اوله دمشق نه تړراتلووروسته ښايى تردې هم لوړه ذمه وارى دروسپارم.زمادليك په وربکارولويه په لاره کې تاسوته تازه دمه اسونه درکړى،اوس ولاړشه دتگ تيارى ونيسه زه به ليك وليکم زبيره ! ته هم تيارېږه.

حجاج بن يوسف لاسونه وپړکول يوحبشى غلام په منډه ورننوت ، حجاج وويل: دى ميلمستون ته بوزه ډوډى ورکړه پاکې جامې ورکړه اودسفرلپاره ئې دوه غوره اسونه تيارکړه.

# له بصری نه تر دمشقه

له څوورځومزله وروسته محمد بن قاسم اوزبیریوسهاردمشق ته څومیله نژدې دیوه وړوکی کلی نه بهریوی پوځی تانې ته ورسیدل محمد بن قاسم دتانی افسرته دحجاج بن یوسف لیك ورکړاودتازه دمه اسونواوډوډی راوړوامرئی ورته و کړ.

افسرورته وویل ډوډی تیاره ده خواسونه به نن تیارنه شی ، له موږسره یوازی پنځه اسونه دی.

محمد بن قاسم ورته وویل: زموږیوازی دوه اسونه په کاردی.

افسر: په دغواسونودامیرالمومنین وروړسلیمان بن عبدالملك اودهغه ملگری دمشق ته روان دی سباته دجنگی فنونوننداره ده نن مابنام بایددوی څانونه ورسوی زه نه دبصری دوالی له حکم نه سرغړونه کولی شم اونه دخلیفه وروړناراضه کولی شم تاسوپوهیږی چی هغه ډیرسخت طبیعت خاونددی.

محمد : هغه چیرته دی؟

افسر: هغوی دننه استراحت کوی، په غالب گومان به له ماسپښین وروسته روانیږی که ستاسوکارډیرضروری وی له هغه نه اجازه وغواړی ترماسپښین پوری به ددوی دخپلواسونو دمه جوړه شی هسې هم لوی مزل په مخکې نه لری تاسوډوډی وخوری بیاتری وږوښتی زه پخپله ستاسوپه مخکې نه دریږم اسونه بوځی خوزمابه حساب برابرکری.

زبیراومحمدبن قاسم دیوې ونې لاندې کیناستل اوډوډی ئې وخوړه

اومحمد دننه تلوپه تکل اوچت شو ، خوزبیرووویل: آباداضروری ده چی دسلیمان نه اجازه واخلو. دغه اسونه یوازی دپوځی ضروت لپاره دلته ساتل شوی ، اوسلیمان دسیل اوتفریح لپاره دمشق ته ځی ، هغه دپوځی ضرورتونوپه وړاندی دخندکیدوحق نه لري.

اسونه په طبیله کی دی اوسلیمان ترماسپښین پوري استراحت کوی بیابه تربنه ځنده آینه مخې ته کیږدی اودخدمتګارانونه به دخپل ښایست صفتونه اوری وروسته به دخپلوشعرونوپه بدل کی آفرینونه اوری بیابه دنیزه بازی او توری چلولوستاینی اوری بیابه ښایی ماښام سپاهیانوته امروکری چی له اسونوزینونه لری کړی سهارته به ځو.

محمد بن قاسم وخندل وئی ویل: ته لکه چی دسلیمان بن عبدالملك په باب زیات معلومات لری.

زبیر: هوکې ! زه هغه پیژنم ، په اسلامی نړۍ کې ښایی له هغه نه زیات پرځان مین اومغرورسړی نه وی ، ځکه خوزه وایم چی له هغه نه مې دکوم به ځواب تمه نشته.

محمد بن قاسم ځواب ورکړ: زه یوازی په دی اندیښنه کې یم چې زموږله تلووروسته به دتانې پهره داران اوافسرپه جنجال کې کیوزی ځکه خوله هغه نه په پوښتنه کی څه تاوان نشته.

زبیر: ستاخوښه ! سهی ده ته ورشه ترهغی به زه له طبیلی نه دوه اسونه زین راوباسم.

محمد بن قاسم دروازه خلاصه کړه اودننه ئی وروکتل سلیمان له خپلوملګروسره دیوال ته ډډه وهلی وه ، دووخدمتګارانوئی پښی چاپی کولی ، محمد بن قاسم السلام علیکم وویل اوکوتی ته ورننوت ، سلیمان په بی پروائی دسلام ځواب ورکړاووئی ویل:

څوك ئی ، څه غواری؟

محمدبن قاسم دهغه دتوندې لهجی پرواونه کړه وئی ویل: بخښنه غواړم ! زه ستاسوداستراحت مزاحم شوم، ماتاسوته یوازی داویل غوښتل چی دمشق ته یوضروری پیغام رسوم.

سلیمان وویل: ولاړشه ، ته چاایسارکری یی ؟ دسلیمان ملګرودهغه په

دې خبره په کړس کړس وخندل خومحمد بن قاسم خپله سنجيدگي وساتله وئې ويل: زموږ اسونه ستوماته شوي دي اوزه له دې چوکۍ نه دوه تازه دم اسونه بيايم ، ددې لپاره ماته له تاسو نه داجازې ضرورت نشته خوستاسو سره ليدل مې پردې ضروري وبلل چې هسې دچوکۍ پهره داران ونه څوروې اوهغوی ته بد ونه وائي.

سليمان لږ اسنبال شوکيناست اووئې ويل: که ستاسو اسونه ستومانه وي نوپلي تلای شې.

محمد بن قاسم ځواب ورکړ: يوه سپاهي ته پلي تګ شرم نه دی خوزه اوس ډيرپه بيړه دمشق ته ځان رسول غواړم.

سليمان : ښه ! ته سپاهي يې ، په تيکي کې دې توره داوسپنې ده که دلرګي ؟ دسليمان ملګروپه دې خبره بياپه کړس کړس وخندل محمد بن قاسم بياپه ډاډځواب ورکړ: که په متهوکي زوروي له لرګي نه هم داوسپنې کاراخستل کيدای شي ، خوزه تاته ډاډدرکوم چې زماپه تيکي کې توره هم داوسپنې ده اوپه خپلومتهومې هم بروسه ده.

سليمان يوه ملګري ته وکتل وئې ويل: صالحه ! دغه هلك په خبروکې هوښياربښکاري ته ورجګ شه زه ئې لږسپاهيانه کمال ليدل غواړم .

يوغنم رنګې دځواکمنومتهوخاوندا وچت شو ، توره ئې وکښله اودمحمدپه لوروړو وروړاندې شو.

محمد بن قاسم وويل: زه دلاروپه وړاندې دسپاهيانه کمالاتوپه ښکارولوعادي نه يم ، نه دومره وخت لرم ، که مې فرصت درلودای هم زه دکرايي توکمارو سره دزړه خواله ديوه سپاهي له شان سره توهين اوشرم بولم.

محمد بن قاسم داوويل اوبهرته راووت خوصالح ئې مخې ته ودريداوپه توره ئې دهغه لاره بنده کره وئې ويل: احمقه ! که ستاعمردرې څلورکاله نورلوړوای بيابه مادرښوولې ووچې کرايي توکماران څه ډول دي.

مخامخ زبيرپه يوه اس سپوروداوديل ئې جلب په لاس کې وسليمان بهرته راووت اووئې ويل: داپريږده ، بيچاره خدای خبردی توره له کومه کړې اوراوړې يې ده ، بيائې زبيرته وکتل وئې ويل: هغه څوك دی راوئې ګرځوې.

صالح زبيرته پام واړاوه دسترگوپه رپ کې محمد بن قاسم توره وکښله اووئی ويل:داسی ښکاری چی دجاهليت دوخت عرب اوس هم شته خو دا واوره چی ته موږنه شی ايسارولی.

صالح دتوری څوکه دهغه دسينې په لوروراوږده کړه اوچيغه ئی وکړه: که دی له خولی يولفظ بل ووت نوزمـاتوره به په وينوکی له رنگيـدوپرته ......

خودهغه دخبرئ له بشپړيدووړاندی دمحمدبن قاسم توره په هواکی وځرخيده اوبياد دووتوروډتکرشرنگاشوه.

دسترگوپه رپ کې دصالح توره له لاسه ووته اولس گامه وړاندی ولويده هغه اونوروملگروئی په حيرت اوتعجب محمد بن قاسم ته کتل.

سليمان دخپل ملگری په بی وسی په زوره زوره وخندل خومحمدبن قاسم چی په آس پښه واړوله خندائې په ستونی کې بنده شوه اوپه غرهارئی وويل: ودريږه !

محمدبن قاسم دآس قيضه راکش کړه اوورته وئې ويل:

ستاملگری په توره چلولونه پوهيږی خوزږوردي زمامشوره داده چی ددمشق له ننداري نه وړاندی ئې کوم تکړه توره وهونکی ته وسپاره دائی وويل اوبيائی اس ته غبرگې لغتې ورکړی،دسترگوپه رپ کی دواړه دځنگل په ونوکی ترسترگوپناه شول.

صالح په غوسه شونډي وچيچلې دطبيلی په لورئې منده کړه سليمان وويل: بس اوس ئی پريږده ته دهغـوی هيڅ نشی کـولی يوزلمی هلك زموږتولوخولې ماتې کړې اولاړ.

په لاره کی محمد بن قاسم ته زبيرووويل: ودي ليدشهزاده سليمان ! زه به داهم درته ووايم چی هغه دخلافت اميدوارهم دی.

محمد بن قاسم وويل: خدای يی دی مسلمانان له شره ساتی .

زبيرووويل: محمده ! مانن دلومړی ځل لپاره ستاپه څيره کی جلال وليد، دتوری ايستلوپه وخت کی تـه له خپل عمرنه ډيرلوی ښکاريدی اوته پوهيږی هغه سړی چی تامات کړځوك ؤ ؟ هغه صالح ؤ ، نژدې يونيم کال وړاندی هغه ما په کوفه کی ليدلی ؤ هغه په تيغ وهلوکی پرځان وياړکاوه خونن خپل

غرورپه ځمکه راپرې یوست.

*****

(۲)

ددمشق د جامع جومات په مخه کې زبیراومحمدبن قاسم دخلافت مانۍ ته ننوتل دخلیفه ولیدساتونکوددوی دورتگ خبرخلیفه ته ورکړاوبیائې دواړه دننه وروغوښتل ولیدبن عبدالملك دواړوته په ځیرځیروکتل اووئې ویل:

په تاسودواړوکې محمدبن قاسم کوم یودی؟

محمد: زه یم!

ددربارحاضرینوچې زبیرته کتل په حیرت ئې محمدبن قاسم ته پام شو، اوبیائې په چوپتیایوبل ته کتل ددوی چوپوکتلویوله بله پسپسکې کولې، دحجاج بن یوسف له پخوانې لیك څخه ولیدته څرگنده شوې وه چې محمد بن قاسم تنکی ځوان دی خوپردې برسیره درباریانوزبیردحجاج بن یوسف ورارہ باله دوی دانه منله چې شپاړس، اوولس کلن زلمی به دقتیبه دضربتي گروپ قوماندان وي.

دسترگوپراشاروبرسیره ددرباریانوژبې هم وخوځیدې اوولیدناڅاپه احساس کړه چې ددوی دکورنی دترتولولوی محسن حجاج بن یوسف په اړه څه وائي، له کرسۍ نه جگ شو زبیر او محمدبن قاسم ته ئې لاس ورکړل اوهغوی ئې له ځانه سره نژدې کینول وئې ویل:

دهغه مجاهدپه باب چې حجاج بن یوسف غوندې هوښیاراوقتیبه غوندې سالاراوچته رایه لرې یقیناًماته ددرناوې وړدی بیا یې محمدبن قاسم مخاطب کړوئې پوښتل: دی ستامشرورودی؟

محمد: نه امیرالمؤمنینه! دازبیردی.

ولیدزبیرته په ځیروکتل وئې ویل: مابنایې پخواهم ته لیدلی یې.

بنایې ته دسراندیپ له استازې سره تللی وې ته څه وخت راغلې ماشومان چیرته دي؟

دخلیفه په ځیر د دربارډنوروحاضرینوپام هم زبیرته شو ځینوهغه وپیژاند، دزبیرتذبذب ئې چې ولیدمحمد بن قاسم خلیفه ته دحجاج بن یوسف لیك

ورکړوئی ویل: امیرالمؤمنینه! ده یوضروری پیغام راوړی دی تاسوئی وګوری! ! ولیدلیك پرانست اووئی لوست اوله لږسوچ وروسته ئی ددربارحاضرین مخاطب کړل وئی ویل: دسندراجه زموږکښتئی لوټ کړی دی ، له سراندیپ نه راغلی کونډی اویتیمان ئی بندیان کړی دی زبیره ! ته خپله تولہ کیسه وکړه!

زبیرله پیله ترپایه خپل داستان واوراوه ، خوپه دربارکې ئې دجوش اوجذبې پرځای چی دمایوسی آثارولیدل غږئی غلی شو ، بیایی له جیب نه دسمال راویوست خلیفه ته ئې ورآندی کړوئې ویل: دابوالحسن لوردغه لیك دبصری دوالی په نوم رااستولی ؤ.

دحجاج بن یوسف په خیرولیدهم دلیك په لوستلوزیات خفه شوددربارپانودپاره ئی دوهم ځل په لوړآوازدلوستلوهڅه وکړه خودخوفقروله لوستلووروسته ئی غږ خپ شو، بیائی لیك دمحمدبن قاسم په لاس کی ورکړوئې ویل: ته ئې ورته واوروه!

محمد بن قاسم لیك ولوست دمجلس رنګ بدل شوی ؤدزیاتوحاضرینوخیری داسی وی لکه دجذباتوتوپان چی دعقل مصلحتونه لاندې کړی وی خوچی ولیدنی چوپ لیده دتولوژبی ګونګی وی دبناریوډاقاضی تردیره چوپتیاونه زغمله وئی ویل: امیرالمؤمنینه ! اوس ته دکومی خبری انتظارکوی؟

دادسوچ وخت نه دی اوبه ترسراوښتی.

ولیدوپوښتل: ستارایه څه ده ؟

قاضی ځواب ورکړ: امیرالمومنینه! دفرض په معامله کی له رایی کار نه اخستل کیږی له رایی نه هغه وخت کاراخستلی شی چی په مخ کی دوی لاری وی خوزموږپه مخکی اوس یوازی یوه لاره ده.

ولیدوویل: زه ستاسوتولورایه غوارم.

یوه منصبد اروویل: موږیوهم په شاتګ نه یو روږدی.

ولیدوویل: خوزموږسره پوځونه نشته ، دموسی پیغام راغلی چی هغه په اندلس حمله کول غواړی له بله پلوه په ترکستان کی قتیبه دعراق تول لښکرلږګنی موږدنوی جبهی لپاره یابایددی دووحاذونونه یوکمزوری

کړواویاترڅه وخته انتظارو کړو.

قاضي ځواب ورکړ: یاامیرالمؤمنینه! ددی لیك په اوریدوپه موږ کی ښایی داسی څوك نه وی چی دانتظارمشوره درکړی ، کـه تاسوخبـره اولس ته وړاندی کړی زماباوردی چی له ترکستان اوافریقانه دپوځ راغوښتلوضرورت نه پاتی کیږی.

ولیـد: کـه تـه جـهـادتـه داولس دتیـارولوذمـه واری اخلی زه تیـاریم چی همدااوس دجهاداعلان وکړم.

قاضي دوه زړی شوخپلوملګروته ئی وکتل.

ولیـد: زه له اولس نه مـایوس نه یم زمـایوازی له مـخورونه شکایت دی هغوی ځان خوښی اومطلبی شوی دی.

تاسوپوهیږی چی کله موسی بن نصیرپه افریقاکی پرمختګ وکړدلوړی طبقی ډیروخلکوزموږمـخالفت وکړکله چی قتیبه په «مرو» حمله وکړه نوزماورورسلیمان مخالفت کاوه.

دازمـوږله بدمرغی وه چی په مـخوره طبـقـه کی چی څوك مـخلص دی هغوی تنبل اوسست دی په کورکې ناست دی اوداسلام دغلبې لپاره یوازې دعاګانی کافی بولی.

که تاسوټول اولس ته ورشی په څورځوکې به داسی پوځ تیارشی چې نه یوازی دسند بلکی دټولی نړیدفتحی لپـاره به کـافی وی خـوبده مـه منی تاسوترلږځنده تراحساساتولاندی راغلی یاست تریودووورځوپوری به اولس تـه اویامخوروته ددغه داستان په اورولویودول لذت احساس کوی دسنددظالم راجه ظلمونه به یدیادوی، وروستـه بـه بیـادنیـااو عـقـبادبنی اسرائیلوپه څیرخدای ته سپاری اوکراربه کښینی.

خوکه تاسوهمت وکړی زه ډاډدرکوم چی عام مسلمانان تراوسه ژوندی وی

که تاسوداشرافودتفریحی مجلسونوپرځای کورپه کورپه اولس وګرځی نودسنددزندان هغـه اسیـران بـه چی غـوږونه ئی په دیوالونوایښی دی ډیرززمـوږداسـونودپښـوغـږواوری اوخـدای دی هغـه پیـغلی تـه ژونداوروغتیاورپه برخه کړی، هغه به ووینی چی تراوسه پوری زموږتوري نه

دی پخې شوی.

محمدبن قاسم وویل: امیرالمؤمنینه ! که ستااجازه وی زه دی ذ مه واری ته تیاریم.

ولیدوویل: تاته زمااجازی ضرورت نشته.

دمحمدبن قاسم نه وروسته ددربارهرمنصبدارځانګړی ځانګړی ولیدته ډاډورکړچی نوی پوځ به تولوی اوبیادرباررخصت شو.

دماسختن له لمانځه وروسته محمد بن قاسم اوزبیرپوله بل سره ګړیدل یواستازی ورغی اوورته یی ویل: چی محمدبن قاسم امیرالمومنین غواړی محمدله سپاهی سره روان شواوزبیرترلږځنډه دهغه په انتظارپه یوه اوږل اړخ واوښت خوبیا ورو ورو دخیالونوبښکلی بڼ ته ورننوت له دمشق نه ډیرلرې هغه دسندپه ښارونوکی دناهیدپه لټه کې سرګردان ؤ دکلاګانوبرجو نه اودزندانونوپنجرې ئې ماتولی دزندانیانواوسپنیزې زولنې ئې ماتولې دناهیددتورواوځلیدونکوسترګواوښکی ئې پاکولی اوویل ئې : ناهیدی ! زه راغلم ته نوره آزاده ئې ستازخم ځنګه دی؟وګوره دبرهمن آبادپه کلازمونږبیرغونه رپیږی.

ناهیدوویل: زبیره! زه روغه یم خوته ډیروځنډیدې زه مایوسه شوی وم دخوبواوزړه ورونکوخیالونو لړۍ ئې چی وشلیږی ګوری چی دډیری بی وسی په حالت کی لاس اوپښې زولنی ولاړدی دراجه څوسپاهیان توره ایستلی تری چاپیردی اونورویی ناهیدله متونیولی وی اوزندان ته ئې بیایی.

هغه په هیله منوسترګوده ته ترشاراګوری ناهیدچی په زندان ننوزی دروازه پوری شی زبیرلاس اوپښی وهی اوبالاخره خپلی زولنې وشکوی سپاهیان په یوه اوبله خواوغورځوی اودزندان دروازې ته ځان رسوی دروازه په زوره زوره وهي اودناهید، ناهید!!

چیغوسره چی سترګی وغړوی مخامخ محمدبن قاسم ورته دریدلی دی اوزبیرېرته سترګې پټې کړی.

محمد بن قاسم هغه دخوب په حالت کی ولیدچی لاس اوپښی ئې غورځول اودناهید،ناهیدچیغی ئې وهلی خوله هغه سره ئې په دې اړه څه ویل مناسب نه بلل اوچوپ په خپله بستره کیناست زبیربیاسترګی وغړولی اوورئی ویل: ته

راغلى؟

هغه ځواب ورکړ: هوراغلم بيائى له لږسوچ وروسته ورته وويل:

ته په توره چلولواونيزه بازى کې ښنګه يې؟

زبيرځواب ورکړ: زماپه وړوکتوب کى دلوبولپاره لينده خوښه وه خوچى په اسونودسپريدوشوم نوله نيزى پرته مى له نورشى سره مينه نه وه دتورى په باب خوله عرب نه داپوښتنه کول چى ته ئې چلولى شى که نه اصلاًدهغه په عربى توب له شك سره برابردى.

تاسوباوروکړى چى زماتربيه اوروزنه هم ستاپه شان شوى محمدبن قاسم ورته وويل: سبازمااوستاازمويښت دى.

اميرالمومنين زه دهمدى په خاطروربللى وم دهغه هيله ده چى سباته دواړه دجنګى مهارتونوپه ننداره کى ګډون وکړو.

که موږپه دى مهارتونوکى بريالى شوودمشق په خلکوبه ښه اثروکړى اوموږته به دجهاددتبليغ زمينه برابره شى داميرالمؤمنين هيله ده چى موږله سليمان اودهغه له اندېوالانوسره مقابله وکړو.

زبيروويل: داميرالمؤمنين اټکل درست دى خداى موږته ښه موکه په لاس راکړى خودسليمان اوصالح په باب څه غلطه اندازه مه لګوه په لاره کى دهغه ماتول هسى تصادفى خبره وه هغوى دواړه په نيزه بازى کې سارى نه لرى خوبياهم زه تيارېم.

محمد بن قاسم وويل: زموږمقصدخپل عزت اولوړوالى نه دى موږديوه سپيڅلى هدف په خاطرپه دې ننداره کې برخه اخلوخداى به خامخازموږمرستندوى وى اميرالمومنين وويل چى خپل ترتولوغوره اسونه به راکوى.

*****

(۳)

سليمان بن عبدالملك ديوى سترى آيينى په مخکى ودريدپرسرئى خول کيښودزغره ئى واغوسته خپلوملګروته ئى وکتل اووئى ويل:

ښنګه صالحه ! زه په عاموجاموکى ښه ښکارم که په پوځى جاموکى ؟

صالح ځواب ورکړ: خداى تاته داسى ښه درکړى چې په هرلباس کى ښه

ښکاری.
سلیمان آینی ته وکتل وئی موسکل اوبیائی له لږسوچ وروسته وویل: ماته دهغه هلك په ځوانی غبطه راغله هغه به ننداری ته خامخاراشی که تاسوچاولید ماته ئی راولی ، هغه یوتنکی سپاهی دی زه ئی له ځانه سره ساتم.
صالح داسی احساس کړه چی سلیمان ئی ترخوړگوته نیسی وئی ویل:
ته ما زیات مه شرموه ، هغه وخت ماتوره کلکه نه وه نیولی اودامی په خیال کی نه تیریده چه هغه به زماله بی پروائی نه گټه واخلی.
سلیمان وویل: خپل مخالف کمزوری گڼل دهرسپاهی دماتی دلیل دی ،خیرداستالپاره ښه سبق ؤ ، ښه اوس ووایه چی نن به زموږمقابلی ته څوك راځی که نه ؟
صالح ځواب ورکړ: زماداټمه نشته چی څوك به دې سیالی ته دراوتوجرئت وکړی،تیرکال ټولونومیالیوسپاهیانوستاپه کمال اومهارت اعتراف کړی.
سلیمان : خوامیرالمؤمنین له مانه خوښ نه و.
صالح : دهغه یوازینی دلیل دادی چی ستاشهرت اونوم په هغه ښه نه لگیږی ځکه ته یی وروروئی اودده دزوی دراتلونکی لپاره خطریاست.
خودخلکوپه زړونوکې چې تاسوکوم ځای پیداکړی هغه دنورولپاره ممکن نه دی.
سلیمان وویل: زماپه مخکی ترټولوسترخندحجاج بن یوسف دی هغه پرعراق دخپل اقتدارددوام لپاره غواړی چې زماله وروړنه وروسته زماوراره دخلافت په منصب کښینی.
صالح وویل: خدای دې زمادوروړقاتل خوارکړی زماباوردی چی دهغه داآرزوبه بلکل پوره نه شی ، دخلکودتاثیرلاندې راوستلولپاره چې کومی ښیگړی په تاکی دی هغه نه ستاپه وروړکې شته اونه په بل چاکې ، تاپروسږکال دجنگی مهارتونوپه ډگرخپل کمال وښوداوخپله لاره دی صافه کړه ، عام اولس به دخلافت په معامله کی ستاحق تلفی ښه ونه گڼی.
یوغلام راغی ئی ویل اسونه تیاردی صالح وویل:
ی ځونداره پیلیدونکی ده.

# سپاهی اوشهزاده

دعربودجاهلیت په زمانه کې هم غشی ویشتل ، نیزه بازی اوتوره چلول ددوی دژوندترټولوغوره فرض بلل کیده، دسرداری، عزت اوشهرت ترټولوسترمعیارهمداو‌ُدستارایانوپه وړاندې ترټولوښه شاعرهماغه ؤچی دغشوشنهاراودتوروشرنګارئی ښه تصویرولی شوای ، اودکومی غرنی پیغلی دکړسندی خنداپرځای به دیوه تیزآس دپښوترپهارزیاته اغیزه پرې کوله .

اوله لری نه به دخپل محبوب ډولی اوپه ګردونوکی پټ سپوریوشان اثرپری کاوه.

اسلام دعربودغه ځانګړی زړورتیادپاکانوپه یوه لوی څواك بدله کړه، دروم اوایران په جګړوکی دعربودجنګ مهارتونه راپاخه اوسیقل شول، دسترخالد(رض)په وخت کی دجګړی دصفونوترړلواونقل اوحرکت په طریقوکی زیات بدلونونه راغلل په عربوکی دزغرواغوستلورواج له پخوانه موجوډؤ خودروم په جګړوکی زغرې اوخولونه دپوځی جامی مهم اجزاوبلل شول ، دکلابندیواوډدومحاصروپه دوران کې دداسی آلی ضرورت احساس شوچې دیوالونه اودروازی ماتې کړی اودهمدی ضرورت په اساس منجنیق جوړشو.

دادلرګی یوه آله وه چی لویی لویی ډبرې به لرې پرې غورځول کیدای شوای، پردی به یرغل کوونکوپوځونودغشوله دم نه لری پرکلاکانی اورولی شوای ددی آلی خیال له لیندی نه اخستل شوی ؤ خوپه څوکالونوکی ډیره مهمه جنګی وسله شوه.

په عربوکی دجګړی بله مهمه وسله دبابه وه داله لرګیونه جوړه یوه وړوکی کوټه وه چی لاندې به ئې عرابې ورته جوړې کړې څوتنه سپاهیان به پکی کیناستل اوڅونوروبه هغه په ډیکه دښارپه برج وروښلوله ، بیابه پلی سپاهیان په زینه په همدی کوټه وروختل او د کلاپه دیوالونوبه ورواوښتل.

په اواروډګرونوکی عربوپه لومړی وخت کې توري زیاتې خوښولی خودزغرواغوستوله رواج سره ورو ورو په دوی کی دنیزی ارځښت زیات شواوپه څوکالوکی دتورې اولیندی په ځیرنیزه هم په عربوکې معموله شوه، په شـــام کی دروم ســـره دنژدې والی په وجـــه نیـــزه بازی ترتوره چلولواوخنجروهلوزیات رواج شول.

عربی آسونه اوسپاره په نړۍ کی مشهوروو، همدغسی هغوی په نیزه بازی کی هم په ګاونډیوښه واړوله.

*****

(۲)

ددمشق نه بهرپه یوه پراخ میدان کی هره ورځ دنیزه بازی لوبی کیدی په دغه لوبه کی دپخوانی یونان په ډول لوبی ډیرې مقبولې وې.

همت ازمویونکی سپـاره به یودبل په مـقابل کی ودریدل زغرې به یی اغوستی اوخولونه به ئی پرسرووخودخطرنه دبچ کیدولپاره به داصلی نیزی پرځای داسی نیزې وې چې څوکی به یی داوسپنوپرځای دلرګی اوپخی وی.

ریفــــری به په منځ کی بیـــــرغ په لاس ولاړؤاوپه یوه اشـــــاره به دواړوسپرویودبل په لوراسونه وروزغلول هغه سپوربه چی دخپل حریف له وارنه ځان وژغوره اوپه هغه به ئی ګوزاروکړدلوبی ګټونکی ؤ، ماته خوړلی سپوربه دپخې نیزې په ګوزارله آس نه راوغورځیداودنندارچیانودملنډوبه شو.

په دی کـــال ددی لوبودننداری لپــــاره له ډیرلرې لرې ځـــای نه خلك راغونډشوی وو دپراخ میدان شلوروواړولوریوته په زرګونونندارچیان راټول وو ولیدبن عبدالملك په یوه کرسۍ ناست ؤ دهغه ښی اوکینی خواته دخلافت ددربارلوی لوی منصبداران ناست وو ، بل لوری ته دننداچیانوپه کتارکی سلیمان بن عبدالملك له خپلوڅوعقیدت مندانوسره ناست ؤ.

ننداره پیل شوه دوسلوجوړولوماهرانونوی نوی منجنیقونه اودښایی وښودلي او انعامونه اوآفرینونه ئی وګټل.

غشوویشتونکواونیزه بازانوخپل خپل کمالات وښودل اوله نندارچیانونه ئی دادحاصل کړ.

دسلیمان درې ملګروپه غشوویشتلوکی برخه واخسته اویوئی دوهم لمبرښه غشی ویشتونکی وبلل شو، دهغه بل ملګری صالح په توره وهلوکې یوپربل پسی پنځه تنه مات کړل ، هغه په دی انتظارکی ؤ چی امیرالمومنین ئی وروغواړی اوله ځان سره ئې نژدې په کرسی کیښینوی خوناڅاپه یوځوان دګرته راووت اوهغه ته ئې دمقابلې چیلنج ورکړله یوی اوږدې سیالی وروروسته ئې دهغه له لاسه توره وغورځوله .

دغه ځوان زبیرؤ، نندارچیان یوتریله وړاندی کیدل اوصالح ته د ماته ورکونکی ځوان لیدوته ئې تلوسه زیاتیده هغه ته دمسافحی لپاره لاسونه وراوږدیدل اوپه خلکوکی شوراواحساسات زیاتیده صالح له غوسې اوخجالت نه خپلې شوندې ژوولی.

ولیداوچت شووړاندی شوزبیرته ئی لاس ورکړل بیائې مبارکي ورکړه بیائی صالح ته وکتل ویی ویل: صالحه ! ته که په غوسه شوی نه وای ښایی نه وای مات شوی په هرصورت ددی ځوان په ځیرتاهم دانعام حقداربولم.

په پای کی دنیزه بازی لوبه پیل شوه له ځوسیالیوورروسته اته تکړه نیزه بازان وټاکل شول اودلوبوورروستی پړاوپیل شوځومره چی دسیالی کوونکوشمیرکمیده هومره په خلکوکی جوش اوشورماشورزیاتیدوبالاخره یوی خواته یواویلی ته دوه تنه پاتی شول ، سپاره خول له سره لرې کړاوپه جوش اوخروش خلکومبارکی ورکړه دغه ځوان یویونانی نوی مسلمان ؤ چی ایوب نومیده ایوب په میدان کی څلوروخواوته راوګرځیداوخپله نیزه ئی فاتحانه پورته کړی وه هغه له یوی بشپړی دوری وروسته بیرته دډګرپه منځ کی ودرید.

یوه منادی غږوکړ: څوک شته چی له دی ځوان سره مقابلې ته تیاروي؟

دنندارچیانوسترګې سلیمان بن عبدالملك ته ورواوښتی سلیمان خول پرسرکړاویوه حبشی غلام ته ئې اشاره وکړه .

غلام چې يوښكلي مشكي اس ترقيضه نيولي ؤ راوړاندی شو سليمان پر اس سپورشو ، دلړپه وړانګوكي دسليمان زغره وځليده اودملايم شمال په څپوكي ئې دخول پرسردوېښتوتارونه په يوه اوبله خوااوښتل.

سليمان اوايوب يودبل په مقابل كې په ميدان ودريدل اوننداركچيان چوپ دريغرى دبيرغ داوچتيدوپه انتظارشول ريفري په بيرغ اشاره وركړه اوله ميدان نه ووت دتوپان په څيرتيزاسونه يودبل په لوربه زغاسته شول سپاره چې يوبل ته نژدې شول دځان ساتلواوپه حريف دګوزارپه تكل شول سليمان له مقابلې نه وړاندی دايوب دضربې نه دځان ساتلولارې سنجولې وې، ځكه خودايوب ګـوزارتش ولاړ، اودسليـمان نيـزې دهغـه په خـول يوغټ نښان پريښوداوتيرشوريفري دسليمان دفتحې اعلان وكړ ، وليدجګ شووروړته ئې مباركې وركړه اوايوب ته ئې هم شاباش وويل:

سليـــمان خــول لرې كــړه په مــيــدان كې ئې چكرووهه اوله دورې بشپړيدووروسته دمعمول په شان په منځ كې ودريد.

منادي درې ځله غږوكړ: څوك شته چې دسليمان بن عبدالملك دمقابلې همت ورسره وي؟ خودخلكوباورشوی ؤچې نورلوبه پای ته رسيدلې اودوی داميرالمؤمنين داوچتيدوپه انتظاررو خوناڅاپه ټول دحيرت په سيندلاهوشول كله ئې چې وليدل چې په يوه سپين اس سپورنيزه په لاس كې مقابلې ته راووت هغه ته ننداركچيان په دې حيران نه ووچې دسليمان مقابلې ته څوك راووتل بلكې پردې حيران ووچې ناپيژندوی سپورزغره نه وه اغوستې هغه تورې جامې اغوستې وې اودخـول پرځـای ئې پرسـرسپينه لونګې وه له سترګوپرته ئې نورمخ په توره پرده پوښلې ؤ.

له زغرې پرته په داسې مقابلوكې يوازې داسې چابرخه اخسته چې دحريف په كـمزوری اوناتوانۍ به ئې پوره باوروؤخوسليـمان دنن ورځې دلوبواتل ؤ اوخلكودهغه په مقابل كې بې زغرې حريف دزړه وړپرځای دماغې بيماربااله.

له وليداوزبيرپرته څوك نه پوهيدل چې دغه سپورڅوك دی.

دهغه په جرئت وليدهم پريشانه ؤ وروئې دزبيرپه غوږكې وويل:

دامحمد بن قاسم دی كه بل څوك؟

زبيرځواب وركړ: اميرالمؤمنينه ! پخپله دی دی .

ولیدوویل: دی سلیمان څه بولی ؟ که دهغه پوښتی داوسپنی نه دی نودلرګی نیزه به یی هم بوته ترسینه وخیژی ته ورشه هغه لرپوهوه.

زبیرځواب ورکړ: امیرالمؤمنینه ! ماهغه ډیروپوهاوه هغه پخپله هم دغه خطر حس کاوه خودی وائی چی په دی ډول که هغه لوبه ګټی په ځوانانوبه ئی اثربنه وی.اوهغوی ته به دسند حالات بیان کړواوجهادته به ئی آماده کړای شو،هغه وائی چی له زغرې پرته سری چست هم وی.

دزبیرځواب ولیدډاډه نکړای شو،پخپله اوچت شواودمحمد بن قاسم په لوری ورغی نندارچیان هم زیات پریشانه ښکاریدل محمدبن قاسم سلیمان ته کتل ولیدورنژدې شواوغړئی پرې وکړیچیه: زه ستاپه زړورتیااعتراف کوم،خودازړورتوب نه دی ناپوهی ده ته له خول اوزغرې پرته دعربودغوره نیزه بازمقابلی ته وروتلی یی اوکه هغه دادځان توهین وباله زه ویریږم چی ته به بیاپه اس دسپریدوتوان ونه لری.

محمد بن قاسم ځواب ورکړ: امیرالمؤمنینه! خدای پوهیږی چی زمادخپل شجاعت ننداره مطلب نه ده زه داخطرډیره نیك اوسپیڅلی هدف په خاطرقبلوم،اودادومره لوی خطرهم نه دی زماپه نظرپه زغره اغوستلوسپورچست اوچالاك نه وی.

ولید: که ستاچستی ستاپښتی ونه ساتلای شی بیابه څه کیږی؟

محمد: بیابه زماهیڅ ارمان نه وی زه له خپلوپښتیونه دهغه مجلی په چرت کی زیات یم چی ددښمن غشی ئی په سینه ناسورتپ جوړکړی، که خدای دهغی دمرستی اراده کړی وی زماباوردی چی مابه نن ددمشق دخلکوپه وړاندی دخلکودملنډونه ساتی اوداامکان لری چی زه دلوبی له ګټلووروسته دهغی پیغام همدلته خلکوته واوروم.په ځانګړی تبلیغ چی په میاشتوکی کوم کارکولی شو هغه به په یوه ځای شوی وی.

تاسوماته اجازه راکړی اودعاراته وکړی چی الله تعالی می مرستندوی شی.

ولیدوویل: لږ ترلږه خودی پرسرباید خول ایښی وای.

محمد: بده مه ګڼه کوم سپورچی پرسرګوزاراخلی دهغه په باب چندان ښه نظرخوك نشی ورکولی زمالپاره همدالونګی کافی ده.

ولیدوویل: زویه ! که تانن له سلیمان نه میدان یووړنوانشاالله پرسندیرغل کوونکی لبنکربیرغ به ستاپه لاس کې وی.

ولیدبیرته راوګرځیدریفری ته ئی څه وویل اوبیاپه خپله کرسۍ کیناست.

بل لوری ته دسلیمان په شاوخواځونندارچیان راټول وو صالح وروړاندی شو سلیمان ته ئی وویل: امیرالمؤمنین ستاماتول غواړی له هوښیاری نه کارواخله.

سلیمان وویل: دغه سرتیری څوك دی؟

صالح : ماته نه دی معلوم خوپردی می باوردی چی بیابه په آس دسپریدونه وی.

ریفری چیغه کړه: حاضرینو!اوس به دسلیمان بن عبدالملك اومحمد بن قاسم سیالی وی.

دتوروجامودزلمی عمرله اوولس کاله نه لړدی.

پردی خبره نندارچیان نورهم حیران شول او پرځوان ئی سترګی ښخی شوی، ریفری بیرغ ورپاوه اونیزه بازان په ډیره توندی له یوبل نه تیرشول،نندارچیانو له احساساتو ډکی چیغی پورته کړی.

تنکیوځوانانوترډیره وخته دمحمد بن قاسم په ملاترچیغی وهلی دپاخه عمرخاوندانوبیاویل چی دغه هلك ډیرچست اوچابك دی خودسلیمان غوندی پهلوان دسیالی نه دی په لومړی ځل سلیمان له هغه سره قصداًمراعات وکړخوکه له دوهم ګوزارنه هم بچ شودابه معجزه وی چیرته اوولس کلن هلك اوچیرته سلیمان غوندی تجربه کاراوجهان دیده؟

خودزلمیانواحساساتوآسمان لړزاوه اوس ددوی اتل اوولس کلن ناپیژندوی ځوان ؤچغوی اتل همدیؤ اودده په باب ئی دچااعتراض نه شواوریدای ځوځایه په همدی اړه دنندارچیانوپه منځ کې ناندری ترلاس اچولوپوری ورسیدی.

درواج سره سم نیزه بازانوته دوهم ځلی موکه ورکړی شوه اویوځل بیادواړه یودبل په مقابل کی ودریدل هلکان اوتنکی ځوانان دخپل ځوان اتل خواته ورغلل دتولوسترګی په نقاب کی پټ مخ لیدوته ناکراری وی ، ریفری خلك په شاکړل اوبیرته په خپل ځانګړی ځای ودرید ،دبیرغ له اشارې سره سم یوځل

بیاګرداوچت شو،اودلړخندلپاره چوپتیاخوره شوه.

محمد بن قاسم ناڅاپه یوی خواته تیټ شودسلیمان دنیزی له ګوزارنه بچ شو ، سلیمان هم چپ لوری ته تیټ شواودخپل حریف له وارنه ئی د ځان ساتلوهڅه وکړه خوله ده نه هم په زیاته چالاکی محمد بن قاسم دخپلی نیزی څوکه دهغه په لوری ورواړوله اودهغه په ښی پښتی ئی ګوزاروکړ.سلیمان خپل توازن ونشوساتلای اوله اس نه له غورځیدلوسره سم بیااوچت شوپه پښتی ئی لاس کیښوداودبی وسی په حال کی ئی یوه اوبله خواکتل.

له څلوروخواونه اسمان لړزوونکی چیغی اوچتې شوې ، محمد بن قاسم لړوراندې تیرشوبیرته ئی آس راوګرځاوه له آس نه پلی شوسلیمان ته ئی په معوافحه لاس ورواوږدکړخوهغه دلاس ورکولوپرځای مخ تری واړاوه اوپه توندی په یوه خواولاړدسترګوپه رپ کې په زرګونونندارچیان ترمحمدبن قاسم راچاپیرشول ایوب ورغی مبارکی ئی ورکړه اوورته وئی ویل اوس خودی له مخ نه نقاب وغورځوه داټول ستادځیری دلیدوپه انتظاردی.

*****

(۳)

محمدبن قاسم نقاب لرې کړدزلمی ځیره دخلکوله توقع نه زیاته سنګینه اوباوقاره وه دهغه په ښکلوتوروسترګو کې دشوخۍ پرځای دمعصومیت ځلاپرکیده دخلکودتودواحساساتوپه ځواب کی دده سکون اوارامی داښکاروله چی هغه دلویولویوبریوپه انتظاردی،او ترلویونه لویی فتحی به ئی هم بیځایه مغرورنه کړی کومځوانانوچی غوښتل دی په اوږوسپورددمشق په کوځوکی وګرځوی اوس ئی په حیرت ده ته کتل.

ایوب خپل یوه ملګری ته ویل: زه رښتیادرته وایم مادیونان په مجسموکی تراوسه داسی ښکلی معصوم ساده اوباوقاره ځیره نه ده لیدلی.

یوه عرب پوښتنه وکړه: ته له کوم ځایه راغلی یی؟

محمدبن قاسم ځواب ورکړ: له بصری نه.

وروسته بیادیروخلکواصرارکاوه چی له موږسره ولاړشه، ده په ځواب کی ورته‌وویل چی ما د بغداد خلکوته یوځم پیغام راوړی او بیرته روانیږم که تاسوټول زماپیغام واوری دابه موله ماسره ډیره مهربانی وی.

اوس دېرزيات خلك هغه ته ورتهول شول وليدبن عبدالملك له ځومنصبدارانوسره ورانډی ورغی خلکوچې اميرالمومنين وليديوی اوبلی خواته شول اولاره ئی پرېښوده وليدچی محمدبن قاسم ته ورننوډې شوئې ويل: زماپه نظرداستالپاره ښه موقع ده په اس سپورشه چی خلك دی ووينی.

محمدبن قاسم په اس سپورشوپه غونډه کې خوله په خوله داخبره له يوه سرنه تربل پوری ورسيده چی دغه ځوان يومهم خبراوروی، هغه خلك چی په مخکی صفونوکی ووېوبريل پسی په ځمکه کيناستل محمد بن قاسم په لنډوالفاظوکی دسرانديب ديتيمانواوکونډودردناك داستان واوراوه، بيائی له زيرنه دسمال واخست اودناهيدليك ئی خلکوته ولوست ، ديتيمانواوکونډود داستان له اوريدووروسته دناهيدليك دخلکوپه زړونودنشترپه څيرداغونه لګول،دليك له اورولونه وروسته محمدبن قاسم دسمال بيرته زيرته ورکړاوپه لوړغږئی وويل:

ای داسلام فدايانو! زه ستاسوددېروپه سترګوکي اوښکی وينم خوپه يادولری چی دانسانيت پر لمن دظلم داغونه په اوښکونه په وينومينځل کيږی،دجبراوستم کوم اورچی په پراخه سندکی بل دی موږله لری دهغه لړتودوخه محسوس کړی ده اوهغه داسی چی زموږځوميندی ځوخويندی اوځوورونه پکی سوځيږی ، خوموږدهغويدنصيبونه ناخبره يوچی له دېری مودی راهيسی دسنداستبدادی نظام په زولنوکی ترلی دی ،دغه غشی چی ديوی مسلمانی پيغلی په وجودکی ښخ ژ دهغولکونوغشونه يوڅچی دسندمغرورپاچائې دخپل رعيت په سينوازمويی،نن که زموږميندی ، خويندی دسنددزندان په تياروګوتونوکی داسلام دمجاهدينوداسونوپښودغږاوريدوپه انتظاردی نن که دوی داللہ اکبردهغوناروپه انتظاردی چی اوس هم ددېبل دمزبوتی کلاپه ديوالونودزلزلی راوستوتوان لری نوزماباوردی چی دسنداولس له کلونوکلونوراسی دظلم اوستم په اورکی سوځيږی هغوی هم دلويديځ له افق نه دداسی رڼادورتګ په انتظاردی.

چی دايران اورتون ئی کلونه وړاندې چوپ کړ.

دهغوی له تپی سينونه دافرياداوچت دی چی کاشکی هغه مجاهدين چی

دبشریت په بڼ کې ئې دمساوات ، عدل اوامن بوټي ته اوبه ورکړې دسندله ظالم پاچانه هم توره واخلی اوددوی آسونه هغه ازغن بوټی ترپښولاندې کړی چی دانسانیت اوازادی لمن پکی نښتی.

مسلمانانو! داخبرزموږلپاره بدهم دی اوښه هم، بدپردی چی موږدخپلومسلمانوورونوخویندوحال واوریداوخفه شوو ،ښه پردی چی دحق اوصداقت دتورې په مخکی دقیصراوکسری په څیربوه بل مغرورهم سراوچت کړی هغه ته وروښئي چی زموږتوری تراوسه پوری نه دی پڅی شوی.

په تیروڅوکلونوکی زموږخپل منځی کشمکش موږته ډیرتاوان کړی، هغه پاچاهی چی زموږدنیکونو دنوموونوپه اوریدولړزیدی اوس زموږپرخلاف دجنګ اعلان کوی که دیوی مظلومی پیغلې دغې لیك ستاسوپه رګونوکی وینی په غورځنګ نه کړی نوپه یادولری ! دځمکی پرمخ زموږدعزت اوعظمت ورځ ګرځیدلی ده . خوزه مایوس نه یم ، زه ستاسودیوه په څیره کی هم مایوسی نه وینم زه یوزای داوایم چی یوغیرتی اولس دغفلت په خوب ویده دی اوددی اولس یوه غیرتی لوړپه لوړغږوائې چې ای داسلام غیرتی زامنو!تاسودځمکی دسردهری نږوراولاردعزت اوعظمت دساتلولپاره پیداشوی یاست ، اونن ستاسوداحال دی چی ستاسوخپلی خویندی اونږورانی زنځیرونه په پښودبرهمن آبادپه بازارونوکی کشول کیږی.

خلکوداحساساتوپه جوش کی ولیدبن عبدالملك ته کتل یوپه عمرپوخ سړی راوړاندی شوئی ویل: که زموږنه وړاندی دغه خبرامیرالمؤمنین ته رسیدلی وی نو موږحیران یوچی هغه تراوسه دسندپرخلاف دجهاداعلان ولی نه دی کړی ؟ ګڼه ګونه داورغورځوونکی غره په څیرله احساساتودکه وه ټولوپه زوره زوره دجهاد! جهاد! چیغی وکړی محمدبن قاسم دواړه لاس اوچت کړل خلك ئی چوپ کړل اوبیائی خبری پیل کړی:

زماخبری هغوی ته نه دی چی دناځاپی احساساتوله امله څوناری ووهی اوبیاچوپ شی ژوندی اولسونه دناری اوشعاورکولونه وړاندې تورې له تیکونه راباسی اودمقابلی ډګرته کوزیږی.

تاسوپه دمشق کی په احساساتی ناروډهغوسترګودوانشی کولی چی په زرګونومیله لری ستاسودتورودبریښنادلیدوپه تمه ناکراری دی امیرالمؤمنین

خپل مسؤلیتونه په احساسوی خوهغه تراوسه ستاسوناری نه وی اوریدلی کاشکی ددی ناروسره هغه توري هم ځلیدلی وای چی ستاسوپلرونوداسلام دعظمت داستانونه پری لیکلی.

زه دالیدل غوارم چی دقادسیی اواجنادین دمجاهدینوپه اولادوکی دژوندساه شته که نه؟

په دی کی شك نشته چی اوس زموږپوځونه تول په افریقااوترکستان کی مصروف دی خوپه تاسوکی داسی څوك شته چی په توره چلولونه پوهیږی؟که همت وکړودسندپه میدانونودیرموك اودمشق یادونه بیاژوندی کولای شو.نن به تاسودخپلوپلرونو اونیکونوپه شان داثابتوی چی دضرورت په وخت کی هرمسلمان سپاهي دی . اوس چی زه ستاسوتوری وینم له امیرالمومنین نه دجهاد د اعلان هیله کوم.

محمدبن قاسم له آس نه راکوزشودهغه دخبروترپایه دیروبوډاګانواوځوانانوتوری اوچتی کړی وی پولس کلن هلك په زحمت خلك په یوه اوبله خواکړل اوځان ئی امیرالمؤمنین ته وروړساوه اوونئی ویل: امیرالمومنینه ! آیاماته جهادته د تلواجازه راکوی؟

ماته معلومه نه وه که نه توره به مي راوړه ، اوس لړتم شی زه به خپله توره راوړم.

ولیدپه مینه دهغه په سرلاس کیښودااوونئی ویل: ته بایدڅوکاله نورهم انتظاروکړی.

هلك مایوس شواوبیادمحمدبن قاسم خواته نژدې ورغی اوودرید، دولیدپه اشاره یوه سړی یوه کرسۍ راوړه هغه په کرسۍ اوچت شواوونئی ویل:

ددی ځوان له خبرووروسته ماته دنورڅه ویلوضرورت نشته دخدایٔ شکردی چی ستاسوغیرت ژوندی دی زه دسندپرخلاف دجهاداعلان کوم.

په ګڼه ګونه کی بیاچیغی اوچتی شوی ولیدخپلوخبروته دوام ورکړوئي ویل: زه غوارم چی په یوه هفته کی ددمشق پوځ بصری ته روان شی که هلته هم دمحمدبن قاسم په خیرځوځوانان وی نوله بصری اوکوفی نه هم د زیات شمیرپوځیانوراټولیدل ممکن دی.په تاسوکی چی څوك اسونه نه لري، داسونواوچی وسله نه لري دوسلی بندوبست به ئی وشی زه تاسوته یومهم

اعلان داکوم چې دسنددلښکروقوماندان اوسالاربه محمدبن قاسم وی اوماددغه مجاهدزلمی لپاره عمادالدین لقب غوره کړی تاسودعاوکړی چې دی په ریښتینی معنی عمادالدین شی.

*****

(٤)

دشپې په دریمه برخه کی محمدبن قاسم ددمشق په جامع جومات کی دتهجدله لمانځه نه وروسته لاس اوچت کړل اوپه ډیرعجزسوزاو رقت ئی دعاوکړه:

یارب العالمینه ! زماپه کمزوروواوږویودروندبوج لویدلی،ماته ددی مسؤلیت دترسره کولو بری راکړه زماملگروته دپلرونواونیکونوعزم اوهمت راکړه دمحشرپه ورځ می درسول الله دفدایانوپه منځ کی شرمنده مه کړی،ماته دخالد(رض)عزم اودمثنی «رض» ایثارراوبخښه چې زمادژوندهره شیبه ستاددین دسرلوړی لپاره وقف شی.

ددی دعاپه پای کی دزبیرنه پرته یوبل سړی هم دمحمد بن قاسم بنی څنګ ته ناست ؤاودده په دعائی آمین وویل: دوی دواړوهغه ته وکتل دهغه په ساده جامو اونورانی څیره کی غیرمعمولی جاذبه وه هغه لږور نژدې شودمحمدبن قاسم ترڅنګ کښیناست اوپه مینه ئی ورته وکتل وئی ویل: ته محمدبن قاسم یې:

هوکی ! ته څوك یې؟

زه عمربن عبدالعزیزیم.

محمدبن قاسم دعمربن عبدالعزیزدپاکی اوبزرگی په باب ډیرڅه اوریدلی وو په عقیدت اوارادت ئی ورته وکتل اوورئی ویل:

تاسوماته دعاوکړی.

حضرت عمربن عبدالعزیز(رح)وفرمایل: خدای دی ستانیکی ارادی ترسره کړي.

محمدبن قاسم وویل: له ډیری مودی نه می داارداه وه چې ستادمجلس سعادت حاصل کړم نن ستاسره ملاقات یوه غیبی مرسته بولم ماته یونصیحت وکړه.

عمربن عبدالعزيزوفرمايل: زه يوازې دومره وايم چې ستاغونډې د ځوان اوزړورلښکر سالارپه قيادت کې به انشا ءالله ددښمن پرخلاف دتورې جنګ زرترزره پای ته رسيږي خوکه ته دجهادله سمې جذبې سره سندته ولاړشې نوبياخودخپل چلن اواخلاقوله لارې بايدخلکوته وروښيې چې ته دهغوی دغلام کولولپاره نه بلکې دباطل نظام دزنځيرونونه دخلاصون په خاطرورغلی يې ته به هغوی ته داوروښيې چې دتوحيدپه دايره کې چې څوک ګام کيږدي هغه ددنيا د هرډول غلامۍ نه آزاديږي، ته يوداسې هيوادته روان يې چې هلته دبيت ذات خلك دخپلواشرافواو«لوړذاتو»ظلم اوستم دهغوی فطري حق بولي دسنددداستبدادی نظام دريښوله غوڅولونه وروسته که تاسوداسلام دريښتينې مساوات عملي نمونه وښودلای شوه نوزماباوردی چې تاسوبه دهغوی زړونه هم فتحه کړې هغوی چې نن ستاسودښمنان دي سباته به موددوستان وي.

دمسلمانوبچيانواوکونډوپرسرد سنددحکمران دظلمونودداستان په اوريدوځينې ځوانان له تاسوسره دانتقام اوبدل له جذبې سره ستاملګرې دي خوهغوی ته په لويدلي دښمن دګوزاراجازه مه ورکوه.

خدای تيرې کوونکې نه خوښوي دظالم له لاسه توره واخله خوظلم مه پرې کوه بلکې که ئې توبه وکړه معاف ئې کړه.

که هغه دالهي دين منلوته غاړه کيښوده نوپه غيږکې ئې ونيسه که هغه زخمي وي اوله تانه پناه غواړي په زخمونوئې پټې ورکيږده زموږپه يتيمانواوکونډوظلم شوی خوته ددوی ديتيمانواوکونډوپرسر دمينې اوشفقت لاس کيږده اودابه يادلره چې خدای پرګاوندېوهيوادونودعربو برلاسی نه غواړي بلکه دکفرپرخلاف دخپل دين برلاسی غواړي اوکه داکاردعربوله لاسه پوره شونوبه دنياکې به هم دعزت خاوندوی اوآخرت به ئې هم ښه وي.

دسهارداذان په اوريدوعمربن عبدالعزيزخپلې خبرې پای ته ورسولې، دسهارله لمانځه نه وروسته محمد بن قاسم له هغه نه درخصت په وخت وويل: زموږترروانيدوپورې پنځه ورځې نورې هم لګيږي په دې موده کې به زه ستادعلم اوفضيلت نه ګټه دځان نيکمرغي بولم خودورځې به زه دنويوسپاهيانوپه پوځي روزنه بوخت يم که تاسوته تکليف نه وي نودشپې په

کوم وخت کی به زه ستاپه خدمت کی حاضريږم.

عمربن عبدالعزيز(رح)ځواب ورکړ: ته چې څه وخت وغواړې ماته راتلای شې،په ځانګړې ډول به دنن په خيرهره شپه په دې مهال زه همدلته يم ، اته ، لس ورځې وروسته زه هم مدينې منورې ته ځم.

محمدبن قاسم چې دحضرت عمربن عبدالعزيز(رح)نه رخصت شوله جومات نه ووت دځوانانوپوه ښه ډله ئې وړاندې وروسته ملګرې وه ددروازې زينوته چې ورسيدوئې ويل: تاسوميدان ته ولاړشې زه هم له لږځنډوروسته دررسيږم.

*****

(۵)

دمحمدبن قاسم داوسيدودکوتې په مخکې دوه سپاهيان اسونه ترجلب نيولې ولاړوو، محمداوزبيرپه اسونوپښې واړولې اومتروکې ئې ورکړې،دښارله لويديځې دروازې نه ووتل دشنوباغونوپه مينځ کې ولاړل ديوې وياله په غاړه ودريدل له اسونونه راښکته شول اوپه اوبوکې ئې ځانونه وغورځول ، په رښواوپاکواوبوکې ئې له ښې شيبې لامبووروسته جامې بدلې کړې اوترخوشيبوپورې ئې په مخکې دغرونواوباغونوپه زړه وړونکې منظره سترګې ميخ شوې،محمد بن قاسم چې خپل ملګرې دخيالونوپه سمندرډوب وليدوئې ويل:سباته به وختې دلته راځو.اوس بايدولاړشوخلك به زموږپه انتظاروي.

زبيرتکان وخوړمحمدبن قاسم ته ئې وکتل ويې ويل:

تا څه وويل؟

محمد: ناوخته کيږي څه چې ځو!

زبير: درځه!

دواړوبياپه اسونوپښې واړولې محمدبن قاسم وپوښتل: ته اوس په څه خيالونوکې دوب وې؟

زبيرپه غمجنه لهجه ځواب ورکړ: ماپه تصورکې دسرانديپ چمنونه اوځنګلونه ليدل.

محمد: زموږمنزل خودسنددښتې دي.

زبیر: هغه زه هروخت وینم خوکله کله دسراندیپ ښکلی اوشنه چمن اوځنګلونه هم رایادشي.

محمد بن قاسم: پرون تاپه خوب کی ناهیدته ناري وهلې ماهغه وخت ددې یاد ول لازم ونه بلل اوس که بده نه منې راته ووایه چې تاپه خوب کی څه ولیدل؟

دزبیرپه شونډویوه غمجنه موسکاوځلیده وئی ویل:

ماپه خوب کې لیدل چې ددیبل څوتنه سپاهیان رانه چارپیروی توري ئې ایستلی وی.

څوتنونوروناهیدنیولی وی اودزندان په لورئې کشوی زه ورمنډه کړم اودهغی دخلاصولوهڅه کوم.

محمد بن قاسم وویل: زماپه خیال دناهیدیادونه ستاپه دماغ اوزره ژوراثرکوی.

زبیر: زه له دی انکارنه کوم په کوموحالاتوکی چی موږیوله بل سره ولیدل اوسره جداشوپه داسی حالاتوکی به هیڅوك هم هغه زړوری مجلي ته په زړه کی دځای ورکولونه انکارونه کړی.

یوه هوسی په منده ددوی ترمخ تیره شوه محمد بن قاسم نیزه تیاره کړه وئې ویل: دهغه ورووستی پښی تپی وې کوم دوکه بازښکاری په غشی ویشتلی راځه ورپسی ورشو.

زبیراومحمدپه هوسی پسی اسونه وزغلول زخمی هوسی ډیره وړاندی نه وه تللی چی وروورسیدل اوبیادمحمد بن قاسم دنیزی په ګوزارولویده ، زبیرله اس نه پلی شوهغه ئی حلاله کړه اوله وروستی ورانه نه ئی غشی وکیښ وئی ویل: که ښونه وای لیدلی نودکوم ښوتی په ښیخ کې به ئې په زحمت ساه ورکړی وای.

څوسپاره دونوله منځه راښکاره شول محمد بن قاسم چی ورته وکتل سلیمان ئی وپیژاندوئې ویل:

اوهو! داخوزموږپخوانی دوستان دی!

سلیمان نژدی ورغی دآس جلب ئې کش کړوپی ویل: دازموږښکاردی.

محمدبن قاسم ورته وویل: تاسوئې درسره وړای شی موږبوازې دیوه

سخت ځنکدن نه وژغورله ، پښې ئې ټپي وې موږویل ښایی دکوم بوټی په بیخ کې به پټه شي.

صالح وویل: ته دروغ وایی لویدلی هوسی موحلاله کړی ده.

محمد بن قاسم ځواب ورکړ: داسمه ده چی هوسی لویدلی وه خوزمادنیزی په ګوزار،اوتاسودخپل غشی نخښه دهغی په پښه لیدای شی.

صالح په غوسه شوتوره ئی وکښله ، خوسلیمان په زوره ورته وویل: تاددوی دواړوکمال لیدلی دی،اودخپل غشی ویشتلوپه باب دی چی څه دعوه کوله هغه هم نن درته څرګند شو،دائی وویل بیائی محمد بن قاسم ته مخ واړاوه وئی ویل:

زمادادوست چی څومره احساساتی دی هومره بی عقل هم دی که ستاسوضرورت وی نوداهوسی درسره واخلی.

محمد بن قاسم ځواب ورکړ: نه ډیره مننه!

که زموږپه کاروای پخپله به موښکارکړی وه دائی وویل اوبیادواړوداسونوجلب راکش کړاوپه یوه تراټ وزغلیدل.

# لومړی فتحه

دسهارله لمانځه نه وروسته ددمشق خلکوله بامونواوبازارونوڅخه دمحمد بن قاسم دپوځ دجلوس ننداره کوله ددنیاپه تاریخ کی دالومړی پیښه وه چی یوی لرې سیمی ته دپوځ قومانده دیوه (۱۷)کلن زلمی په غاړه وه له دمشق نه تربصری پوری له هرکلی اوښارنه له دی پوځ سره نوررضاکاران هم ملګری شول کوفی اوبصری ته دمحمدبن قاسم دروانیدوخبرړسیدلی وځوانومیرمنوخپل میړونه میندوخپل زامن اوخویندوخپل وروڼه له ځوان سالارسره جهادته هڅول دغیرتی قوم دیوی بیوسی لورفریادهرکورته رسیدلی وُدبصری په ښځوکی دزبیدی دی تبلیغ اثرکړی وُچی دناهیدمسئله دقوم دهری نېورواوخورمسئله ده ځوانی نجونې له هرې محلې نه دزبیدی کورته ورتلی اوددی دخبروله اوریدووروسته به له یوی نویی جذبی اواحساس سره بیرته ستنیدی،پرناروغی برسیره دمحمدبن قاسم موردبصری پر کورونوکوڅه کورګرځیده اوښځوته ئی دجهادتبلیغ کاوه زبیدی خوغازیانوته د اسونوداووسلوپه خاطرخپل ټول زیوراوګانه وپلورل دبصری دټولوامیراوغریبوکورنیونجونوددې په تقلیدهمداسی وکړل اودبصری بیت المال ئي له مجاهدینوسره دمرستی په نامه دطلااوسپینوزرونه ډك کړ.

دعراق دنوروښارونوښځودخیرپه دغه کارکی دبصری له ښځونه وروسته ګیدل نه خوښنول اوپه لکونوروپی یی راټولی کړې.

محمد بن قاسم په بصره کې درې ورځې پاتې شوددده له راتګ نه دمخه حجاج بن یوسف ته دمکران دوالی محمدبن هارون داپیغام رارسیدلی وُچې

دعبیدالله په مشری چی کوم هیأت دوی دیبل ته استولی ؤله هغوی نه یوازی دووتنوبیرته ځانونه مکران ته رارسولی وو نورټول ددیبل والی وژلی وو.دی خبردبصری په خلکوکی دانتقام په اوردتیلوورا‌چولوکاروکړ.

له دمشق نه دروانیدوپه وخت دمحمدبن قاسم دلښکرشمیرپنځه زره کسه ؤخوکله چی له بصری نه دغه لښکرروانیدونوشمیرئی (۱۲)زرو ته رسیده چی شپږزره پکې دآسونوسپاره وودرې زره پلی اودرې زره داوښانوخاوندان.

*****

(۲)

محمدبن قاسم له شیرازنه مکران ته ورسید.دمکران دسرحدنه دتیریدونه وروسته «دلس بیلا» په غرنی سیمه کی دوی له ډیروستونزوسره مخ شول،بهیم سنگ له شل زره پوځ سره «دلس بیلا» دسندي والی مرستی ته رارسیدلی ؤهغه دیوی غونډی پرسریوه مزبوته کلاخپل مرکزټاکلی ؤاوپه ټولولاروئی غشی ویشتونکی وټاکل دده دپلارله مخالفت سره سره بهیم سنگ راجه ته ډاډورکړی ؤچی دده شل زره پوځ به ۱۲زره مسلمانان له«لس-بیلا»نه وړاندی تگ ته پرې نږدی.

غرنیوسیموته دمسلمانانودننوتلوسره سم دبهیم سنگ لښکرهلته دلته یرغلونه پیل کړل،دیرش ځلویښت تنه پوځیان به ناڅاپه له یوه کنډونه راښکاره شول اودسترگوپه رپ کې به ئې دمحمدبن قاسم په لښکرډډبرواوغشوباران وکړاوبیرته به وتښتیدل.داسونوسپاره خوبه له یرغل سره په یوه اوبله خواتیت شول اوله یرغل نه به په امان پاتی شول خوداوښانوسپاره به سخت پریشانه وو.کله کله به ترهیدلی اوښان بیرته راسبالول دیرغل کوونکوله تعقیب نه زیات مشکل ؤ.

محمد بن قاسم ددی حملوپه مقابله کی پیاده گروپونه رامخی ته کړل خویرغل کوونکی به بیادشاله خواپه لښکرراپریوتل یوه ډلگی به په کومه غونډی وختله اودمحمدبن قاسم دپوځ پام به ئی ورواړ اوه ، اوبلی ډلی به په کینې لوری حمله وکړه څومره چی دمحمدبن قاسم پوځ وړاندی تلوهومره دغه حملی زیاتیدی دشپی به ئی دپړاوا‌چولوپه وخت کی ځلورمه برخه پوځ خامخادشاوخواغونډیوپرسرپهره کوله ترڅودښمن شواخون رانه وړی.

يوماښام محمدبن قاسم ته يوجاسوس احوال راوړچې له دی ځايه شل«ميله»لرې يوه مزبوته کلاددښمن دلښکرمرکزدی،هغه سمدستی دخپلوتجربه کاروسالارانوشوری جوړه کړه دځينوسردارانورايه داوه چی دغه لاره پريښودواودسمندرپه غاړه هواره لاره غوره کړومونږچی څومره له دی کلانه لرې شوهومره به دښمن له حملونه په امان وو،خومحمدبن قاسم له دی رايی سره موافق نه ؤويل ئی : ترڅودغه سيمه له دښمن نه پاکه نه شی زمونږوړاندی تګ له خطره خالی نه دی.

زمونږمقصددیبل ته رسيدل نه دی دسندفتحه کول دی اوداکلادسنددفاع مهمه مورچه ده،زماباوردی چی ددی کلاپه فتحه به دښمن ټوله سيمه پرېږدی اوددښمن دپوځ کوم سپاهيان چی ديبل ته ولاړشی يوماته خوړلی ذهنيت به هلته خپورکړی،خوکه مونږله دی کلانه لاره کږه کړه اوپرمخ ولاړودوی حوصلې به مزبوتې شی اوزمونږشابه همدغسی له خطرونوډکه پاتی شی.

زمونږلومړنی هدف دهمدی کلانيول دی،که ددی کلاله فتحې نه وروسته په شاوخواسيمه کی ددښمن زيات پوځ پاتی وی نودوی به له مونږسره ديوه فيصله کوونکی جنګ تکل کوی،داهم زمونږپه ګټه ده زه پوهيږم چی ددی کلادپوځ زياته برخه په شاوخواغونډيوکی زمونږدپرمختګ دمخنيوی لپاره تيت دی ، زه غواړم همدانن شپه په کلاحمله وکړم اوددی هدف لپاره زه له ځانه سره يوازی پنځه سوه تنه پلی پوځ بيايم،پاتی پوځ به ټوله شپه پرمختګ ته دوام ورکوی ددی ګټه داده چی دښمن به ستاسودپرمختګ ددرولوپه خيال کی وی ، دسپوږمی په رڼاکی تاسوته وړاندی تګ خطرناك هم دی خوکه سهارتاسوته دکلادفتحی خبرراورسيدبيابه دربږی اوزمادامرانتظاربه کوی.

که دکلاله فتحی نه وروسته دښمن په کوم بل ځای کی دپوځ دبياسمبالولوهڅه وکړه نوزه به دکلادساتنی لپاره څه سپاهيان پرېږدم اوتاسو ته به ځان رارسوم.

اوکه دښمن پرکلادبياتصرف لپاره حمله وکړه بيابه تاسوهلته راځی.

يوه بوډاسالارووېل: زماباوردی چی دسنددفتحی لپاره خدای ته تاکلی يی

انشاءالله ستاهيڅ تدبيربه هم غلط نه وي،خودلښکرمشرباېدله لښکرسره يوځای وی دهغه ژونددېرارځښتناك وی هغه دپوځ ورروستی تکيه وی که په دی خطرناك مهم کی تاسوته څه خطرپېښ شی نوبيابه څه کيږی؟

محمدبن قاسم ځواب ورکړ: دقادسيی په جګړه کی ايرانيانودزبردست لښکراووسلوسره سره له دی لامله ماته وخوړه چی دوی دلښکرپرځای په رستم زيات حساب کاوه کله چی رستم ووژل شونوټول لښکردمسلمانانودلږلښکرپه مقابله کی تاب رانه وړاومات شوخوبالعکس دمسلمانانواعتماددومره ژچی دخپل سالاردنه موجوديت احساس ئی نه کاوه زموږپه تاريخ کی به داسی پيښبه څوك ونه وينی چی دسالاردشهادت نه وروسته به لښکروارخطاشوی اومات شوی وی ، موږ د پاچاهانواوقوماندانانولپاره نه بلکی دخدای لپاره جنګيږو، پرپاچاهانواوسالارانوچی څوك تکيه کوی دهغوی له وژل کيدووروسته مايوس کيدای شی خوزموږخدای تل شته اوژوندی دی په قران کی زموږلپاره ددی احکام شته زه دادعاکوم چی خدای «ج» دی ماخپل قوم ته رستم نه کوی بلکی خدای دی ماته دمثنی(رض)دجوړيدوتوفيق راکړی چی په شهادت ئی دمسلمانانوپه زړونوکی دشهادت جذبه لاپه غورځنګ شوه، ماته داسی قوماندان هيڅ ارځښت نه لری چی دخپلوسپاهيانودتوروپه سيوری کی غلی وی اوخپلوميرونوته دسربښندنی پرځای دځان ساتنی وصيت کوی.

که ددی کلافتحه کول ډيرمهم نه وای نوښايی مابل چاته دادنده سپارلی وای خوددی هدف لاندی کول اوخطرمنل دواړه ددی تقاضاکوی چی زه پخپله ددی کارترسره کول په غاړه واخلم.

زبيرووېل: زه له تاسوسره تلل غواړم.

محمدبن قاسم ځواب ورکړ: نه ! زه ديوی کلالپاره ددوودماغونوضرورت نه وينم زماپه غياب کی ته بايدپه پوځ کې وې زه پرخپل ځای محمد بن هارون پريږدم اوته به ئې نائب وی.

دماسختن له لمانځه نه وروسته محمدبن قاسم پنځه سوه تنه زلميان انتخاب کړل دهغوی اسونه ئې لښکرته پرېښودل اومحمدبن هارون ته ئې دپرمختګ

قومانده ورکړه پخپله له خپلوپنځه سوه تنوملګروسره دیوی غوندی ترشاغلی پاتی شول.

نیمه شپه سپوږمی ولویده اومحمدبن قاسم دکلاپه لوروخوځید، دلاری تولی پوستی دلښکردپرمختګ ددرولوپه خاطرختیغ لوری ته تولی شوی وی سندی سپروپه کلاکی بهیم سنګ دختیغ په لوری دمسلمانانودناڅاپی وراندی تګ نه خبرکړهغه په کلاکي دری سوه تنه پوځیان پریښودل اوپخپله هم دمسلمانانودلاری نیولولپاره ووت دشپی په دریمه نیمایی کی محمدبن قاسم دکلانه یومیل لرې یوی غونډی ته ورسیدلرې په ګرنګونوکې دبهیم سنګ دسپروداسونودپښوترپهاروراغبرګیده.

محمدبن قاسم خپلوملګروته وویل: هغوی کلاخالی کړه اوولاړل راځی بیره په کاروده خوپه کلاکی به لږیوځ خامخاپاتې وی ځکه خوبایدهیڅ ډول شورماشورونه کړوزمویولږتوخی اوپه زوره غږپه کلاکی ساتونکی بیداروی که دهغوی شمیربیایوازی (۴۰) تنه وی هم تردیره ځنده به مویهرایسارکړی له دی هدایاتووروکولونه وروسته هغه خپل ملګری په وړووړوګروپونوویشل اودکلاپه لوروورغلل، دروازی ته چی ورنژدې شول په شاوخواپولواوکړلیچونوکی غلی شول په دروازه اوبرجونوکی دپهره دارانوپه غږونوکې دستومانی اوخوب آثارجوت ووداسی محسوسیدله لکه هغوی چی غوږیږی نه هسی ګونګروغږونه ئې ترخوله وتل.

محمدبن قاسم لس تنه ځوانان ورسره ملګری کړل اودکلایوی چوپې برخی ته ورنژدې شول کمندونه ئی وغورځول په دیوال وختل اوبیائی دپری زینی وغورځولی پر دغه ځای دوه پهره داران ویده وودسترګوپه رپ کې دمحمدبن قاسم شپږتنه ملګری په زینووختل خواووم تن لاپاس نه وختلی چی څوګامه وراندی یوه سپاهی تکان وخوړ،مشال ئی اوچت کړوئې ویل:

څوک یی؟

بل سپاهی چیغی کړی: دښمن دی هوښیاراوسی!

محمدبن قاسم الله اکبرناره پورته کړه اوپه یوه زبردسته حمله ئې دبرج زیاته برخه ونیوله ددی ناری په اوریدودمحمدبن قاسم نوروملګروهم دبرج په خوامخه کړه کمندونه ئی واچول اوپه کلاوروختل په کلاکې

ویدوسپاهیانوترڅوتوری را اخستلی د محمدبن قاسم پنځوس تنه ملګری برج ته رسیدلی ووپهره دارانوپه برج کی له مقاومت نه داغوره وبلله چی دننه ولاړشی اوخپل ویده ملګری راویښ کړی.

ترلږمقاومت وروسته په یوه سمڅه ننوتل اودتیښتی په هڅه کی شول سمڅه ډیره تنګه وه اوسپاهیانوپه یوه وخت کی پری هجوم وروړ،ځینی ناامیده شول اودروازه ئې خلاصه کړه اوځینی پلی ځنی پراسونوسپاره وتښتیدل.

دکلاددروازی له خلاصیدوسره سم مسلمانانوپردیوال دختلوپرځای په دروازه یرغل وروړدډیروسپاهیانودتیښتی لاره بنده شوه دښمن له څلوروخواؤنه نامیده شواوتوری ئې وکښلی،خوله لږمقاومت وروسته ئی وسله کیښوده.

دکلادننه په سمڅه کې ننوتلی پوځیان یوله بل سره لاس اوګریوان ومحمدبن قاسم چی شورماشورواوریده دیوه پهره دارله لاسه لویدلی مشال ئی رااوچت کړترڅوکوټودننه دیوی سمڅی په وره کې ودریداوپه فارسی ژبه ئی وویل:

په تاسوکې چې څوك تیښته کول غواړی دکلادروازه ئې پرمخ خلاصه ده وسلې وغورځوی بیاتلای شی.

داڅې وویل بیاله دروازې نه یولوری ته شوپه سپاهیانوکی چی څوك په فارسی پوهیدل هغوی نوروته دمحمدبن قاسم مطلب روښانه کړهغوی یوشمیرراووتل اوپه شکمن نظریې محمد ته کتل،ځینوهمغه سمڅی ته ترجیح ورکړه خو د محمدبن قاسم په اشاره څوتنه پوځیان ورننوتل توری ئې وکښلی اودسمڅې په وره کې ودریدل.

محمدبن قاسم وویل:په داسی حال کی چی روښانه اولویه لاره موپه مخ خلاصه ده تاسوولی تیاره اوتنګه لاره غوره کړې؟په موږاعتبارکړی،که موږتاسووژلی زموږتورې ستاسوله ورمیږونونه ډیرې لرې نه دي.دمحمدبن قاسم له دی خبرواوریدونه وروسته نوروسپاهیانوهم توری وغورځولی اوراووتل٬محمدبن قاسم بیرته دکلادروازی ته راغی خپلوسپاهیانوته ئی امروکړچی له کلانه چی څوك بهرته درومی مخه ئې مه نیسی.

دغه خلك سرتيټي بهرته ووتل غلي غلي ئې شاته راكتل اوورو ورو وراندې تلل.له مغلوب دښمن سره دغه چلن دسندد تاريخ نوى باب ؤ يوپه عمررسيدلي سپاهي ورو ورو گامونه اخستل دروازې ته ورسيدبيرته ئې مخ راواړاوه اوله څه سوچ وروسته بيرته راوگرځيد.

محمدبن قاسم ورته وويل چې كه په كلاكې څه شى درځخه ورك شوى وى لټولى ئې شې هغه په څيرده ته وكتل اوپوښتنه ئې وكړه: آياته دعربودپوځ قوماندان يې؟

محمدبن قاسم ځواب وركړ: هوا زه يم .

بوډاسپاهي! دښمن په هيڅ حالت كې درحم مستحق نه دى آيازه پوښتلى شم چې تاسوله موږسره ولې داسې سلوك وكړ؟

محمدبن قاسم : زموږهدف ددښمن وژل نه دى هغوى ته نيغه لاره وربښودل دي.

سپاهي : نوتاسوډاډه اوسئ چې هيڅوك به دربانديې برلاسى نه شي.

دغه خلك چې نن تاسودرحم وړويلل سباته به ستاسوتربيرغ لاندې دهغومغروروپاچاهانوپرخلاف جنگيږي چې په لويدلي دښمن رحم كول نه پيژني دائې وويل اوبياهغه تردروازه بهرته ووت.

محمدبن قاسم دكلاچكرواهه خوسمځې دخوراكي موادونه ډكې وې په طبيله كې(۶۰)اسونه وو.

محمدبن قاسم په دې ډاډه ؤچې په محمدبن هارون پسې وتلي پوځ چې دكلاله فتحې نه خبرشي بيرته به راوگرځي هغه څلورتنه سپاره محمدبن هارون ته واستول اوداپيغام ئې وركړچې په يوه مناسب ځاى كې واړوى اوزمادامرانتظاروكړي بيائې دروازه وتړله اوڅلوروخواؤته ئې په برجونوكې غشي ويشتونكې كېښنول اودكلاپه برجونواوديوالونوئې داسلام بيرغونه وربول.

* * * * *

(۳)

محمدبن قاسم په يوه برج كې ولاړؤاودلرراختونندااره ئې كوله چې دختيځ نه ئې ددېرش څلويښتوسپرويوه ډله وليده هغوى كلاته راروان وودوى هغه

دسنددپوځ برخه بلله په لیندوکې ئې غشی کیښودل اودرانژدې کیدوپه انتظارئې کښیناستل،هغوی له کلاته نژدې دری سوه گامه لری ودریدل یوسپورله خپلوملگرونه جلاشواودکلاپه لوروړنژدې شوغشی ویشتونکی دمحمدبن قاسم داشاری په انتظاروهغه دوی دلاس په اشاره منعه کړل،سپورچی دبرج څنگ ته ورسیداس ئی ودراوه په عربی ئی وویل: موږدزبیرملگری یودننه موپرېږدی.

محمدبن قاسم سرورلری کړوئی پوښتل: ستانوم خالددی؟

هغه ځواب ورکړ: هوکی!

محمد بن قاسم: خپل ملگری دی راوغواړه.

خالدمخ شاته واړاوه اودلاس په اشاره ئی ملگروته وویل چی راځی محمد بن قاسم ددروازی دخلاصولوامروکړله کلاته وروړت له خالدنه ئی وپوښتل: ستاخورچیرته ده؟

خالدجواب ورکړ: هغه له موږسره ده بیائی زیاته کړه.

زبیرچیرته دی؟

محمدبن قاسم : هغه له پاتی پوځ سره دی تاسوته څه معلومه شوه چی موږبه دی کلاکی یو؟

خالد: موږته داخبررارسیدلی ؤچی تاسودمکران له سرحدنه راتیرشوی یی،موږدسندی پوځونوپه جاموکی دلته ځانونه رارسولی اوتاسوبه حیران شی چی موږته دراجه دلښکرویوه سالارله دی ځایه څلورمیله وړاندی دیوې پوستی دپهری دنده راسپارلی وه.

موږبه ډیره بی تابی ستاسی دراتگ انتظارکاوه نن له کلاته تښتیدلی پوځیان هلته راغلل هغوی موږته وویل چی کلافتحه شوه،موږتاسوته مبارکی وایوستاسوسالارچیرته دی؟

محمدبن قاسم موسکی شویوه سپاهی ته ئې وکتل هغه سپاهی ځواب ورکړ: ته دسپاهیانوله سالارسره خبرې کوی.

لږځندوروسته دخالدنورملگری هم وړورسیدل له اسونونه پلی شول محمدبن قاسم پرهغوی له یوه سره سری نظروروسته وویل: مگرستاخورخونشته؟

خالدموسکی شودنارینه جامویوه نقاب پوش ته ئې اشاره وکړه.
محمد بن قاسم وویل: دخدای شکردئ چې اوس روغه یې،هورښتیازبیرله پاتی پوځ سره دی،دزبیردنامه له اوریدسره ناڅاپه ناهیدې خپل غوږونه اوغومبوری تاوده احساس کړل،شاته ئې مخ واړاوه مایاته ئې وکتل مایاهم ددی په څیردنارینه جامې اغوستې وې هغې سترګې ښکته کړی دناهیدمټ ئې وچیچه او ورونې وویل:
ناهیدې مبارك دی شه.

* * * * *

(٤)

محمدبن قاسم یوځل بیادخالدتول ملګری ترنظرتیرکړل یوه سپین ږیری دځواکمنومټوخاوندته ئې لاس وروغځول ویې ویل: ته به ښایی ګنګوی؟
زه ستااوستاله ملګرونه مننه کوم.
ګنګودمحمدبن قاسم لاس په لاس کی ونیواوخالدته ئې وکتل،هغه وویل:
ګنګواوملګری یې مسلمانان شوی دی ګنګوځانته سعدنوم غوره کړی دی.
محمدبن قاسم الحمدالله وویل اوبیایې یوپربل پسې یوه یوه ته لاس ورکړیوه ځوان ته ئې وویل: ته به غالباًناصرالدین وې؟تازموږپه خاطرډیرمصیبتونه وګاللې خدای دی اجردرکړی اودابه ستاخوروی!
خالدوویل: داهم مسلمانه شوی ده اوزهرانومیږی،زهراناصرالدین ته ورنژدی شوه په ټیټه لهجه ئې تری وپوښتل داڅوك دی؟ناصرالدین هغی ته دچوپ کیدواشاره وکړه اودغه پوښتنه ئې له خالدنه وکړه خالدپه لوړآوازوویل: دازموږدلښکرمشردی.
سعد«ګنګو»اودهغه ملګری ټول حیران شول اوټولومحمدبن قاسم ته وکتل له لری داسونودپښوغږونه اوچت شول اوپه برج کې یوه پهره دارچیغه وکړه:ددښمن پوځ په دی خوارا روان دی.
دوی په بیړه په کلانتوتل محمدبن قاسم په برج وختوت اوورواندی ئې ځاروکړله جنوب اوختیځ نه ددښمن په زرګونوپلی اوسپاره سپاهیان دکلاپه لورراروان وو.

محمدبن قاسم لس تنه سپاره خپل نائب ته دپیغام وررسولولپاره واستول اوامرئې ورته وکړچې ترمابنام دمخه بایدځانونه ورسوی.

سپاهیان په اسونوسپاره شول محمدبن قاسم هدایت ورکړچې دلویدیځ لوری ته ولاړشی اودلښکرترشاراتاوشی چې ددښمن له لښکرسره مخ نه شی خپل منزل ته ځانونه ورسوی، دروازه بیرته وتړل شوه ددښمن پوځ رانژدی شومحمد بن قاسم غشو ویشتونکوته دتیاری امروکړدبرج په یوه کونج کی خالداوده‌غه ملګروپه بی تابی دیرغل کوونکودورنژدی کیدوانتظارکاوه، محمدبن قاسم چې ددوی په منځ کی ناهیداوزهراولیدی وئی ویل: خالده دوی ښکته بوزه دلته ئی ضرورت نشته ناهیدځواب ورکړ: تاسوزموږغم مه کوی موږغشی ویشتلی شو.

محمدبن قاسم: ستاسوخوښه خوسرونه لږتیټ ساتی، دائی وویل اووړاندی ولاړ.

دبهیم سنګ لښکراسونه دغوندیوشاته پریښودل اوله څلوروخواوئی کلاکلابنده کړه دډبرواوګټوشاته ئی مورچلونه ونیول اوپه کلاتی دغشوباران پیل کړ،دکلاپه برجونواومورچلوکی ناستوسپاهیانوته ددوی دغشوباران بی اثره‌ؤمحمدبن قاسم خپلو پوځونوته امروکړچې یوازی هغه وخت به غشی ولی چې هغوی رامخی ته شی اوله مورچوراووزی.

بهیم سنګ چې له کلاته دغشیوځواب ونه لیدد«ژوندی دی وی راجه داهر!»ناره ئی اوچته کړه اودتیږواوګټوترشاپټ لښکرپه کلاراوډانګل.

اوچې کله دوی دکلادساتونکودغشودم ته راغلل محمدبن قاسم دتکبیرناره اوچته کړه داناره لادبرجونواودیوالونونه راغبرګیده چې له کلاته دغشوباران پیل شو،دبهیم سنګ سپاهیان تپی کیدل اولویدل خوشل زره پوځ دځوسره سپاهیانوپرواونه کړه اوددیوالونوتربیخه پوری ورسیدل کمندونه ئی واچول اوپه دیوالونووروختل خودغشوپه باران کی ددوی هیڅ په لاس ورنه غلل له ښه ساعت د غشوباران نه وروسته دبهیم سنګ ددوه زره تنوپه شاوخواکی سپاهیان ددیوالونوپه بیخ کی مړه اوتپیان ولویدل اوهغه نورپوځ ته دشاتګ امروکړ.

ترماسپښین پوری دری ځلی بهیم سنګ یرغل راوړاوبیرته په

شاشوقضاماسپښین هغه دیوې پریکنده حملې تیاری نیوله چی له شانه دمحمدبن قاسم دپوځ دراتگ خبرورغی بهیم سنگ خپلوسپروته دشاته تگ قوماندہ ورکړه چی خپل اسونه سمبال کړی اوپیاده پوځ ته ئی په شاوخواکی دډبروترشادغشوویشتلولپاره دتیاری امروکړ.

محمدبن قاسم وپوهیده چی دښمن ته دمحمدبن هارون دپوځ دراتگ خبر رسیدلی هغه وویریده چی که پوځ همدغسی کلاته رانژدې شی له شاوخوانه به ددښمن دغشوویشتونکوتریرغل لاندی راشی.

هغه زرزرپه کاغذیوه نقشه رسم کړه اومحمدبن هارون ته ئی څه هدایات ولیکل بیائی وویل چی دغه لیك بایدمحمدبن هارون ته وررسولی شی اوس ددښمن توجه دشمال لوری ته کمه‌شوی که هغوی ټول پوځ هم لری کړی خوبیاهم ترمحمدبن هارون پوری وررسیدل خطرناکه لاره ده ددی خطرقبلولولپاره یوه رضاکارته اړتیاده.

خالدمحمدبن قاسم خبره پوره کیدوته پری نښوده وئې ویل: ماته اجازه راکړه.

ډیرونوروسپاهیانودخالدمخالفت وکړاوخپل نومونه ئی وښودل، سعدوویل: مااوریدلی دی چی مسلمانان دخپل نوی مسلمان وروړهیله نه ردوی تاسوماته اجازه راکړی زماپه جاموځوك بدگومانه کیږی هم نه اوزه ددی ځمکی په لویشت لویشت کې بلدیم.

محمدبن قاسم خپل پوځ ددښمن دپوځ ترشا دری میله لری ولیدچی تریوه غونډی ښکته کیدل هغه لیك دسعدپه لاس کی ورکیښوداووئې ویل: ورځه خدای دی مرستندوی شه.

سعدپه منډه ولاړاودشمال په دیوال دیوی رسی په واسطه شاته کوزشو.

*****

(٥)

محمدبن هارون له لری دبهیم سنگ دلښکرسپاره دیرغل لپاره تیارولیدل خپل پوځ ته ئی ددریدوامروکړاودمقابلی لپاره ئی صفونه تیارکړل هغه دوړاندی تلوامرورکاوه چی دلښکردښی لاس قوماندان په اس چارگام ځان وررساوه هغه ته ئی یوکاغذورکړوئی ویل: داخود سالارلیك ښکاری

خوراوړونکی یوسندی دی هغه موږنیولی دی په عربی هم پوهیږی اووائی چی زبیرماپیژنی خپل نوم کله سعدبنیی کله گنگو،زبیرتکان وخوړیی ویل: زه هغه پیژنم محمدبن هارون درقعی له لوستلووروسته وویل: دسپاه سالاردلیك په لیدوبیادهغه په باب تاسوته دپلټنی ضرورت نه ؤکه تاله هغه سره بدسلوك کړی وی ورشه بخښنه تری وغواړه اوخپلوسپاهیانوته ووایه چی ماته ئی راولی.

زبیره ! زموږښی اوکیڼ لورته غونډی اوحاکمی څوکی ټولی ددښمن دغښی ویشتونکوپه قبضه کی دی.

ته داوښانوسپاره پوځیان راټول کړه ټول پلی په دواړوخواؤیرغل ووړی اودکیڼ لوری «میسره »ولګی ته امروکړه چی دمخې له لښکرسره یوځای شی موږترڅودواړه خواوی غونډی له دښمن نه ونه نیسووراندی تګ موممکن نه دی.

دبهیم سنګ نقشه دیره کامیابه وه که هغوی مخامخ حمله کړی وای دبیهم سنګ ښی اوکیڼ لورته په غونډیوکی ناستوغښی ویشتونکوبه پری یرغل کاوه اومسلمانانوته به دغه یرغل ډیرخطرناك ؤخودبهیم سنګ داټکل پرخلاف چی په ښی اوچپ لورغونډیودمسلمانانوپلی سپاهیان وروختل نوهغه هم زرترزره راوړاندی شواودحملی امرئی وکړ.

د کلادننه محمدبن قاسم دهمدی وضعی په انتظارؤهغه پنځوس تنه سپاهیان دکلاپه ساتلوموظف پریښودل اوپاتی پوځ ددروازی سره راټول شؤله شانه ئی پردښمن دیرغل تیاری پیل کړه محمدبن قاسم له یوه مورچل نه ددواړوپوځونووضعیت اونقل اوحرکت ترنظرلاندی نیولی ؤ.

خالد،ناصرالدین اودهغوی نوروملګروهم په کلاکی دپاتی کیدونکوسپاهیانونه زغری اوخولونه واخستل په اسونوسپاره شول ناځاپه ناهیداوزهره هم په وسلوسمبال له یوی کوټی راووتی اوله دروازی سره ودریدی.

خالدورته وویل: ناهید،زهرا!څی تاسوته له کلانه بهردهیڅ کارضرورت نشته ناصرالدین دهغه خبره ورسره تائیدکړه محمدبن قاسم مخ ورواړاوه اوورته وئی کتل بیایی وویل: زه ستاسودجهادجذبه ستایم خوتاسودکلاپه

ساتنه کی زموږدپوځ مرسته کولی شی دقوم دزړوروميندوشيدی تروينوزياتی ګران بيه دی.

په حساسوختونوکی ديو کورانګړدمات شوی قوم وروستی مورچل کيدای شی،که تاسودلته ياست په کلاکی پراته سپاهيان به دوينوتروروستی څاڅکی له مقابلی مخ نه اړوی،خوپه خلاص ډګربه سپاهيان پردښمن دحملی پرځای ستاسودساتنی په فکر کې وي ستاسوديوې زخمی کيدل اولويدل دسلګونوسپاهيانوروحيه ماتوی اودااسی جګړه نه ده چی موږستاسومرستی ته اړوو،تاسولږويدی شی ښايی دشپی دزخميانودپټی لپاره ويښی پاتی شی،خالده دوی دننه بوځه.

دائی وويل اوبيائی دمورچل له سوری نه بهروکتل کله چی دواړه پوځونه يوله بله سره کيوتل محمدبن قاسم په آس سپورشواوددروازی دخلاصولوحکم ئی وکړ.

خالدزهرااوناهيدپه کوټه کی پريښودی اوبيرته راوتلوهغه لاتردروازه نه ؤراوتلی چی زهراورپسی رامنډه کړه ترلمن ئی ونيووئی ويل:

دخدای په خاطرمادرسره بوځه زه په ژونداومرګ ستاملګری نه شم پريښودلای.

خالدپه غوسه ورته ويل: زهرا! بی عقله کيږه مه تادسالارامرواوريدماپريږده چی پوځ له کلاته بهرته وزی.

دزهری په سترګوکې اوښکی راغلې وئې ويل: دخدای لپاره مابی زړه اوبزدله مه ګڼه زه له تاسره مرګ ته تياره يم.

خالد: زهرا،زهراماپريږده دائی وويل اودزهرالاس ئی وښنډل خوهغی ئی لاره ونيوه اوپه مخه کی ئی ودريده.

هغی بياورته وويل: که ته دانيکمرغی نشی پريښودلای ماولی تری محروموی؟

خالد: زهرا! دادلښکردامیرحکم دی اوپه جهادکی داميرله حکم نه سرغړاوی ترټولوسترجرم دی.

زهراماايوسه شوه دهغه لمن ئی پريښوده دناهيدغيږی ته ئې ځان وروغورځاوه په ژړااوسلګوشوه.

خالدپه منډه ځان دروازی ته ورساوه سپاهیان تللی وواودروازه بنده وه خالدپهره دارته ددروازی دخلاصولووویل خوهغه ځواب ورکړ: ترڅوله بهرنه دسالارامرنه وی زه دروازه نشم بیرته کولی.

دخالدله پښوځمکه وښوئیده هغه فکروکړچی شاید پرده دبی زره اودارن گومان وکړی په منډه ئی ددروازی له سوریوبهروکتل.

دکلاپلی پوځ له شانه دبهیم سنگ پر پوځونوبرغل کړی ؤ اودمحمدبن قاسم په مشری (۶۰)تنوسپرودډښمن په زړه حمله کوله.

خالدددښمن دلښکروپه تل کی هلالی بیرغ لیده لاس ئی ومروړل پهره دارانوته ئی وویل: ماته دروازه خلاصه کړی هغوی به زماانتظارکړی وی خوبیابه ئی گومان کړی وی چی زه له ویری چیرته غلی شوم دخدای په خاطرماپریږدی.

پهره دارورته وویل: ته ډاډه اوسه ! سالارپه تاداگومان نه کوی چی ته بزدل یی که نه نوستادوژلوامرئی کاوه هغه داویل چی له مجونوسره ستاپاتی کیدل غوره دی مورته ددروازی دخلاصولواجازه نشته.

خالدوویل: نوزه به په دیوال ښکته شم دائی وویل اودبرج دزینوپه لوری وزغاست په لاره کی زهراولاړه وه هغی څه ویل غوښتل خوچی دخالدوضعه ئی ولیده چوپه پاتی شوه خالدهغی ته په غوسه وکتل وئی ویل: اوس به ته خوښه وی زهراورته وویل: ماوبخښه زه ښځه یم.

خالد: خدای دی یوژوندی قوم ستاغوندی ښځونه ساتی دائی وویل په زینووخوت رسی ئی وغورځوله اودسترگوپه رپ کی شاته کوزشو.

زهراپه منډه کوټی ته ننوته توره ئی واخستله ناهیدپوښتنه وکړه: زهراچیری ځی؟

زهراځواب ورکړ: ناهیدی! ستاوروروتل په ماغلط گومان کړی که زه بیرته راونه گرځیدم ورورته دی ووایه چی زه بی زړه نه وم کاشکی زموږتولنی ښځی ته دمیره دحکم منلوپرځای په کوم ښه هدف دقربانی حکم ورکړی وای.

ناهیدوویل: زهراودریږه! زهرا،زهرا!!

خوزهرادتوندشمال په څیرکوټی ته ورننوته اوبیرته ووتله ناهیدله شاورپسی ورغله خوترڅوپه زینوورختله هغی رسی غورځولی وه اوله دیوال

نه دکوزیدوپه حال کی وه.
سپاهیانوغوښتل هغه راوګرځوی خودی ورته وویل که می چامخه ونیوله له برج نه به ځان وغورځوم.
سپاهیان اندیښمن ودریدل یویل ته ئی کتل اوزهراپه رسی لاندی کوزه شوه.
ناهیدبرج ته وختله په زهراپسی ئی چیغی کړی زهرااوګرځه لیونی کیږه مه،خودهغی ګامونه نورهم ګړندی کیدل ناهیدمایوسه شوه غوښتل ئی داهم وریسی ورشی خویوه بوډاعسکرورته وویل: دښځی جوش ړوندوی که ته وریسی ورغلی دابه ددښمن دپوځ زړه ته ورشی.
ناهیدمایوسه شوه له یوه سپاهی نه ئی غشی اولینده وغوښتل اودبرج په یوه مورچل کی کیناسته یوآس چی سپورئی دجګړی پر ډګرغورځیدلی ؤیوی اوبلی خواته منډی وهلی زهراورچتکه شوه دهغه قیضه ئی ونیوه اووریاندی سپره شوه ناهیدچی هغه په اس سپره ولیده لړداده شوه اودسلامتی دعایی ورته وکړه.

*****

(۶)

دمسلمانانوپرپوځ دبهیم سنګ دپوځونولومړی حمله ډیره زوروره وه اوهغوی په یوه تنګه دره لرپه شاولاړل.
خوپیاده پوځ چی شاوخواغونډی ونیولی اودغشواورول ئی پیل کړل نودسنددلښکرپام دوخواوته شوپه همدی وخت کی محمدبن قاسم دکلادروازه خلاصه کړه اوله شانه ئی حمله وکړه دخوسپاهیانوسره ئی دد:ښمن پوځونه تاراومارکړل اودلښکرزړه ته ورسید.
محمدبن هارون چی دددښمن دلښکرپه زړه کی دهلال بیرغ ولیدخپل لښکرته ئی له دریولوریودعام یرغل امروکړ.زبیردمحمدبن قاسم دمرستی لپاره پنځه سوه تنه ورسره ملګری کړل اوورواندی شو اودسترګوپه رپ کی ورسره یوځای شول، دبهیم سنګ لښکروارخطاشواودکلاپه لورئی ماته وکړه په دره کی اوچت شوی ګردونه دمابنام له تروږمیوسره یوځای شول اودشپی دراتګ خبرئی راوړبهیم سنګ دوروستی ځل لپاره دخپل مات ګوډپوځ

دراتولولواوسمبالولوهڅه وکړه خودزبیرپه پله دمحمدبن هارون نورپوخ هم ددښمن نه دګرصاف کړاوله محمدبن قاسم دوی سره یوځای شول.

دبهیم سنګ لښکرګډوډشواوپه مختلفوډلوویشل شودمسلمانانودفشارپه وجه زیا تی دلګی په شاشوی او کلا ته نژدی ورسیدل اوکله چی دکلاساتونکوغشی پرې واورول وارخطاپه یوه اوبله خواوتښتیدل.

خالددتکبیرپه ناره له یوی غونډی نه راواوچت شواوددښمن په یوه ډله ئی حمله راوړه وارخطادښمن تیښتی ته مخه کړه خالدله خپلوملګرونه یوازی ددوی په تعقیب پسی ورغی دښمن چی هغه یوازی ولیدتری راچاپیرشول اوخالدئی له څلوروخواوایسارکړناڅاپه یوسپورراغی او د تکبیرپه ناره ئی پردښمن حمله وکړه خالددهغی غږوپیژاندتکان ئی وخوړهغه زهراوه دزهری توری یوپربل پسی ددوو سپروپه سرونوبریښناوکړه هغوی دواړه ولویدل اوپه خاوروکی ورپیدل،یوسپاهی راوړاندی شواوپه زهرائی دتوری ګوزاروکړدهغی آس ناڅاپه وتوریداوتوره ئی دمخی په پښه ولګیده اس څوخیزونه ووهل اوبیاوغورځیددمسلمانانوپوځونه ئی چی نژدی ولیدل دبهیم سنګ پوځونه له دی ځایه هم وتښتیدل خالدپه منډه زهراته ورغی هغه پرمخی پرته وه خالدچی ورنژدی شولاس اوپښی ئی مره شول دهغی په شادوینوخاپونه وودهغه ترخوله په یوه وخت دعا، زګیروی اوآهونه ووتل،ودریددوه زړی غوندی شوورپدیده اوبیایې زهراپورته کړه دزهری په تتردوینونخښی وی دوه غشی ئی په زغره کی نښتی وودهغه ټول حواس په سترګوکی راټول شول یوپربل پسی ئی دواړه غشی وایستل اوونئی غورځول زهراله یوی اوږدی ساه وروسته سترګي وغړولي اوجګه شوه کیناسته خالددسپوږمی په تته رڼاکی دهغی ژیړه څیره ولیده وئی ویل: ډیره خوبه په عذاب نه ئی ؟

دزهراپه شوندوفاتحانه موسکاغوړیدلی وه وئی ویل: نه مادغه غشی احساس کړی هم نه دی له آس نه دلویدوله امله می سرراباندی وخرخیدزه بلکل روغه یم دجګړی وضعه څه ډول ده؟

خالد: میدان خالي شوی دی خدای موږته بری راپه برخه کړخوناهیدچیرته ده ؟

زهرا: هغه په کلاکی ده زه له تانه یوه پوښتنه کوم .

خالد: څه پوښتنه ؟

زهرا: ته خوبه له مانه خفه نه یی؟

خالد: اوف زهری ! مامه شرمنده کوه زه په خپله تونده لهجه پښیمانه یم.

زهری وویل: نه غلطی زماوه زه ویریدم چی ښایی ته بیرته راستون نشی خونن ماولیدل چی انسان ته له خپلی تاکلی مودی نه وړاندی مرگ نه راځی ، زه دغشوپه باران کی میدان ته راورسیدم خوداسی می احساسوله چی دقدرت مزبوت لاس می ساتی .

دمسلمانانوپوځ دتکبیرنارې وهلې اودکلا په دروازه کې راټولیده خالدوویل: راځه زهرا!ناهیدبه ډیره اندیښمنه وی.

زهرااوچته شوه له خالدسره ئی څوگامه واخستل بیائی سروڅرخیداوپرځای کیناسته.

له خالدنه ئی اوبه وغوښتی هغه دیوه لویدلی سپاهی پټك په خوله وړکیښودزهراڅوغوړپه اوبه وڅښلی اوکیناسته خالدورته وویل: زهرا!زه به دی اوچته کرم دډیرو وینودبهیدوپه سبب کمزوری شوی یی.

زهراوویل: نه ! دتندی له امله می سروچورلیده ماته یوازی ستاتکیه کافی ده.

خالدهغه ته خپل مټ تکیه کړاوورو ورو ورسره روان شو،څوگامه وروسته ئی د ناصرالدین غرواورید:زهرا! زهرا!

زهراخالدته وویل:ورورزماپه لټه کې دی غږورته وکړه.خالدپه لوړآوازوویل:زهرادلته ده له ماسره.

ناصرالدین زبیراوناهیدگړندی دوی ته ورغلل ناهیدورمنده کړه زهراته ورغاړه غړی شوه ویی ویل: زهرا!زهرا!زماخوری څنگه یی؟

هغی ځواب ورکړ:زه بلکل روغه یم.

ناهیدخپلی گوتې ئمجنی حس کړی دهغی په شائی لاس راتیرکړپه وارخطایی یی وویل: زهراته زخمی یی ناصرالدین وروره داکلاته ورسوه.

ناصرالدین وروړاندی شودزهراداوچتولوهڅه ئی وکړه خودی ورته وویل: وروره! زه بلکل روغه یم زه تلای شم بیایی وویل: داڅوك دی؟ زرئی پخپله وویل: زبیره وروره ! ته وبخښه ماونه پیژندی،زبیروویل: زماوروکی

خوری ! ته خپل ورونه خفه کوی اوس به موږ ستاپه تېپونوپټی ږدو.
څوګامه وړاندی چی ولاړل سعدئی ولیدهغه په میدان کی پراته مړی لیدل خالدورغږکړ:کاکاڅوك لټوی موږدلته یو.
هغه په منډه څان وروړساوه اوپه ناکراری یی وویل: زمابچیه ! زمابچیه تاسوچیرته وی.
خالدپه خنداورته وویل: موږستالټون کاوه.
سعد: تاسوزه لټولم! دروغجنه ! له ناهیدنه وپوښته موږڅومره په اندیښنه کی وو.
ناهیدوویل: دی ستاالپاره ډیراندیښمن و.موږپه میدان کی یوځل راوګرځیدوخوده به دری ځلی راکتلی وی.
سعدوویل:یوازی دغه میدان نه ماخوشاوخواغونډۍ‌هم پل په پل وکتلی تاخویه غږکړی ؤزماپه ډیروناروغږکیناست.
خالدوویل: ماستاغږنه دی اوریدلی که نه خامخامی ځواب درکاوه.
سعدوویل: ددی زخمیانوپه ژړااوکړیکوکې دچاغږاوریدل کیدای هم نه شی دوی په همدی خبروکی دکلادروازی ته ورسیدل ناهیدسعدپه غوږکی غلی څه وویل هغه په تائیدله سرخوځولووروسته ناصرالدین ته وویل: زه له تاسره حانګری یوه خبره کوم.
ناصرالدین له هغه سره څوګامه وړاندی ولاړاوبیائی وویل: وفرمایه څه وایی؟
سعدشاوخواته راتېولوپوځیانوته وکتل ویی ویل: دلته نه دلته ډیرخلك دی.
ناصرالدین ورته وویل: ډیره ښه ده چیرته دی چی زړه وی درځه!
له کلاته نژدی پنځه سوه ګامه لری سعدپه یوه ډبره کیناست اوونی ویل: راځه ته هم کینه.
ناصرالدین دهغه په مخکی په بله ډبره کیناست.
سعدوویل: لومړی وعده وکړه چی زمادخبری له اوریدوسره به می سرنه راماتوی.
ناصرالدین ځواب ورکړ:که کومه دسرماتولوخبره وه نوخامخابه دی

سرماتوم.

سعدله لړسوچ وروسته وويل: خبره خوداسی نه ده خوړه پردیولاسونوڅه باوردی ښه زه درته وایم،خبره داده چی مایانه،نه زهراستاخورده اوزمالپاره هم ترلورکمه نه ده خالدهم په ماډیرګران دی بلکل لکه زوی می اوله دی وړاندی نه پوهیږم زه څه ووایم ؟ زه ویریږم خفه نه شی!

ناصرالدین وویل: زه وپوهیدم ته داوائی چی دخالداوزهراواده وشی؟

سعد: هوهوخدای دی له تاسره ښه وکړی ماهمداسی ویل غوښتل.

ناصرالدین بس دهمدی خبری لپاره دی زه دومره لری راکش کړم؟

سعدځواب ورکړ: ماویل که ته زماډیری شکولوکوشش وکړی نوځوك به موتماشا نه کوی .

ناصرالدین ځواب ورکړ: زه حیران یم چی تاولی دومره بدسری ګنلی یم زماله ګنګونه کرکه وه له سعدسره می په زړه کی همدومره مینه اودرناوی دی چی دیوه «نوابزاده»په زړه کی له خپل پلارسره وی ته چی څه وخت غواړی ددواړو واده کولی شی.

زه غواړم چی همدااوس داکاروشی.

ناصرالدین : خوزهرااوس تبې ده.

سعدتکان وخوړوئی ویل: زهراتبې ده ! ماته ولی چاونه ویل؟راځه چی ځو.

ناصرالدین هغه ته تسلی ورکړه وئی ویل:دویری خبره نه ده هغه بلکل معمولی زخمی ده.

# د تولو دوست

ترنیمی شپی پوری دمحمدبن قاسم ستومانه پوځیان دزخمیانوپه پتی اودشهیدانوپه ښخولولګیاوودجنګ په میدان کی څلوروخواووته ددښمن دزخمی سپاهیانوژړااوفریاداوچت ؤ.دشهیدانوله جنازی وروسته دمسلمانانواولس کلن مشرچی تولو ورځ ئی په توره وهلواونیزه ویشتلولاسونه شل شوی وو ژی په اوږه کراوددښمن دزخمی سپاهیانودتندی ماتولولپاره ئی اوبه واخستی هغه سترګی چی دجګړی په وخت کی دقهراوغوسی لمبی پکی ځلیدی اوس دمات شوی اوبی وسه دښمن دتپیانوپه لیدوغمجنی وی اواوس هغوی ته دبخښنی اومهربانی ډیوی بلی وی ، هغه لاس چی ددښمنانوپرسربی توره دتندرپه څیرراپریوته اوس ئی په زخمونوملهم ورایښود.

دمحمدبن قاسم سپاهیان له ستومانی نه بی سیکه شوی وو خودوی دخپل زلمی سالارپه څیرپوروحانی خونداحساساوه ، ددښمن زخمی پوځیان ئی اوچت کړل اودکلاپه مخ کی یی کتارکتارځملول ، ابن قاسم ډیوی غوندی په لمنه کی دچادرګیروی غبرواوریداومشال ئی اوچت کړهلته یی دخوصریوپه منځ کی یوزغره پوښ ځوان ولیدچی په زغره ئی خوځایه ډینوخاپونه وو ، اوپه پوښتیونی یوغشی ننوتلی ؤ دهغه له ښی لاس نه توره لویدلی وه خوپه کیڼ لاس کی ئی لادسندبیرغ کلک نیولی ؤ ، له محمدبن قاسم سره زبیر ، ناصرالدین سعداویوشمیرنورهم وو هغه مشال یوه ملګری ته ورکړپخپله په تپی ورتیت شو، دزخمی سرئی را اوچت کراوبه یی پری وښبنی دخوغوړپه

اوبوله څنبلووروستـه ځوان ورو وروسـتـرګی وغړولی اودمـحـمدبن قـاسم اونوروملګروله ليدونه وروسته ئی بيرغ په دواړولاسوکی کلك ونيو.

ناصرالدين زبيرته وويل: زبيره! دی دی ونه پيژاند؟ هغه لږوروړاندی شو زخمی ځوان ته ئی وکتل وئی ويل: آه ! داخوبهيم سنګ دی.

بهيم سنګ سترګې وغړولی په شونډوئی يوه دردناکه موسکاراغله وئی ويل: فتحه مومبارکه شه!

دمحمدبن قـاسم په پوښتنه زبيردبهيم سنګ خبره په عربی ترجمه کړه محـمدوويل: زه حيـران يم چی دداسی زړورقـومـاندان سره دسنډپوځ مـات شواووتښتيد.

بيائی زبيرته وويل: ته ده ته تکيه شه زه به ئی غشی وباسم.

زبيرراوړاندی شو بهيم سنګ ته ئی تکيه ورکړه محمدبن قاسم هغه ته لاس وراوږدکړ، بهيم سنګ بيرغ پريښوداودهغه لاس ئی ونيو.

محمدبن قاسم ناصرالدين ته اشاره وکړه ، هغه دبهيم سنګ دواړه لاس ونيـول غـشی ئی تری ويوست اولری ئی وغـورځـاوه بيـائی ناصـرالدين ته دزغری دايستلواشاره وکړه.

دبهيم سنګ زخم زيات ژورنه ؤ خوددېری وينی دبهيدوله امله هغه زيات بی سـيکه شـوی ؤ ، مـحـمـدبن قـاسم چی دهغـه له زخم تړلواومـرهم نه وزګارشوامرئی وکړچی دی کلاته ورسوی اوپخپله دنوروزخميـانوپه خدمت بوخت شو.

*****

(۲)

زهراخپلوتپونوته زيات اهميت ورنه کړدپخواپه شان سـهارجګه شوه اوله ناهيدسره دسهارپه لمانځه ودريده دلمانځه له اداکولووروسته بيرته په خپله بسـتره خملاسـتـه ويی ويل: ناهيدې کـاشکی زه ډيره تپی وای اوسـتـادپتی لګولونه می خونداخستی.

ناهيدپه موسکاځواب ورکړ: ته زمادخدمت په خيال کې ئی که دخالد!

دزهراپه باړخوګانوکی دحيـاسـرخی وځليـده ، دروازه ناصرالدين وتکوله اووئی ويل: مـاته دننوتلواجازه راکوی؟ ناهيداوچته شوه بلی کوټې ته دتګ

په حال کې ئې ورته وویل: اوس جګه شه که نه !
زهراوویل: که نه نوڅه به وشی؟
ناهیدوویل: که نه نوواده به دی ددیبل ترفتحی پوری وځنډیږی.
دزهرازړه په درزاشو، جګه شوه دناهیدلمن ئې ونیوله وئی ویل: ناهیدی! ناهیدی خوری داڅه معامله ده ربښتیاراته وایه؟
ناهیدخپله لمن تری خلاصه کړه وئی ویل: ستاوروربهرولاړدی ماپرېږده.
زهرا: نه ! ترڅوماته سمه خبره ونه کړی نه دی پرېږدم بیائی په زوره وویل: وروره لړتم شه زه له ناهیدی خورسره څه خبره کوم ، ښه اوس ووایه !
ناهیدوویل: ښه ده درته وایم یی واوره:
دشپی چی سعدراغی ستاپوښتنه ئی وکړه ماټول حال ورته ووایه ستادزړه ټول کیفیت می ورته تیرکړهغه ته دمخه هم ترډیره په دی اړه پته لګیدلی وه ستابه په یادوی چی کله کلاته راورسیدوهغه ستاوروریوی خواته ورسره ګوښه کړ.
زهرا: نوهغه به زماوروورته څه ویلی وی؟
ناهید: همداخبره چی بایددتااوخالدواده وشی.
زهرا: خوری ربښتیاوایه ټوکی مه کوه.
ناهید: لیونی ټوکی نه کوم ستاوروربه اوس زماخبری تائیدکړی دزهراپه سترګوکی دخوښی اوښکی وځلیدی ناهیدوویل:
اوهو! ته ژاړی ، زماورورډی خوښ نه دی ؟
زهراپه موسکاځواب ورکړ: نه !
ناهید: نوزه ستاوروورته پخپله وایم چی تاپه واده مجبوره نه کړی ورته ووایم؟
ناهیدپه یوه شوخه موسکادروازی ته ورنژدی شوه خوزهراوروړاندی شوه اوورسره غیږپه غیږشوه وئی ویل:
زماخوری ؟ زمامشری خوری ، اواوښکی ئی پاکې کړې.
ناهیدوویل: نوته له خالدسره په واده خوښه ئی؟
زهراورته وکتل وئی خندل اوبلی کوټی ته ئې ورتیل وهله وئې ویل ورڅه ته ډیره شریره یی.

ناصرالدين له بهرنه وويل: زهراستاسوخبرى به څه وخت خلاصى شى!
زهراپه خپله بستره كيناسته اووئى ويل:
راځه وروره ! ناهيدبلى كوټى ته تللى ده.

*****

(۳)

ناصرالدين چې په كوټه كې ښه كيښوده پوښتنه ئى وكړه: اوس دى زخمونه څنګه دى؟

زهراځواب وركړ: هغه معمولى ګريدلى وو، زه بلكل جوړه يم ناصرالدين دى ته نژدى په كټ كيناست ، دزهرازړه درزيده له لږسوچ وروسته ناصرالدين وويل: زهرا! خالديوزړورځوان دى زمااراده ده چې ستاوادە ورسره وكړم ، ستادارشته خوښه ده ؟

زهرادځواب پرځاى مخ په دواړولاسوپټ كړناصرالدين له لږسوچ وروسته بياوويل: زماآرزووه چې دسنددفتحى نه وروسته ستاواده ښه په ډنګ ډونګ شوى واى خومسلمانان داسى رواجونه بدګڼى پردى علاوه له سنديانوسره اوس فيصله كوونكى جنګونه لاپاتى دى سپاهى په خپل ژوندهيڅ باورنه لرى ، زه غواړم چې تاپه خپلولاسوخالدته وسپارم ناهيدله تاسره ډيره مينه لرى هغه به ستاخيال ساتى اوزه به په زيات داډداسلام خدمت ته وزګاريم زهرا! په دى سرګردانى كى له ماسره تاته له دعاپرته نورهيڅ نشته كه له ماسره دنړى تول دولت واى هم مابه په تاښندلى ؤ زهرا: وروره ! وروره ! بيائى دناصرالدين په غيږكې سروركيښوداوپه سلګوئى وويل: ماته دهيڅ شى ضرورت نشته.

ناصرالدين په مينه دزهراپه سرلاس راكش كړويې ويل:

زهرا ! زماخواراده ده چې همدانن ستاسوواده وشي پوځ درى ځلوروړځى نورهم دلته پاتى كيږى، خوداهم امكان لرى چې ناڅاپه له ديبل نه دراجه دلښكردحملى خبراشى اوموږهم ناڅاپى روان شو.

سعدمحمدبن قاسم ته هم دغه خبره كړى اوهغه ډيرخوښ دى، سعدله خالدنه هم پوښتنه كړى اوناهيدخورته هم مباركى ووايه سترسالارپخپله ددى ورور ورغوښتى اودهغه رضايت يى ترلاسه كړى، اوهغه په پخپله

دتاسودواړودنکاح خطبه لولي.

له بهرنه سعدناصرالدین ته غږوکړاوهغه له کوټې نه وروت زهرااوچته شوه دمخامخ کوټې دروازه ئې خلاصه کړه اوورته ويل: ناهيدې ، ناهيدې ! تاواوريدل نن دي واده دی !

ناهيدوويل: زماواده ! اوپه مخ کې ئې دحياوخوږې سرې اوسپينې څپې راغلې.

زهرا ! هوکې ناهيدې ! ستاواده اوس ووايه ستازيرورور خوښ دی که نه!

اوزه به هم اوس هغه راوغواړم ورته وايم به چې ځانته کومه بله ښځه خوښه کړه.

ناهيد : ته ډيره شوخه يې زهرا!

خالدکوټې دروازه وټکوله اوناهيدته ئې غږوکړزهراپه خنداورته وويل: ناهيد ! زرورشه که نه واده به دې دسندترفتحې پورې وځنډيږي.

زه توکې نه کوم ستاورور به اوس زماخبره تائيدکړي.

ناهيدزهراته په مينه ناك نظروکتل اوبيابلې کوټې ته ولاړه دهغې زړه دخوښيوپه سمندرکې غوټې وهلې اوښې ئې ريږديدلې.

*****

(٤)

مابنام دلښکرتول قومانداتان دکلاپه يوه پراخه کوټه کې راغونډوواوزبيراوخالدته ئې په ودونومبارکي ورکوله ناهيداوزهراپه خپله کوټه کې وې اوسوله بله ئې خبرې کولې ، ناهيدوويل: زهرادنکاح په وخت کې دې ژبه ولې گونگه شوه؟

زهراوويل: ناهيدې! زه نه پوهيږم ته پوهيږې که نه خوزماپه دې باورنه ؤ چې داهرڅه به دومره زروشي زما په غوږونو کې انگازې وې ، په دې نه پوهيدم چې اوس چيرته يم بياکه دنکاح دخطبې لوستونکی له محمدبن قاسم پرته بل څوك واي هم زه به دومره نه واي وارخطاشوې.

دهغه په څيره کې څومره جلال اوپه غږکې ئې څومره رعب ؤ.

رښتياوايم هغه انسان نه دی «ديوتا» دې اوموږته ئې له ديوتا نه ويره

رابنودلی ده ناهیدی ! که ته له ماسره نه وای نوبنایی زماژبه بلکل گونگه پاتی وای هغه پوښتنه وکړه: خالد دی قبول دی؟

زه له شرمه خولې خولې شوم ناهیدی تراوسه پوری زماباورنه کیده چی زماواده ستاله وروسره شوی کله کله خوبه ذهن کی راگرځی چی زه یوخوب وینم آیاتاته خپل واده خوب نه ښکاری؟

زهراموسکی شوه اوناهیدئی په غاړه کی لاس وزرامیل کړل اوبه غیږکی ئی ونیوه ، ناهیدزهراپه ښکلواوتوروویښتانوکی گوتی وهلی ناڅاپه ئی یوڅه په خیال کی وروگرځیدل بیائی له خپلی غاړی نه دغمیوهارراوکیښ اودزهراپه غاړه کی ئی ورواچاوه.

زهراوویل: نه ، نه ! داله تاسره ښه ښکاری.

ناهید ځواب ورکړ: زماسره بل شته ماته خالدراکړی دی .

دائی وویل اوبیائی دقیمتی غمی گوته هم راوایستله اودزهرادااحتجاج سره ئی هغی ته وربه گوته کړه وئی ویل: گوره ! که ته زماخوښی غواړی نودامه لری کوه.

زهراغمجنه غوندی شوه ناهیدته ئی وکتل ناهیدوویل:

زهرا ! ته ولی خفه شوی ؟ زماگانه ښه نه ایسی اوس یی ستاسوپه وطن کی استعمال رواج دی.

زهراوویل: خوزموږپه وطن کی وریندارډخاوندخورته څه ورکوی تری اخلی ئی نه ، اوزه دکوره دومره لری ........ !

ناهیدئی خبره ورغوڅه کړه وئی ویل: لیونی ! وریندارمی نن شوی تراوسه پوری می ډیره موده وړوکی خوروې.

زهراوویل: ناهیدی ! دسندله فتحی نه وروسته زمادورورارداده ده چی ځوورځی هلته ولاړه شم کاشکی ته هم له موږسره ولاړه شی زموږکوردسمندرپه غاړه په یوه کوچنی کلاکی دی دری خواوته ئی دآمونوپراخه باغونه دی په منځ کې ئې یوه ویاله بهیږی مابه ددی ویالی په غاړه په یوه ونه زانگواچوله اوتهالونه به می خوړل دبرسات په موسم کی به ددی ویالی اوبه ډیری تیزی بهیدلی اوزه به له خپلوسهیلیوسره پکی لمبیدم په باران کی به موامونه راشکول اوخوړل مو، ترشاتوخواږه آم ، له باغ نه

لېږواندي يوښکلي لوی دنډ،موږبه په اوبوکی لامبل اولوبی موکولي اوکنول «نيلوفر» گلونه به موراشکول ناهيدی ! زه به تاخامخاهلته بيايم .

ناهيدخواب ورکړ: خدای دی زموږپوځ ته بری ورکړی امکان لری له سندنه وروسته زموږپوځ ستاسوښارته مخه کړی.

زهراوويل: خدای دی هغه ورځ زرراولي اوزه به په خپلولاسوپه هغه کلاداسلام بيرغ ورپوم ناهيدی ! زه حيرانه يم چی زماپه خيالونوکی دومره ژوريدلون څه ډول راغی زماله تيټ ذاتونه ډيرنفرت ؤ ، يوه ورځ زه له خپلوسهيليوسره ددندغاری ته تللي وم هلته يوه تيټ ذاتی هلك لنبل موږهغه په ډبرودومره وويشت چی بی سده شو،يوه ورځ زموږدباغ ترڅنگ يوتيټ ذات مسافرتيريده لاندی لويدلی څوآمونه يی راټول کړل زموږمزدورانواته ورځی په ونه پوری ترلی ؤزه څوځلی هلته ورغلم ته به حيرانه شی چی هغه به ماوړی تږی وليدهيڅ می زړه ورباندې نه بديده.

اوس که زه هلته ولاړه شم دشاوخواتولوتيټ ذاتوته به وايم چی راشی زموږدباغ امونه وخوری زموږدڅاه يخې اوخوږی اوبه وڅښی ! دهغوی ترټولوسترارمان به داوچی زموږمندرونوته راشی اوزموږد«خدايانو» عبادت وکړی زه به اوس دوی ته داپيغام پوسم چی مسلمانان دی هيوادته دداسی عبادځايونوجوړولوپاره راغلي دی چی يوغريب له يوه نواب سره يوځای پکی عبادت کولی شی بلکی يوغريب له نواب نه مخکی هم دريدلی شی

ناهيدوويل:خدای دی ستادغه آرزوترسره کړی.

* * * * *

(۵)

محمدبن قاسم چی وليدل په کلاکی تول پوځ نه ځائيږی له کلاته بهرئی خيمی ودرولی دخپل پوځ د زخميانوپه خيرئی دبهيم سنگ دپوځ زخميانوته هم په خيموکی ځای ورکړ، خپلوجراحانواواکترانوته ئی هدايت ورکړچی ددښمن دزخميانوپه پتی اوعلاج کی سستی ونه کړی، هغه پخپله هم دجراحی اوطبابت په علم کی پوره لاس درلود، سهاراوماښام به دتپيانوپه خيموراگرځيده له هريوه نه به ئی ځانگړی دصحت پوښتنه کوله دوی ته به يی داډ ورکاوه .

ددښمن دزخميانوپه پوښتنه کي به ئي سعدترجمان په حيث ورسره ملګری کړهغوی به ئي چي خفه وليدل ورته ويل به ئي چي ډيرزربه روغ شی ، داهی فکرمه کوی چي تاسوزموږبنديان ياست کله چي روغ شی په هرلوری چي ځی تلای شی.

هغوی به ده ته په نيك نظرکتل اوويل به ئي : موږله شرمه تاته ددومره زحمت درکولوحق نه لروته ارام وکړه.

اومحمدبن قاسم به ويل: نه دازمافرض اومسؤليت دی.

له بهيم سنګ سره دمحمد بن قاسم ژوره علاقه وه هغه به دوه وخته پخپله دده زخمونه کتل اوپخپله به ئي پټی پری لګولی ناصرالدين اوزبيرهم په هرډول دده تسلی کوله بهيم سنګ لومړی داګنله چي داچلن دده دملګرودتيرايستلوپاره دمسلمانانويوچل دی خودری څلوروځی وروسته ئي دااحساس کړه چي په دی کی رياودروغ نشته بلکی محمدبن قاسم اوملګری يی فطرتاًله نوروخلکوسره توپيرلری.

دهغه زخم ډيرخطرناك نه ؤخودډيرې وينې بهيدوپه وجه ډيرېی سيکه اوکمزوری شوی ؤ دمحمدبن قاسم په دوااوپټی اودزبيراوناصرالدين په تسلی اوخدمت هغه په څلورمه ورځ دګرځيدوراګرځيدووړشو.

په پنځمه ورځ دپخواپه شان دماسختن له لمانځه نه وروسته محمدبن قاسم له سعدسره يوځای دزخميانوپه خيموراګرځيده اودبهيم سنګ خيمی ته ورغی هغه په خپله بستره غځيدلی ؤ اودخوب په حال کی ئي خبری کولی ! نه نه ! مابيادهغه مقابلی ته مه استوه ! هغه انسان نه دی ديوتادی ته بنديان پريږده دی به دی ګناه درويخبنی نه نه ! زه نه ځم ، دراجه دبدوپه سزاکی به څه ترلاسه کړم ! زه له مرګه نه ويريږم خوکه تاسوماووژنی راتلونکی مصيبت نشی پری دفع کولی ، ظالمه ! بزدله .... اوف بګوان «خدايه ! ».

بهيم سنګ له يوه تکان سره سترګی وغړولی اوپه حيرانی ئي سعداومحمدبن قاسم ته وکتل ، محمدبن قاسم ورته وويل: تا لکه چي کوم ويرونکی خوب ليده !

بهيم سنګ په چورت کی ډوب شو دهغه په تندی دخولوڅاڅکوبنودله چي په خوب کی په سخت ذهنی کشمکش کی ؤ محمدبن قاسم ورواندی شو

لاس ئی ونیواووئی ویل: ستاوضعیت خواوس ښه دی له زخم نه خوبه په تکلیف نه یی؟

دهغه په شونډویوغمجن تبسم وځلیدوئی ویل :

نه محمدبن قاسم وویل : زماپوخ سباته له دی ځایه کوچ کوی زه افسوس کوم چی دځینومصلحتونوپه وجه دلته زیات نشوځنډیدای که نه نوبوخوورځی به می نورهم ستاعلاج اوپتي کوله په هرصورت په کلاکی پنځه سوه تنه سپاهیان پاتی کیږی هغوی به ستاسوخدمت کوی ، ستادپوخ هغه زخمیان چی روغ شویدی سباته رخصتیږی خپلوکورونوته به ستانه شی ته ترڅوپوری په آس دسپریدونه ئی همدلته به پاتی یی.

بهیم سنگ وویل: ستامطلب دادی چی تول بندیان به خوشی کوی؟

محمدبن قاسم ځواب ورکړ: زموږهدف دخلکوبندیان کول نه دی بلکی موږهغوی دیوه ظالم نظام له منګولونه خلاصوواودیوه داسی نظام سره ئی اشناکووچی بنیادی اصول ئی مساوات دی،ستاسوپوځیانوموږبیگانه یرغل کوونکی گڼلواومقابلی ته راغلل، هغوی ته دامعلومه نه وه چی موږدوطن په خاطرجگړه نه کوو.زموږجگړه دقوم لپاره نه ده موږپرسنددعربوبرلاسی نه غواړوموږپه توله نړی دانسان دغوره ژوندانه لپاره انقلاب غواړو.داسی انقلاب چی دمظلوم دسراوچتولولپاره دظالم له لاسه متروکه اخلی زموږجگړه دپاچاهانواوتولواکانوجگړه نه ده.

اوزموږجنگ ددی لپاره نه دی چی دسنددراجه له سره تاج واخلوپرخپل سرئې کیږدو.

موږداثابتول غواړوچی دتاج اوتخت هیڅ یوخاوندهم داحق نه لری چی په دنیاخپل قانون ومنی.

تاج اوتخت دخودغرضه انسانانودخپلولاسوجوړکړی بت دی اوددوی قانون هم چی یوازی دهمدی بتانودعظمت دساتنی لپاره جوړشوی انسانان په دووبرخو ویشی ظالم اومظلوم تاسودوی ته دپاچااورعیت اصطلاح په کاروی.

دسندراجه زموږکبنتی لوټ کړی اوزموږیتیمان اوکونډی یی یوازی ددی لپاره بندیان کړل چی هغه ځان ددغسی ظلم حقداربولی ، ځکه پاچادی

اواوس هغه زمونږ مقابله ددې لپاره کوي چې دده له لاسه دظلم دتورې لويدوخطردې دغه سپاهيان ددې لپاره زمونږ مقابلې ته راوزي چې دوي ته ددې مقابلې بدل ورکول کيږي.

له دې بيچاره گانونه همدغسې کاراخستل کيږي لکه سپاهي ئې چې له آس نه اخلي ، دوي مجبورواوديوي لږي اجورې په بدل کې ئې دسرونوپه بيه دظالم ملاترکاوه.

دوي په دې نه پوهيدل چې دوي دکوم انقلاب په مخه کې دريدلې هغه ددوي غوره والي غواړي دوي له مونږنه ويرول شوي وو اوس له فتحې نه وروسته نه زه پخپله ځان ظالم کوم اونه له د وګمظلومان جوړوم.

بهيم سنگ ورېل: نوستاداباوردې چې دغه پوځيان به بيرته دراجه په پوځ کې شامل نه شي؟

محمدبن قاسم ځواب ورکړ: زه په پوره باورنه شم ويلې چې دغه خلك ولاړشي بيابه دراجه په پوځ کې نه شامليږي،خوزه نورله دوي نه انديښنه نه لرم زمادخداي په رحمت باوردې د يوه لوړهدف لپاره دجنگيدونکوځواك ډيريږي کميږي نه ، له دې نه وړاندې دډيروقومونوپاچاهان له مونږسره جگړې ته راوتلې خوچې کله ئې دا احساس کړې چې زمونږسره غوره نظام اودين دې تول له مونږسره ملگرې شوي دي،ستا په پوځونوکې چې خداي چاته دحق اوباطل ترمنځ دتوپيرتوان ورکړې هغوي به هيځکله بياله ستنيدووروسته دظلم دډويډونکې بيرې دژغورنې هڅه ونه کړي اوکوم خلك چې بيازمونږمقابلې ته راشي له يودووجگړووروسته به د دوي هم پر دې پوځ باورشي چې زمونږتورې پخيدونکې نه دي.

بهيم سنگ ورېل: تاسودتاج اوتخت مخالف ياست اوپرانسان دانسان دحکومت مخالفت کوي خوکه په هيوادکې حکومت نه وي امن کله راتلاي شي ؟

محمدبن قاسم : که داستبدادډنډهداعتراض غږدمظلوم په مرې کې خپه کړيږي،ددې معنی دانه ده چې امن راغي ماتاته مخکې هم ووېل: چې مونږ په دنياکې دانسان قانون نه بلکې دخداي قانون غواړو.

بهيم سنگ ځواب ورکړ: قانون که دهرچاوي نافذکوونکې ئې انسان دې

که راجه اوپاچانه وی نوحاکم به ورته ویل کیږی اوترڅوچی په دنیاکی باغی خلك وی دداسی قانون نفاذاوعملی کول له ډنډی اوزورپرته امکان نه لري.

محمدبن قاسم وویل: داسې ده خودقانون نافذونکی تولی بایددنیکانوډله وی توکومه وخته چی موږ د نیکانوډله ووخدای به دخپل قانون دپلی کولوکارله موږنه اخلی،که ستاسودقوم خلك سباته د نیکانوډ له شی نوددی قانون دپلی کولومسئولیت به ددوی په اوږوشی ، خودزورډنډه به دخپل اقتدار د ساتلو لپاره نه ددی قانون دساتنی لپاره کاروی. دمسلمانانودامیراودنوروقومونودپاچاترمنځ همداتوپیردی چی هغوی زوربوازی دظالم پرخلاف دمظلوم دملاترلپاره کاروی اوپاچاهان ئی دخپل واك ددوام لپاره استعمالوی.

بهیم سنګ له لږسوچ وروسته پوښتنه وکړه: ماته هم له دی خلکوسره دتلواجازه شته؟

مامخکی هم وویل چی ته له رغیدووروسته چی کله وغواړی تلی شی.

بهیم سنګ وویل: زه ښه یم که دی خوښه وی سباته به ولاړشم .

محمدبن قاسم : تراوسه دی زخم نه دی روغ شوی بیادی هم خپله خوښه که ته غواړی ولاړشی موږدی نه ایساروو.

بهیم سنګ بیاله لږسوچ وروسته وویل: ښایی تاسوته معلومه نه وی زه دسنددلښکرودمشرقوماندان زوی یم زماتګ هلته تاسوته زیات خطرناك کیدای شی.

ځکه خوکه تاسوماپه دی وعده پرېږدی چی زه به بیاستاسومقابلی ته نه راوزم نوزه دی وعدی ته تیارنه یم.

محمدبن قاسم : ماتاته کله داسی شرط وړاندی کړی ، هو ! زه تاته یوازی یوه خبره کوم ته راجه داهرته زمادایوپیغام ورسوه چی اوس موږله «ارور»نه ډیرلری نه یو که هغه له عربی بندیانوسره بدسلوك وکړدابه ورته ښه نه وی.

بهیم سنګ ځواب ورکړ: زه داوعده کوم اوکه زه زموږله ټپی سپاهیانوسره ستاسودچلن یادونه وکړم نوخامخابه پری اثروکړی.

محمدبن قاسم : زه دنیکی بدله نه غواړم ، زه غواړم چی ته دده له

سترگونه دغرورپردې لرې کړه اوداورته ووايه چې داورغورځوونکې غره په څنډه ولاړيې.

ددې خبرواتروپه دوران کې بنايي ماکومه ترخه خبره کړې وي که ته په کومه خبره خفه شوې وې نوماانسان وبوله اوترې راتيرشه.

محمدبن قاسم داوويل اوله خيمې نه بهرته ووت بهيم سنگ په زړه کې داتکراروله ته انسان نه يې «ديوتا » يې.

# دسهارستوری

څوورځې وروسته دمحمدبن قاسم پوځ ددیبل نه څومیله لرې وارول،دشپې په دریمه برخه کې ئې دتهجدله لمانځه نه وروسته دزبیرپه ملګرتیاپه پړاوراوګرځید،دورځې په مزلونوستومانه سپاهیان په ژوراودرانده خوب ویده وو،پهره داران په خپل خپل ځای بیداراوګیرروو،دسمندردنم په وجه په سره هواکې دځوساعته خوب نه وروسته محمدبن قاسم په بدن کې سستي احساسوله زبیرته ئې وویل: راځه زبیره ! په هغه غونډۍ به خیژوځوك به ئې څوکې ته لومړی ورسیږي بیائې وویل: پام کوه یو ، دوه ، درې !

دواړومنده واخستله دغونډۍ څوکې ته ورنژدې شوی ، محمدبن قاسم له زبیرنه څوګامه وراندې ؤ خوله پاسه پهره دارچیغه کړه ! ودریږه ! څوك یې ! محمدبن قاسم ودریدځواب ئې ورکړ: محمدبن قاسم یم پهره دارئې غږوپیژاندو،ی ویل: مشرسالاره ! بې غمه اوسه موږبیدارزاوهوښیاریو.

په دې خندکې زبیرهم وررورسید.

محمدبن قاسم دسمندرپه تازه هواکې څوځلې ژوره ساه واخسته اوځلوروخواوته یې وکتل دشپارسمې سپوږمې رڼاته دستوروځلیدل پیکه شوي وو،دسپوږمې رڼانیلی سمندرته دیوی لوېی اینې بڼه وربخښلې وه ، په ختیځ افق دسهارسترګه راختلې وه محمدبن قاسم زبیرته وکتل اوویې ویل:

زبیره ! وګوره ، دغه ستوری څومره مهم دی خوژوندئې څومره لنډدی .

داهرسهارنرۍ والوته دلمر راختوپیغام راوړی اوورکیږي ، بلکې داسې بایدوواېوچې دلمرپه راتګ دتیاروپرده پرمخ غوړوی اوځان پټوی خوپردې

سربيره کوم اهميت چې دغه ستوري لري نورئې نه لري ، که دی هم دنوروستوروپه شان تړوله شپه ځليدلای بيابه ئې موږته دومره اهميت نه ؤ پاته شوی، موږتوله شپه په اسمان کې په مليونونوستوري وينوچې سترګکونه وهي خودغه ستوري ترټولوزيات زموږپام ورجلبوي ، دعاموستوريومرګ اوژوندموږته مهم نه دی کټ مټ دهغه انسانانو په څيرچې په دنياکې بې هدفه ژوندوکړي اوبيامړشي هغوی نړۍ ته دمرګ اوژونددمفهوم له وربښودلونه ناتوانه دي.

زبيره! زماددغه ستوري په ژونددسيالي تلوسه په زړه کې راپيداشي ، دده ژوندچې څومره لنډوی هومره ئې مقصدبيالوړاومهم وي ، وګوره ! داپرنړيوالوغږکوي چې : زمادفاني ژوندانه پرپای افسوس مه کوی ، خدای زه دلمراستازي راليږلی يم اوزه خپل فرض پوره کوم اوځم.

کاشکي زه هم په دې هيوادکې داسلام دلمردراختلونه وړاندې دسهاردستوري مسؤليت اداکړای شم.

زبيرپه څيرمحمدبن قاسم ته کتل دهغه په څيره کې دماشوم معصوميت دسپوږمۍ جذابيت ، دلمرجلال اوعظمت اودسهاردستوري په څيرسپيڅلتياوښکلاوه.

څوګامه وړاندې يوه پهره دارغږوکړ: ودريږه!

څوك يې؟

له لاندې نه غږوشو: سعديم .

محمدبن قاسم څوګامه وړاندې ورغی هغه ئې په سندي جامه کې وليدده پهره دارانوته وويل : هغه زموږخواته پريږدې سعدچې په مورچل پهره دارانوته ورروخوت بل لوري ته يې دتيريدوتکل کاوه خوپهره دارئې په مخه کې ودريددمحمدبن قاسم په لورئې اشاره وکړه وئې ويل:

لومړی هلته ورشه .

سعدځواب ورکړ: نه زه دسالارنه پرته له بل چاسره خبره نه کوم .

محمدبن قاسم غږوکړ: سعده ! زه دلته يم !

سعدټکان وخورددمحمدبن قاسم په لورئې وکتل اووړاندې ورغی محمدبن قاسم ترې وپوښتل : ووايه څه احوال دې راوړي؟

سعدخواب ورکړ: ددیبل ساتونکی پوځ پنځوس زره ته نژد دی زماپه گومان به دوی دسندله نورو ښارونونه دنوری مرستی په انتظارپه کلاگانوکی د جگړی هڅه وکړی.

محمدبن قاسم وویل: ایاداامکان لری چی که موږدوه دری ورځی دلته پاتی شودوی به له ښارنه راووزی اوپه موږبه یرغل وکړی؟

سعدخواب ورکړ: ددی خبری څه نخښه نشته دوی د«لس بیلا» دغرنی کلاله فتحه کیدونه وروسته په هواروځمکوکی دجگړی زیات لیوال نه دی.

محمدبن قاسم وویل: نوبیاباید له ځنډپرته پرښاروورشو.

*****

(۲)

ددیبل دښاردکلابندی پنځه ورځی تیری شوی وی،په دې موده کې دمحمدبن قاسم پوځ څوځلي دښارپردیوالونودوړپورته کیدوپه غرض د«دبابی» په واسطه حملی وکړی خوڅه نتیجه ئی ور نکړه دلرگیودبابه به چی دیوالونوته ورنژدی شوه له پاسه به دراجه پوځیانوجوشیدلی تیل پری ورتویی کړل اومسلمانان به دتیلوپه لمبوکی بیرته په شاشول،محمدبن قاسم یودیرلوی منجنیق راوړی ؤچی پنځه سوه کسوبه کشاوه ددغه منجنیق نوم «عروس» مشهورشوی ؤ دغرنیولاروده‌سکوټیتوپه وجه ئی عروس دسمندردځنډې په لاره دیبل ته راورساوه اودکلابندی په پنځمه ورځ دمحمدبن قاسم پوځیانوهغه په کشولودجگړی میدان ته راورساوه له دی وړاندی څوړوکی منجنیقونه هم ازمایل شوی ووخوغوره نتیجه ئی لانه وه ورکړی دښاردننه پوځیانوچی دعروس لوی والی ولیدهغه په خطرناکتوب وپوهیدل له ماښام نه وړاندی ئی په «عروس»څودرنی ډبری ښارته ورووېشتلی اوراجه دااحساس کړه چی ددی هیبتناکی وسلی په وړاندی به ددیبل دمزبوتی کلادیوالونه اوبرجونه ډیرمقاومت ونکړای شی.

په شپږمه ورځ سهاروختی محمدبن قاسم په ښارډبروباران پیل کړدښارپه منځ کی دیوه درمسال په دنگه مناره یوسوربیرغ رپیده ددرمسال دمنارپه څیردغه بیرغ هم ترنورولوړؤمحمدبن قاسم ته ددغه جنډی اهمیت معلوم ؤیوروایت داسی ؤچی ددیبل دوالی له ظلم نه یوبرهمن محمدبن قاسم

ته راوتښتیداودوی ته ئی خبرورکړچی ترڅودغه بیرغ نه وی رالویدلی دښارخلك به همت ونه بایلی.

محمدبن قاسم دمنجنیق په ویشتلوکی غیرمعمولی مهارت درلود ،هغه دعروس مخه برابره کړه اوسپاهیانوته ئی دډبروغورځولوامروکړ ،ددرنوډبروپه گوزارددرمسال دبرج لوتی تیت پرك شوی اوورسره سم سوربیرغ هم لاندی راپریوت.

ددی برج دنړیدواودبیرغ درالویدوپه وجه دراجه په اوهام پالوسپاهیانوکی دویری اوماتې نخښې راڅرگندې اوحوصلې ئې ماتې شوې ، خوبیاهم هغوی ترماښامه دمسلمانانولښکرکلاته نژدی پرینښود،دماښام په خړه کی دبرجونوغشی ویشتونکی کمزوری شول ، محمدبن قاسم دیوی پریکنده حملی امروکړاودمسلمانانوپوځ دالله اکبرپه نعروسره پرکلاددبابواوکمندونوپه واسطه ورروخوت ، دراجه پوځ دشپی تردریمی برخی پوری جگړه وکړه خوتردغه وخته دمسلمانانوپه سلگونوپوځیان کلا ته ننوتلی وو، دمنجنیق په گوزاردکلادیوال هم یوځای لویدلی ؤ.

راجه داهرچی دحالاتونزاکت ولیددښارختیځه دروازه ئی خلاصه کړه ، اودپیلانوپه مرسته ئی پوځ ته لاره خلاصه کړه اوبهر ووت مسلمانانودښارپه شاوخواکی دپوځ دتیت کیدوپه وجه په دروازه کی مقاومت ونکړای شو پیلانوپه ختیځه دروازه کې ددوی مورچلی ترپښولاندی کړی اوپه مخ ولاړل پرهغوپسی دراجه (۳۰)زره پوځ راووت دمسلمانانوپوځ له هری خواراټول شول اوپه دروازه کې ئې دپاتې پوځ دوتلومخه ونیوه،هغوی له راجه سره دمینی پرځای دځان ساتنی په خاطردتیښتی لپاره په دروازه څوزوروری حملی وروړی خومسلمانانودسترگوپه رپ کې ددوی د مړیو ډیری جوړی کړی هغوی مایوس شول اوپه شاولاړل اودمسلمانانوپوځ داوبودیوی زوروری څپی په څیرپه کلاورننوت په لږوخت کې دوی دکلاڅلورواړه خواوی ونیوی . دراجه پاتی پوځونوچی دکلاپه منځ کی له څلوروخواونه دالله اکبرناری واوریدی وسلی ئی وغورځولی اوسلامی شول.

*****

(۳)

محمدبن قاسم له خپل پوځ سره د دیبل دوالی په محل کی دسهارلمونځ اداکړ، دلرله راختوسره سم د دیبل ویریدلیواوسیدونکوله خپلوپامونونه داوولس کلن سالارد پوځ جلوس لیده، دکلاله فتحی نه وروسته محمدبن قاسم چی اسیرشوی پوځیان پریښودل اودزخمیانوپه تپونونئی پټی کیښودلی روغ ئی رخصت کړل هغوی هندوستان ته دیونوی «دیوتا» دراتګ پیغام ورکړ.

دهغه دزلی توب ، زړورتیادعفوی اورحم په باب داسی داستانونه مشهورشوی ووچی داستبدادی حکومت ځورول شویوخلکوباورنشوپری کولای.

په تیروورځوکی دراجه پوځ ددیبل ښاریان ډیرځورولی وودیبل ته دراجه دپوځونوپه راتګ ددوی کورونه تری پردی شوی وودشپی به دراجه پوځیانوشراب وڅښل اومست به په کورونوورننوتل هرڅه به ئی تالاوالاکړل اوبیرته به ووتل سهاربه دشرم اوحیاخاوندانی نجونی په ځیروجامواوګډوډو ویښتانوددغه سپاهیانودافسرانوپه مخکې ولاړې وی دخپل مظلومیت کیسی به ئی ورته کولی خودشرمناکوکړسندوخنداګانونه پرته به ئی بل ځواب نه اوریده.

دخپل راجه دپوځ له دی چلن سره سره ددیبل ښاریانوکه هرڅومره دمحمدبن قاسم درحم اوکرم داستانونه اوریدل له هغه نه ئی داتمه نه وه چی له دوی سره دی څه غوره سلوك وکړی خوکله ئی چی ولیدل چی دمحمدبن قاسم په ځیردده پوځ هم په بازارکی دتیریدوپه وخت کې سترګې ځمکی ته ښکته نیولی وی ورو وروئی بدګومانی لری کیدی،ددوی ننداری ته دنارینه ؤ پرځای ښځی هم دبامونوسرته راوختی کله چی دوی دښاردوره وکړه اوبیرته دحاکم محل ته راورسیدل یوه ځوانه نجلی په منډه ورغله دمحمدبن قاسم داس جلب ئی ونیواوپه هیله من نظر ئی ورته وکتل ، دهغی ویښتان ګډووپه ښکلی ځیره کې ئې دنوکانونخښی وی اوسترګی ئی له غم اوغوسی نه سری اوښتی وی محمدبن قاسم ته هغه دیوه داسی ګلاب ګل ښکاره شوه چی په کوم بی رحمه لاس کی مرورل شوی وی.

هغه دیوه ترجمان په مرسته نجلی ته وویل: نجلی ! که زمادپوځ کوم سپاهی له تاسره ظلم کړی وی زه به ئی ستاپه مخکی ووژنم.

مجلی دنه په ځای سروخوځاوه شوندی ئې وریږدیدې اوله سترګونه ئی داوبنکوچینی وخوتیدې.

یوپه عمرپوخ سړی را وراندی شولاس ئی په نامه ونیول اوویی ویل : «زموږسرداره!» دادهغه بی شمیره مجونوله ډلی نه یوه ده چې د راجه پوځیانوتیری وریاندې کړی له تانه انصاف غواړی.

ناصرالدین دهغه خبری ترجمه کړی اوونې ویل چی داددیبل مذهبی مشردی.

محمدبن قاسم ځواب ورکړ: تاسوماته لاس په نامه مه درېږی ددې مجلی انصاف په موږفرض دی دراجه« ۱۲ »زره پوځیان له موږسره بندیان دی تاسوئی وګوری که مجرم پکی وی تاسوته به ئی وسپاروکه نه ژ دسندتروروستی بریده به زه ددی مجرم لټوم.

مجلی وویل: زمامجرم ددیبل والی دی ورمه شپه ئی زماباباندی کړی ژ اوزه ئی ....

تردی ځایه ئی خبره ورسوله اوبیائی غرېه ژړاکی چوپ شوله سترګونه ئی یوځل بیااوبنکی راوخوتیدی محمدبن قاسم خپل یوسالارراوغوښت اوونی ویل: زه ددیبل دټولوبندیانودپرېښودوامرکوم.

دزندان دروازی خلاصی کړه.

* * * * *

(٤)

بله ورځ ددیبل دټولونه د لوی درمسال مشرپه درمسال کی عبادت کوونکوته دعربودیوه ځوان په جامه کی دخدای دیوه نوی شکل تبلیغ کاوه ددیبل ترټولولوی بوت تراش دمحبت اوعقیدت داحساساتوله جوشه دبنارد لوی درمسال دزینت لپاره دعربوکم عمره اوځوان سالاردبوت جوړولوکارپیل کړ، محمدبن قاسم په جګړه کی دوزل شویوکورنیوته مناسبه تنخواه وټاکله ناصرالدین ئی ددیبل والی وټاکه یوه زیاته اندازه پیسی ئی دهغه درمسال دجوړولواوترمیم لپاره وټاکلی چی په منجنیق وران شوی ژ.

لس ورځی وروسته ئی دنیرون په لوری مخه کړه،په دې موده کی ددیبل له خلکوسره ددوی غوره چلن ددوی دټوروزخمونه ورجوړکړی وو،درخصت په

وخت په زرګونو نارینه، ښځو، ځوانانو او بوډاګانو هغه ته د مینی او خلوص خدای پامانی ویله او په سترګو کې ئې د مینې او خلوص اوښکی وی، د دوی له پوځ سره د دیبل له پوځ نه پنځه زره تنه شامل شوی وو.

محمدبن قاسم غونټل له رخصتیدونه وراندی زبیر، ناهید، زهرا او خالد له ناصرالدین سره په دیبل کی پریږدی خو هغوی د ښار تر ارام محل نه د جګړونا آرامی او شپه ورځ ستومانی او سرګردانی غوره کړه . بیا هم زبیر او خالد د محمدبن قاسم مشوره غوره وبلله او ناهید او زهرائی له ناصرالدین سره په ښارکی پریښودل.

# دسند نوی پوځی مشر

دنیـرون په یوه پراخـه کـوټه کی راجـه داهرپه یوه طلایی کـرسۍ ناست ؤ دسندد پوځونومشـراودهے سنگ اودسندولی عـهدجی سنگ دهغه په مخکی لاس په نامه ولاړوواودهے سنگ وویـل: تهولواکه ! که اجازه وی بهیم سنگ دننه راوغوارم.

راجه په ترخه لهجه ځواب ورکړ: زه ئی لیدل نه غوارم که هغه ستازوی نه وای نودمستوپیلاتوپښتوته به می غورځولی وای.

اودهی سنگ وویل: تهولواکـه ! هغـه بی گناه دی کـه مـوږبه پنځوس زره پوځ دیبل ونشوساتلای ده به په شل زره پوځ څه ډول دهغوی مخه نیولی وه.

راجـه داهر: خـوهغـه په دی لاپه وتلی ؤچی دښـمن به له غـرنیـوسیـمونه مـخکی تری رانـه شی هغـه داویلی ووچی ترڅـوددښـمن پوځ ددوی دشـل زره پوځ د ډبروترباران لاندی په ځمکه کی ښخ نه شی بیابه دلته نه راځی اومخ به نه راښکاروی.

اودهی سنگ : ماکله هم دهغـه تائیدنه دی کـړی له مـاسـره ددښـمن په زروړتیـاکی هیڅ شك نه ؤ،کـه په دیبل کی هغـوی زمـوږدپنځـوس زره پوځ دغشوپه باران کی پرکلاکمندونه راغورځول اوپه دیوالونو را اوښتلای شوای ، نوددوی دشل زره پوځ دډبروباران هغـوی دغـونډیواولوړوڅوکوله نیـولونه شوایسارولای.

راجه وغوریداووئی ویل: ماته ددیبل پنځـوس زره پوځ مه یادوه په هغوی کې نژدې نیـمایی ددیبل ډارن سوداگرووکـاشکی مـاته دامـعلومـه وای چی

پرتاب ددیبل له خزانی نه دسپاهیانوپرځای پسونه روزلی.
اودهے سنگ وویل: تولواکه ! زه دیبل ته ستاله تگ سره مخکی هم مخالف وم ، دراجه ماته اوتیښته په پوځ بداثرغورځوی .
راجه وویل: د«بهگوان»شکردی چی ماستاخبره ونه منله که نه نودادډیرش زره پوځ به هم نه وژغورل شوی.
اودهے سنگ وویل: تولواکه ! که تاپه تیښته کې لږعجله نه وای کړی نو......
شهزاده جی سنگ داودهے سنگ خبره پوره کیدوته پری نښودله اوپه چیغه ئی وویل: اودهے سنگه ! په سدخبری کوه تولواك ځکه دیبل پریښودچی ملګری یی ستاپه شان ډارن وو.
داودهے سنگ حوصله ختمه شوی وه خوبیائی هم له زغم نه کارواخست وئی ویل: شهزاده ! ته پوهیږی چی بهیم سنگ ډارن نه دی هغه له تاسره ډیرلوبیدلی دی.
شهزاده: هغه ډارن نه دی خواحمق دی بیاهم زه له پلارجان نه غوارم چی هغه دلته راوبولی.
پاچاجی سنگ ته وکتل وئی ویل: راوئی غواړی !
اودهے سنگ په دروازه کی یوه سپاهی ته اشاره وکره هغه بهرووت اولږځنډوروسته بهیم سنگ دننه ورغی اوداحترام دپرځای کولونه وروسته لاس په نامه ودرید.
راجه پوښتنه وکړه: ته له ماتی وروسته ولی نیغ دیبل ته رانه غلی؟
بهیم سنگ ځواب ورکړ: تولواکه ! زه نه وم خبرچی ته به دیبل ته راځی اومادخوضروری خبرولپاره نیرون ته ځان دررسول غوښتل .
پاچا : مگرستامسؤلیت داوچی پاتی پوځ دیبل ته بوځی !
بهیم سنگ : تولواك ته ښایی دانه وی څرگنده چی زه ځوورځی ددښمن په لاس کی زخمی پروت وم اوکله چی آزادشوم یوازی ځوتنه سپاهیان راسره پاتی وواوزمامسؤلیت وچی هغوی یوی امن سیمی ته ورسوم.
پاچاوویل: بهیم سنگه ! ددیبل اولس بیلاپه جگړوکی زموږدماتی پره ستاپه غاړه ده که تاپه غرنیوسیموکی ددښمن مخه نیولی وای موږبه په

دیبل کې دماتی له ذلت سره نه مخ کیدوماتاته ستاد پلاردخوښی پرخلاف داموقع درکړه اوس مادا پریکړه کړی چی په راتلونکی کی به تاته هیڅ مسئولیت نه سپارم .

بهیم سنگ ځواب ورکړ: زه پخپله هم دڅه مسولیت اخستلوته تیارنه یم.

راجه سترگی برگی کړی بهیم سنگ ته ئې وکتل اوپه لوړغږئې وویل: نوته دلته دڅه غوښتلولپاره راغلی یی؟

اودے سنگ دزوی له ځواب نه اندیښمن شورړیی ویل: تولواکه ! دبهیم سنگ مطلب دادی چی ماته دلوړمنصب اوذمه واری ضرورت نشته هغه ستادبری لپاره دیوه سپاهی په خیرخدمت دځان ویاړبولی بهیم سنگه ! تولواک درنه خفه دی په پښتو ئی ورپریوزه !

بهیم سنگ وویل: پلارجانه ! دپاچااحترام په سرسترگو! خوزه دهغه دوراندی دروغ نه شم ویلی زه تپی وم اوددښمن دلښکرومشرپخپل لاس زماپه زخمونوپټی ایښودی زما ژوندئې له خطره وساته اوزه ئې له دې وعدې نه پرته پریښودم چی بیابه ددوی مقابلی ته نه ورځم ماته ئی خپل آس راکړ.

اودهے سنگ مداخله وکړه: تولواکه ! زموږدښمن ډیرهوښیاردی هغوی داخیال کړی چی په دی چاپلوسی به بهیم سنگ وغولوی خوهغوی ته داڅه معلومه ده چی دبهیم سنگ پلاراونیکه ستاسونمك خوړلی اوپه رگونوکې ئې دنوابزاده «راجپوت» وینه چلیږی،هغوی به دوینی تروروستی څاڅکی ستاسونه دفاع کوی.

بهیم سنگ وویل: پلارجانه ! که هغه زماژوندنه وای بچ کړی زماوینی به تروروستی څاڅکی دجگړی په میدان تویی وی،زه نه پوهیږم چی هغه په څه نیت زماژوندوژغوره خوزه دهغه پرخلاف توره نه شم اوچتولی.

بهیم سنگ توره وکښله اوراجه ته ئی وړاندی کړه وئی ویل: تولواکه ! داتاماته رابخښلی وه بیرته ئی واخله.

پاچاله غوسی نه ولړزیده شهزاده دبهیم سنگ له لاسه توره واخستله وئی ویل: دارنه ! مکاره!

اودهے سنگ وویل: بهیم سنگه ! په تاڅه وشول؟ له تولواك نه بخښنه

وغواړه ! هغه به ستاگناه وبخښی بهیم سنگه ! مامه شرموه دنیابه څه وایی تاخوږیلی چی زه تولواك ته دجگړی په اړه یوه ضروری مشوره ورکوم.

تولواکه ! تولواکه ! زمازوی بی گناه دی دښمن په هغه کوډې کړی دی.

بهیم سنگ وویل: هوتولواکه ! هغوی په ماکوډې کړی دی،که تادهغوی دپیژندلوهڅه ونه کړه نویوه ورځ به دهغوی کوډی دسندپه تولوخلکواثروکړی تولواکه ! زه تاته ددوی دکوډولو تاثیرنه دژغورنی لاردرښیم.

اودهے سنگ په زوره چیغه کړه : بهیم سنگه ! دبهگوان «خدای» په خاطرولاړشه.

راجه وویل: اودهے سنگه ته اوس چوپ شه ستازوی زماپه اجازه دلته راغلی دی اوزماله اجازی پرته له دی ځایه اوس نشی تلی هوبهیم سنگه ! تاددښمن له کوډونه دخلاصون لاره راښودله !

بهیم سنگ وویل: تولواکه : هغه داده چی عرب اودسراندیپ بندیان دوی ته وسپاره که نه وی له عربونه چی زموږپرخلاف کوم توپان راالوتی هغه به هیڅکله هم تم نشی.

پاچاناځاپه له کرسۍنه اوچت شوودریدویی ویل: ته ددښمن پلوې شوی یی اودهغه له څواك نه ماویږوی؟ بهیم سنگ په ډاډځواب ورکړ: تولواکه ! تاپه دیبل کی هغوی لیدلی دی.

راجه په چیغوویل: دیبل ! دیبل ! ماته ډیردیبل مه یادوی هلتهډرمسال دمناری له لویدوسره ستاپه شان ډارن وویریدل اوهمت ئی بایلود.

بهیم سنگ : تولواکه ! زه ډارن نه یم.

پاچا: ددی مطلب دادی چی زه ډارن بم څوك شته !

اودهے سنگ لاس په نامه ودریدپه ریږدیدلی غږښی وویل: تولواکه ! تولواکه ! دده گناه وبخښه موږله اوپښتوستاسودکورنی خدمتگاران یو.

پاچاپه غوسه ځواب ورکړ: ماته ستاسودکورنی دخدمت ضرورت نه شته.

پنځلس ، شل سپاهیان ایستلی توری کوټی ته ورننوتل اودپاچادامرپه انتظارشول پاچا«راجه» بهیم سنگ ته اشاره وکړه ویی ویل: دی پوځی اودنیرون دبندیخانی په تیاره خونه کی یی واچوی.

اودهے سنگ وویل: تولواکه ! دده گناه وبخښه دازمایوازینی زوی د

جی سنگ راوړاندی شودپاچاپه غوږکې ئې څه وویل: اوهغه اودهے سنگ ته ځواب ورکړ: ته هم له ده سره تلای شی سندتاغـوندی دلښکرومشـرته ضرورت نه لری.

دشـاکـوټی نه پرده پورته شـوه اوملکه لادهی په بیـره راووته دپاچاپه مخکی ودریده وئی ویل: داته څه کوی اودهے سنگ دپوځ مشردی پوځ به له هغه سره بدسلوك ونه زغمی.

جی سنگ په بیـره ځـواب ورکـړ: چی پوځ ته دامـعلومـه شی چی دغـه پلاراوزوی له دښمن سره ملگری شوی دی هرڅه به وزغمی.

ملکی وویل : زویه ! دښمن پرسرولاړدی دغه وخت داختلاف نه دی.

جی سنگ ځواب ورکړ: ددښمن وروستی منزل دیبل ؤ هغوی به دسندله دریاب نه هیڅکله هم راپوری نه وزی پلارجانه غم مه کوه په څوورځوکی به له قنوج نه ترملتان پوری ټول سرداران اوراجه گان زموږمرستی ته راورسیږی اوموږبه دښمن ته داسی ماته ورکړوچی په خوب اوخیال کې ئې نه وی لیدلی زمانظردادی چی دوی دواړه اورورته واستوه.

سپاهیانو! څه ته گوری تاسودپاچاامروانه ورید! دوی بوزی ! سپاهیان راوړاندی شول خوادوهے سنگه دلاس په اشاره ودرول خپله توره ئی خلاصه کـړه اوجی سنگ ته ئی وویل: داواخله دادپوځ دمشـرتوره ده زه پردښـمن دسنددپوځ له بری پرته بل څه نه غواړم .

جے سنگ دهغه له لاسه دتوری اخستلوپرځای توره تری کش کړه اوونئ ویل: دبری لپاره موږستادعاته ضرورت نه لروماښام اودهے سنگ اوبهیم سنگ دځوپوځیانوپه منځ کی اوورته روان شول اودنیزون په درمسالونوکی دپوځ دقوماندان جی سنگ دبری دعاگانې کیدلې.

* * * * *

(۲)

دپاچادامرسره سم ئی اودهے سنگ اوبهیم سنگ داروړبه بندیخانه کی په یوه سمڅه کی بندیان کړل په دې سمڅه کی یوبندی پخوانی بل هم ؤهغه چی دوه نوربندیان ولیدل په ماته گوده سندی ژبه ئی ورته وویل: ځای تنگ دی بیاهم موږدری واره گـوزاره پکی کـولای شوتاسـوځوك یاست اوولی بندیان

شوی یاست.

اودهے سنگ اوبهیم سنگ دخُواب پرځای سترګې یوې اویلې خواته نه ځیرځیرغړولی اودبندی دلیدوهڅه ئې کوله.

بندی ورته وویل: ښایی تاسومی نه وینی ! ډیرزربه موسترګې له تیاروسره عادت شی کښینئ تاسوستومانه ښکاری او که غلط نشم ماته تاسودواړه پلاراوزوی ښکاری.

اودهے سنگ اوبهیم سنگ لاس وخوځول اوورو وروئې وراندی ګامونه واخستل دديوال شاته کښیناستل.

بندی بیاوویل: معلومیږی چی تاسوهم ماغوندې بی ګناه یاست ویخښی په تاسوبه زماخبری بدی لګیږی خوځومیاشتی می له کوم انسان سره خبری نه دی کړی،ځکه خومی ستاسوپه لیدودخپل سرګذشت اوروڵ اوستاسودحال اوریدل زړه غواړی زه لوړی شپږمیاشتی ددی سمڅی پرسرپه یوه بله کوټه کی وم هلته له ماسره ستاسودهیوادشپږتنه نوربندیان هم ووماستاسوژبه له هغه نه زده کړه که څه هم سم نه پری پوهیږم خوزماباوردی چی تاسوبه زمادخبروپه مطلب پوهیږی تاسومی په خبره پوهیږی!

بهیم سنگ وویل: ته په سندی ښه پوهیږی.

بندی دبهیم سنگ پلټونکی نظراحساس کړونی ویل : ښایی زه موتراوسه سم نه یم لیدلی زه نژدې درځم ،بیاهغه له یوه ګوټ نه رااوچت شودبهیم سنگ ترڅنګ کیناست وئی ویل: اوس به ماوینی ! زه یوعرب مسلمان یم تاسوته نژدی کیناستل خوبه بدنه دراندی لګیږی؟

بهیم سنگ وویل: ته عرب یی ! دعربوبندیان خوپه برهمن آبادکی وو.

بندی ځواب ورکړ: هغه به بل څوك وی زه له پیله په دی بندی خانه کی یم.

اودهے سنگ پوښتنه وکړه: ته له سراندیپ نه راغلی وی؟ ستاکښتی په سمندرکی ډوبه شوه اونوم دی ابوالحسن دی؟

بندی ورته وویل: هوکی خوکښتی موډوبه نه شوه ډوبه کړای شوه هوتاپه برهمن آبادکی دعربوبندیانوپه باب خبره کوله ! هغوی دلته ولی راغلی وو؟ زموږپه کښتی کی خوځلورتنه پاتی شول دوه تنه زخمیان ووچی له دیبل نه

ترارورپوری په لاره کې مړه شول یوبل تن چې لړتپی ژدلته په بندیخانه کی مړشو زه یوازې پاتې شوم.

بهیم سنګ ځواب ورکړ: هغوی له سراندیپ نه خپل هیوادته تلل.

تاته دهغوی دکوم یوه نوم په یاد دی ؟

دهغوکښتیودکپتان نوم پیژنم زبیرنومیږی اوهغه له زندان نه هم خلاص شوی دی.

ابوالحسن: زبیر ! په سراندیپ کې په دې نامه عرب څوك نه ؤهغه ښایی دبل چاکښتی وی.

بهیم سنګ وویل: زبیردبصری حاکم له سراندیپ نه دلاوارثه ښځواوماشومانودراوستلولپاره استولی ؤ.

بندی بی تابه شوونی ویل: ښځی اوماشومان ! په هغوکی دچانوم پیژنی؟

بهیم سنګ: په هغوی کی دیوه ځوان نوم خالدؤهغه هم بندی نه دی.

بندی: خالد! خالد! زمازوی هغه اوس چیرته دی؟

بهیم سنګ : هغه به اوس په دیبل کې وی.

بندی: په دیبل کی ! هغه هلته څه کوی ؟ ربښتیاووایه تاهغه لیدلی ؟

بهیم سنګ : ماهغه په «لس بیلا» کې له مسلمانانوسره لیدلی ؤاوس هغوی دیبل فتحه کړی دی.

په ابوالحسن ترلږځنده سکته راغله اودهے سنګ اوبهیم سنګ ته ئی کتل له لږځنډوروسته ئی په لړزیدلی آوازوویل: ربښتیاووایه توکې مه راسره کوه.

اودهے سنګ وویل: له چاسره چی قدرت توکی کړی وی هغه له نوروسره دټوکوجرئت نه شی کولی دمسلمانانوپوځ دیبل فتحه کړی اودی ځای ته په رارسیدوکی ئې زیات ځنډنه وزی.

ابوالحسن ترډیره ځنده څه خبره ونه کړای شوه له سترګونه ئی اوښکی روانی وی دخوښی اوښکی دشکرانې اوښکی خوبیائی ناڅاپه دبهیم سنګ متی ونیولی اوپه زوره زوره ئی وخوځاوه ویی ویل: په سراندیپ کی زمامیرمن اویوه لورهم وه ته دهغه په باب څه معلومات لری؟

بهیم سنګ ځواب ورکړ: ستادمیرمن په باب نه یم خبرښایی هغه دبرهمن

آبادله بندیانوسره وی خوزه چی په لس بیلاکی له زخمی کیدووروسته له مسلمانانوسره بندی وم همغه وخت دخالدله خورسره دزبیرواده وشو.

ابوالحسن وویل: سلمی به هم له دوی سره وی خامخابه له دوی سره وی.

اودهے سنگ وویل: سلماڅوك ده؟

ابوالحسن : زمامیرمن ده تاسوراته ووایی چی مسلمانانوپرسندڅه وخت اوولی حمله وکړه؟

اودهے سنگ دده په ځواب کی دمحمدبن قاسم دحملی لنډجریان ورته ووایه بهیم سنگ لړپه تفصیل کیسی ورته وکړی اوله دی ورووسته ابوالحسن خپل سرگذشت واوراوه ترماښامه دغه دری واړه بندیان خواړه دوستان شول اودبندیخانی نه دراوتلوپه سوچ کې شول.

*****

(۳)

له دیبل نه دنیرون په لوری چی محمدبن قاسم پرمختگ پیل کړراجه داهرخپل دپوځ سرداران اومشران راوغوښتل اومشوره ئې تري وغوښته تولودجے سنگ وړاندیزتائیدکړچی له مسلمانانوسره به دسندله دریاب نه پورې غاړې ته دبرهمن آبادپه شاوخواکی فیصله کوونکی جگړه کوی، په نیرون کې دې دومره پوځ پریښودل شی چی څوورځی دمحمدبن قاسم دلښکروپرمختگ ودروی په دی فرصت کې به راجه اودلښکرومشرپه برهمن آبادکی دیولوی لښکردتیارولوموکه مومی.

دتودوخی موسم هم رارسیدلی ؤاوراجه داهرداتمه درلوده چی دسنددډریاب دمستی په وخت کی به محمدبن قاسم دسینددڅوپه لیدوداجرئت ونه کړی چی راوړاندی شی دی به دسندله ساره اواوړدوپرته له گاونډیوریاستونوهم مرسته ترلاسه کړای شی ځکه خوئی دنیرون دښاریودنفوذخاوندبرهمن چی دښارترټولولوی مذهبی مشرهم ؤاوپه پوځی چاروکې ئې هم لاس درلوددښاردساتنی لپاره پریښودهغه ته ئی اته زره پوځ پریښوداونورپوځ ئی له جی سنگ سره برهمن آبادته وخوځاوه.

محمدبن قاسم دنیرون دښاردنوی حاکم دهیلی پرخلاف پنځه ورځی وړاندی ښارکلابندکړدمنجنیق په درنودبرودښارمزبوت دیوالونه ولړزیدل

اودریمه ورځ چې دمسلمانانولښکرد «دبابو» په واسطه دښاردیوالونوته ځانونه رسول اودښاردساتونکوحوصلي ماتي شوي وي دښارساتونکوداحساس کړه چې راجه داهرددغه سرلښکر په پوځي کمال غولیدلی ژېه ځلورمه ورځ مسلمانانوپریکنده حملی ته ځانونه چمتوکول چې دښاردروازه بیرته شوه اوخوتنه پنډتان «مذهبی مشران» راووتل په لاسوکی ئی دسولی بیرغونه رپول.

د ښارله نیولو وروسته محمدبن قاسم دښاریانوسره همغه چلندوکړچې ددیبل له ښاریانوسره ئی کړی ؤاودهغوی زړونه ئی تسخیرکړی وو، دنیرون له نیولونه وروسته محمدبن قاسم دسیون په لورمخه کړه دسیون والی دراجه داهروراره باج رای ؤدښارزیاتره اوسیدونکی هندوملایان اوسوداګروله یوی هفتی مقاومت نه وروسته دشپی مهال وتښتیداوښاریانوسولی کیښودی.

دسیون له نیولووروسته محمدبن قاسم ته ځینوتجربه کاروپوځی افسرانومشوره ورکړه چې بایددسندله دریاب نه پوری وزواوراجه ته دلښکروراتولولوفرصت ورنه کړوخومحمدبن قاسم وویل چې دسنددریاب په غاړه یوښارسیوستان دی په دی مهال کی چې دراجه تول پام له برهمن آبادنه دفاع ته اوښتی مونږبه دنیرون اوسیون په څیرسیوستان هم آسانه فتحه کړای شوکه مونږله دیبل نه نیغ دبرهمن آبادپه لوری پرمخ ځونودنیرون اوسیون پوځ ته به دراجه تربیرغ لاندی دتولیدوموکه په لاس ورشي،زموږفتحی زموږپوځی ځواك زیاتوی اودراجه کموی ، دفتحه شوی ښاریوه برخه پوځیان تیت پرك کیږی یوه برخه ئی له موږسره یوځای کیږی اوپاتی لږاوډیرچې په ماته وتښتي اوله راجه سره یوځای کیږی هغه له ځانه سره یوماته خوړلی ذهنیت وړی اوهغه پوځ چې په سلوکی یوسپاهی پکی دماته خوړلی ذهنیت مالك وی کـه په لکونوتنه وی هم زموږمقابله نشی.کولی کله چې موږدسندخاوری ته ننوتلودلښکرشمیرمو «۱۲» زره تنه ؤاوس ددیبل «اولس بیلا» له زیانونونه وروسته بیاهم زموږدلښکروشمیردشل زره تنوپه شاوخواکی دی.

زموږسندی ملګروداثابته کړی چې ددوی توري چې دحق په وړاندی پخې وی دباطل په وړاندې پوره تیرې دی.

دمحمدبن قاسم له خبرواوریدووروسته دپوځ تول مشران ورسره همنظره شول باج رای له سیون نه دتښتیدونه وروسته سوستان ته ولاړاودجتهانوراجه کاکاته ئی پناه وروړه راجه کاکادراجه داهرسخت ملګری ؤدهغه دزړورتیاداستانونه دسندپه اوږده اوساره کې مشهوررو.

خوبیاهم په دیبل،نیرون اوسیون کی دمحمدبن قاسم فتحوهغه تریوه حده ویرولی ؤ.

دسوستان برجونه ډیرمزبوت ووخوهغه دکلابندشوی پوځ په مقابل کی منجنیق اودبابه خطرناکه وسله ګڼله اوبهرئی په اوارمیدان جګړه غوره بلله.

*****

(٤)

محمدبن قاسم چی سوستان ته ورسیددراجه کاکاپوځ ئی له کلابهرصف تړلی جګړی ته تیاروليدکاکاترزړورتیازیات له جوش اواحساسونه کارواخست محمدبن قاسم ته ئی دجګړی دتیاری موکه لازمه ونه بلله اوناڅاپی حمله ئی وکړه محمدبن قاسم چی دحملی توندوالی ولیددلښکردتل څوا ك ته ئی دشاته تګ امرورکړدکاکاپوځ دجګړی په دغه چال ونه پوهیددفتحی په امیدوړاندی ولاړل کاکاپه خپله غلطی هغه وخت پوه شوچی دحریف دشاته تلونکی پوځ ډلګی ناڅاپه ودریدل اوبیاوسپنیزدیوال ئی جوړکړاودیوه اوبل اړخ پوځی دستی دتوپان په څیرددوی ترشاروګرځیدل دکاکاپوځ له څلوروخواودیرغل تاب رانه‌وړدباج رای مرګ دکاکادپوځ مورال نورهم خراب کړکاکادخپل پوځ دماتی روحیی دراوچتولوزیات زیارویوست خوچی په ماته یی باورشوله یوه ګروپ سره ئی په یوه خوا تونده حمله وکړه اووتښتیدخودمحمدبن قاسم پوځونوهغوی یوځل بیاراګیرکړل چی له خپلوپاتی پوځیانوسره ئی وسله کیښوده.

او چی کله ئی هغه دمحمدبن قاسم په مخکی حاضرکړل حیران شوتری ویی پوښتل : ددی پوځ مشرته یی؟

محمدین قاسم په موسکاځواب ورکړ: هو ! زه یم.

کاکانورهم حیران شوهغه ته ئي سرترپایه په ځیروکتل وئی ویل: ماته دی څه سزاټاکلی ده؟

محمدبن قاسم ځواب ورکړ: پرسندله حملې وروسته ته دوهم سړی یې چې دیوه زړورسپاهی په څیرمې په جګړه اومقابله کې لیدلی یې زه له تاسره همغه سلوك کوم چې له بهیم سنګ سره مې کړی دی.

ته آزادیې.

کاکاپه ځواب کې وویل: ددې ازادۍ قیمت به زه څه شی ورکوم؟

محمدبن قاسم ځواب ورکړ: موږدازادۍ دقیمت ترلاسه کولولپاره نه یوراغلی .

کاکا: نوتاسودڅه لپاره راغلی یی؟

محمدبن قاسم : دظلم دلاس نیولواودمظلوم دسراوچتولولپاره، کاکاسرځوړندکړله لږسوچ وروسته ئې وویل : که ستایقین وی چې زه ظالم یم بیامې ولې آزادوی؟

محمدبن قاسم : ددې لپاره چې له مغلوب انسان سره سخت چلن هغه ظلم ته هڅوی اصلاح اونیکی ته ئې نه هڅوی.

کاکاله لږسوچ وروسته وویل: مااوریدلی ووچې ته ډیرلوی جادوګریی ته له دښمن نه ددوست جوړولوپه چل پوهیږې ایازه هم ستاددوستانوپه ډله کې راتلای شم ؟ دائی وویل اودمصافحې لپاره ئې لاس وغځاوه.

محمدبن قاسم په خوښۍ لاس ورکړاوورته وئې ویل:

زه پخواهم ستادښمن نه وم.

# دراجه داهر وروستی ماته

راجه کاکا په خوورځوکي خپل تیت اوپرك لښکرراتول کړاوله محمدبن قاسم سره ملګری شومحمدبن قاسم دبرهمن آبادپه لوری مخه کړه اوله ښارنه څومیله لرې ئې دسیندپه غاره واړول له دریاب نه دپورې وتلولپاره ئې څوورځې په تیاری ولګیدی دغه مهال سعد«ګنګو» دوی ته دیرپه ښه ورغی دهغه ملګری دسمندرپه غاره دکب نیوونکوپه کلیوکی تیت شول اوهغوی ته ئی دسنددژغوروونکی پیغام ورساوه په څوورځوکی زیات شمیرماښوګان له خپلوبیړیوسره دمحمدبن قاسم مرستی ته حاضرشول خوله دریاب نه دپوری وتلونه وراندی دمحمدبن قاسم په آسونوکی څه وباګډه شوه اوپه څوورځوکی یوزیات شمیرمړه شول،حجاج بن یوسف چی داخبرواوریدله بصری نه ئی په دوه زره اوښانوسرکه بارکړه ورویی لیږله اودغه سرکه خطرناکې ناروغی ته ګتوره ثابته شوه.

د۷۱۳هـ په جون کې محمدبن قاسم بیله څه مزاحمت نه دسندله دریاب نه پوری وت.

راجه داهرپر(۲۰۰)پیلانوعلاوه په خپل پوځ پنځوس زره سپاره اوزیات شمیرپلی ګروپونه ورزیات کړی وودجون په وروستیوشپوورځوکی دریاب دیرمست ؤاوداتمه نه وه چی محمدبن قاسم به دومره چټك تری تیرشی،راجه- داهرلښکرته دپرمختك قوماندہ ورکړه اودمحمدبن قاسم له لښکرنه دوه میله لری ئی پړاوواچاوه څوورځی ددواړوپوځونودګزمی ترمنځ تکرونه پیښ شول بالاخره یوماښام محمدبن قاسم دپریکنده جګړی تصمیم ونیودماسختن

له ځانځه نه وروسته ئی دخپلی میرمنی په نامه یولیك ولیکه اواستازی ته ئی ورکړېه لیك کې ئې لیکلی وو:

زمادژوندملګری !

خدای دی تاته دیوه مجاهدمیرمن عزم اواراده درکړی.

زه له دښمن سره سهارته دیوه پریکندهٔ جنګ لپاره ځم اوددی لیك تردررسیدوپوری به دسنددقسمت پریکړه شوی وی زمازړه ګواهی راکوی چی خدای تعالی به موږته بری راکړی زه په خپلوملګروویاړم اوترخپلوپوځیانوپه هغوعربی میندوزیات ویارم چی شیدی ئی ددوی په رګونوکی په وینوبدلی شوی اوپه رګونوکی ئی چلیږی په هغومیندوچی په ماشومتوب کې به ئې خپل بچیان زنګول اوویده کول.نودبدراوحنین کیسی به ئی ورته کولی، زه په هغومیرمنوویاړم چی میړونوته ئی دغازیانودژوند اودشهیدانودمرګ هیله وربښودلی ده هغه میرمنی چی محبت ئی دمیړونودپښوزنځیرنه دنړی دفتحه کولوسبق دی اوزماباوردی چی ترڅوددغه غازیانوله رګونونه وروستی څاڅکی وینه نه وی څڅیدلی داسلام بیرغ به نسکوریدوته پرینږدی.زه ستااودمورجانی له جدایی نه خفه نه یم خوستاسوله یادنه هم غافل نه یم خوکله چی له ځان سره په زرګونوهغه غازیان وینم چی دمیندومیرمنواونوروعزیزانوبیلتون ئی دخدای په لاره کی په صبراوشکر زغملی دی زه په دې ډیرخوښ شم چی ددوی له ډلی نه یم په تیروجګړوکی چی زماکوم ملګری شهیدان شول دهغوی میندوماته لیك رالیږلی اوداپوښتنه ئی کړی چی ددوی دزامنووینه خوبه په کومه ژوره کنده کی نه وی تویی اوکه زه شهیدشم نوزماهیله ده چی زماموربه هم زماله ملګرونه همدغسی پوښتنه کوی.

ماله تاسره وعده کړی چی ترڅوکوندی تورسربی اویتیم ماشومان له بنده خلاص نه کړم خپل مزل به ګرندی ساتم اوزه به خپله دغه وعده پوره کوم تاله ماسره وعده کړی وه چی زماپه شهادت به اوښکی نه تویوی ته هم خپله وعده ترسره کړه مورجانی ته می احترامانه سلام وایم زه هغی ته یوځانګړی لیك دراستوم .

«ستامحمد»

مورته ئی ددوهم لیك له لیکلووروسته دجګړی دنقشی په لیدوبوخت شو.

*****

(۲)

دسهارله لمانځه وروسته دمسلمانانولښکرزغری واغوستی اوپه وسلوسمبال په کتارونوکی ودریدل محمدبن قاسم په آس سپورشواوخپل لښکرئی مخاطب کړ:

«دالله تعالی اورسول الله صلی الله علیه وسلم سپاهیانو ! نن ستاسودزړورتیا ، ستاسودایمان اوستاسودسرښندنی دازموینت ورځ ده، ددښمن له شمیرنه ونه ویریږی.تاریخ ګواه دی چی دحق اوباطل په تیروشویوجګړوکی دحق دلښکرو په نسبت تل دباطل دلښکروشمیرزیات ؤاومسلمانانوتل داثابته کړی چی دپوځی طاقت رازدلښکروپه زیاتوالی کی نه دی بلکی ددوی دایمان په مزبوتی اودهدف په لوړوالی کی دی، زموږجګړه دکوم قوم پرخلاف نه ده، دکوم هیواد پرخلاف نه ده بلکی دهغوتولوسرکشانوپرخلاف ده چی دخدای په ځمکه کی فسادخوروی، موږدځمکی پرمخ خپل حکومت نه بلکی دخدای نظام غواړوموږله خپلی سلامتی سره دټولوانسانانوسلامتی اوآرامی غواړواودخدای په ځمکه دامن اوسلامتی لاره یوازی اسلام دی.

داهغه دین دی چی له نړی نه دباداراوغلام توراوسپین عربی اوعجمی توپیرلری کوی ،زموږهدف ددی دین بری دی ددی هدف لپاره مرګ اوژونددنیاترټولولویه نیکمرغی ده زموږلرونه اونیکونه دهمدی مقصدلپاره جنګیدل خدای «ج» دهغوی دګوتوپه شمیرټولی ته ددنیادستروستروپاچاهانوسرونه ټیټ کړل.

دعربو شاه ځلمیانو !

تاسویایدپه خپل نصیب ویاړی چی لوی خدای تاسودخپل دین دخپرولولپاره غوره کړی یاست.

تاسودخدای په لارکی سرونه په تلی کی ونیول اوخدای تاسوته دځمکی اواسمان نعمتونه انبارکړل، هغه وخت دریادکړی چی خدای خپل دری سوه دیارلس تنه بی نظمه ټولګی ددښمن په غوره وسله سنبال پوځ بریالی کړپه

قادسیه ، یرموك اواجنادین کی دحق دیوی توری په وړاندی دباطل لس اوکله کله ترلسوهم زیاتی توري راوتلې،خوخدای تل حق پالونکوته بری ورپه برخه کړی خدای به نن هم ستاسومرسته کوی، خوپه یادولری!

دخدای فیصلی نه ماتیدونکی اونه بدلیدونکی دی خدای یوازی دهغوی مرسته کوی چی پخپله دځان مرسته کوی تاسودخپلومسؤلیتونودترسره کولونه پرته دخدای دمرستی مستحق کیدای نه شی دخدای دشفقت لاس یوازی دهغوپه لوری ورغځیری چی دغشوپه باران کی سینه ډال کړی هغوی چی په کندوکې له خپلولاشونونه تیریږی دقدرت نعمتونه دهغولپاره دی چی دتاریخ هره پانه ئی دشهیدپه وینورنګینه وی.

په یادولری ! بنی اسرائیل هم دخدای نازولی امت ؤخوکله چی دوی دخدای په لارکی دجهادمسؤلیت خدای اودهغه پیغمبرته پریښودآرام کیناستل نوخدای هغوی ورتل هغوی اوس دخدای په هغه ځمکه دآرام ځای نه لری چی یووخت ئی داقبال بیرغ پری رپیده.

خدای دی داسی ورځ نه راولی چی تاسوهم دبنی اسرائیلوپه څیردخپل ژوندله کتاب نه دجهادباب لری کړی.

زماورونواودوستانو ! نن ستاسولپاره دسخت ازموینبت ورځ ده،تاسوبه دبدراوحنین دغازیانوسنت ترسره کوی،تاسوبه دقادسیی اویرموك دشهیدانوپر پله پل ږدی زماباوردی چی خدای پاك نن ورځ کوم تولی دفتحی لپاره ټاکلی هغه تاسویاست.

زماباوردی چی دحق دتوروپه وړاندی به دسنداوسپنی دفارس اوروم له اوسپنی نه ځواکمنی نه وی ظالمان هیڅکله زړورنه وی زه یوځل بیاهدایت درکوم چی دحق له لاری دکفردازغیودلری کولوپه وخت کی داخیال ساتی چی کوم ګل تریښولاندی نه کړی، په لویدلی دښمن ګوزارمه کوی په تورسریو، بوډاګانواوماشومانولاس پورته نه کړی،زه پوهیږم چی دسندراجه له عربوښځواوماشومانوسره ډیربدسلوك کړی او زه ویریږم چی دانتقام جذبه تاسوظلم ته آماده نه کړی، دخدای په قانون کی دتوبه کوونکی لپاره هروخت درحم ځای شته دښمن مات کړی اوداورته ثابته کړی چی زموږغیرت دخدای غیرت دی اوزموږتوری دخدای توری دی،خوکله ئې چې ماته وخوړه

اوخپله ماته ئی ومنله پناه یی وغوښته نوهغه ته بیاغیزورکړی ورته ووایی چی داسلام درحمت دروازه دهیچاپرمخ بنده نه ده.

تاسوپوهیږی چی په دی دنیاهیڅوك چادومره نه دی ځورولی څومره چی دمکی کفارو داسلام پیغمبرصلی الله علیه وسلم ځورولی دظلم په گرت کی بل داسی غشی نه ؤچی په رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ؤازمویل شوی د رحمة للعلمین په ورانډی ئی دهغه دوفادارو ملگروپه سینوتودی شوی ډبری ایښودل کیدی اوکله چی هغه صلی الله علیه وسلم هجرت وکړنوظالمانو بیاهم پرینښنودمدینی په جگړوکی دهغه صلی الله علیه وسلم ډیرښتینی یاران شهیدان شول خودمکی له فتحی نه وروسته چی رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپلودښمنانوسره کوم چلن وکړهغه ددنیاپه تاریخ کی بل ساری نه لری اوهمدغه سلوك ؤچی درسول الله صلی الله علیه وسلم بدترین دښمنان دده ترتولونږدی سرښندویان شول. نن دترکستان اوافریقااوسیدونکی چی یووخت زموږپرخلاف جنگیدل داسلام دفتحی لپاره زموږسره اوږه په اوږه جنگیږی داڅوك ویلی شی چی سنداوتول هندوستان به یوه ورځ دایران شام اومصرپه څیردحق دین په ملاترزموږسره ولاړنه وی زمادوستانو! نن زموږهدف برهمن آباددی راځی دبری لپاره دعاوکړو.

محمدبن قاسم داوویل لاس ئی اوچت کړل اودعایی وکړه:

ای دجزااوسزامالکه ! موږستاد دین بری غواړوموږته دخپلونیکونوجذبه راکړه رب العلمینه ! دمحشرپه ورځ زموږمیندی مه شرموه موږته دغازیانوزړودند اودشهیدانومرگ راکړه.

*****

(۳)

ترمابنامه دسندپوځ پرراجه داهرسربیره ډیرش زره مړی په میدان پریښودل اوپه شاولاړ، دپوځ هغه ټولگی چی ترقضاماسپښین پوري ني پخپله ماته باورشوی ؤاوورته مخه کړه پاتی پوځ دراجه داهرپه وژل کیدو روحیه وبایلله اودبرهمن آبادپه لوری وتښتید.

مسلمانان ترلږاوډیرتعقیب وروسته بیرته خپل پړاوته راستانه شول په جگړه کی دمسلمانوشهیدانواوزخمیانوشمیردری نیم زره تنه

ووسپاهیانوزخمیان اوچتول اوکتارکتارئی خملول محمدبن قاسم دطبیبانوپه ډله کې دزخمیانوپه زخمونوپټی ترلی، زبیریوټپی په اوږه کړی ؤاومحمدبن قاسم ته نژدی ورغی زخمی ئې په ځمکه پری یوست اومحمد بن قاسم ته ئې وویل: ته لږدغه وګوره ډیربدزخمی شوی.

محمدبن قاسم ورنژدی شوزخمی ته ئی وکتل ویی ویل څوك دی سعد!

دسعدمخ په وینوسورؤمحمدبن قاسم په یوه توته دهغه دمخ پاکولوهڅه وکړه خوهغه ئی لاس ونیوپه شوندوئی پیکه موسکاخپره شوه وئی ویل: اوس ددی ارتیا نشته مایوازی دوروستی ځل لپاره ستالیدل غوښتل زبیراومحمدبن قاسم یوه اویله خواوکتل خالدخوګامه وړاندی زخمیانوته اویه ورښنلی زبیرورغږکړاوهغه په منډه سعدته ورغی دهغه له خولې بې اختیاره ووتل : کاکاته ...!

سعد خپل لاس هغه ته وروغځاوه اوهغه ئې لاس په دواړولاسوکی تینګ ونیو.

سعدوویل: زه نورله مرګه نه ویریږم خوزه ډیرګناهګاریم .

ستاسوپه دی باوردی چی خدای به مابخښی !.

محمد بن قاسم وویل : دشهیدانووینی دهغوی ټول ګناهونه مینځی .

سعدخالدته وکتل اوپه کمزوری غږیی وویل: زویه ! دزهراخیال ساته اوزبیره ! تاته دناهیدپه اړه دڅه ویلوضرورت نشته ترلږځنده دوی یوبل ته وکتل اوبیاسعدسترګی دمحمدبن قاسم په لوروااړولی دهغه دسترګوڅلالږشوه څوځلی ئی بنده بنده ساه واخسته اوبیانی دخالداومحمدبن قاسم لاسونه پریښودل په دی ځندکی دهغه یوشمیرنورملګری هم ورغونډشول محمدبن قاسم ئی په نبض لاس کیښود ، اناالله وانااليه راجعون ئی وویل: اوپه خپل لاس ئی سترګې ورپټی کړې.

* * * * *

(٤)

محمدبن قاسم جګ شوبیائی نوروتپیانوته پام اړاوه چی یوه سپاره یوزخمی په اس رااړولی ؤ دوی ته راورسیدل.

محمدبن قاسم چې هغوی ولیدل پوښتنه ئې وکړه.
بهیم سنگه ته ... داځوك دی ؟
یوه سپاهی زخمي له اس نه راکوزکړاوپه ځمکه ئې څملاوه بهیم سنگ هم له آس نه پلی شوئی ویل: خالده ! پلارته دی وگوره !
خالدچې سرښکته اچولی ژاودسعدترڅنگ ناست ؤهغه چې داواوریدل راپورته شوپه تپی پلارئی منډه وروکړه سرئی په زنگون کیښودویی ویل: پلاره ! زماپلارجانه ! دتپی له خولی ئی چې څه وانه وریدل بهیم سنگ ته ئی وکتل ویی ویل :تادی له کومه ځایه راوړولی زخمی شو؟
بهیم سنگ ځواب ورکړ: زه او پلارمی اودی دارورله زندان نه دیوه پوځی افسرپه مرسته راوتښتیدوکله چې دلته نژدی راورسیدودراجه تښتیدلی پوځ په مخه راغی ده زمادپلارجان دځوځځلی پوهولوسره دسپاهیانوپه یوه ډله حمله وکړه مااوپلارجان می له مجبوری دده ملاتړوکړاوپه مقابله ورگډشوپلارجان می یوغشی وخوړاوله آس نه ولویداودیوه پیل ترپښولاندی ستی شوبهیم سنگ چې داوویل چوپ شوپه سترگوکی ئی اوښکی راغلی له سنه څنډوروسته بیرته راسنبال شوویی ویل: ده بی اختیاره پرمخ اس وځغلاوه پنځه شپږکسه یی ووژل خوبیاپخپله هم تپی شوله آس نه ولویدده‌غه وروستی هیله داوه چې له زوی سره ئی وگوری زماگومان دی چې دی تراوسه پوری ژوندی دی.
محمدبن قاسم ځوسپاهیانوته اشاره وکړه اوویی ویل: تاسوله ده سره ولاړشی دده د پلارجان مری راوری اوپخپله ابوالحسن ته متوجه شوده‌غه نبض یی ونیوویی ویل دی بیهوښه شوی دی اوبه راوړی.
یوه سپاهی له خپل پتك نه پیاله ډکه کړه وروړاندی ئې کړه محمدبن قاسم دابوالحسن خوله خلاصه کړه اولږاوبه ئی وروڅښلی په هوښ راغی اوورو ورو ئی سترگی وغړولی خوچې خالدیی وپیژاندځوشیبولپاره بیرته بی سده شوده‌غه ترپیاراپه خودکیدوپوری محمدبن قاسم دهغه دسینی په زخم پټی ولگوله.
چې کله بیاراپه خودشوله خالدنه یی لومړنی پوښتنه داوه چې : ستامورچیرته ده؟

خالدوارخطاغوندی شوېوی اوبلی خواته ئی کتل وئی ویل: هغه ... هغه ... !

دابوالحسن په شونډویوه دردوونکی موسکاوځلیده ویی ویل : زویه ! ویریږه مه زه وپوهیدم هغه ژوندی نه ده .

ناهیدچیرته ده ؟

خالد: هغه په دیبل کی ده .

ابوالحسن : نوستامیرمن به هم په دیبل کی وی ! کاشکی ماله مرگه وړاندی یوځل لیدلی وای خوهغوی ډیرلری دی اوزه دځوګړیومیلمه یم.

محمدبن قاسم تسلی ورکړه ورته ویی ویل: ته غم مه کوه زه اوس ځوك وراستوم راغوارم یی انشاالله هغوی به ترسباپوری راورسیږی.

ابوالحسن له مننی نه په ډك نظرورته وکتل ویی ویل : شکریه ! خوزه بنایی تربل سباپوری ژوندی نه وم.

محمدبن قاسم وویل: ستاتپ زیات خطرناك نه دی که خدای ته ستاسوملاقات منظوروی نودوی به راورسیږی په ځلورمه ورځ دلمرختونه لږوروسته دابوالحسن تربستره محمدبن قاسم ، زبیر ،خالد، ناهیداوزهراراچاپیروو، ناهیداوزهراسره له دی چی مزله پوره ځپلی ووتوله شپه دهغه په خدمت په ویښه سباکړه دځنکدن نه لږوړاندی دناهیداوزهراپه خیردخالدپه سترگوکی هم چی ابوالحسن اوښکی ولیدی ویی ویل: زویه ! ماځانته تردی دښه مرگ دعانه شوای کولای په مرگ اوښکی تویول ددنیایورواج دی خودشهادت په مرگ ددی رواج ترسره کول په شهادت پوری ملنډی وهل دی،دغسی په ډکوسترگوماته مه گوره زماله اوښکونه کرکه ده دژوندپه سختوپړاوونوکی دمسلمان توښه اوښکی نه وینی دی.

خالداوښکی پاکې کری ویی ویل: پلارجانه ماوبخښه ! ماسپښین مهال ابوالحسن دمرگ بلنی ته لبیك ووایه.

# له برهمن آباده تر ارووره

جی سنگ چی برهمن آبادته ورسیدځلوروخواوته یی ځړی واستول دراجه داهرله ماتی نه وروسته چی محمدبن قاسم دبرهمن آبادپرځای سیون اوسوستان ته مخه کړه نه هغوی په دی داړه شول چی برهمن آباد ته نژدی دپریکنده جګړی لپاره زیات فرصت لري.

په جون کی درياب هم مست ژاوهيچاداتمه نه درلوده چی محمدبن قاسم به داوبوترلږيدوپوري انتظارونه کړی ځکه خوهغوی ډيرآرام وخوځيدل اوپراوونه ئی په کراری وهل راجه داهرهم له خپل اتکل نه وروسته دمحمدبن قاسم له مقابلی سره مخ شواوله لری ځايونونه هم ديو لږمرستندوی لښکررارسيدلی ؤ.

دسنددلښکروماته اودراجه داهردوژل کيدلوخبرچی مرستندويوپوځونوپه نيمه لاره کی واوريدزياتره ئی مايوس شول اودجی سنگ دمرستی اودبرهمن آبادنه دتگ پرځای ئی بيرته دخپلوخپلوښارونوپه لورمخه کړه جی سنگ ددغی مرستندويوپوځونوپه مرسته ديوی بلی پريکندی جګړی اراده درلوده ځکه خوهغه داآوازه واچوله چی راجه داهروژل شوی نه دی له ماتی وروسته دسندجنوب ته دراجه گانونه دنوی لښکرتولولپاره تللی دی په ځوورځوکی به له لوی پوځ سره بيرته برهمن آبادته راورسيږی.

دجی سنگ ځريودغه خبرهغه مايوسوپوځونوته هم ورساوه چی له نيمی

لاری نه بیرته خپلوسیموته روان وواوهغوی په وروستی فتحه کی دوندی اخستلوپه تمه یوپربل پسی دجی سنگ ترقوماندی لاندی راتول شول.

محمدبن قاسم ته چی داخبوررسیدنوسمدستی یی پوځونه راوراندی کړل دجی سنگ تربیرغ لاندی پنځوس زره پوځ راتول شوی ؤځکه هغه له ښارنه بهردمحمدبن قاسم دپوځ مقابلی ته راووت دمحمدبن قاسم په پوځ کی هم دسندزیات شمیرسرداران یوځای شوی وودهغوی مشری دبهیم سنگ په غاړه وه دبرهمن آباددکلاته بهرسخته جگړه ونښته دبهیم سنگ نوابزاده گان ملگری ښه په زړه ورتیاوجنگیدل دسندلښکروچی له عربی لښکرسره دخپل وطن زیات شمیرپوځیان ملگری ولیدل هغوی هم روحیه وبایلله اودبهیم سنگ یوشمیرپخوانیوملگرودهغه بلنې ته لبیك ووایه اودجگړې له پیل نه وراندې دمسلمانانوله پوځ سره یوځای شول جی سنگ اوملگرویی په میړانه جگړه وکړه اوله ماسپښین نه وروسته ئی بالاخره شل زره تنه مړه اوتپیان په ډگرپریښودل اودجنوب په لوروتښتیدل.

*****

(۲)

دبرهمن آباددشاهی محل په یوه کوټه کی دراجه داهرترټولوکشره اوترټولوگرانه ملکه په زرین تخت ناسته وه دملکی نوم «لادهی» ؤدهغی په ښکلی خیره دغم اوخفگان نخښی وی.

څوتنه خدمگاران اوسرداران شاوخوالاس په نامه ولاړوو.

پرتاب رای سرکوزی ورو وروقدم اخست اودربارته ننوت رانی ته نژدې ورغی اووروبی وویل: معظمی ملکی ! جی سنگ ماته وخوړه اودښمن ترلږځنده په ښارقبضه کوی اوس موږته له تیښتی پرته بله لاره نشته موږدتونل له لاری ستنیدلای شو.

ملکی په غوسه ځواب ورکړ: دماتی دخبرراوړودپاره په محل کی ښځی ډیری وی تامیدان ولی پریښود اودلته راغلی ؟

پرتاپ رای : دمعظمی ملکی ساتنه زمافرض ده نوردخبروفرصت نشته راځه مادتونل په بله خوله کی داسونوبندوبست کړی ته له کوم خطرسره دمخ کیدونه پرته اورورته رسیدلای شی.

ملکی په تندی ځواب ورکړ: زه ستاغونډې دارن په مرسته دځان ژغورلونه دیوه زړه وردښمن په لاس مرګ غوره بولم.

پرتاپ رای جګ شوویې ویل: دازماسره انصاف نه دی زه ستاسویووفادارخادم یم.

ملکی وویل : ستاسره دانصاف وخت رارسیدلی دی دایې وویل اوملکه له تخته اوچته شوه.

پرتاپ رای اندیښمن شوویې ویل: معظمې ملکې ! داته څه وایې زه ستادښیګړې خبره کوم.

ملکی په درانه غږوویل : ته دسندترټولوسترغلیم یې پرسندد امصیبت ستاله لاسه نازل شو ټولواك له عربوسره جګړې ته ستاله لاسه تیارشو.

جې رام تازمووړدښمن کړ، بهیم سنګ اواودهې سنګ غونډې زړورسپاهیان ستاله لاسه له دښمن سره یوځای شول په تیروجګړو کې له میدان نه ترهرچاوړاندې ته وتښتیدې اواوس ته زمادځان ساتنې لپاره نه بلکې زماپه واسطه دخپل ځان دژغورلوپه تکل یې عرب په ښځولاس نه پورته کوی اوزموږپه خاطرپه ښایې تاته هم څه ونه وایې.

پرتاپ رای وویل: معظمې ملکې ! داته څه وایې غوږونیسه ! دښمن په کلارانوزی اوس هغه په شیبه کې دلته رارسیدونکی دی که ته ددوی دزندان له ذلت نه نه ویریږې نوزه ځم.

پرتاپ رای داوویل بیرته ئې ګرځیدل غوښتل خوملکه راوړاندې شوه په مخ کې ئې ودریده اویوځلیدونکې خنجرئې وروښودویې ویل: ودریږه ! تراوسه ستاپریکړه نه ده شوې.

پرتاپ رای خلك ایستلې توری شاوخواولیدل یوی خواته یې توپ کړاوتوره یې وکښله ملکې له یوه درباری نه توره واخستله اووروړاندی شوه اوویې ویل: بزدله، دارنه ستالاس دتورې چلولولپاره نه دی دبنګړواچولولپاره دی پرتاپ رای دیوه ټپي ځناورپه څیرپه ملکه حمله وکړه خوهغه ناڅاپه یوی خواته شوه خوپخواله دی چی هغه دوهم ځلې توره اوچته کړې دځلوروسپاهیانوتورې نې پرتېترښخې شوې.

* * * * *

(۳)

دکلاځلوروخواوته دالله اکبرناری اوریدل کیدی ملکی دشاهی محل دیوی بالاخانی له یوی کړکی نه ځلوروخواوته نظروزغلاوه دکلاپه دروازه دسنددبیرغ پرځای اسلامی بیرغ رپیده، لاندی په پراخ انګړکې دمسلمانانوپوځ راټولیده ترټولوورواندی یوزلمی په سپین آس سپورۋاودسندبی شمیره پوځونود«ژوندی دی وی محمدبن قاسم !» ناری وهلی، یوه درباری په سپین اس سپاره زلمی ته اشاره وکړه ویی ویل : محمدبن قاسم هغه دی ملکی په قهرجن نظرهغه ته وکتل یویوډاسردارملکی ته ورنژدې شو ویې ویل : معظمی ملکی ! اوس هم دتیښتی فرصت لاشته دی.

ملکی له یوه سپاهی نه لینده اوغشی واخستل دمحمدبن قاسم په لورئی نخښه ونیوله ویی ویل : تښتیدلیوپاچاهانواوملکوته په نړۍ کی هیڅ دپناه ځای نشته .

خوناځاپه یی دچادپښوغږواوریدملکی پام دیوې شیبې لپاره بنی لوری ته دیوی دروازی په لوری شو له دروازی نه بهیم سنګ له څونوروسردارانوسره رابنکاره شورانی چی هغوی ولیدل بیرته ئی مخ واړاوه اوپه محمدبن قاسم یی نخښه ونیوه لاندې څوسپاهیانوشورماشورګډکړاومحمدبن قاسم ناڅاپه یوی خواته تیت شوتردې وړاندی چی بهیم سنګ وررسیدلی وای اودملکی لاس یی نیولی وای غشی له لیندی نه وتلی ؤملکی چی خپل ګوزارخطاولیدبل غشی یی په لینده کی کیښودخوبهیم سنګ وروړاندی شوغشی اولینده ئی له لاسه واخستل ویی ویل: محترمی ملکی ! داته څه کوی ؟ دبهګوان «خدای» احسان دی چی دغشی ویشتلوپه وخت دی لاس ولړزیده که نه نوته دیوه فاتح لښکردکسات تصورنشی کولی که ته ګومان کوی چی ددوی دلښکرودمشرپه مرګ به ددوی مورال مات شي نوغلط ګومان کوی داهغه پوځ نه دی چی دقوماندان په مرګ له میدان نه وتښتی ددوی هرسپاهی دپوځ سالاردی.

ملکه احساساتی شوه په سترګوکې ئې اوښکې ډنډشوی اوبهیم سنګ ته ئی وویل: بهیم سنګه ! ته نورڅه غواړی ! آیاتا تراوسه پوری خپل بدل نه دی اخستی ؟

بهیم سنګ ځواب ورکړ: زه یوازې داپوښتنه کوم چې عربي بندیان چیرته دي؟ په زندان کې خوبوازې دسراندیپ مانوګان ووماته هلته داخرګنده شوه چې دپاچاله مرګه وروسته عربي بندیان له زندان نه دلته شاهي محل ته راوړل شوي.

زماباوردی چې تابه له هغوی سره بدسلوك نه وي کړی خوپهره دارراته وویل: چې پرتاپ رای هم له تاسوسره دي اوزه په دي ویریږم چې تادهغه په خوله له بندیانوسره څه بدسلوك نه وي کړي.

ملکي وویل: فرض کړه چې ماله هغوی سره بدچلن کړی وی نو!

بهیم سنګ : مسلمانان په بنځولاس نه اوچتوی خوپرتاپ رای بنایي دبخښنې ورونه بولي.

ملکي وویل: که ماپه خپل امرهغوی وژلي وي نوبیا ! بهیم سنګ تکان وخوړځواب یې ورکړ: نوبیابه زه وپوهیږم چې سندبه لابدې ورځې ووینې خوزه له تانه دداسې کارتمه نه لرم مامحمدبن قاسم ته ویلي دي چې دبندیانوپه اړه به ملکې تل دپرتاپ رای اوپاچادخطرناکوارادومخالفت کاوه اوهغه پردي له تانه خوښ دي.

رانی له لږسوچ وروسته وویل: که زه دغه بندیان دښمن ته وسپارم دوی به له دې ځایه ولاړشي؟ بهیم سنګ ځواب ورکړ: فاتح لښکرځوك په شرطونومنلونشي مجبوروولای موږچې له دوی سره دسولې کوم فرصت درلودهغه مودزوروپه نشه کې له لاسه ورکړاوس دوی دخپلوفتحودسیلاب څپه دهندوستان تروروستی ګوټ پورې رسول غواړي

ملکه : ستایقین دي چې دوی به په اروړحمله وکړي؟

بهیم سنګ : هو! دوی بنایي په درې څلورورځوکې داروړپه لورروان شي زه دلته ستاپه حضور ته د دې لپاره حاضر شوم چې په اروړ کې شهزاده «ففي» دي اوته به بنایي دانه خوښوې چې هغه دي دمسلمانانوداسونوترپښولاندې ځپ ځپ شي، که بندیان محمدبن قاسم ته وسپارې دهغه ژوندبخښلې شي اوس خوله محمدبن قاسم سره دسندپوځیان زموږدشهزادګانوله پوځ نه زیات دي شهزاده چې څومره زړوردی هومره بې تجربې دي هغه دعربومقابله نشي کولی هغه یوازې په دې ژوندې پاتې

کیدای شی چی له جګړی لاس واخلی اووسله کیږدی.

ملکی بیاله لږدوه زړه توبه وویل: مااوریدلی دی چی له عربوسره دمال اودولت ډیره ده.

که هغوی بیرته درومی زه دبرهمن آباد پر خزانی برسیره دارورخزانه هم ورکوم.

بهیم سنګ ځواب ورکړ: هغوی داصولولپاره جنګیږی دلته دسوداګری اومالی ګټی لپاره نه دی راغلی .

ملکه : ستاپه زړه کی دعربولپاره ډیرعزت دی هغوی پرتاکوډې کړی.

بهیم سنګ ځوګامه وړاندی ولاړلاندې یی وکتل ویی ویل: کوډې ! هلته وګوره دهغه کوډوپه چااثرنه دی کړی ؟ ملکی لاندی وکتل دښارمخوراوددرمسال پنډتان له محمدبن قاسم نه راچاپیرشوی وودهغه دپښودمچولوهڅه ئی کوله اوهغه په لاس دوی منع کول.

بهیم سنګ وویل: معظمی ملکی ودی لیدل ! داهغه خلك دی چی ترلږشیبووړاندی یی هغه خپل ترتولولوی دښمن باله کله یی چی زموږپه هیوادحمله وکړه له هغه سره ټول لس دوولس زره پوځ ؤاوس دازموږاوستاسو له هیواده دیرش، څلویښت زره پوځیان دهغه په لښکرکی ورګډشوی دی زموږسره دځان ساتنی لپاره ډالونه ووخودزړونودتسخیروونکواخلاقودمقابلی لپاره هیڅ هم نه لرو، دسندراتلونکی نسلونه به محمدبن قاسم ددښمن پرځای دښه اوغوره دوست په نامه یادوی.

ته پوهیږی چی زه ډارن نه یم زه په دی نیت «لس بیلا» ته نه وم تللی چی ماته وخورم اوبیرته راستون شم خوکاشکی زه هغو زخمی په سینه پوری نه وای نیولی،کله چی زه له زخمونوبی تابه وم دوی زه دمرګ له خولی لری کړم زماپه ټپونوئی پټی کیښودی زماخدمت یی وکړاوماداحساس کړه چی ددنیاهیڅ ځواك زموږددې دښمن مقابله نشی کولی.

زه ټولواك ته ددی لپاره راغلم چی هغه په اورکی دورلویدونه راوژغورم خوهغه له ماوزماله پلارجان سره داسی سلوك وکړچی مسلمانان یی له دښمن سره هم نه کوی اوس زماپه زړه کی له خپل اولس سره درددی اوزه تاته ددی لپاره راغلی یم چی ستازوی له مرګه وژغورم،که بندیان ستاپه

اختیارکی وی نوماته یی وسپاره هغوی دادی ستادمانی دروازې ته رارسیدلی دی کله چی هغوی ته څرګنده شوه چی په مانۍ کې ته «ملکه» یی پوځ ته یی امروکړچی یوسپاهی هم دننه پښه کینږدی.

ملکی یوې کوټې ته دننوتلوپه حال کی وویل: په ماپسی راځه! بهیم سنګ خپلوملګروته وویل: چی دلته انتظاروکړی اوپخپله له ملکی سره ملګری شو.

ملکی هغه لومړی هغی کوټې ته ورووست چې دپرتاپ رای مړی پروت ؤاوکله چې رانی وویل چی پرتاپ رای ددی په امروژل شو نوبهیم سنګ وویل:

دبهګوان «خدای» شکردی چی تاته ددوست اودښمن توپیرمعلوم شو.

ملکی ځواب ورکړ: ماهغه له پیله دښمن باله خوکاشکی چی تولواك می خبره منلی وای،که ته اوس دعربوبندیان لیدل غواړی نودکونج په کوټه کی دی تولواك په ژوندزماخبره ونه منله دهغه له مرګه وروسته مابندیان میلمانه کړی ماله پیله دا احساس کړه چی له دوی سره تیری شوی پرتاپ رای دهغوی دوژلومشوره ورکوله که دهغه په توان کی وای نووژلی به یی وو.

بهیم سنګ وویل: دارن تل ظالم وی بندیان اوس څه احساسوی؟

ملکی ځواب ورکړ: ترکومه ځایه چی زماوس رسیدلی ماڅه تکلیف نه دی ورکړی راځه ته یی پخپله وګوره! بهیم سنګ وویل: دابه غوره نه وی چی محمدبن قاسم پخپله راشی دوی ووینی دهغه ډیره اندیښنه وه.

ملکی ځواب ورکړ: ورشه هغه راوله!

*****

(٤)

دملکی په لاربسوونه محمدبن قاسم، زبیر، خالد، ناهیداوزهراله خونوروسردارانوسره دمحل دکونج پراخې کوټې ته ورننوتل علی چی خالدولیدورغی اوورترغاړی ووت ملکې پخوادوی ته دخپلولښکروماته اودمسلمانانودبری کیسی کړی وی، خالداوزبیریوپربل پسی له نارینه ؤسره غیږپه غیږشول اوناهیداوزهراته ښځی ورترغاړی وتی اودخوښی اوښکی یی

تویولی محمدبن قاسم دهلکانوپرسردمینی لاس راتیرکړاو له نارینه ؤسره یی یوپربل پسې سترې مشی وکړل اوبښځوته ئی تسلې ورکړه په پای کی ئی ملکی ته وکتل ویی ویل: نیك زړی ښځې ! زه ستامننه کوم.

ملکی په ځیرمحمدبن قاسم ته وکتل دهغه په سترګو کې ئې ولوستل چی دغه الفاظ رسمی نه ووادا شوی.

محمد بن قاسم، خالداوزبیرته وویل: زماپه مخکی نورډیرکارونه دی تاسودوی خپل هستوګنځی ته درسره بوځی.

ملکی لږپه تذبذب وویل : دوی همدلته په محل کی اوسیدای شی.

محمدبن قاسم ځواب ورکړ: شکریه خودلته تاسوته تکلیف دی.

ملکی وویل: که زه ستابندی نه یم نوسباته به اروړته ولاړه شم اودامحل به تول تاسوته تش شی.

محمدبن قاسم وویل: تاته داګومان له کومه پیداشوچی مسلمانان دمیلمه پالنی بدل داسی ورکړی ! که ته اروړته ځی دبرهمن اباد ځوسرداران به درسره استوم.

ملکی محمدبن قاسم ته سرترپښووکتل ویی ویل: که زه اروړته ولاړه شم ستاپوځ خوبه نه راپسی راځی؟

محمدبن قاسم : اروړدظلم دپاچاهی وروستی کلاده زه داروړدفتحه کولواراده نشم پرېښودی،مااوریدلی دی چی هلته یوداسی زندان دی چی دابوالحسن په څیردیرزندانیان دځنکدن په حالت په کی پراته دی.

ملکی وویل : ابوالحسن خوتښتیدلی دی اودارووډه بندی خانه کی نوربندیان زموږخپل رعیت دی دهغوی په اړه فکر زموږکاردی که ستاسوقانون ترموږغوره دی ځی په خپل هیوادکی ئی پلی کړی.موږپرخپل حال پرېږدی، له عربوسره دبدسلوك په سبب موږترلازمی هم زیاته سزاولیده.

محمدبن قاسم : موږددی هدف په خاطراوچت شوی یوچی دخدای پرځمکه بایددخدای قانون پلی شی موږدپاچااورعیت ترمنځ توپیرلری کوواوټول انسانان په یوه کتارکی درول غواړوموږدظلم اوتیری پرځای دعدل اوانصاف حکومت غواړو.

ملکه : خودپاچااورعیت جګړه دهندوستان په هره پاچاهی کی شته

ایاداسی نشی کیدای چی تاسولکه نورهندوستان موچی پرځپل حال پرینبنی اوروهم پرېږدی.

محمدبن قاسم : زموږ په باب موګومان غلط دی اورزموږوروستی منزل نه دی زه ددی انقلاب پیغام دهندتروروستی ګوټ پوری رسول غواړم.

سندته څکه ترټولوړومبی زموږپام شوچی له دی ځایه دستم ترژرنده لاندی انسان فریادله ټولونه وړاندی زموږغوږوته راورسید.

ملکی یوځل بیاپه ځیرمحمدبن قاسم ته وکتل اوویی ویل: نوته دټول هندوستان دفتحه کولوخوبونه وینی ؟

محمدبن قاسم : هو ! په ټول هندوستان داسلام بری غواړم اوداخوب نه دی.

ملکی وویل : سکندرهم له یونان نه په همدغه تکل دلته راغلی ؤاوتاسوپه عمرله هغه نه ډیرکشرياست .

محمدبن قاسم : مګرسکندردپاچاهانومقابلی ته دټولواك په نامه راوتلی و،دهغه مرام دانه ؤچی خلك دپاچاهانوله غلامی نه وژغوری بلکی هغه غوښتل خلك دځان غلامان کړی زه دخدای په ځمکه دانسان دپاچاهی نه منکریم ،سکندرپه خپل ځواك نازیده زماتکیه دخدای په رحمت ده هغه دانسانانوپه پوځ بروسه درلوده زمادخدای په مرسته ده،دهغه ترټولوستره ماته داوه چی خپل پوځ یی مخالف شوزماستربری دادی چی ترپرون پوری می دښمن ؤنن می ملګری دی اودازمابری نه دی داسلام دصداقت اوبری نخښنه ده .

ملکه مایوسه شوه ویی ویل : نوددی مطلب دادی چی ته به خامخاپه اروریرغل کوی؟

محمدبن قاسم : دازمامسؤلیت دی.

ملکی په عذرهغه ته وکتل ویی ویل: زه پوهیږم چی دبرهمن آباداواروړترمنځ داسی کنده نه شته چی ته تری تیریدای نه شی خوکه ته مادځه بنه چلن وړګنی نوزماپه زوی رحم وکړه هغه به تروروستی سلګی ستامرسته کوی ته ماته دا فرصت راکړه چی ارورته ورشم اوهغه پوه کړم هغه ته جی سنګ داڼاډورکړی چی راجه داهروژل شوی نه دی ژوندی دی.

زه به هغه ته داوایم چی اوس له جګړی نه هیڅ نشی ترلاسه کیدای.
خوته به داوعده کوی چی دوسلی ایښودونه وروسته به له هغه سره بدچلن نه کیږي هغه زمایوازینی زوی دی که هغه تاسوته په سندکی ښه نه درلګیږي زه به یی چیرته لری بوځم.
محمدبن قاسم وویل : زه وعده درکوم چی له هغه سره به هیڅ بدسلوك نه کیږي بلکی دحق په مقابل کی له مقابلی نه دلاس اخستلوپه وجه به دهغه درناوی کیږي ته څه وخت روانیږي ؟
ملکه : زه سهاروختی روانیږم.

*****

(۵)

که څه هم دسندپایتخت اروړ خوبرهمن آبادپه سیاسی اوپوځی اهمیت کی تری زیات ؤدنفوسوپه حساب هم دادسندترټولوآبادښارؤله بری وروسته دخلیفه ولیداوحجاج بن یوسف په نامه محمدبن قاسم چی لیکونه واستول دایی ورته ولیکل چی په عملی ډول دسنددفاعی ځواك ختم شوی دی داروړپه باب می باوردی چی له جګړی پرته به وسله کیږدی که فرضاًوسله کی نژدی نودابه دسنددنوروجګړوپه پرتله ډیره کمزوری مقابله وی.
دسندوروستی اومزبوت ښارملتان دی اوددی ښاردمذهبی حیثیت په خاطرښایی دهندنورراجه ګان هم ددی دساتنی لپاره پوځ راواستوی خوزمادخدای په مرسته تکیه ده.
دبرهمن آبادله فتحی نه وړاندی محمدبن قاسم ته دحجاج بن یوسف هدایت رارسیدلی ؤچی دی بایددښمن بی ځایه نازونه وانه خلی،خوهغه په خپل لیك کی داوضاحت هم کړی ؤچی دسندخلك دترکستان اوهسپانیی له اوسیدونکوسره ډیرتوپیرلری دوی مسلمانان خپل ژغورونکی بولی اوله بدچلن نه وروسته دهغوی دبغاوت ویره نشته اوددی ترټولولوی دلیل دادی چی پرون کوم پوځیان زموږپه مقابل کی جنګیدل نن زموږسره ملګری دی.

*****

(٦)

ملکه لادهی دبرهمن آباددخوسردارانوپه ملګرتیااروړته ورسیده هغی دخپل زوی ددی بدګومانی دلری کولوهڅه وکړه چی دهغه پلارژوندی دی خود هغه ناسکه موردوسلی ایښودلو له مشوری سره مخالفت وکړهغه ته یی پیغوروړکړچی موردی له دښمن سره ملګری شوی ده اودهغوی دلاس آله ده له دی سره دبارمذهبی مشرداآوازه هم په ښارکی خپره کړه چی لادهی ملکی دمسلمانانوله مشرسره په خبروکی دخپل دین اووطن سره غداری کړی ده(۱)

(۱)ددی پیښی په اړه ځینی تاریخ پوهان ددې خبرې ثابتولوهڅه کوی چی «لادهی دیوی » داسلام له قبلولونه وروسته له محمدبن قاسم سره واده کړی دی اوهغی اسلامی نوم«عایشه» دی.

خودداستان زیاتره دهغوتاریخ لیکونکودطبعی زیږنده ده چی دهرلوی سړی سره دمینی اوعشق یوداستان منسوبول ضروری بولی.

همدغسی یویل داستان هم محمدبن قاسم ته منسوب دی اوهغه داچی محمدبن قاسم داروړله فتحی وروسته دراجه داهردوی لوڼې خلیفه ولیدته واستولی یوی لجلی دپلاردوژلودبدل په نیت ولیددمحمدبن قاسم پرخلاف وپاراوه اوورته ویی ویل چی محمدبن قاسم دخلافت دربارته له رااستولونه وړاندی ددوی «دواړوخویندو »عصمت لوټلی اوولیدپه غوسه شومحمدبن قاسم ئی وواژه دهغه له وژلووروسته بیالجلی وویل چی مادبدل په خاطرداکیسه جوړه کړه اوولیدبیاهغه هم ووژله لومړی کیسه ځکه دروغ ده چی «لادهی دیوی» داسلام له قبلولونه وروسته دمسلمانانوپه پناه کی وه اودمسلمانانودامیردمیرمنی په حیث بیاددی منصب داسی هیڅکله نه ژچی بیادسفیرپه حیث اروړته تللی وای که داومنوهم چی هغی له خپل زوی سره ډیره مینه درلوده خوداڅنګه امکان لری چی یوداسی اوولس کلن ځوان چی دټول هندوستان دفتحی اراده ئی درلوده داروړدوړوکی مهم په خاطرخپله نوی مسلمانه میرمن داروړدك دربارته استوی بیاپه داسی حالاتوکې چې داروړخلك ددی په مسلمانیدوراپاریدلی هم شوای.

اوددوهمی کیسی په باب همدومره کافی ده چی ددی راویان هغه تاریخ پوهان دی چی داهم نه ده ورمعلومه چی خلیفه ولیددمحمدبن قاسم نه وړاندی وفات شوی ؤ.

له ډول ډول کیسوسره دغه خبره دځنګله داورپه څیرپه ټول ښارکی مشهوره شوه داوروخوتنه منصبداران دپرتاپ رای خیښان وو له دوی نه یوه د«لادی دیوی» نه دبدل په خاطرپه ډك دربارکی وویل: چی ملکی دمحمدبن قاسم دخوښی لپاره پرتاپ رای وواژه دی پیښو زوی دخپلی مورپه خلاف وپاراوه اولادی دیوی ته ئی وویل: کاشکی ته زمامورنه وای.

دملکی له خپل یکی یوازی زوی نه دداسی خبری تمه نه وه،دغه جملی دښترپه څیردهغه ترزړه وختلی بیایی یوپریل پسی، زوی، ښی، اودرباریانوته وکتل اوپه ریږدیدونکی آوازیی وویل: زویه ! وشرمیږه زه ستاموریم که ددی خلکوپه مرسته زه ستاکامیابی ته یوه زره هومره امیدواره وای نومابه تربصری پوری ددښمن دتعقیب مشوره درکړی وای.

خوداخلك مکارهم دی اوډارن هم چاچې ستاله پلارسره وفاونکړای شوه ستاسره یی نه کوی،کوم دښمن چی لکونوپوځونوته ماته ورکړی ستالس، شل زره پوځ یی په مخه کی نشی دریدای دسندنیمایی پوځ له هغه سره دریدلی دی ماپه خپلوسترګوتردی سردارانوزیات غیرتی مشران ولیدل چی دمسلمانانودمشرانوپه پښوورتیتیدل.

ستاخیرپه دی کی دی چی خپله ماته ومنه.که نه نودوی به تاته په ډیرنازك وخت کې دوکه درکړی تراوسه پوری زیات احساساتی هغه خلك دی چی لاله دښمن سره نه دی مخ شوی.

«ففی» په جوش راغی ویی ویل: مورې چوپه شه ! زماملګری به دمرګ ترشیبوزماملګري کوي.

لادهی دیوی : نوزویه په یادولره ! په دی جګړه کی به له مرګه پرته بل څه ترلاسه نه کړی.

یوه میاشت وروسته محمدبن قاسم دبرهمن آبادله انتظام نه فارغ شواوداوروپه لوری یی پرمختګ پیل کرففی ته دامعلومه شوه چی دمرګ ترشیبوپوری له ده سره دملګری لاپه وهونکوپه باب یی دمورخبره رښتیاشوه دمحمدبن قاسم پوځ به نیمای لاره وهلی وه ففی ته یوسهارمعلومه شوه چی څوتنه سرداران یی دشپی له پنځه زره پوځ سره تښتیدلی دی.

اوکله چی اوروته یوازی یومنزل ورنژدی شول نودری زره پوځیانودشپی په

تیـاره کی چی دروازه ترلی ولیـدله له دیوالونونه په کـمندونوکـوزشـول اووتبنتیدل.

دفغی زره مات شواوله پاتی پوځ سره یی دتیبنتی لاره ونیوه .

محمدبن قاسم یونوی مسلمان شوی سندی سرداردبنارحاکم وټاکه اوله څوورڅوتیاری وروسته یی دملتان په لوری پرمختګ ته دوام ورکړ.

# نوی دیوتا «رب النوع»

دملتان دکلابندی په وخت محمدبن قاسم دحجاج بن یوسف دوفات خبرواورید، له دی سره جوخت یی دمیرمنی لیك هم وررسیدچی هغی دخپل پلاردوفات په یادولوبرسیره داهم ویلی ووچی دده دمورصحت یوځل بیاخراب شوی خوددی هیله داده چی ته په هندوستان کی ترڅوخپل کارپای ته ونه رسوی کورته مه راستنیږه.زبیدی دځان په باب لیکلی ووچی : زه دهغوزرگونوتورسریوپه ځیریم چی میړونه یی په ترکستان ، سند اواندلس کی په جهادکی بوخت دی اودسنددمجاهدینودمشردمیرمنی په صفت دازمامسؤلیت دی چی دعادی مجاهدینوله میرمنونه زیات صبراوحوصله ولرم،تالیکلی ووچی دملتان له فتحی نه وروسته به تاسودلته راوغواړم خودمورناروغی بنایی ترراتلونکوڅومیاشتوپوری هغی ته دسفراجازه ورنه کړی،زه ویریږم چی دکورپه باب اندیښنه دی دفتحوپه گرندیتوب اثرونه غورځوی دډیرزیات تکلیف په حالت کی چی هغه ستادبری زیری واوری ځیره ئی تازه، شی کله چی هغه خفه وی په خوله یی تل دادعاجاری وی : یاالله ماته دلوړیوپیړیودمجاهدینودمیندوصبراوزغم راکړه اوکله چی هغه ماخفه وینی نووایی چی : زبیدی ! ته دیوه مجاهدمیرمن یی ناهیداوزهرا ته زماسلام وایه زه هغه خویندی بختوری بولم چی هره ورځ دسندپه میدانونوکی دغازیانوداسونوگردونه وینی په بصره کی دهغوماشومانواوښځوانتظارکیږی چی تاسودبرهمن آبادله زندان نه راخلاص کړی دی .

هغه څه وخت رااستوی ؟ زه له دی پرته بله څه دعا کولی شم چی ستاهرگام دی دلوړتیاپه لوروی اوزمادنظرهراسمان دی ستاداقبال دستوری پښی مچوی. . . . . .

له څوورځی مقاومت نه وروسته دملتان خلکوسلی کیښودی اومحمدبن قاسم امیرداودنصردملتان اعلی امیروټاکه اوبیرته ارورته ستون شوپه لاره خبرشوچی دقنوج⁽¹⁾ راجه هری چندرراجکمارجی سنگ ته پناه ورکړی اوپرسنددحملی تیاری کوی،ددی خبرپه اوریدومحمدبن قاسم ارورته ورسیدخوهلته ایسارنه شواوپه قنوج یی حمله وکړه دسنداوراجپوتانه په سرحدکی دواړه لښکریوبل ته مخ شول راجه هری چندرته جی سنگ ویلی ووچی دبهرنیویرغل کوونکولښکروشمیرترلس زروزیات نه دی اوهغه څکه دده مرستی ته تیارشوخوکله چی هغه ولیدل چی د«ژوندی دی وی محمدبن قاسم » ناری اوچتوونکی ترعربوسندیان زیات دی نوجی سنگ ته یی کنځلی وکړی اوله میدان نه وتښتیدجی سنگ ځینوملگروهغه ته له محمدبن قاسم سره دسولی مشوره ورکړه خوهغه سره له دی چی له هری خوانا امیده شوی ؤ دامشوره ونه منله اودجنوب په لوری وتښتیدله هغه سره یوازی دوه تنه سرداران وتښتیدل اونوروتولومحمدبن قاسم ته پناه یوړه.

له دی نه وروسته محمدبن قاسم دسنددنظم جوړولواوپه گاونډیوریاستونودوردانگلونه وړاندی دخپلوپوځونوله سره تنظیمولولپاره ارورته ستون شوهغه چی ارورته ورسیدیوه ورځ وروسته له بصری نه استازی ورته راغی هغه چی محمدبن قاسم ته ورغی ویی ویل: لوی سالاره ! مایوډیربدخبرراوړی د ی.

دمحمدبن قاسم په آرامه څیره دانديښنی کرښی جوړی شوی په شونډویی یوه غمجنه موسکاخپره شوه ویی ویل: زمادموړپه باب خوبه خبرنه وی ؟

استازی په اثبات سروخوځاوه له جیبه یی لیك راویوست اومحمدبن قاسم ته یی ورکړ محمدبن قاسم په بیړه لیك پرانیست ویی لوست اوانالله وانااليه راجعون ط یی وویل سریی ښکته واچاوه ،مابنام مهال دشاهی محل په هغه

(۱) قنوج دجنوبی هندمشورښارنه دی بلکی موجوده اودهے پورته نژدی دهغه وخت دیوه څواکمن ریاست مرکزؤ.

برخه کی چی محمدبن قاسم دهستوګنی لپاره تاکلی وه دښارسپین روبی اویوشمیرتورسریی راتول وروددوی په نظردسندفاتح دیوه ښه زړی وروراودیوه مهربانه پلاردرجه ګټلی وه چی دوی دخدایانوپه سیمه کی دیونوی خدای په څیرسپیڅلی ګانه.

محمدبن قاسم له محل نه راووت اوپه لنډه وینایی ددوی دخواخوږی مننه وکړه دشپی یی یوځل بیاد مشال په رڼاکی دزیبدی لیك ولوست دهغه سترګی ډیروخت په هغوالفاظوګنډلی پاتی شوی دمورجانی دځنکدن وروستی الفاظ داوو:

زمااروا چی دبدن له قیدڅخه ازاده شی هغومیدانونوته به والوزی چی زمازوی داسلام دبری بیرغونه پری رپولی دی.

*****

(۲)

دری میاشتی وروسته محمدبن قاسم له عربوسپاهیانونه پرته یولك سندی مسلمانانواوهغه نامسلمانوپوځیانوته پوځی تربیه ورکړه چی داسلام له نه منلوسره سره یی دهندوستان تروروستی کونج پوری ددغه کم عمره سالارترقومانده لاندی جګړه دانسانیت لوی خدمت ګانه.

دهغه عدل اوانصاف دفتحه شوی سیمی دهراوسیدونکی په نظرله هغه نه یونوی دیوتا «معبود» جوړکړی ؤهغوی دی خپل ژغوروونکی باله اودنورهندوستان لپاره یی دداسی ژغوروونکی ضرورت احساساوه.

یوه ورځ دارورپوه مشهوربت تراش دښارپه یوه څلورلاری کی خپل یوشاهکاردننداری لپاره کیښود.

دغه شاهکادمرمرډبری یوبوت ؤچی لاندی تری دغه الفاظ کیندل شوی وو«هغه دیوتاچی په دی هیوادکی یی دعدل اوانصاف حکومت ټینګ کړ.»

دښارپه زرګونواوسیدونکی تربوت راچاپیرشول اوبوت یی له سره ترپښوپه ګلونوکی وپوښه دارورزیات سرداران بت تراش ته دخپل کوردښکلالپاره پربت ډیرلوړقیمت ورکولوته تیاروو خودښاردمذهبی مشرانو«پروهت» پردی پریکړه اتفاق ؤچی دمحمدبن قاسم غوندی دیوتابت ځای دسردارانومحل نه دی بلکی زموږدرمسال دی بت جوړوونکی هم دخپل

شاهکاراهمیت ته وکتل اوپریکړه یی وکړه چی هغه به په کوم درمسال کی ږدی.

مذهبی مشرانودهغه لپاره د«بُد»یوپخوانی درمسال وټاکه مابنام مهال یی بت ددرمسال په لوروروړچی دبناردمذهبی مشرانواوسیدونکوډله دشاهی محل له مخی تیریده بهیم سنگ په منده محمدبن قاسم ته خبرورکړچی خلك ستامجسمه په درمسال کی دایښودلولپاره وړی.

محمدبن قاسم اندیښمن شوبهرته راووت خلکوچی دی دمحل ددروازی په زینوکی ولیدودریدل دښارلوی مذهبی مشرراوړاندی شوویی ویل: دغه خلك تردی زیات ستادرناوی نشی کولی دادیوه بت تراش کمال دی خوددوی په زړونوکی ستاتصویرتردی زیات ښایسته دی.

محمدبن قاسم په لوړغږگنی گونی ته په خطاب کی وویل: ودریږی ! زه تاسوته څه وایم !

دناقوس اوشهنایی آوازچوپ شوپرگنه گونه سکوت خپورشو.

محمدبن قاسم په خپلوخبروکی داسلام له نظره دبت پالنی په اړه څرگندونی وکړی اوپه پای کې یې له خلکونه وغوښتل چی :

«مامه گناهکاروی په ماکی که څه ښیگړه ده هغه اسلام رابخښلی که زه د اسلام په پیروی دانسانیت یوښه مثال کیدای شم دالارستاسوپه مخ هم خلاصه ده تاسوزماعبادت مه کوی بلکی دهغه چاښندگی اوعبادت وکړی چی زه یی جوړکړی یم هغه چی زه یی ځانځنه کوم هغه ذات چی دین یی انسان ته دعدل مساوات اوحریت درس ورکوی.

خلك که څه هم احساساتی شوی ووخودبت په وړاندی یی دژوندی دیوتاله حکم نه سرغړاوی نشوکولی اوکله چی محمدبن قاسم وویل: چی ماچی داهرڅه وویل روحانی تکلیف راورسیدنویت تراش وروړاندی شولاس په نامه ودریداوویی ویل: یوبت جوړوونکی یوازی بوت جوړولی اوخپل احساسات څرگندولی شی،مادديوتاگانونومونه اوریدلی اودهغوی خیالی بتان می جوړکړی مگراوس می چی ته ولیدی نوزماباوردی چی که زه دهردیوتاتصویرجوړوم څیره اوبنه به یی ستا په شان وی .

زمازوی د «لس بیلا»په جگړه کی تپی شوی ژتادنوروزخمیانوپه

ډیردهغه زخمونه هم ورتړلی وواوزخمونه یی روغ شوی ووخوکله چی دلته راستون شوناروغ شواوځوورځی وروسته مرشودمرگ په وخت کې یې هغه دسمال مچاوه چی تایی زخمونه ورباندی تړلی ووهغه له مانه وعده اخستی وه چی زه به ستابت جوړوم خواوس چی ته پرې خفه یې بنایی دهغه ارواهم آزرده شوی وی.

زه دخپل زوی دیوتادعبادت پرځای دهغه حکم منل ضروری بولم که ستاامروی زه دبوت ماتولوته تیاریم.

محمدبن قاسم ځواب ورکړ: دابه ستاپرماډیراحسان وی.

بت جوړوونکی : احسان ! داسی مه وایه ددی بت له ماتولووروسته به هم زه تادیوتاگنم اودسندپه لکونواوسیدونکی ټول تادیوتابولی.

محمدبن قاسم وویل: خوزماهیله ده چی زه په دی هیوادکی یوازی دانسانیت دیوه خدمتگارپه نامه وپیژندل شم.

بت جوړوونکی په زړه ډېره کیښوده اودتیشی په یوه گوزاریی بت ټوټه ټوټه کړخوگټنی گونبی دغه ټوټی دجواهراتوانبارباله اوپری ورپریوتل.

له دی نه وروسته داروردخلکوداسلام له تعلیم سره مینه پیداشوه اودسندپه ساره اواوړدو کی هره ورځ دمسلمانانوشمیرمخ په زیاتیدوشو.

* * * * *

(۳)

له اروړنه ځوتنه سرداران رخصتیدل دهغوی اراده وه چی بال اوبچ راولی اوپه سندکی دایمی هستوگنه غوره کری.

محمدبن قاسم زبیدی ته ولیکل چی له بصری نه دنوروتورسریوسره ملگری شی اوراشی، د بصری حاکم ته یی هم ولیکل چی هغه له نوروبنځوسره دسپاهیانوپه حفاظت کی اوروړته راواستوی له دی نه وروسته ځوورځی دپنجاب اوراجپوتانه دنیولوپه اراده په نقشوجوړولومصروف شو له ځوورځی غوراوفکروروسته یی له پنجاب نه وړاندی دراجپوتانه نیول ضروری وبلل دهغه اراده وه چی دزبیدی تروړتگ پوری به دراجپوتانه له نیولونه وزگارشی اوله هغه وروسته به ملتان مرکزوټاکی اوپه پنجاب به وروړاندی شی ځکه هغه دبصری په لوری دسپاهیانوله روانیدونه اوه ورځی

وروسته یوماښام له ښارنه بهرپه پوځی قرارگاه کی خپل پوځ ته له لومړی ویناوروسته امروکړچی سهاروختی دکوچ لپاره تیاراوسی.

خودیوه لویدیځ مؤرخ له قول سره سم دمحمدبن قاسم داقبال لمردغرمی په مهال ولوید، سهارله لمانځه نه وروسته چی داروراوسیدونکی په قرارگاه کی محمدبن قاسم ته دمخه ښی ویلولپاره راټول شوی وواوښځی به یوتربله وړاندی کیدی اوسپاهیانوپه غاړوکی یی دگلونوامیلونه وراچول ناڅاپه له یوه لوری په فضاکی گردونه ښکاره شول اوبیادسترگوپه رپ کی پنځوس تنه عرب سپاهیان راښکاره شول محمدبن قاسم په خپل سپین اس سپورډاودپوځ په صفونوراگرځیدکله ئی چی له لری دسپاهیانوداسونوگړندیتوب ولیدتندی یی گونځی شواوله خپلوخوملگروسره له پوځ نه لږیوی خواته دهغوی درارسیدوپه انتظارشول په هغوسپاهیانوکی دمحمدبن قاسم هغه سالارهم وچی یوه هفته وړاندی یی دبصری په لوری رخصت کړی ؤیوسپورراوړاندی شومحمدبن قاسم ته یی یولیك ورکړاوویی ویل: داداميرالمؤمنين سليمان بن عبدالملك ليك دی.

محمدبن قاسم ټکان وخوړویی ویل: امیرالمؤمنین ... سلیمان ! ؟

هغه ځواب ورکړ: هو ! خلیفه ولیدوفات شو.

محمدبن قاسم انالله وانااليه راجعون وویل اوپه بیړه یی لیك پرانست ، ویی لوست اوترلږشېبي پوري يې سرپه چورتونوځوړندشوبیایی سراوچت کړله سپاهی نه یی پوښتنه وکړه: زماله سلیمان نه همداتمه وه یزیدبن ابوکبشه څوك دی ؟

یوپه عمرپوخ سری آس راوړاندی کړویی ویل : زه یم !

محمدبن قاسم آس وروړاندی کړیزیدبن ابوکبشه ته یی لاس ورکړاوویی ویل: تاته دی دپوځ مشرتوب مبارك وی ، زه داميرالمومنين زولنواچولو ته تیاریم .

پریزیدبن ابوکبشه دمحمدبن قاسم غمجنی موسکااثروکړهغه په پراوکی هغوبی شمیروپوځونوته وکتل چی داميرحكم اوریدوته منتظروویانی هغوسالارانوته وکتل چی دولیددوفات اودسلیمان دخلافت خبریی واوریدتول په محمدبن قاسم راټول شول یزیدبن ابوکبشه داسی احساس کړه چی دیولك

سربنندویانوپه وراندی دیوه مجرم په حیث ولاړدی دمحمدبن قاسم دغه خبره چی «زه دامیـرالمؤمنین زولنواچولو ته تیـاریم» یی په وارواړپه غـوږوکی کړنگیدله هغه داسی گڼله لکه په اوږویی چی دځمکی اوآسمان بوج لویدلی وی دمحمدبن قاسم په لوریی خوواری سترگی واړولی خوبیرته به یی نظرځمکی خواته ښکته شوبیایی خپلوملگروته وکتل دهغوی ټولوسرونه ټیټ ووخوځلې یی الفاظ ترژبی پوری راغلل اوبیاودریدل بالاخره یی وویل : یاره! ! تقدیرداذلت زماپه برخه کښلی ؤ.

محمدبن قاسم وویل: ته مه اندیسمن کیره ته خویوازی استازی یی خالده ته دوی محل ته ورسوه اوزیږه ! لسکرته امروکره چی نن زمورکوچ وځنډیده.

بهیم سنگ راوراندی شوویی ویل : که په دی لیك کی څه درازخبره نه وی نوموږټول یی اوریدوته ناقراریوچی دخلافت له درباره تاسوته څه حکم شوی دی ؟ محمدبن قاسم لیك محمدبن هارون ته په لاس کی ورکړویی ویل: دی به یی درته ولولی .

*****

(٤)

مابنام مهال دارورله هری کوځی نه فریاداوکریکی پورته وی٬دحجاج بن یوسف له کورنی سره دسلیمان دپخوانی دښمنی خبره مشهوره شوی وه په هرکورکی دسنددنوی والی اودمحمدبن قاسم دستنیدوخبره یادیده دښارزرگونه نارینه ښځی اوماشومان ترشاهی مانۍ راچاپیرووااوشوراوزوږیی اوچت کړی ؤ.

دمابنام له لمانځه نه وروسته دمحمدبن قاسم دپوځ ټول لوی منصبداران په یوه پراخه کوټه کی راټول شوی وومحمدبن قاسم یی دهغه دخوښی پرخلاف په دی غونډه کی شریك کړی ؤهغه په خپلولندوخبروکی وویل:

ماسهارته دمشق ته دتلوپریکړه کړی ده او په دی پریکړه بیاغورته تیارنه یم دیوه سپاهی ترتولوړومبی فرض دخپل امیراطاعت دی تاسوله دی پیښی نه مه خفه کیږی اودخپل نوی حاکم پوره مرسته اوملاتړوکړی، امیرالمومنین سلیمان غالباداازموینت کوی چی زماپه زړه کی دامیرداطاعت جذبه شته

که نه ! له دمشق نه دراروانیدوپه وخت هغه پرمابدگومانه شوی ؤخوهغه داسی وخت ؤچی پرهغه هیڅ ډول مسؤلیت نه ؤ او س هغه دمسلمانانوامیردی اوزماباوردی چی په مزاج کې به یی خامخابدلون راغلی وی، ډیرامکان لری چی ماپه هندوستان کی دخپل نیمگړی کارډپوره کیدولپاره بیاراواستوی خوکه مادهغه بدگومانی لری نکړای شوه اوماته یی دوهم ځلی دلته دراتگ اجازه رانکړه دابوکبشه اطاعت پرتاسوفرض دی.

بهیم سنگ وویل: ستاهرحکم منلوته موږتیاریوخوټول سرداران وایی چی ته ترهغوله دی ځایه مه ځه ترڅودخلیفه له نیک نیت نه ډاډه شوی نه وی ماله زبیرنه ددمشق کیسی اوریدلی دی اوزمازړه گواهی راکوی چی سلیمان به له تاسره ډیربدچلن کوی،موږځانونه دسلیمان رعیت نه بولوبلکی تادخپلوزړونوپاچابولو، موږستاپه اشاره اورته ځانونه غورځولی شوخودانشوزغملی چی زموږترسترگولاندی تاته زولنی درواچوی.

که ستا د عربی ملگروپه زړوکی دخلاقت ددرباراحترام وی وی به، خوموږدداسی خلیفه درناوی ته تیارنه یوچی سندله خپل سترنیکی کوونکی نه محروموول غواړی موږپه مرگ اوژوندله تاسره دملگری وعده کړی ده اوزموږداوعده به ماته نشی.

تاسوپه سندکی واوسی سندتاته ضرورت لری که ستاعرب ملگری ستاملگرتیاپرېږدی هم دسندیولك توری ستادساتنی لپاره له تیکووتلی تیاری دی اویوازی دانه بلکی دسندهرېچی اوبوډادخطرپه وخت ستاپه مخکی سربښندلوته تیاردی دبگوان په خاطرته مه ځه ! اولږترلږه ترهغوپوری مه ځه چی ترڅوموږپه دی ډاډه نه شوچی سلیمان به له تاسره بدسلوك نه کوی که زماالفاظ په تاسواثرنه کوی نوتاسوله محل نه لاندی بوځل وگوری اوبیاپریکړه وکړی چی هغه زرگونه یتیمان چی تاپلارېولی هغه زرگونه بوډاگان چی تازوی گڼی اوهغه کوندی چی تاورورگڼی پرتاڅه حق لری که نه؟

په پای کی بهیم سنگ ژړه غونی شواوسردارانویویل ته سره کتل.

زبیروویل: ته ښه پوهیږی چی سلیمان به له تاسره ښه سلوك نه کوی تاسوهمدله پاتی شی اوماته اجازه راکړی چی دامیرالمومنین په خدمت کی

حاضرشم زماژوندددومره ارخښت نه لری خوتاته دسنداواسلامی نړی زیات ضرورت دی.

محمدبن قاسم ځواب ورکړ: زه دخپل هرپوځی ژوندترخپل ژوندارځښتناك بولم اوبهیم سنگه ! ستااوستادملگرونه دمننی لپاره الفاظ اوجملی نه لرم ته زماذات ته ترهدف په زیات اهمیت قایل یی خوته نه پوهیږی چی دخلافت له دربارنه بغاوت اصلاًدهغه سترارمان نه بغاوت دی چی له تیری یوی پیړی راسی یولك تنومسلمانانوخپلی وینی پری بهولی دغه یولك تنه دټول هندوستان دفتحی لپاره کافی دی اوزماژونددومره مهم نه دی چی زه دسندیولك توری داسلامی نړی‌له یولك توروسره دجنگولواجازه ورکړم په داسی بغاوت کی به زمابری هم دمسلمانانوبده ماته وی آیازه داخوښولی شم چی په ترکستان اواندلس کی په جهادبوخت پوځونه ټول بیرته ددی لپاره راوغوښتل شی چی دسندپوځونومشردخپل ځان له ویری داسلامی نړۍ پرخلاف بغاوت کړی.

که دامسئله یوازی زمااودسلیمان ترمنځ وای نومابه هغه ته وسله نه اینښوده خوزه هغه قوم ته وسله ایږدم چی سلیمان یی خپل خلیفه تاکلی که زمامرگ مسلمانان له یوه لوی انتشاراواختلاف نه ژغوری نوزه داخپله نیکمرغی گڼم تاسوداوویل چی زماپه یوه اشاره ځان قربانولوته تیارياست . زه له تاسونه دکومی قربانی غوښتلوحق نه لرم.خوکه تاسوغواړی چی له سندنه درخصتی په وخت زما په زړه بوج نه وی اوزه له دی ډاډسره ولاړشم چی سندکې زماکوم کارنیمگړی پاتی نه شونوهغه دین موچې عملامنلی دی په خوله یی هم دمنلواقراروکړی.

زمادابلنه خپلوټولوهغودوستانوته ده چی دلته موجوددی.

ستاسوغوندی خلکوداسلام قبلول به په سندکی دکوم محمدبن قاسم پاتی کیدوته ضرورت پری نژدی اوس دماسختن دلمانځه وخت دی اوزماحالت دهغه مسافردی چی دیوه اوږده سفرنه وروسته سرمنزل ته ورسیږی اوویده کیدل غواړی زه نه غواړم چی زماپه باب بیرنی پریکړه وکړی خوکه تاسودزړه له تل نه داسلام په ښیگړواعتراف کوی نوستاسوپراعلان به ماته روحی خوښی حاصله شی.

بهیم سنگ په لوړغږدتوحیدکلمه وویله اوبیایی وویل چی که ماداسلام په بنیگنواعتراف نه کولای هم ستابلنه می نشوای ردولای زماپه خیال داسلام ترټولوستره ښیگنه داده چی ستاغوندی خلك مسلمانان دی .

محمدبن قاسم ورجگ شوبهیم سنگ یی په غیږکی ونیواوویی ویل: په مسلمانانوکی به زماپه څیرپه زرگونوتنه ووینی.

اتوتنونوروسردارانودبهیم سنگ په تقلیدکلمه وویله اوداسلام په دایره ورننوتل اوکله چی دغه خلك دلمانځه لپاره دکوټې نه ووتل دمحل له یوی بلی کوټې نه داروړترټولولوی مذهبی مشر«پروهت» په مشری دښاردسپین روبویوهیئات له یزیدبن ابوکبشه سره له خبرواترووروسته بیرته راستون شودغه هیئات په مراووخیرودیزیدبن ابوکبشه کوټی ته ننوتلی وواوپه موسکیوښوبیرته راووتل.

یزیدددوی ددیوتادساتنی وعده ورکړی وه اودوی داسی احساسوله چی دسنددلرپه شاوخواراتول شوی گردونه بیرته لرې شول.

مذهبی پیشوااودهغه ملگری چی له محل نه بهرووتل نوبی شمیره خلك پری راټول شول دزرگونوپوښتنوپه ځواب کی پیشوایوازی دومره وویل: تاسوخپل خپل کورته ستانه شی دسنددتقدیرله ستوری نه دبدمرغیوسیوری لری شول ستاسودیوتابه ستاسوشی.

# د سلیمان بندی

دماسخوتن له لمانځه نه وروسته چی کله محمدبن قاسم خپل هستوګنځی ته ننوتلویزیدبن ابوکبشه وریاندی غږکړ، خالد،زبیراوبهیم سنګ هم له ابوکبشه سره وو، محمدبن قاسم په دروازه کی ودریداوهغوی ته یی وکتل یزیدچی ورنژدی شوخالد،زبیراوبهیم سنګ یی رخصت کړل دمحمدبن قاسم لاس یی په لاس کی ونیواودواړه کوټی ته ننوتل.

په کوټه کی مشال بلیده علی په کرسۍ ویده شوی ؤمحمدبن قاسم یزیدته په یوه کرسۍ دکیناستلواشاره وکړه ویی ویل: ددی هلك له ماسره ډیره مینه ده دی هم په برهمن آبادکی بندی ؤ.

یزیدوموسکل ویی ویل: په دی خاوره داسی څوك شته چی له تاسره یی مینه نه وی؟

محمدبن قاسم په چوکۍ له کیناستلوسره دموضوع دبدلولولپاره وویل: ماغوښتل چی له سندنه دتلونه وړاندی تاته ددی ځای ټول حالات بیان کړم اراده می وه چی سهاروختی تاووینم خوداښه وشول چی ته پخپله راغلی.

یزیدوویل: زه تاته دسنددحالاتودپوښتنی لپاره نه یم راغلی زه تاته ددی لپاره راغلی یم چی ته به همدلته پاتی کیږی.

محمدبن قاسم ځواب ورکړ: ستادهمدردی نه مننه خوزه دامیرالمؤمنین دحکم نه سرغړونه نه شم کولی .

یزید: مګرته نه پوهیږی چی سلیمان ستادوینوتږی دی.

محمدبن قاسم : ماته معلومه ده خوزه نه غواړم چی

دخپلوخوځښاځښکووینولپاره اسلامي نړۍ په دووبرخوووېشم.

یزید: ته په دې عمرکي زماله اټکل نه زیات دحکمت خاوندیې،بیاهم که زه پخپله ولاړشم اوسلیمان ته ووایم چې په سندکې تریولك زیات پوخ دمحمدبن قاسم ملاترکوي نوهغه به له تاسره دجګړې خیال پرېږدي .

محمدبن قاسم : بیابه هم ددې نتیجه داوي چې زه اوله ماسره دمسلمانانویوه لویه ډله به له مرکزنه جلاشي موږبه په دې نړۍ دتولنیزواوګډوهڅواوجهادنه محروم شوزه تاته ددې تکي بنودل لازم نه بولم چې دنړۍ ډېرلوی لوی ځواکونه ګډوډي اودیوه مرکزیت نه درلودلوډوب کړل.

یزیدوویل : ماته له ځانځه نه دمخه داوروډمخورویوهیأت راغلی ؤهغوی ویل چې،له موږنه خپل دیوتامه لری کوی،که سلیمان له تاسره څه بدسلوکي وکړي نودوی به ټول هندوستان دهغه پرخلاف وپاروي.

محمدبن قاسم : ته ددوی غم مه کوه زه به یې وپوهوم.

یزیددمحمدبن قاسم تصمیم نه ماتیدونکی ولیدچوپ شووروسته بیا محمدبن قاسم هغه ته دسندټول حالات وویل اوده ته یې له دې اولس سره دښه سلوك اوچلندغوره کولواوپه سختوحالاتوکي ددیبل له والي ناصرالدین اوبهیم سنګ نه دهدایت اخستلومشوره ورکړه .

یزیدله ځایه جګ شوویې ویل: زه تاته یوه بله خبره کول غواړم اوهغه داچې تاسودسلیمان دحکم دتعمیل لپاره دلته زولني مه اچوی اوپرېږدی اصرارمه کوه، پردې به دزرګونومسلمانانوزړونه زخمي شي اوامکان لري خلك پرې وپارېږي.

محمدبن قاسم : که تاسوداصلحت بولي نوزه به اصرارنه کوم.
که نه نوماخوداميرپه اطاعت کي دزولنواچول وياړباله.

یزیدلاس ورکړویې ویل: زه یوه بله پوښتنه کوم، دعربوپه سردارانوکي ستاترټولونژدې دوست څوك دی؟

محمدبن قاسم : ټول زمانژدې دوستان دي خوترټولوزیات چې زمادژوندپه ټولورازونوخبردی هغه زبیردی هغه به تل له تاسره یوځای وي.

یزید: نه زه هغه دیوه ضروري کارلپاره په بیړه مدینې ته استوم تاسوهغه

زماکوټې ته راواستوی محمدبن قاسم علی پاڅاوه اوورته ویې ویل: دی خپلی کوټی ته ورسوه اوزبیرهم ورواستوه.

* * * * *

(۲)

یزیدیی په خپله کوټه کی پریښودعلی دزبیردراغوښتلولپاره ولاړاویزیددمشال په رڼاکی کیناست په لیك لیکلوبوخت شولږڅندورروسته زبیرکوټی ته ورغی یزیددلاس په اشاره هغه ته دکیناستلوویل.

زبیرترډیره ناست ؤدلیك ترلیکلووروسته یزیدهغه ته مخ ورواړاوه اوورته ویې ویل:

ته دیوه اوږده سفرتیاری ونیسه دالیك ولوله ، یزیدلیك زبیرته ورکړهغه چی لیك ولوست په مړاوی څیره یی تازګی راغله یزیددحضرت عمربن عبدالعزیز«رح»په نامه لیك لیکلی ؤچی په هغه کی یی محمد بن قاسم داسلام سترمجاهدبللی ؤاوله حضرت عمربن عبدالعزیزنه یی غوښتی ووچی دسلیمان له انتقام نه یی دژغورلوممکنه هڅه وکړی ،دیزیددلیك وروستی الفاظ داسی وو:

محمدبن قاسم غوندی مجاهدهروخت نه زیږیږی . ماپه ژوندکی ډیرلوی لوی خلك لیدلی دی خوددی زلمی دعظمت سم اټکل نشم کولی چی په ۱۷ کلنی کی یی سندفتحه کړاواوس دیولك اودوولس زره سربښندویانوپه موجودیت کی په خوښی دامیرداطاعت لپاره زولنواچولوته چمتودی،محمدبن قاسم داسلامی نړۍ په بدن کی یوداسی زړه دی چی هرڅکان یی زماغوندی انسانانودټول عمرله ریاضت اوعبادت نه ارځښتناك دی،ته اسلامی نړۍ دیوه نه جبرانیدونکی زیان څخه ژغورلی شی زبیرچی لیك ولوست یزیدته یی وکتل اوویی پوښتل : ستاباوردی چی هغه به په سلیمان اثرولری؟

یزید: زماباوردی هغه اوس په مدینه کی دی ته ورشه خو په لاره کی یوه شیبه هم مه ضایع کوه،دسلیمان دمشاورینوله محمدبن قاسم سره یوازی پردی دښمنی ده چی هغه دحجاج بن یوسف زوم دی هغوی به ددی هڅه وکړی چی دمحمدبن قاسم په باب زرترزره پریکړه وشی،سلیمان به هم دومره دنفوذخاوندزیات ژوندی پریښودل خطرناك وګنی عمر بن عبدالعزیز«رح» که

په مدینه کې نه ؤچې هرځای ؤځان وروړسوه.اوهڅه وکړه چې دمحمدبن قاسم په باب دورستي پریکړې نه دمخه دمشق ته ورسیږي زماپه نظردادتول هندوستان ترفتحې هم مهم دي.

زبیرجګ شوویې یل: زه همدااوس روانیږم.

یزید: ورځه خدای دې مل شه.

زبیردیزیدله کوټې نه ووت په منډه خپلې کوټې ته ورسیدناهید،زهرااوخالدیې انتظارکاوه تولوپه یوه غږترې وپوښتل : څه خبردې راوړي؟

زبیر: زه مدینې ته روانیږم دومره یې وویل اوبلې کوټې ته دجاموبدلولوپاره ننوت لږځنډوروسته یې جامې بدلې کړې اوراووت ناهیدبیله دې چې څه ترې وپوښتي پردیوال ځوړنده توره راواخستله اوپه لاس ئې ورکړه .

خالداوچت شوویې ویل: زه هم درسره ځم، زبیرتوره ترملاوتړله ویې ویل: نه ته ناهیداوزهره درسره کړه اوله محمدبن قاسم سره بصرې ته روان شه .

زهراوویل: وروره په مدینه کې ستاڅه کاردي؟

زبیرځواب ورکړ: زه داسې چاته دیزیدلیك وړم چې دمحمدبن قاسم ژوندژغورلی شي خالده ! ته چې بصرې ته ورسیدې سیده دمحمدبن قاسم کورته ورشه اوزبیدې ته تسلې ورکړه زه امیدواریم چې زربه هلته دروړسیږم.

ناهیدې ! دخدای په امان زهرا ! زمادبرې دعاکوی زبیرداوویل اوله کوټې ووت .

په لاره کې دمحمدبن قاسم کوټه وه ، دننه مشال بلیده په دروازه کې ودرید، دننه یې وکتل اوبیاله څه سوچ وروسته چوپ کوټې ته ننوت . محمدبن قاسم په درانده خوب ویده ؤاوپه شونډویې دیوه معصوم ماشوم سپیڅلې موسکاغوړیدلې وه . هغه موسکاچې زبیردهغه په شونډوتل غوړیدلې لیدله ، ترسرپورې یې په دیوال هغه توره راځړیدلې وه چې کم عمره سالاردسندمزبوتې کلاوې اوداوسیدونکوزړونه پرې تابع کړې وو.دزبیرپه زړه کې نامعلوم احساسات په غورځنګ شول، په سترګوکې یې اوښکې راغلې اوپه ریږدیدونکې غږیې په ورو غږ ـــــــــــــ

وویل : زماووروه ! زمادوسته . زماسالاره خدای دی مل شه .
له محل نه دوتلوپه وخت زبیرخپل ویریدلی زړه ته په واروارتسلی ورکوله اوویل یی : نه! نه !
مویبه یوځل بیاهم خامخاسر گورو.

* * * * *

(۳)

سهاردمحل ددروازوپه مخکی دپښی ایښودوځای نه ؤ، کله چی محمدبن قاسم بهرراووت نوخلك یوه اوبله خوا شول اوددروازی دمخی زینی یی خوشی کړی ، دپوځ منصبداران دښارمخور او مذهبی مشران یوپربل پسی راغلل اوهغه ته یی لاس ورکړل ، چی دبهیم سنگ وارراغی هغه بی اختیاره په غیږکی ځان وروغورځاوه ویی ویل : تازمااسلامی نوم کینښود!
محمدبن قاسم ځواب ورکړ: که ستاخوښ وی نوزه ستانوم سیف الدین ایږدم ،زینوپه پای کی یوه سپاهی اس ترقبضه نیولی ولاړو، محمدبن قاسم په آس سپورشو، یزید بن ابوکبشه ورمنده کړه جلب یی ونیو، دمحمدبن قاسم داحتجاج سره سره خلکومندی وروهلی اوپښی به یی نیولی ، په آس له سپریدووروسته محمدبن قاسم ځلوروخواووته وکتل هغه داسی سترگی ونه لیدی چی په اوښکولمدی نه وی سپین بږیروبوډاگانوداسی احساسوله چی دیرگران زوی یی تری رخصتیږی، کونډو او یتیمانو داسی گڼله چی تقدیرددوی یوه ستره تکیه تری اخلی ، ځوانونجونواوپیغلوویل چی ددوی دعصمت اوآبروساتونکی تری درومی،داروړپه دیوالونواوکوخودویرباران اوریده دخپل پلارپه اشاره دښاردسترمذهبی مشر«پروهت» پیغله لوروروراندی شوه اومحمدبن قاسم ته یی دگلونوامیل ونیوویی ویل: وروره ! زه داروردتولوپیغلوپه نمایندگی تاته داسوغات درکوم.
محمدبن قاسم هغه ته دمننی په نظروکتل اوامیل یی واخست.
ددیبل له بازارونونه دسلیمان بن عبدالملك دبندی آس گلونه ترپښولاندی کړل اوتری تیرشوداروراوسیدونکوتراوسه پوری دکوم تولواك دومره شانداره بدرگه نه وه لیدلی اودکوم عزیزپه بیلتون یی دومره اوښکی نه وی بهولی.
هغولاسونوچی دوه کاله وړاندی یی دسندفاتح خپل ډیریددښمن باله

اودتورواونیزوگوزارونه یی پری کول اوس یی دهغه په بدرگه او مخه ښه گلونه پری شیندل علی، خالد، ناهیداوزهرادمحمدبن قاسم سره دملگری لپاره له څوسپاهیانوسره یوځای له ښارنه بهرولاړل‌دغه قافله ټوله «۶۰» تنه وه‌په دوی کی«۴۰»تنه هغه سپاهیان وو‌چی له یزیدبن ابوکبشه سره راغلی وو‌او‌پردی گومارل شوی وو‌چی محمدبن قاسم بایدلاس اوپښی زولنی دمشق ته بوځی د «واسط» کوتوال مالك بن یوسف دصالح په سپارښت ددی دلی مشرؤ‌مالك بن یوسف ته صالح داهدایت ورکړی ؤچی دمحمدبن قاسم به هیڅ مراعات نه کوی ،مالك پخپله هم دحجاج بن یوسف پخوانی دښمن ؤخوکله چی اوورته ورسیدد‌یزیدبن ابوکبشه په خیرد‌محمدبن قاسم دشخصیت په جادوکی راگیرشو، دهغه ځینی ملگری هم د اروردخدای پامانی دننداری په لیدودومره احساساتی شول چی دسلیمان بن عبدالملك په غلطواحکامو‌ئی اعتراض کاوه یزیدچی دوی رخصتول هدایت ئی ورکړچی محمدبن قاسم په عزت اودرناوی بصری ته ورسوی دامیرالمؤمنین ځواب زه وایم .

غرمه مهال سیف الدین «بهیم سنگ» دارورله مذهبی مشرسره په یوه لوړه غونډی ولاړؤ‌اولری یی دلاری په گردونوکی یوه قافله لیدله چی ورکیدله مذهبی مشر«پروهت» یوسوړ‌اسویلی وکیښ اوویی ویل: دسندلړیه غرمه کی ولوید.

# لمرلويدل

حضرت عمربن عبدالعزيز«رح» دماسپښين لمانځه له اداكولونه وروسته له نبوي جومات نه راوت چې ناڅاپه يوسپوږيه دروازه كې ودريدډسپاره ځيره په گردونوكې پته او دلوږې تندې اوستوماني نه مراوي شوی وه.
هغه عمربن عبدالعزيزدلاس په اشاره ځان ته متوجه كول غوښتل خوحلق يې وچ ؤاوهيــــڅ غــږيې ترخــوله ونه وت، له آس نه راكــوزشــودليك درااېستلولپاره يې لاس په جيب كې ننه ويست اودعمربن عبدالعزيزپه لوري وروراندې شوخودوه درې گامه وروسته يې تيندك وخوړاوپه ځمكه راپريوت اوله دې سره ستومانه آس هم راوغورځيدخولغتې يې ووهلې اومړشودغه سپورزبيرؤخلكوهغه پورته كړدجومات حجرې ته يې يووړلږځند وروسته چې هغه بيرته راپه خودشواوسترگې يې وغړولې دغه مهال عمربن عبدالعزيز «رح» دهغه په مخ اوبه ورشيندلې هغه پياله ونيوه اوداوبوڅښلوهڅه يې وكړه خوعمربن عبدالعزيزوويل: لږصبر وكړه تااوس هم ډيرې اوبه څښلې دي داسې ښكاري چې تاله څوورځوراسې څه نه دي خوړلې لومړې لږڅه وخوره.
دعمربن عبدالعزيزپه اشاره يوه سړي دهغه مخ ته خواړه كيښودل خوهغه وويل: نه زه تږې يم اوبيـايې وارخطاغـوندې لاس جـيب ته يووړويې ويل: ماپخواهم ډيروخت تيركړې دي ... داليك .. خو .. ؟
هغه خپل جيب تش وليدحيران شو.
عمربن عبدالعزيزوويل: ستاليك مالوستې دي ستاداس دمړكيدواوستادبې هوښې نه باورې شوم چې تاڅه ضروري پيغام راوړې دي.

زبیرووېل: نوته به دمحمدبن قاسم لپاره څه وکړي؟

حضرت عمر«رح» : زه دمشق ته ځم دایی ووېل اویوه ملګري ته یی وکتل ویی ویل: زمااس تیاردی ؟

هغه ځواب ورکړ: هوکی !

زبیرووېل: زه هم درسره ځم.

هغه ځواب ورکړ: نه ! ته استراحت وکړه ته سفرډېرځپلی اوبی سیکه کړی یی .

زبیر: نه ! نه ! زه بلکل روغ رمټ یم زمادبی سیکی لامل سفرنه زماانديښنه اوناآرامی ده اوس که دلته پاتی کیږم انتظارراته ترسفرډیرسخت دی .

عمربن عبدالعزیزووېل: ډیره ښه ده ته ډوډی وخوره .

زبیرپه بیړه بیړه خومړی وخوړی اواوبه یې ورپسې پرسرواړولی اوجګ شوویی ویل: زه تیاریم.

عمربن عبدالعزیزیوه عرب ته دبل آس دتیاری امروکړاوزبیرته یی ووېل: ته لړکینه.

زبیرووېل: که ستاحکم نه وی زه ترناستی په ولاړه ښه یم په ناستی پرسړی دستومانی اوخوب حمله زیاته تونده وی.

عرب وپوښتل : تاپه لاره بلکل خوب نه دی کړی؟

زبیرځواب ورکړ: دورځی مې نه دی کړی خودشپې به کله کله بې هوشه غوندې شوم.

عمربن عبدالعزیزپوښتنه وکړه په لاره کې دې څوآسان بدل کړل؟

زبیر: له ارورنه تربصرې پورې مې دلارې په هره پهره کې اس بدلاوه خوله بصری نه وروسته می دوخت دکمی په خاطرنیغه دسارالاره غوره کړه اوکله کله به می خلورپنځه منزله په یوه آس مزل کاوه، له دی آس نه پرته ماته څلورنورآسان هم په لاره کې مړه شول.

عمربن عبدالعزیزووېل: خلکودمحمد بن قاسم دفتحوداستانونه په تعجب اوریدل خودکوم سالارسره چی ستاپه شان پوځیان وی دهغه لپاره داسی کلانشته چی فتحه یې نشی کړای.

خادم راغی ویی ویل: آسونه تیاردی اوعمربن عبدالعزیزاوزبیرله حجری نه راووتل اوپه اسونوسپاره شول.

*****

«۲»

سلیمان ته له سندنه دمحمدبن قاسم دروانیدوخبررسیدلی ؤهغه ته داهم معلومه شوی وه چی له اروره ترمکران اودایران په هربښارکی دهغه تود هرکلی شوی.

اویزید د بغاوت له ویری هغه ته دزولنواچولوجرئت نه دی کړی، دی خبرونودبدل اوکسات په اوردتیلوکاروکړوه خپل ټول غشی ولیدل اوپه دی کی چی ترټولودیرتیره اوخطرناك ؤهغه ته یی دمحمد بن قاسم دبرخلیك ټول اختیارورکړاوبصری ته یی واستاوه.

داغشی صالح ؤدغازی محمدبن قاسم بدترین دښمن دبصری خلکوچی په څومره ناکراری اواندیښنه دمحمدبن قاسم دورتگ انتظاریوست صالح وپوهیده چی که دلته له هغه سره څه بدسلوك وکړی خلك به بغاوت ته تیارشی هغه محمدبن قاسم په زنځیرونوکي ترلی له بصری نه «واسط» ته بیول غوښتل خوکله یی چی دبصری دخلکواحساسات جوش اوجذبه ولیده خپله اراده یی بدله کړه.

یومابنام دمحمدبن قاسم قافله دیرش میله بصری ته نژدی یوه کلی ته ورسیده،دکلی خلکوته معلومه شوه چی دسندفاتح اودسلیمان بندی محمدبن قاسم یوه شپه دلته پاتی کیږی،دکلی نارینه ، ښځی اوماشومان دپوځی چونی په مخه کی راټول شول ښځی دمحمدبن قاسم نه پرته دهغه نجلی دلیدولیوالی وی چی فریادیی دسندتاریخ بدل کړدمحمدبن قاسم په لیدودیرځوانان پری ورټول شول دیرلاسونه په یوه وخت دهغه دآس دجلب په لوروروغځیدل ښځوله پوځی چونی نه لرلری هغه اوښان ودرول چی دښځودولی پری باروی اودوی زهرااوناهیدخپلوکورونوته بوتلی.

دچونی ساتونکومالك بن یوسف ته وویل چی صالح په لاره کی له محمدبن قاسم سره دخلکودښه سلوك اوهرکلی نه سخت خفه اواندیښمن دی هغه داخطراحساسوی چی دبصری خلك ښایی په زیات جوش اوجذبه دهغه

هرکلي وکړی له هغه سره داانديښنه هم ده چې دناهيدغږيه ددوی پرخلاف سخت خطرراولاړکړي، ځکه خوهغه پريکړه کړی چې محمدبن قاسم سيده واسط ته بوځي اودغه ځجوني هم بايدبصری ته ونه رسيږي ښايي هغه ترسهاره پخپله دلته راورسيږي.

دچوني مشردصالح هغه ليك مالك ته ورکړچې دوی ته يې هدايت کړی ؤچې دده ترورتگ پوری محمدبن قاسم بايدهمدلته ايسارکړی مالك بن يوسف دتيرسفرپه دوران کې محمدبن قاسم له نژدې وليداوله هغه سره يې زياته مينه پيداشوی وه دهغه داگومان ؤ چې دبصری دخلکوجوش اوجذبه به دمحمدبن قاسم په اړه دسليمان اراده بدله کړي،واسط دوليدله وفات نه وروسته يوځل بايدبهرنيودسيسومرکزشوی ؤدهغه داڅه نه وه چې هلته به دمحمدبن قاسم په ملاترډچاغږاوچت شي .

مالك دماسخوتن دلمانځه نه وروسته په ناکراری يوی اوبلي خواته قدم واهه ، بالاخره په يوه مزبوطه اراده دمحمدبن قاسم خيمی ته ورننوت محمدبن قاسم دشمې رڼاته څه ليکل مالك ورته وويل: تاسوکه دچاپه نامه څه پيغام استوی زه به يې بندوبست وکړم.

محمدبن قاسم ځواب ورکړ: نه ! دالیك نه دی زه ديونوی ډول منجنيق نقشه کاږم زماپه گومان به په دی ډبری ډيری لری اوپه نخښنه برابری وويشتل شي.

مالك ځواب ورکړ: په دی وخت کې ته بايدځان په باب څه فکروکړی.

محمدبن قاسم ځواب ورکړ: زه يوفرديم اومنجنيق ته ديوه قوم ضرورت دی که يې زه بندی کړم ته پخپله دغه نقشه اميرالمؤمنين ته ورورړه .

مالك وويل : ستا دبرخليك پريکړه شوی ده ته به دبصری پرځای نيغ واسط ته ځې.

محمدبن قاسم ځواب ورکړ: زماپخواهم داگومان ؤچې دوی به بصری ته زما دبيولوغلطی ونه کړی.

مالك وويل: اوس ته دځان په باب پريکړه کولای شی دواسط ډيرلږخلك به ستاپه ملاترغږاوچت کړی خوپه بصره کې به زرگونه مجاهدين ستاپه خاطرسربښندنی ته تياروی.

صالح به نن شپه یاسباسهارته څه وخت دلته راورسیږي بیابه زموږهرتدبیربی نتیجي وي اوس همدایوه لاره شته ته دغه ځجوني درسره ملګري کړه اوبصري ته ولاړشه هلته هرکور ستالپاره مزبوته کلاده اوس جګ شه وخت ډیرنازك دی.

محمدبن قاسم ځواب ورکړ: زمادژوندساتنی لپاره ته دخومره مسلمانانودژوندقربانول رواګنی؟

آیاله دی نه ورانده دبصري دخلکوبغاوتونواسلامی نړۍ ته پوره زیان نه دی رسولی ؟

آیازمادژونددومره ارځښتناك دی چی بایددلکونومسلمانانوتوري پری یوپربل وراوچتی شی ؟ په زرګونوښځي کونډي اوماشومان یتیمان شی ؟ که زه ددومره مسلمانانودتباهي دمخنیوی لپاره قربان شم هم نوستاپه ګومان زمادژوندخوشي له لاسه ووت ؟ دادمسلمانانوبدمرغی ده چی خلافت یی په پاچاهي بدل شوخودمسلمانانواکثریت اوس هغه دخلیفه په نامه دمنلوغلطي کړی ده اواوس به زمابغاوت یوازی دخلیفه سلیمان پرخلاف نه وي بلکی دهغه اکثریت قوم پرخلاف به وي چی سلیمان خپل خلیفه بولی،خوامکان لري چی زماله قربانی نه وروسته خلك په خپله دی اشتباه وپوهیږي اوپه دوی کی داسی تولنیزه بیداری راشی چی سلیمان سمی لاری ته راواړوی اویالږترلږه له سلیمان نه وروسته دخلیفه په انتخاب کی دمره هوښیارشی چی سلیمان غوندې بل څوك به راوړاندی نه شی که زماانجام په خلکوکی ذاثروکړی اوخلك دااحساس کړی چی امارت یی دکورنی میراث بلل غلطي وه اودوی له سلیمان نه وروسته ددوی دکورنی دکوم سړی پرځای دمسلمانانویوصالح سړی ته دخلافت منصب وسپاره نودایوداسی مقصددی چی زه پری قربانی دژوندترټولوستره نیکمرغي اوسعادت بولم.

مالك بن یوسف بی ځوابه شوویی ویل: ستاپریکړه نه بدلیدونکی ده زه خپله ماته منم خودهغوځجونوپه باب تاڅه سوچ کړی؟ دځوني مشرماته وویل چی صالح دبصري دخلکو د بغاوت له ویری دوی هم واسط ته بیول غواړي.

خوزماپه ګومان که دوی بصري ته ونه رسیږي خلك به لازیات وپاریږي دبصري په هرکور کی دناهیددورتګ انتظاردی ایاداغوره نه ده چی دلته

دصالح له رارسیدونه مخکې دوی بصرې ته واستول شي؟
محمدبن قاسم له لږسوچ وروسته وویل: زماسره یوازې داغم دی چې ناهیدزېرمیرمن ده اوصالح زماپه څېرزېرهم خپل دښمن ګڼي، خوبیاهم زه ددې امیدنه لرم چې هغه به له ناهیدسره دبدسلوك جرئت وکړي.
مالك ځواب ورکړ: ماڅوکاله له صالح سره تیرکړي دي هغه انسان نه دی ماردی،که دهغې مجبورنوپه باره کې دده ترخوله یوه بده کلمه ووزي نوزماپه شمول زماملګري مرګ ته تیاریوځکه خوزمامشوره ومنه اودغه مجبوري له خالدسره بصرې ته واستوه زه څوتنه سپاهیان هم درسره استوم که تاته داسلام راتلونکي ربښتیاهم زیاته ګرانه اومهمه وي نودوې ته هدایت وکړه چې په بصره کې دکوم بغاوت مرسته ونه کړي.
دمحمدبن قاسم په زړه کې ناڅاپه یوسوچ راپیداشواودده په سینه کې ډب شوي احساسات راوخوځیدل جګ شواوپه ناکراري یې په خیمه کې قدم وهل پیل کړل.
مالك دده حرکات په غورکتل محمدبن قاسم په واروارلاس موټی کول اودیوې ځواکمنې ارادې په وړاندې په جګړه کې زړه خیمه کې له څوځله چکرنه وروسته بې له دې چې مالك ته څه ووایي له خیمې نه ووت اودڅنګ په خیمه کې یې خالدته غږوکړخالدپه منډه بهرته راووت هغه ورته وویل: خالده ! زهرااوناهیدله کلې نه راوغواړه زرکوه.
خالدپه منډه کلي ته ولاړمحمدبن قاسم مالك ته وویل: ته زرترزره څلورآسان تیارکړه بیایې سمدستي ورپسې زیاته کړه نه پنځه آسونه ، علي هم له موږسره بایدولاړشي.
مالك چې دده خبره واوریده امیدوارشوویې ویل: نوته هم له دوی سره ځې؟
محمدبن قاسم ځواب ورکړ: که ستااجازه وي زه به هغوی بصرې ته ورسوم اوبیرته به راستون شم زه به انشا ءالله ترسهاره بیرته راورسیږم.
مالك ځواب ورکړ: دبیرته راتلونوم مه اخله غوره داده چې تاسوبیرته سندته ولاړشي زه به په څوشپوکې ستامیرمن هم هلته ورواستوم.
محمدبن قاسم وویل: زمادوسته ! زماپه باب په واروارغلط ګومان مه

کوه زماشخصیت داسی نه دی چی چیرته پټ شی زه یوازی دخوشیبولپاره کورته ځم اوهغه هم په دی صورت کی چی ته زماپه وعده باوروکړی اوکه صالح نن شپه له بصری نه نه وی راخوځیدلی نووعده کوم چی دهغه ترراړسیدودمخه زه بیرته راوړسیږم .

مالك : صالح غوندی سړی په داسی حالاتوکی دشپی سفرنه کوی هغه دورځی په عراق کی په ځارځارقدم اخلی زه اسونه تیاروم که ته بصری ته ورسیدی اودبیرته راتګ اراده دی بدله کړه زماپروامه کوه.

زه له تاسره یوسپاهی استوم ته دهغه په لاس پیغام راواستوه زه به له خپلونوروملګروسره بیرته سندته ولاړشم.

محمدبن قاسم لږپه غوسه وویل: مالکه ! ته په واروارمامه پښیمانه کوه که ستاپه مااعتبارنه وی نونه ځم .

مالك پښیمانه شوویی ویل: نه نه ! زه داسونوبندوبست کوم تاسوتیارشی.

لږځنډوروسته محمدبن قاسم ، خالد، ناهید،زهرااوعلی په ګرندیواسونوسپاره دبصری په لورروان شول محمدبن قاسم په لاره کی له صالح سره دمخامخ کیدودخطرنه دبچ کیدوپه خاطر عامه لاره پریښوده اونسبتاًاوږده بله لاره یی غوره کړه.

******

«۳»

نژدی نیمه شپه خدمتګاره په منډه دزبیدی کوټی ته ورننوته هغه یی وخوځوله اوویی ویل: زبیدی ، ز بیدی ! هغه راغی ! هغه راغی !

پرزبیدی سکته راغله خدمتګاری لږپه لوړغږوویل:

زبیدی محمدراغی.

دزبیدی حالت هغه مسافرته ورته ؤچی په وچ بیابان کی لاره ورکه کړی له تندی بیهوشه شی اوپه بیهوشی کی یی څوك یوه سمسوربڼ ته یوسی چی درنواوبوویالی پکی بهیږی.

داحساساتوله زوره هغه یوه شیبه له هرڅه نه بیګانه شوه سترګې یې توری شوی خدمتګاری مشال بل کړویی ویل جګه شه له هغه سره ځوتنه

میلمانه هم دی.

په دی څنډکی زبیده په خپلوحواسوقابوشوه ویی ویل: چیرته دی؟

خدمتګاری وویل: نارینه په طویله کی اسونه تړی اوښځی په انګړکی ولاړی دی.

زبیده بهرراووتله دسپوږمی په رڼاکی یی ناهیداوزهراته وکتل اوویی ویل: تاسودلتــــه ولی ولاړی یی دننه راځی همــــداوس مــــاخـــوب لیــــده تاسوناهیداوزهرایی؟

ناهیدبیله دی چی ځواب ورکړی وروړاندی شوه اوورترغاړی وتله دزهراپه سترګو کی له صبرسره سره اوښکی ډنډشوی له ناهیدنه لری شوه اوزبیدی زهراته وکتل له هغی نه یی داوښکودسبب پوښتنه خوپه دی څنډ کی محمدبن قاسم ، خالداوعلی راننوځی شول.

له محمدبن قاسم سره چی هغی دوه نورناپیژندوی نارینه ولیدل غوښتل یی زهرااوناهیدله ځانه سره کوټی ته بوزی هغی ورته وویل: موږیوی بلی کوټی ته بوزه ډیری بی خوبه اوستومانه یو.

زبیدی وویل: ډیرښه تاسوویدی شی.

خدمتګاری دزبیدی په اشاره زهرا او ناهید بلی کوټی ته بوتللی محمدبن قاسم خالداوعلی په کوټه کی پریښودل اوپخپله دزبیدی کوټی ته ورغی.

* * * * *

(٤)

دشپی په وروستی برخه کی محمدبن قاسم په خپله کوټه کی له زبیدی سره خبری کولی دکوټی دروازه خلاصه وه، زبیدی کله کله دخپل خاوندله خبری نه نظرلری کاوه اوبهرته به یی کتل اوپه سترګوکې به یې اوښکې ډنډشوی دسهارسپیدودبیلتون دماښام پیغام ورکاوه دچرګ بانګ نه لوړراندی محمدبن قاسم دمزله لپاره تیارشو.

دزبیدی موردمحمدبن قاسم په باب دسلیمان له ارادونه خبره وه دزبیدی دماماودبصری له څونوروملګروسره دمشق ته تللی وه محمدبن قاسم اوچت شوویی ویل: افسوس ماهغوی ونه لیدل زبیدی ! زماامیددی چی ناهید او زهرابه دی خفګان ته پری نږدی اوس تریوځوورځوپوری ته داهڅه وکړه چی

څوك ددوى په راتگ خبرنه شي.

دزبیدې شونډې په ژړاوراني شوې سلگى يې راقابوكړې خوسترگويې ویل : ته رښتیاځې ؟!

محمدبن قاسم وویل: زبیدې دخداى پامان !

زبیدې په هیله منوسترگوورته وکتل ويې ویل: كه ته اجازه راكوې نوترطبیلې پورې به درسره ولاړه شم.

هغه ځواب وركړ : نه ته همدلته پاتې شه اوماته داسې مه گوره !

دزبیدې په سترگوداوښكوپردې راغلې هغې سترگې پټې كړې ويې ویل: ځه ولاړشه !

محمد يوه شیبه داوبوهغودووڅاڅكوته كتل چې دمینې اواطاعت په زرگونوسمندرونه پكې ایساروبیایې دسمال راویوست دزبیدې داوښكوپاكولوڵپاره يې لاس وروغځاوه خوهغې بیاوویل : ورځه خداى دې مل شه! محمدبن قاسم دوه گامه وړاندې ولاړیوځل بیایې مخ راواړاوه زبیدې ته يې وكتل اوبیایې اوږده اوږده گامونه اوچت كړل اودطبیلې په لورې بهرته ووت.

دطبیلې په مخ كې يې خالداوعلي ولیدل هغه پوښتنه وكړه : خالده ! تاسوتراوسه ویده نه یاست ؟

هغه ځواب وركړ: په موږكې یوهم نه دى ویده شوى .

محمدبن قاسم وویل: ورځې ویده شې.

خالدوویل: زه له تاسره ځم.

محمدبن قاسم دهغه په اوږه لاس وركېښوداوځواب ئې وركړ: زه ستاله احساساتونه خبريم خوپه دې كې مصلحت دى چې ته همدلته پاتې شې دازمادژوندداسې جهاددى چې نوروملگروته مې پكې ضرورت نشته .

خالد: زه دخپل سالاردامرله منلونه سرغړاوى نشم كولى خودلته به زماپاتې كېدل ستاپه انتظارهره شیبه كلونه شي.

محمدبن قاسم ځواب وركړ: داستادسالارامرنه دى ستاددوست هیله ده په داسې حالاتوكې له ماسره ستاملگرى ښه نه ده ته ورروسته هم راتلى شې.

خالدمایوس شوعلي ته يې وكتل اوهغه له طبیلې نه آس رابهركړ.

محـمـدبن قـاسم په آس سـپـورشـواودوی ته یی لاس وراوږدکـړ خالدتراحساساتولاندی راغی دهغه په لاس ئی شونډی ورکیښودی ویی ویل: زمادوسته ! زماوروره ! زماآغاخدای پامان !

دخالداوښکی دمـحـمدبن قـاسم په لاس وروڅـڅـیـدی بیـایی لاس لری کړاوعلی ته یی پام شوعلی ته یی لاس ورکړهغه یی لاس په خپلولاسوکی ټینګ ونیوپه ریږدیدلی آوازیی وویل: خدای پامان اوبیاپه سلګوشومحمدبن قـاسم چی له دروازی نه ووت شـاته یی وکـتـل په انګړکی دری تورسـریی ولاړی وی .

کوم وخت چی دبصری په جوماتونوکی دسهارآذانونه کړنګیدل محمدبن قاسم له هغه بازارنه تیریده چی څه موده وړاندی دبصری خلکوپرسنددحمله کوونکی لښکرداوولس کلن سالارپرټمین جلوس بدرګه کاوه، له ښارنه لړلری هغه دیوی ویالی په غاره دسهارلمونځ اداکړاوبیایی چارګام آس وزغلاوه....

خلیفه سلیمان دمابنام له لمانځه نه وروسته دخلافت قصرته دننوتلوپه حال کی ژچی له شانه چاورغږکړ: سلیمانه ! په دی غږکی غوسه هم وه اوجلال هم، سلـیـمـان څك شـوشـاته یی وکـتـل اوویی ویل: څـوك یی ؟ عـمـربن عبدالعزیزدځواب پرځای دسلیمان مټ ونیوویی ویل: سلیمانه ! خدای ته به څه ځواب وایی ؟ سلیـمان سره له دی چی دیرزیات پرڅان مین ؤخودعمربن عبدالعزیزپه وړاندی غلی پاتی شوزیبرخوګامه وړاندی ؤخودماښام په خره کی یی ونه پیژاند، هغه یوه اویله خواوکتل ویی ویل: ماته ستاخبری اتری حساسی ښکاری ایاددی لپاره لږجلاځای غوره نه دی ؟ راځه دننه ولاړشو.

عـمربن عـبدالعزیزورته وویل: مـاخوپه جومـات کی ته ترلمنی رانیـولی خواوس راځه بیره کوه زبیره ته هم راځه لاخوګامـه وړاندی دری واړه یوی پراخی کوټی ته ننوتل سلیمان دمشال په رڼاکی زبیرته وکتل اوویی ویل: ته می پخواهم چیرته لیدلی یی.

عمربن عبدالعزیزوویل: اوس ددیروخبروروخت نه دی زه دمحمدبن قاسم په باب څه ویلوته راغلی یم.

دمحمدبن قـاسم دنوم په اوریدوسلیـمـان دغـوسی اواندیښنی په حال کی عمرته وکتل اوویی ویل : هن دهغه دسیسی ترمدینی پوری ورسیدلی ؟

اودې دهغـه دوست دی ؟ زبیـرووېل: زه دهغـه له دوسـتی نه منکرنه یم خوداغلطه ده چې هغه ستاپرخلاف څه دسیسی جوړوی زه دیزیدبن ابوکبشه داستازی په حیث مدینی ته تللی وم .

سلیمان څه وېل غوښتل خوعمربن عبدالعزیز دیزیدبن ابوکبشه لیك هغه ته په لاس کی ورکړویی وېل: لومړی داولوله یزیدستاله نژدی دوستانونه دی که هغه دمحمد بن قاسم معصومیت داسی لیك ته تیارولی شي نوله مانه دائمه مه کوه چې تادمسلمانانوپه مری چاړه ایښی ووینم او چوپ پاتی یم، ته به په دی خبره ښایی دیرخوښ یې چې خدای دبدل اوکسات واك درکړخوته دهغـه زلمی د عظمت اټکل نه شي کـولی چې سـرښندویان یی سـتـاله سرښندویانونه زیات دی دهغه توره ستاله توری نه زیاته تیره اودهغه غشی ستاله غشیونه زیات ترسینوبوت وزی خوبیاهم دیوه بی پرواامیرپه مخ کی داطاعت سـرتیـتـوی، تاپنځـوس تنوته له سندنه دهغـه دلاس ترلی راوستلوامرکړی ؤ خوته ووایه که ته دهغه پرځای وای تریولك زیات پوځ دی په واك کی وای تا به له هغوپنځوسوکسانوسره څه ورچلن کاوه چې غوښتل یی تازنځیر اوزولنی راولی ؟ ستاخپل ورورستاامیرؤخوتاتول عمردهغه مخالفت وکړاودول دول دسیسی دی جوړولی خومحمدبن قاسم ته ښه پیـژندلی وی دهغـه له تانه دڅه نیکی تمه نه وه کـه هغـه غـوښـتی نودسندهرکورده لپاره کلاوه که هغه ستااستازی وژلی وای هم ښایی تادهغه یوویښته نه وای کوږکړی خوپردی تولوپرسیره هغه ستاله اطاعت نه سرونه غړاوه، تاله خپل انتقام نه وړاندی هیڅ سوچ ونکړای شودهغه په وړاندی داسلامی نړی راتلونکی ده آیاته له ده نه دابدل اخلی چې هغه دحجاج بن یوسف زوم دی ؟ اودجګړی په فنونوکی هغه پرتابرلاسی شوی ؤ ؟ کاشکی لکه څنګه چې هغه دیوه سپاهی مسؤلیتونه پیژنی تادیوه امیرمسؤلیتونه پیژندلی وای.

دهغه پوځونودهندوستان دوروستی ګوټ دفتحه کولواراده درلوده که تا نه وای رابللی ښایی تراوسه به راجپوتانه فتحه شوی وای.

نن چې زه دمشق ته راورسیدم راته معلومه شوه چې تاهغـه دصالح ترڅارنی لاندی واسط ته لیږلی دی اوتاهغه ته دیره بده سزاټاکلی ده خوپه

[stamp]

یادولره ته له هغه نه دهغه ستر توب اوعظمت نشی اخستی، خلك دجلادتوره هیرولی شی خودشهیدوینه نشی هیرولی.

سلیمانه ! مابه تاته ډیرخه دربنودلی ووخواوس دخبرووخت نه دی که دسنددفاتح په سینه کی بنخیدونکی غشی تراوسه ستاپه لاس کی وی نوهغه راایسارکړه اوکه نه په یادولره چی راتلونکی تاریخ لیکونکی به چی محمدبن قاسم ددی عصرترټولولوی مجاهدبولی تابه داسلام ترټولوستردښمن یادوی که ته زماخبره ونه منی نوبنایی ترسهاره پوری ددمشق خلك پردی مجبورشی چی دمسلمانانوډله ستاپه خیرامیرته ضرورت نه لري.

دسلیمان غوسه په پښیمانی بدله شوی وه داندیښینی په حالت کی یی لاسونه سره ومروړل په کوټه کی له قدم وهلووروسته دشمال ترخنګ ودرید، بیایی عمربن عبدالعزیزاوزبیرته وکتل او له ویری نه په ډکه لهجه یی وویل: کاشکی ! تاسودوی ورځی دمخه راغلی وای زماغشی له لیندی نه وتلی دی اوس زه هیڅ نه شم کولی !

عمربن عبدالعزیزوویل: نوتادهغه دوژلوامرکړی دی؟

سلیمان په «هو» سروخوځاوه.

زبیروویل : که ته بل حکم ولیکی زه بنایی پروخت وروورسیږم، سلیمان لاسونه وپړقول یوغلام دحکم ترسره کولوپاره حاضرشو، سلیمان وویل: زماله طبیلی نه غوره آس زین کړه .

غلام چی روان شو، سلیمان دلیك په لیکلوبوخت شو.

دلیك له لیکلووروسته یی عمربن عبدالعزیز ته ورکړاوویی ویل: تاسویی ولولی !

عمربن عبدالعزیزپرلیك له سرسری نظرتیرولووروسته هغه زبیرته ونیوویی ویل:

اوس دی خدای وکړی چی داپروخت ورسیږی ته ډیرستومانه یی دابه غوره نه وی چی بل څوك واستوو؟

زبیرځواب ورکړ: ددی لیك له ترلاسه کولوسره زماستومانی لرې شوه زه تاته داډادرکوم چی په لاره کی دارام نه پرته به واسط ته ورسیږم که ماته په لاره کی آسونه تیارشی نوزه به داوږدی لاری پرځای نیغه دبیابان لاره

PROPERTY OF ACKU 7600

ونیسم .

سلیمان یوېل فرمان دلاری چونیوته ولیکه اوزبیرته یی ورکړغلام راغی ویی ویل آس تیاردی زبیرسلیمان ته له لاس ورکولونه وروسته عمربن عبدالعزیزته وکتل اویی ویل: تاسوماته دعاوکړی.

عمربن عبدالعزیزخدای پامان وویل زبیرته یی په ځیروکتل دهغه څیره چی خوشیبی وراندی دیوه اوږده سفردستونزوله امله مراوی وه دامیدرناپکی وځلیده لږوروسته زبیرپه یوه ګړندی آس دواسط په لورروان شو.

*****

(٦)

له بیابان نه چی تیرشیوه شپه سهارته نژدی زبیرله یوی سمسوری اوشنی سیمی نه تیریده دپرلپسی بی خوبی له امله یی دبدن غړی شل شوی غوندی ووسریی له درده چاودیدوته نژدی شوی ژدشپی دوروستی برخی دسړی هواله څپوسره سره چی یخې ئې په تندی لګیدی هغه به کله کله په زین سرکیښودواودیوی شیبی لپاره به له دنیااومافیهانه بی خبری ته مجبورشواودیوی نه تسخیریدونکی ارادی سر بیره به کله کله دهغه سترګی پخپله بندی شوی قیضه به ئی له لاسه سسته شوه خوبیابه یی یوخیال دنشترپه څیرپه زړه ورننوت تکان به یی وخوړاوآس به یی ګړندی کړ.

دهغه منزل رانژدی شوی ؤهغه به په تصورکی دسلیمان لیك صالح ته ورکاوه دبندی خانی په دروازه کی به له محمدبن قاسم سره غاړه غړی شوهغه به ویل: محمده ! زه نورویده کیږم ، دکومی ویالی په غاړه چیرته دونوتریخ سیوری لاندی اوګوره ترڅوزماخوب پوره نه شی اوراویښ نه شم مامه پاڅوه ! خوب څومره عجیب شی دی دهرغم دوا، دهردردعلاج، زه لږترلږه یوځل بنه ترمرسته ویده کیدل غواړم .

مګرنه ! زمادوسته ! زه چی تاروغ ووینم خوب اوستومانی به می پخپله لری شی.

پرختیځ افق دسهارستوری راوخوت زبیریی خپلوتصوراتودیرلری ورسره وری ؤهغه یوځل بیاددیبل په یوه غونډی ولاړؤاودخپل زلمی سالاردغه خبری یی په غوږوکی وکرنګیدی:

«زبیره ! ددغه ستوری پرژوندرشك کوم ددی ژوندچی څومره لنډی هومره یی هدف لوړدی وګوره !

دغه ستوری دنیاته مخاطب دی وایی چی زماپه دی موقتی ژوندافسوس مه کوی،خدای زه دلمراستازی رالیږلی یم اوزه خپل فرض پوره کوم اوځم.

کاشکی زه هم داسلام دلمرراختلونه وړاندی دسهاردستوری دنده ترسره کړم.»

دزبیرپه زړه یوځل بیادپریشانیوڅپه راغله اودآس رفتاریی ګړندی کړپه ختیځ افق شپی خپل توریڅول ورټولول دسهارستوری درڼاپه تیکری کی پټ شول او لمردوینوقبا اغوستی راپورته شو.

زبیرپه ورروستی،چونی کی آس بدل کړله دوه میله نورمزله وروسته یی دواسط دښاردجوماتونومناری ولیدی هغه په هرګام کی دوېری اواندیښنی په توپانونوکی دامیدډیوی بلولی.

دښارپه لویدیځه دروازه کی یی دخلکوګڼه ګونه ولیده زبیرداس قیضه راکش کړه دځوځوانانوپه اوږویی جنازه ولیده له اس نه پلی شوپه پښوکی یی دبدن دباراوچتولوسیك نه ژبیایی هم همت وکړله یوه عرب نه یی وپوښتل :

صالح چیرته اوسی !

عرب هغه ته په سپکه وکتل ویی ویل: ته څوك یی !

له هغه بی رحمه سره ستاڅه کاردی ؟

زبیردځوځوانانوپه اوښکولړدی سترګی ولیدی بیایی نوموړی عرب ته وکتل اوپه لړزیدونکی زږه یی لاس کیښودویی ویل: له دمشق نه می دخلیفه یوضروری پیغام راوړی دی .

عرب بیاپوښتنه وکړه : خلیفه اوس دچادوژلوامررالیږلی؟

زبیرپه وارخطایی عرب ته وکتل ویی پوښتل : داجنازه دچاده ؟

عرب په ځواب کی وویل : تادسندفاتح نوم اوریدلی ؟

دزبیرله لاسه داس قیضه خطاشوه اوله تیندك نه وروسته په ځمکه راپریوت .

دیرخلك په هغه راټول شول یوه ځوان چیغی کړی زبیره ! زبیره! اوورته رانژدی شودهغه سرته کیناست اودرا په هوش کولوهڅه یی وکړه دهغه په

سترگوکې اوښکې وې اوپه دردناکه لهجه یې ویل:
زبیره ! جگ شه دعمادالدین محمد بن قاسم جنازه درومي.
زبیردبې هوشۍ په حالت کې گریده :
محمده ! زه اوس ویده کیږم دکومې ویالې په غاړه، دکومې گڼې ونې دیخ سیورې دلاندې اوترخوږخپله راویښ نه شم مامه پاڅوه ....
ځوان هغه په زوره وښوراوه ویې ویل: زبیره ! زه خالدیم ! ماته وگوره محمدولاړساه یې ورکړه دسندلمردواسط په خاوره کې مخ پټوي جگ شه خلك ستاددوست جنازه وړي.
زبیرسترگې وغړولې اوپه اندیښنه یې وویل:
خالده ته ! زه چیرته یم ؟ اف ښایي زه بې هوښه شوی یم هغه جنازه ! ؟
ماته چاویل چې .... نه نه !! هغه دمحمدبن قاسم جنازه نه شي کیدای !
وگوره مادهغه دپرېښودلوفرمان راوړی زبیرلیك راویوست خالدته یې ورکړخالده ! داپه بیړه صالح ته ورسوه .
خالدپه بې پروایي کاغذته وکتل اوپه ځمکه یې وغورځاوه زبیرحیران خالدته کتل .
یوپه عمررسیدلي عرب ورتیت شولیك یې راپورته کړ، خلاص یې کراوویې لوست:
دامیرالمؤمنین حکم ؤچې محمد«رح» په عزت اودرنښت دمشق ته ورواستوی ، صالح هغه پرخپل سروژلي امیرالمؤمنین داسې حکم نه شي ورکولي دواسط مسلمانانو! دمحمدبن قاسم اروادانتقام چیغې وهي تاسوځه ته گوري راځئ زماسره !
دگڼې گوڼې له لرې کیدونه وروسته خالدزبیرته داوړې ورکولوهڅه وکړه خوهغه وویل: زه اوس روغ یم ځه !
دواړه جگ شول هدیرې ته ولاړل اوکوم وخت چې خلکوپه هدیره کې محمدبن قاسم په لحدکې کیښوداوخاورې یې ورباندې اړولې دپنځوسوتنوپه شاوخواکې ځوانانودصالح دکوردروازه ماته کړه ورننوتل اوپه ایستلوتوروپرهغه ورپریوتل .

*دوشنبه د ۱۳۷۶ لمریزدحمل ۱۸ مه نوتهیه صدر کراچۍ کور*

# د ژباړن لنډه معرفي

نوم يې محمد زبير «شفيقي» د جنت ګل خان زوی په وردګو ولايت چك ولسوالۍ کې زیږيدلی. په ۱۳۵۷ کال چې د کابل پولیتخنیك محصل ؤ د کمونستي کودتانه وروسته پاکستان ته مهاجر شوی.

د ۱۳۶۳ کال څخه را په دې خوا په ادبي او مطبوعاتي چارو بوخت دی، له مختلفو ادبي او خپرنيو ادارو سره يې همکاري درلوده.

په شهادت، امید، حریت، شفق، جهاد هنداره او نورو جهادي خپرونو کې يې زيات ادبي او سياسي مضامين خپاره شوي دي، اوس نژدې له دوو کالو را په دېخوا د سهار ورځپاڼې سرمحرر دی.

مهم آثار يې دا دي:

۱ - د وينو پيغام (شعري مجموعه)

۲ - د تيارو په تل کې (د لنډو کيسو مجموعه)

۳ - ميړنه ګړنګونه (منځنی داستان)

٤ - ناتمامه کيسه (تکلونه) خواره واره چاپ شوي.

٥ - له تکبيره تر فرياده (تکلونه) خواره واره چاپ شوي.

٦ - شاهين (ژباړه، چاپ)

٦ - محمد بن قاسم (همدغه اثر)

۷ - د غازي کيسه (چاپ ته چمتو)

۸ - وروستی کمر (چاپ ته چمتو)

۹ - وروستی جګړه (ناچاپ)

او يو شمير نور (ناچاپ آثار)

د چاپ حق محفوظ دی

د هیواد او نړۍ د
شهکار او معیاري
آثارو د خپرولو
مرکز
پرله پسې نومره ...(لومړی)